

لـــــــوړو زده کـړو وزارت
ننـــــــګرهـــــار پوهنتون
ښوونـې اوروزنې پوهنځی
د جغرافيـــــې څـــــانګه



دنړۍ سياسي جغرافيه

Ketabton.com

مولف : پوهندوی کریم الله
کال : ۱۳۹۷ هـ ش

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

د پيل خبرې

تر هر څه وړاندې د ښونکي او ځواکمن الله جل جلاله شکر ادا کوم چې را ته يې د خپل مسلک اړوند درسي کتاب د ليکلو او چمتو کولو وړتيا راپه برخه کړه. د هېواد د لوړو زده کړو محترم وزارت تر چترلاندې د هېواد په ټولو پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې د تاليف شوو درسي کتابونو په تېره بيا په پښتو ژبه کې د کمبود ستونزه تر ډيره شته ، خو په دې وروستيو کلونو کې ددغې تشې د ډکولو او دې ستونزې ته د پای ټکي د کېښودلو په پار له نېکه مرغه پام شوی دی. د هېواد پوهنتونونو د استادانو لخوا د پورته يادې شوې ستونزې د حل په موخه هڅه شوې چې په هر مسلک کې ارزښمن علمي اثار تاليف کړي تر څو چې له يوې خوا د محصلينو لپاره د درسي موادو او کتابونو ستونزه يو څه راکمه شي او له بلې خوا د ننني معاصرې نړۍ پوهنتونونو سره د هېواد پوهنتونونه په يوه ليکه کې ودروي.

د کتابونو د تاليف په دې لړۍ کې ما ته هم د ننګرهار پوهنتون جغرافيې څانګې لخوا د سياسي جغرافيې تر سرليک لاندې کتاب تاليف دنده راکړل شوه . چې د لوړو زده کړو وزارت د اکاډميکو چارو د انسجام لوی رياست د محترم مقام له لوري منظور شوه. نو له همدې امله ما هم د خپلو قدرمنو مشرانو استادانو او ملګرو په ځانګړې هڅونه ددې چارې د تر سره کولو جرات وکړ او ددې ستونزمن کار لپاره مې مټې راونغښتې چې دادی د همدې زيار پايله نن د هېواد محصلينو او هم مسلکو لپاره په مخ کې ږدم. متعال خدای جل جلاله دې زما دا چاره د اکاډميکو چارو په لړ کې په يو کوچني خدمت قبول کړي.

د سياسي جغرافيې دا کتاب د جغرافيې څانګې د درسي مفرداتو سره سم په نهه څپرکو کې ترتيب شوی دی ، د يادولو ده چې د لويو او کوچنيو سرليکونو تر منځ منطقي تسلسل پکې په پام کې نېول شوی دی. همدارنګه د ځينو موضوعاتو د لا روښانتيا په موخه نقشې ، جدولونه ، ګرافونه ، انځورونه او ضميمې په وړو ځايونو کې ځای پر ځای شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

ددې کتاب تالیف یوازې زما زیار نه ګڼم ، زه ددې کتاب تالیف د هغو درنو او مخلصو استادانو لارښوونې او مشورې ګڼم چې دکار له پیل څخه یې وړاندې او د کار په موده کې یې ماته کړي ، زه په خپل وار له دې ټولو درنو او فاضلو استادانو څخه مننه کوم .

په اخر کې لازمه ګڼم چې د ټولو هغو فاضلو او منلو استادانو څخه په ځانګړي توګه مننه وکړم چې ما سره یې ددې کتاب د تالیف پر مهال علمي لارښوونې او نېکې مشورې راکړې. په دې ځای کې لازمه ده چې لومړی د خپل د روند او فاضل استاد ښاغلي پوهاند حمیدالله (امین) څخه هغه چا چې ددې کتاب ترتالیف وړاندې د مفرداتو په جوړولو او د کتاب په کره کولو کې یې لازمې لارښوونې راته کړي ، او پر دې سربېره یې ماته هغه کتابونه هم په واک کې راکړل چې ددې کتاب د تالیف لپاره ډیر اړین وو ؛ د مننې اظهار وکړم تر څنګ یې قدرمن استاد ته د سوکاله ژوند غوښتنه له متعال رب جل جلاله څخه کوم . په همدې ترتیب خپل قدرمن استاد پوهاند عزت الله خان څخه ډیره مننه کوم چې دکتاب په سمونه کې یې زما لارښونه کړې . په همدې ترتیب دخپل قدرمن استاد پوهنوال مستعلي خان نیازي څخه د زړه له کومې مننه کوم چې ددې کتاب په سمونه کې یې هم دریغ ونکړ . همدارنګه د درونـد استاد پوهنوال نقیب الله ثاقب څخه مننه کوم چې یاد کتاب یې په غور ولوست او لازمې سپارښتنې یې راته وکړې . په همدې توګه د قدرمن استاد پوهاند رویان او نورو ټولو استادانو څخه مننه کوم چې ددې کتاب په تالیف کې یې زما مرسته کړې ده .

په اخر کې لازمه بولم یادونه وکړم چې ددې کتاب په لیکلو کې له بهرونې او داخلې معتبرو کتابونو ، مجلو ، ژورنالونو ، انټرنېټ بېلابېل سایټونو څخه ګټه اخېستل شوې ده ، ددې ټولو سرچینو له ښاغلو لیکوالو څخه له دې امله ډیره مننه کوم چې د دوی له لیکنو څخه مې د کتاب په تالیف کې د ماخذ په توګه ګټه اخېستې ده ددوی ټولو دې کورودانوي .

درنښت

پوهندوی کریم الله

ketabton.com - The Digital Library

لیکلړ

سرلیک مخ

سریزه ۱

لومړی څپرکی

دنړۍ سیاسي جغرافیې تحلیل او شننه

۱.۱.لومړی.جغرافیه ۸

۱.۱.۱.دجغرافیې پېژندنه ۸

۱.۱.۲ .دجغرافیې موضوع ۹

۱.۱.۳. دجغرافیې په زده کړه کې غوره مفاهیم ۹

۱.۲ .دویم. سیاست ۱۱

۱.۲.۱. سیاست پېژندنه ۱۱

۱.۲.۲. دسیاست تعریف ۱۳

۱.۲.۳. دسیاست ځانګړنې ۱۳

۱.۲.۴ . دسیاست ډولونه ۱٤

۱.۳. درېیم. سیاسي جغرافیه ۱٥

۱.۳.۱.دسیاسي جغرافیې پېژندنه ۱٥

۱.۳.۲. دسیاسي جغرافیې موضوع ۱٦

۱.۳.۳. دسیاسي جغرافیې اصلي مفهوم ۱٦

۱.۳.۴. دسیاسي جغرافیې ځانګړنې ۱۸

۱.۳.٥ . د سیاسي جغرافیې څرنګوالی او قلمرو ۱۹

۱.۳.٦ . دسیاسي واحدونومفهوم ۲۰

۱.۳.۷. جیوپولیتیک یا جغرافیایي سیاست ۲۰

لنډیز ۲۳

پوښتنې ۲٤

ketabton.com - The Digital Library

دویم څپرکی

په نړۍ کې د سیاسي جغرافیې د منځته راتګ په اړه تولیزې څرګندونې

۱.۲. په نړۍ کې د سیاسي جغرافیې د منځته راتلو بهیر ۲۶
۱.۱.۲. د سیاسي جغرافیې د راپورته کېدو پړاو ۲۸
۲.۱.۲. د سیاسي جغرافیې د انزوا او زوال پړاو ۳۳
۳.۱.۲. د سیاسي جغرافیې د بیا ژوندۍ کېدو پړاو ۳٤
۲.۲. په نړۍ کې د سیاسي جغرافیې بدلونونو ته کتنه ۳٦
۱.۲.۲. په منځنیو پیړیو کې ۳٦
۲.۲.۲. په نوولسمه پیړۍ کې ۳۷
۳.۲.۲. په نوي پړاو کې ۳۷
لنډیز ۳۸
پوښتنې ۳۹

درېیم څپرکی

د نړۍ سیاسي نقشې د بدلونونو پلټنه

۱.۳. جغرافیایي کشفېدنې ٤۲
۲.۳. جګړې او جیوپولیتیکي غوره بدلونونه ٤۲
۳.۳. د امپراتوریو ټوټه کېدنه ٤۲
۴.۳. د بېلوالي او بېلتون غوښتنې پروسې ٤۲
۵.۳. د نړۍ په سیاسي نقشه کې د بدلونونو رامنځته کېدو مهمې زمانې برخې ٤٤
۱.۵.۳. ۱۶۴۸م کال او د وستفالیا ټرون ٤٤
۲.۵.۳. د ۱۸۱۵م کال د ویانا کنګره ٤۵
۳.۵.۳. د ۱۹۱۸م کال د وارسا د صلحې ټرون ٤۷
۴.۵.۳. ۱۹۴۵ م کال او د ملګرو ملتونو د ټولنې منشور ٤۸
۵.۵.۳. د ۱۹۹۱-۱۹۹۲ م کلونو پېښې او د شوروي اتحاد ټوټه کېدل ٤۸
لنډیز ۵۰
پوښتنې ۵۱

ketabton.com - The Digital Library

۱.۴. هېواد ۵۳
۱.۱.۴. هېواد ته بڼه ورکوونکي لاملونه ۵۳
۲.۱.۴. دهېواد ډولونه ۵٤
۱.۲.۱.۴. د هېواد ډولونه له سیاسي پلوه ۵٤
الف . حایل هېوادونه ۵۵
ب . متعهد هېوادونه ۵٦
ج . نا متعهد هېوادونه ۵٦
د . تړلي هېوادونه ۵٦
و . خپلوا ک هېوادونه ۵۷
۲.۲.۱.۴. د هېوادونو ډولونه له اقتصادي پلوه ۵۸
الف . پرمختللي هېوادونه ۵۸
ب . مخ په وده یا پرمختیایي هېوادونه ٦۰
ج . وروسته پاتې هېوادونه ٦۳
۳.۲.۱.۴. د هېوادونو ډولونه له اداري پلوه ٦٤
۱.۳.۲.۱.۴. واحد دولتونه ٦٤
۲.۳.۲.۱.۴. مرکب هېوادونه ٦۸
۱.۲.۳.۲.۱.۴. د مرکب دولتونو ډولونه ٦۸
۱.د دولتونو اتحاد ٦۸
۲. د دولتونو فدریشن ۷۰
۳. کنفدرال هېوادونه ۷٤
۲.۲.۳.۲.۱.۴. دفدرالي او کنفدرالي دولتونو ترمنځ ورته والی ۷٦
۳.۲.۳.۲.۱.۴. د فدرال او کنفدرال دولتونو ترمنځ توپیرونه ۷٦
۳.۱.۴. د هېوادونوپراختیا ۷۷
۴.۱.۴. دهېوادونو موقعیت ۸۷
۱.۴.۱.۴. ریاضي یا مطلق موقعیت ۸۷
۲.۴.۱.۴. نسبي یا مرتبط موقعیت ۸۹
۳.۴.۱.۴. سوق الجیشي موقعیت ۹۰
۴.۴.۱.۴. په وچه کې راګړموقعیت ۹۱

ketabton.com - The Digital Library

۴.۱.۴.۵. اوبو ته د لاس رسي موقعيت ۹۳
۴.۱.۴.۶. خواوو ته د لاس رسي موقعيت ۹۳
۴.۱.۵. د هېوادونو هستې ۹٤
۴.۱.۵.۱. د هېوادونو د هستې جوړېدو لاملونه ۱۰۳
۴.۱.۶. د هېوادونو پلازمېنې ۱۰۳
۴.۱.۶.۱. دپلازمېنې ټاکل ۱۰۷
۴.۱.۶.۲. دپلازمېنې دځای په بدلون کې اغېزمن لاملونه ۱۰۷
۴.۱.۷. د هېواد جوړوونکي عناصر ۱۰۸
۴.۱.۷.۱. سرزمين يا قلمرو ۱۰۹
۴.۱.۷.۱.۱. د نړيوالو عمومي حقوقو له مخې د يو هېواد سيمه يا قلمرو ۱۰۹
۴.۱.۷.۲. ملت ۱۱۲
۴.۱.۷.۳. حکومت ۱۱٤
۴.۱.۷.۳.۱. دحکومت ډولونه ۱۱۵
لنډيز ۱۱۹
پوښتنې ۱۲۱

پنځم څپرکی

نړيوالې سياسي پولې

۵.۱. دسرحدونو تعريف ۱۲٤
۵.۲. دسرحدونوارزښت ۱۲۵
۵.۳. د سرحدونوټاکل ۱۲٦
۵.۴. دسرحدونو ډولونه ۱۳۱
۵.۴.۱. دپيدايښت او پروګرو د تطبيق له مخې سرحدونو ډولونه ۱۳۱
۵.۴.۲. طبيعي عوارضو سره د تطابق له پلوه سرحدونه ۱۳۳
۵.۵. دپولې او کرښې مفاهيمو پېژندل ۱۳۷
۵.۵.۱. د سرحد او مرزد تعريف تاريخي بهير ۱۳۷
۵.۵.۲. دسرحد اومرزتوپيرونه ۱۳۹
۵.۵.۳. سياسي مرزونه ۱٤۱
۵.۶. دکرښو ډولونه ۱٤۲

ketabton.com - The Digital Library

۵.۷. د کرښو نوې ډلبندي ۱۴۳
۵.۷.۱. طبيعي کرښې ۱۴۳
۵.۷.۲. فرهنګي کرښې ۱۴۴
۵.۷.۳. سياسي کرښې ۱۴۴
۵.۷.۴. قومي کرښې ۱۴۴
۵.۷.۵. تحميلي کرښې ۱۴۵
۵.۷.۶. اقتصادي کرښې ۱۴۵
۵.۷.۷. هندسي کرښې ۱۴۵
۵.۷.۸. متروکه کرښې ۱۴۶
۵.۸. د کرښو کښلو ټولیزې ځانګړتیاوې ۱۴۶
۵.۹. سمندري سرحدونه ۱۴۶
۵.۹.۱. د سمندري قوانینو تاریخچه ۱۴۷
۵.۹.۲. د دوو مجاورو هېوادونو ترمنځ د اوبیزو کرښو ټاکل ۱۵۱
۵.۱۰. هوایي کرښې ۱۵۲
لنډیز ۱۵۵
پوښتنې ۱۵۶

شپږم څپرکی

باندینۍ سوداګري

۶.۱. د باندینۍ سوداګرۍ په اړه ټولیزې څرګندونې ۱۵۸
۶.۲. د باندینۍ سوداګرۍ د ستراتیژیو پلټنه ۱۶۳
۶.۳. ازاده سوداګري ۱۶۴
۶.۴. په نړۍ کې د لېږد رالېږد څرنګوالی ۱۶۶
۶.۴.۱. اوبیزه سوداګري او ابناګانې ۱۶۶
۶.۴.۲. اوبیزه سوداګري او کانالونه ۱۷۴
۶.۴.۲.۱. د سویز کانال ۱۷۴
۶.۴.۲.۱. د پانامې کانال ۱۷۶
۶.۴.۲.۲. د کیل کانال ۱۷۸

ketabton.com - The Digital Library

۳.۴.۶. اوییزه سوداګري، بندرونه او ازاد ښارونه ۱۸۰
۴.۴.۶. په نړیوالو اوبو کې اوییز ترانسپورت ۱۸۲
لنډیز ۱۸۵
پوښتنې ۱۸۷

اوم څپرکی

نړیوالې اړیکې او باندینی سیاست

۱.۷. باندینی سیاست ۱۹۰
۲.۷. د نړیوالو اړیکو د پیدایښت انګیزې ۱۹۱
۳.۷. دنړیوالو اړیکو غوره تیوري ګانې ۱۹۲
۱.۳.۷. دنړیوالو اړیکو نظریې ۱۹۲
لنډیز ۱۹۳
پوښتنې ۱۹٤

اتم څپرکی

داطلاعاتو سیاسي جغرافیه

۱.۸. د اطلاعاتو سیاسي جغرافیې ځانګړنې ۱۹٦
۱.۱.۸. خوځښتوب ۱۹٦
۲.۱.۸. ځانګړې مرز بندي ۱۹٦
۳.۱.۸. د اطلاعاتو د جریان لوری نیونه ۱۹٦
۴.۱.۸. د اطلاعاتو سیاسي جغرافیې د څېړنې سیمې د اطلاعاتو د متخصصینو لپاره ۱۹۷
۲.۸. اطلاعات او نړیوال‌توب ۱۹۷
لنډیز ۱۹۸
پوښتنې ۱۹۹

نهم څپرکی

په نړۍ کې غوره سیاسي او اقتصادي ټولنې

۱.۹.داروپا اتحادیه ۲۰۲
۲.۹.افریقایي ټولنه ۲۱۰

ketabton.com - The Digital Library

۳.۹.عربو ټولنه	۲۱۲
۴.۹.داروپا شورا	۲۱٤
۵.۹.لوېديځې اروپا اتحاديه	۲۱۸
۶.۹.دمشترک المنافع ټولنه	۲۲۰
۷.۹.د ازادو مشترک المنافع هېوادونو ټولنه	۲۲٤
۸.۹.د فارس خليج د همکاريو شورا	۲۲٦
۹.۹. د اسيا جنوب ختيځ هېوادونو ټولنه	۲۲۷
۱۰.۹.د سويلي اسيا د سيمه ييزې همکارۍ اتحاديه (سارک)	۲۳۰
۱۱.۹.د اسلامي همکاريو يا کنفرانس ټولنه	۲۳٤
۱۲.۹.د جنوب ختيځې اسيا ټرون ټولنه يا سيټو	۲۳٦
۱۳.۹.د نفتو د صادروونکو هېوادونو سازمان (اوپک)	۲۳۷
۱۴.۹.د شمالي اتلس ټرون (ناټو)	۲۳۸
۱۵.۹.د وارسا ټرون	۲٤۳
لنډيز	۲٤٤
پوښتنې	۲٤٦
د سياسي جغرافيې اړينې اصطلاحګانې	**۲۴۸**
ماخذونه	۲٦۲
ملپاڼې (ضميمې)	۲٦٦

ketabton.com - The Digital Library

سریزه

سیاسي جغرافیه د ټولنیزو علومو له په ډله کې د بشري جغرافیې یوه څانګه ده چې د سیاسي قدرت یا سیاست او جغرافیې تر منځ د اړیکو څېړلو سره مینه لري. سیاسي جغرافیه (Political Geography) او جیوپولیټیک (Geopolitics) یا جغرافیایي سیاست دواړه په جغرافیایي محیط کې د سیاسي ځواک د زیات رول څېړنې سره مینه لري. یوازې په دې توپیر سره چې په جیوپولیټیک یا جغرافیایي سیاست کې د جغرافیایي لاملونو اغېز اچونې د ځواک لرونکو په سیاسي تصمیم نېولو کې تر څېړنې لاندې نېسي، حال دا چې په ټولیز برخورد کې کېدی شي سیاسي جغرافیه (Political Geography) په جغرافیایي محیط کې د ځواک لرونکو د سیاسي تصمیمونو اغېزو په څېړنه بوخته وښایو.

د جو پاینټر (Joe Painter , 2009) په وینا په دې وروستیو وختونو کې وګړي له سیاسي پلوه په یوه حساسه زمانه کې د نورو غټو بدلونونو سره ژوند کوي. نوموړی د یادې دعوې د ثبوت لپاره له ۱۹۸۴ـ۲۰۰۹ م کلونو پورې د نړۍ سیاسي نقشې کې د پام وړ سره پرتله کوي. د نوموړي په وینا په ۱۹۸۴م کال په نړۍ کې سوړ جنګ په چټکۍ سره روان و، د امریکا په متحده ایالاتو کې رونالد ریګن د دویم ځل لپاره د واک په ګدۍ کېناستو، په مسکو کې هم همداسې لوبې روانې وې او د شوروي په سرانو کې کنسټانټین چرنېنکو ته واک ورسېدو، په نړیواله کچه هم ناټو (North Atlantic Treaty Organization (NATO او وارسا تړونونه جوړ شوي وو او د امریکا متحده ایالات په لوېدیځه اروپا کې د ټولنیز امنیت (Collective security) تر سرلیک لاندې بهانې له امله د اتومي راکټونو په ځای پر ځای کولو لګیا و.

د اقتصاد دوکټورینو لخوا د ازاد بازار روحیه چې رونالدریګن او مارګریت تاچر لخوا د امریکا په متحده ایالاتو او برتانیا کې طرحه شوې وه، په ټولو صنعتي او پانګه والو هېوادونو کې د پېلېدو په حال کې وه. په چین کې د کلتوري انقلاب یوازې لس کاله وروسته د اقتصادي رېفورمونو تطبیقولو په چټکۍ سره زور اخېستی و. په ختیځه اروپا کې د

ketabton.com - The Digital Library

یوګوسلاویا په ګډون سیاسي ثبات واکمن و ، په داسې حال کې چې د نړۍ په زیاتو سیمو کې پراخې سیاسي لانجې روانې وې . په جنوبې افریقا کې د اپارتاید (Apartheid) رژیم پر وړاندې پراخې مبارزې روانې وې او د جنوبي افریقا تورپوستي سیاسي رهبر نلسن مانديلا تر ډیرې مودې پورې د زندان تورو کوټو ته ولوېد ، په منځنۍ امریکا کې د امریکا متحده ایالاتو په مرسته د نېکاراګوا د ساندانستانو (Sandanists) په ریفورمي نظام کې سختې جګړې پیل وې .

په ۱۹۹۵م کال کې نړۍ له سیاسي پلوه بشپړه بدله شوه په سهیلي افریقا کې د اپارتاید او د سپین پوستو نظام پای ته ورسېدو او نلسن مانديلا د هغه هېواد جمهور رییس په توګه وټاکل شو . د شوروي اتحاد په نوم هېواد دنړۍ په نقشه کې ځای نه درلود ، په ختیځه اروپا کې نژادي لانجو د هغې سیمې نقشه بدله کړې وه ، د وارسا تړون منحل شوی و او د نړۍ د پایښت په موخه د نړیوال نوي نظام لپاره جدي هڅې او خبرې روانې وې ، د خصوصي جوړونې پروګرام چې په افراطي بڼه د مارګریت تاچر د حکومت لخوا په لاره اچول شوی و ؛ ټوله اروپا یې ونېوله . په چین کې د تیانانمن (Tiananmen May 1998) جاده یې روانو پېښو وښودله چې د هغه هېواد اقتصادي ریفورمونو څخه باید د سیاسي ازادیو انتظار و نه وېستل شي . په نېکاراګوا کې د ساندانستانو حکومت د متحده ایالاتو سره د اوږدو کلونو لانجو وروسته له مخې ووتو . په اخر کې باید یادونه وکړو چې د نړۍ هغه سیاسي بڼه چې په ۲۰۰۸م کې وه ، په نړۍ کې د پورته یادو شوو پېښو په پام کې نېولو سره په ۱۹۹۵م کې د نړۍ د نقشې سره زیات توپیر درلود .

په ټولیزه او دودیزه توګه بشري جغرافیه په ټاري ، ټولنیزې ، تاریخي او داسې نورو جغرافیو وېشل شوې ده ، له یادو څانګو هره یوه یې ځانګړې ساحه چې د جغرافیایي حقایقو یوه برخه تمثیلوي په برکې نېسي . د یادولو ده چې بشري جغرافیې د وخت په تېرېدو سره د ځانګړو سیاسي او ټولنیزو شرایطو لاندې پراختیا مونديلې ده ، سره ددې چې د بشري جغرافیې د بېلابېلو څانګو پراختیا او پرمختیا په یو ډول نه ده شوې .

ketabton.com - The Digital Library

سیاسي جغرافیه د بشري جغرافیې یوه بنسټیزه څانګه ده ، سره له دې چې د دې څانګې پوهان د دې څانګې لپاره کوم ځانګړی تعریف نه لري ، مګر په ټولو تعریفونو کې مکان یا ځای (جغرافیه) او سیاست (قدرت یا حکومت) ته په سیاسي جغرافیې کې د څېړنو اصلي هستې په ښه اشاره شوې ده . بناً د پوهانو لخوا د بېلابېلو تعریفونو په وړاندې کولو کې غوره لامل دادی چې یادو پوهانو سیاست او جغرافیه په متفاوته توګه تعریف کړي دي .

د جغرافیه پوهانو له ډلې څخه یو تن د (Derwent Wittlesey) په نوم د دویمې نړۍ والې جګړې په وخت کې سیاسي جغرافیه هېوادونو او ځمکو ترمنځ د اړیکو څېړنه وګڼله . نوموړي په وه جیوپولیتیک پر سیاسي جغرافیې ړومبی ګڼلو او په همدې ترتیب یې سیاسي جغرافیه د هېوادونو په چوپړ کې ورکوله .

یو بله جغرافیه پوه د ریچارد هارتشورن (Richard Hartshorne) په نوم په ۱۹۳۹م کال کې سیاسي جغرافیه د هېوادونو جغرافیه او یا د سیاسي متشکله واحدونو جغرافیه ونومولە . د دې پوه په آند په سیاسي جغرافیې کې د بشري فعالیتونو سیاسي اړخونه د ځای د توپیرونو په پام کې نېولو سره تر څېړنې لاندې نیسي . نوموړي جیوپولیتیک چې هغې وخت کې یوازې په المان کې یې رول درلود د سیاسي جغرافیې څخه په بشپړه توګه بېله رشته او پرته له المانه د ټولو هېوادونو د جغرافیه پوهانو لپاره د نه منلو وړ وښوده .

ځینو نورو جغرافیه پوهانو په تېره بیا امریکا د جغرافیه پوهانو ټولنې سیاسي جغرافیه د سیاسي چارو او جغرافیایي ساحو تر منځ متقابل عمل یادوله . په داسې حال کې چې ځینو نورو لکه (Cohen and Rosenthal) بیا سیاسي جغرافیه د یوې سیمې د سیاسي پروسو د ممیزاتو د څېړنې سره د علاقه مندۍ علم ګڼي . د (Pacione) په وینا سیاسي جغرافیه په وه علاقه مند دی تر څو د جغرافیایي تصمیمونو پایلې او سیاسي چارې د هغو جغرافیایي عواملو چې د سیاسي چارو په پایلو کې اغېزمن وي ارزوي . یو بل جغرافیه پوه (Alexander 1963) سیاسي جغرافیه د هېوادونو په داخل کې د اداري واحدونو او د هېوادونو د سرحدونو او سیاسي واحدونو څېړنه ښودلې .


ketabton.com - The Digital Library

یو بل جغرافیه پوه (Joe Painter, 1995) سیاسي جغرافیه د پوهې هغه څانګه ګڼي چې موږ د هغې نړۍ سره بلدوي چې داخلي کشمکشونه، نوې مفکورې او ډینامیکې پولې د هغې ځانګړنې دي.

په لنډه توګه باید ووایو چې جغرافیه د ټولنیزو علومو څخه یوه پوهه ده چې په کې د جغرافیې او سیاست تر منځ څو اړخیزې اړیکې ارزول کېږي. د پوهانو له ډلې څخه یو تن (Martin Jones, 2004) په آند جغرافیه او سیاست یو له بل سره د دوه اړخیزو اړیکو لرونکي مثلث په بڼه ښودلي، له دې مثلثونو څخه د یو په راس کې قدرت (Power)، پالیسی (Policy) او سیاست (Politics) ځای لري، په دې ځای کې قدرت هغه عنصر دی چې د پالیسۍ او سیاست پایښت تضمینوي، حال دا چې سیاست د ټولو هغو کړنو ټولګه ده چې د قدرت د ترلاسه کولو او یا ساتلو په اړه د ټاکنو، جنګ یا بلې کومې لارې څخه ترګټې لاندې راځي. او پالیسۍ هغه پایلې دي چې د قدرت څخه په ګټې اخېستنې سره د هغې په لاسته راوړلو کې توقع کېږي. ددې دواړو پدیدو تر منځ اړیکې معمولاً په سیاسي علومو کې تر څېړنې لاندې نېول کېږي.

د بل مثلث په درېیو سرونو کې فاصله یا مکان (Space)، په جغرافیه کې د څېړنې وړ مرکزي نقطه په دویم سر کې سیمه یا ځمکه (Territory) د یو ځانګړي ځای یو برخه د هغې د حدودو او ځانګړنو په پام کې نېولو سره او په درېیم سر کې یې په مکان کې یو ځانګړی ځای (Place) قرار لري.

ketabton.com - The Digital Library



(۱).انځور: دجغرافيې او سياست اړيکې ښيي(۴ : ۶).

سياسي جغرافيه‌دا مني چې ددې شپږو پديدو تر منځ جبري اړيکې شتون لري ، په داسې حال کې چې دا اړينه نه ده چې د سياسي جغرافيې په هر څېړنه کې ټولې اړيکې په پام کې ونيول شي . په هر صورت په سياسي جغرافيه کې يو شمېر زياتې متقابلې اړيکې تر ارزونې لاندې نيول کېږي ، چې شونې ده ځينې يې کلتوري ، اقتصادې او تاريخې بنسټونه ولري او له همدې امله د جغرافيه پوهانو پام کلتوري ، اقتصادي او تاريخي جغرافيې ته ور اړوي . په بله ژبه که څه هم په جغرافيې کې د څېړنې ساحه ځانګړې ده مګر نه شو کولی د هغې ځانګړې پولې د جغرافيې د ټولو علومو او شاخونو څخه تثبيت کړو .

د يادولو وړ مطلب دادی چې په سياسي جغرافيه کې د بحث وړ موضوعات په بېلابېلو دورو کې يو ډول نه وو ، د بېلګې په توګه په دې وروستيو کلونو کې په زياترو هېوادونو کې د ښځو نهضت اغېزمنه ترينه او تر ټولو مهمه سياسي قوه ده چې البته سياسي مبارزې ، د نويو قوانينو وضعه کول ، د مجلو چاپ او نشرول او بلاخره د نوې سياسي فلسفې پراختيا د ښځې او نر د مساوي حقوقو د لرلو پر اساس(Feminism) د يوې پوهې يا د ښځو نهضت په بڼه چې پخوا د سياسي پديدې په توګه د سياسي جغرافيې په بحثونو کې نه شمېرل کېدي ،

ketabton.com - The Digital Library

او دا او دې ته ورته نور بحثونه زياتره په کلتوري او ټولنيزې جغرافيې کې لوستل کېدي . په داسې حال کې چې دا وضعه اوسمهال د بدلون په حال کې ده او يوه نوې او مهمه ساحه يې د ښځو د نهضت سياسي جغرافيې (Feminism Political Geography) په نوم د راڅرګندېدو په حال کې ده .

لنډه دا چې پخوا به سياسي جغرافيې کې د فزيکي محدودې او د هېوادونو د قدرت او د سياسي او نظامي سيالیو ترمنځ اړيکې په نړيواله کچه څېړل کېدي ، مګر د شلمې پېړۍ په اوږد کې د وګړو څېړنې ته هم پام واړول شو . نن ورځ د سياسي جغرافيې پوهان سياسي او ټولنيزې مبارزې او ټولنيز خوزښتونه د تېر په پرتله ډېر جدي ګڼي . د کارګرو ، ښځو ، نژادي لږکيو ، معلولو وګړو حرکتونه او محيطي مبارزين نن ورځ د سياسي جغرافيې په برخه کې د علمي څېړنو غوره موضوعګاني جوړوي . اوسمهال پوهان د سياسي جغرافيې په برخه کې د سياسي ، اقتصادي ، ټولنيزو او کلتوري تيوريکانو څخه ګټه پورته کوي او له همدې امله د سياسي جغرافيې د پراختيا يو نوی پړاو د ځلېدو په حال کې دی .

ketabton.com - The Digital Library

لومړی څپرکی

دنړۍ سياسي جغرافيې تحليل او شننه

په دې څپرکي کې د سياسي جغرافيې تحليل او شننه کېږي، نو لازمه ده چې لومړی جغرافيه، سياست او سياسي جغرافيه وپېژنو او بالاخره په دوی پورې اړوند موضوعګانې روښانه شي.

جغرافيه د چاپېريال او انسان د اړيکو د علمي مطالعې څخه عبارت ده، جغرافيه يوه لرغوني پوهه ده، خو ددې پوهې سياسي څانګه يوه نوې زېږيدلې څانګه ده چې په ۱۹مې پېړۍ کې رامنځته شوې ده. جغرافيه يوه لرغوني پوهه ده چې موخه يې د انساني نړۍ سم پېژندل او ورسره بلدتيا ده. هغه ځانګړنې چې يا ده پوهه له نورو څخه ځانګړې کوي د نړۍ په بېلا بېلو سيمو کې د بدلونونو او په دوی پورې اړوندو مسايلو او موضوعاتو باندې راڅرخېږي.

ketabton.com - The Digital Library

جغرافیه د علمي طریقې له مخې د وګړو د استوګنې اړوند ځایونو ته ځواب برابروي چې ترډیره په درې ډوله پوښتنې وي یعنې چېرته؟ ، ولې ؟ او څنګه ؟. جغرافیه تل هڅه کوي چې دې پوښتنو ته ځواب ووایي.

همدارنګه سیاست د ریاست او حکومت چارو په غوره توګه سرته رسولو ته وایي. سیاست د politics مترادفه کلمه ده او یوناني ریښه لري چې د Polis کلمې څخه یې سرچینه اخیستې ده او په یوناني ژبه کې Polic د ښار ــ دولت په معنی ده. نو له دې داسې معلومېږي چې سیاست ښار او دولت پورې اړوند چارو پر مخ بېولو ته ویل کېږي . په هر صورت هر ډول چارې او تدابیر چې د ځانګړو او دولتي کارونو د ترسره کولو په موخه کارول کېږي سیاست ورته وایي.

په اخر کې ویلی شو چې سیاسي جغرافیه د انساني جغرافیې یوه څانګه ده چې په جغرافیایي چاپېریال کې د ځواک او سیاست پر اغېزو بحث کوي.

د سیاسي جغرافیې او جغرافیایي سیاست (جیو پولیټیک) سره په لومړي برخورد کې ، دې اصل ته په پام سره د ارزښت وړ دی چې دا دواړه بحثونه د جغرافیې او سیاست له اړیکو څخه غږېږي ، له همدې امله غوره ده چې ددې اړیکو مطالعه ددې دواړو بحثونو یعنې جغرافیې او سیاست په لنډو تعریفونو پیل کړو.

۱.۱. لومړی ـ جغرافیه

۱.۱.۱. دجغرافیې پېژندنه

د جغرافیې اصطلاح یوناني ریښه لري چې له " جیو ګرافیا"څخه اخیستل شوې ، عربان یې بیا "الجغرافیه " بولي . په فارسي کې د "جغرافیا" او "جغرافی" په نومونو کارول شوې ، چې دواړه په یوه معنی سره دي . په انګلیسي ژبه کې (Geography) ورته ویل شوې او له دوه برخو یې ترکیب موندلی چې (Geo) د ځمکې او خاورې په معنی دی او (Graphy) د بیان ، توضیح ، تشریح ، کښلو ، ښودلو او د تحلیل په معنی دی (۲۰ : ۹).

ketabton.com - The Digital Library

جغرافيه هغه پوهه ده چې د ځمکې د کرې انساني چاپيريال څېړي ، يا داچې د ځمکې کره د انساني فضايي ليدلوري څخه مطالعه کوي . په بله ژبه جغرافيه د چاپيريال او انسان د اړيکو د علمي مطالعې څخه عبارت ده ، اګر که دا چاپيريال د استوګنې طبيعي چاپيريال وي يا انساني ــ اقتصادي د استوګنې چاپيريال او يا سياسي او امنيتي ــ ستراتيژيک چاپيريال وي .

جغرافيه يوه لرغونې پوهه ده او له اساسي علومو يا پوهو څخه ګڼل کېږي ، خو ددې پوهې سياسي څانګه يوه نوې څانګه ده چې د " ملت" او " ملتي حکومت" د مفهوم پيدا ايښت سره يو ځای په ۱۹مه پېړۍ کې منځته راغله (۳۲ : ۲۱) .

۱.۱. ۲ . د جغرافيې موضوع

دجغرافيې د پوهې موضوع په وروستيو دوه زره کلونو کې ، ځمکه او ځمکې پورې تړلې پدېدې وې خو په دې وروستيو کې د جغرافيې تعريف د نورو علومو په څېر سم او دقيق شوی دی ، بنا پر دې د جغرافيې موضوع په لاندې توګه توضيح کېږي :

- د يوې ټوټې په بڼه د ځمکې کرې پېژندل .
- د ځايونو بې حده ډولونو پېژندل .
- د ځمکې دکرې د توپيرونو ، نااړوليو او تضادونو پېژندل .
- د ځمکې د سيارې د طبيعي څېرې (بڼې) څخه جغرافيايي مطالعه کول .
- د ځمکې د کرې له خورو ورو پديدو تحليل او تجزيه .
- د ځمکې د سطحې د څېرو او پديدو څېړنه چې سيده په انسان او د هغه په اقتصادي ، سياسي ، فرهنګي او ټولنيزو چارو سره تړاو لري (۲۰ : ۱۳).

۱.۱. ۳. د جغرافيې په زده کړه کې غوره مفاهيم

جغرافيه هغه علم دی چې هڅه کوي د سيمو ځانګړنې او د ځمکې پرمخ د پديدو او انسانانو خواره واره کېدل واضح کړي . جغرافيه د چاپيريال او انسان تر منځ متقابلو اړيکو

ketabton.com - The Digital Library

ته ځانګړی ارزښت ورکوي . جغرافیه د چاپیریال پېژندنې له لیارې د ټولنیز فرهنګ په لوړولو کې غوره رول لري او د چاپیریال ساتنې او ګټې اخېستنې په اړه پوهاوی ورکوي . په بله ژبه جغرافیه هڅه کوي لاندې پوښتنو ته ځواب ووایي .

څه شی ؟

چېرته ؟

ولې هلته ؟

څه ډول منځته راغلی ؟

څه اغېزې لري ؟

څه ډول ورڅخه ګټه واخېستل شي ، تر څو دځمکې تعادل وساتل شي ؟.

څوک ؟

کله ؟

د جغرافیې د پورته اصلي موخو یادول د چاپیریال په سمه پېژندنې او د هغې دخوندی ساتلو او ورڅخه د سمې ګټې اخېستنې لامل ګرځي . د جغرافیې زده کړه باید چې لاندې وړتیا په زده کوونکو کې منځته راوړي .

- دجغرافیې د پوهې درک او پرې پوهېدل (د جغرافیې پوهې مفاهیم او اصول) .
- جغرافیایي مهارت .
- د جغرافیایي موضوعاتو په اړه د منطقي فکر کولو د ځواک منځته راتګ (۲۰: ۱۴) .

ددغو اصلي موخو له امله د جغرافیې پوهه ددې لامل ګرځي ترڅو چې چاپیریال په هر اړخیزه توګه وپېژنو او د ساتنې منطقي ګټې اخېستنې په اړه یې وپوهېږو .

همدارنګه د جغرافیې یو بل پوه ایرانی حجةَ الاسلام والمسلمین په دې اړه په لاندې توګه څرګندونې کوي .

ketabton.com - The Digital Library

جغرافيه هم د يو علمي روش له مخې د هغو ځايونو لپاره چې وګړي په کې اوسېږي يو لړ پوښتنو ته ځواب وايي . جغرافيايي پوښتنې معمولاً د درې اساسي پوښتنو په طرح کولو پيل کېږي .

الف : چېرته؟ (**?where**) : چېرته اساسي پوښتنه ده چې په جغرافيه کې مطرح کېږي ، ځکه د انسان ټولې چارې به په يوځای کې ترسره کېږي ، کلي ، ښارونه ، هېوادونه او لوېې وچې ټول ځايونه ګڼل کېږي چې چېرته ؛ته ځواب وايي .

ب .ولې؟ (**?Why**) : ځينې پديدې په ځانګړو ځايونو کې ترسره کېږي ، يعنې په جغرافيه کې دويمه اساسي پوښتنه ولې ده ، چې ولې هلته تر سره کېږي . يعنې کوم لاملونه دي چې دا پديده يې هلته منځته راوړې

ج . څرنګه؟(**?How**) : څنګه ددې ټاکلي ځای پديدې ددې ځای د وګړو پر ژوند اغېزې شيندي ؟(۱۸ : ۲۶).

۲.۱. دويم. سياست

۱.۲.۱. سياست پېژندنه

د سياست معنی اصلاح کول او ښايسته کول دي ، د همدې لغوي معنی پر بنسټ دغه کلمه د رياست او حکومت د چارو لپاره په زياته توګه کارول کېږي ، دا ځکه چې د رياست او حکومت موخه هم د خلکو د حالاتو اصلاح او غوره والی وي . نو په منظمه توګه د حکومت او رياست د چارو پر مخ بېولو ته سياست ويل کېږي (۱۹ : ۹).

سياست د تدبير او حکومتولۍ او د ټولنې دسياست او مديريت په کارونو کې له تدبير څخه کار اخېستلو په معنی دی . په اروپا کې تر منځنيو پېړيو پورې سياست د دين په چوپړ کې و او د هغه يوه برخه ګڼل کېده ، په بله ژبه تر اتلسمې پېړۍ پورې سياست د انسان د ماورا الطبيعي ايډيولوژۍ په چوپړ کې و . د" ملت " ، " ملتي حکومت" ، " نړيوال

ketabton.com - The Digital Library

اقتصاد" او " نړیوالو اړیکو" د مفاهیمو په منځته راتلو سره په نوي او عصري پړاو کې سیاست په تدریج سره د اقتصاد په چوپړ کې شو او اقتصادي موخو ته د رسېدو لپاره و کارول شو (۳۲ : ۲۱).

دسیاست کلمه چې عربي ریښه لري د رعیت کارونو ته لاسرسی ، دخلکو د دنیا او اخرت کارونو سمول او د خلکو د ژوند اداري او تدبیر ته ویل کېږي (۳۸ : ۵).

سیاست د عربي ژبې ریښه لري چې لغت کې "د اس ارامولو او قابوکولو" په معنی دی او یا هغې تګلارې ته وایي چې انسان یې په مخ کې لري . په انګلیسي کې"Politics" د برنامې ، کارکولو طریقې ، اساسي اصولو او قواعدو، دلارښوونې اصول او داسې نورو په معنی دی.

سیاست د ټولنې د مدیریت یا حکومتولۍ په کارونو کې له تدبیرڅخه کار اخېستلو او تدبیر په معنی دی . د سیاست علم د هېواد په چارو کې تدبیر ته وایي په ټېره چې د ملت د ژوند چارې سمې او رغوي ، د سیاست موضوع ډېره پراخه ده چې په بېلابېلو موضوعاتو کې کېدای شي و کارول شي، مګر د سیاست د علم تعریف د هېواد اداري ته راجع کېږي(۲۰ : ۲۲).

په انګریزي ژبه کې دسیاست هم معنی لفظ(Politics)دی چې پوهان یې ریښه د یوناني ژبې له (Polis) کلمې څخه اخېستل شوې ګڼي . په یوناني ژبه کې (Polis) د ښار ـ دولت یا (City_ State) معنی درلوده . له دې لفظي پېژندنې څخه داسې معلومېږي چې دسیاست د انګلیسي ژبې هم معنی لفظ (Politics)په ښار او دولت پورې اړوندو چارو ته ویل کېږي (۱۰ : ۴).

د (Politics) کلمه اصلاً له یوناني کلمې څخه ده او د ارسطو له یوناني کتاب چې د حکومت او حکومت داری په اړه یې لیکل شوی ورڅخه اخېستل شوې . یاده کلمه له آره لومړی په لاتیني کې د (Politique) کلمې او وروسته بیا په ۱۵۲۰م کال کې د انګلیسي (Politics)په بڼې یې بدلون موندلی . د (Politic)کلمه د لومړي ځل لپاره په ۱۴۳۰م کې په

ketabton.com - The Digital Library

انګلیسي ژبه کې کارول شوې وه ، البته د فرانسوي د (Politique) کلمه چې په خپله د لاتیني (Politicus) او یوناني کلمې (Politkus) رېښه لري ؛ چې" د اتباعو یا ملکي وګړو" په معنی ده . د (Politics) کلمه د تابع او (Polis) د ښار په معنی اخیستل شوې ده ؛ چې یادې اصطلاحګانې له پخوا کارول کېدې .

په هر صورت په ټولیزه معنی هر ډول تګلاره او یا تدابیر چې د ټولنیزو او یا ځانګړو کارونو د اداري او بهبود لپاره په کار اچول کېږي سیاست ګڼل کېږي ، لکه چې موږ داقتصاد سیاست ، نظامي سیاست او داسې نورو یادونه کوو. مګر په ځانګړې معنی سره هر کار چې دولت او مدیریت پورې تړاو ولري ورته سیاست وایي ، او یا د ملک داری په چارو او یا په یوه ټولنیزه اداره کې د کارونو د تدابیرو نیولو ته سیاست ویل کېږي (۴ : ۱).

۲.۲.۱. دسیاست تعریف

د سیاست فن پر سوله ییزو او نا سوله ییزو اړیکو رهبري کول ، د وګړو ډلو او ګوندونو او همدارنګه د حکومتي چارو رهبري د یو هېواد په کوردننه او په نړیواله کچه د دولت او دولتونو ترمنځ د اړیکو جوړول دي (۲۰ : ۲۷).

۳.۲.۱. دسیاست ځانګړنې

دسیاست فن لاندې ځانګړنې لري .

- دقدرت (ځواک) ترلاسه کولولپاره مبارزه .
- د ځواک ساتل .
- د ځواک ښودل او زیاتېدل (۲۰ : ۲۲).

ketabton.com - The Digital Library

۱.۲.۴. دسیاست ډولونه

ټولیز سیاستونه : هغه اصول دي چې د ذیصلاح مراجعو په وسیله په هېواد کې وضع شوي وي او د یوې نمونې او لارښود په عنوان په ټولنه کې لازم اقدامات او فعالیتونه رهبري کوي (۲۰:۲۳).

د ابن خلدون له نظره دسیاست ډولونه په درې ډوله دي .

۱.) حیواني سیاست . ۲.) عقلي سیاست او ۳.) ديني سیاست .

۱. حیواني سیاست : هغه سیاست دی چې د عقل او قانون تابع نه وي ، یوازې د پا چا او د هغه د درباریانو تابع وي ، او دوی چې څه غواړي کوي یې ، او په دې توګه یې موخه دحیواني غوښتنو تر سره کول وي . دا ډول سیاست د پاچا هانو، امیرانو او پوځیانو په دیکتاتوري نظامونو کې وي .

۲. عقلي سیاست : هغه سیاست دی چې هوښیارانو ، پوهانو او د قوم شریفو وګړو یو قانون جوړ کړی وي او موخه یې یوازې دنیاوي ښېګڼې وي ، لکه مشروطه شاهي یاغیر اسلامي جمهوریتونه .

۳. ديني یا شرعي سیاست : هغه سیاست دی چې د اسلامي عقیدې او شرعي قوانینو پر اصولو ولاړ او موخه یې د دارینو اصلاح او فلاح وي .

دابن خلدون له نظره د شرعي سیاست ډولونه په لاندې توګه دي :

الف . د ځان سیاست : هغه سیاست دی چې هر چا دخپل ځان د کړو وړو د اصلاح لپاره اصلاحي تدابیر جوړ کړي وي او د هغې پلوي کوي .

ب . د کور سیاست : هغه تدبیرونه دي چې دخپل کور چارې پرې په ښه توګه پرمخ ببول کېږي .

ketabton.com - The Digital Library

ج ـ د کورنۍ سیاست : هغه تدبیرونه دي چې د کورني نظام چلولو په موخه په کار اچول کېږي .

د ـ د وعظ او نصیحت سیاست : هغه تدبیرونه دي چې د وګړو د اصلاح او سمون په موخه په کار اچول کېږي .

ه ـ مدني سیاست : هغه مقررات دي چې په هغې سره دحکومت نظم په ښه توګه چلول کېږي .

و ـ د بوده وو سیاست : هغه تدابیر دي چې پرې حیوانات (څاروي) تابع (ایل) او روزل کېږي (۲۳ : ۱ ، ۲).

۳.۱. درېیم. سیاسي جغرافیه

۱.۳.۱. دسیاسي جغرافیې پېژندنه

د سیاسي جغرافیې لپاره ډیر تعریفونه د بېلابېلو پوهانو لخوا وړاندې شوي دي چې موږ یې ځینې په لاندې کرښو کې را اخلو .

سیاسي جغرافیه د جغرافیې هغه برخه ده چې د هېوادونو د حدودو او مرزونو او همدارنګه د داخلي او نړیوالو اړیکو ،د اداري او ټولنیزو تشکیلاتو او دې ټه ورته نور موضوعاتو په اړه بحث کوي (۱۶ : ۵۵۷) .

سیاسي جغرافیه دانساني جغرافیې یوه څانګه ده چې په جغرافیایي چاپیریال کې دقدرت (ځواک) او سیاست اغېز اچولو او اغېز منلو مطالعه کوي ، له همدې ځایه ویلی شو چې سیاسي جغرافیه د سیاسي متشکله واحدونو په څېړنه بوخته ده (۲۱ : ۲).

سیاسي جغرافیه له ټولنیزو پوهو څخه ده ، او د بشري جغرافیې یوه څانګه ده چې د سیاسي قدرت یا سیاست او جغرافیې اړیکې څېړي (۴ : ۱).

ketabton.com - The Digital Library

سیاسي جغرافیه د انساني جغرافیې یوه څانګه ده چې په جغرافیایي چاپیریال کې دقدرت او سیاست د اغېزو اچولو او اغېزو منلو څخه بحث کوي . یا داسې هم ویلی شو چې : سیاسي جغرافیه سیمه ییز سیاسي ورته والي او توپیرونه او د هغو اړیکې له ټولو جغرافیایي ورته والو او توپیرونو سره څېړي (۲۰ : ۳۳) .

سیاسي جغرافیه د ځمکې سیارې د واحدونو او په انساني او اقتصادي جغرافیایي مسایلو کې د سیاسي فعالیتونو د رول څخه بحث کوي (۲۴ : ۱۸).

۲.۳.۱. دسیاسي جغرافیې موضوع

دسیاسي جغرافیې اصلي موضوع هېواد دی ، سیاسي جغرافیه سیاسي پدیدې د هېواد په داخلي فضاء کې تر بحث لاندې نیسي چې هېواد ، سرحد ، ملت ، حکومت او سرزمین مفاهیمو لرونکی وي(۲۰ : ۳۴). هېواد او هېواد پورې اړوند مفاهیم ددې علم اصلی موضوع ګڼل کېږي ، د هېواد مفهوم چې په سیاسي جغرافیې کې ځای لري له دریو لاملونو ملت ، حکومت او ځمکې څخه هېواد جوړېږي . بنا پردې په دې مفاهیموپورې تړلي ټول موضوعات لکه دفضا سیاسي تنظیمول ، ملت ، د قدرت مشروعیت ، قلمرو (محدوده) ، امنیت او ... هېواد پورې تړلي مسایل دي چې نن ورځ په سیاسي جغرافیې کې څېړ ل کېږي (۲۱ : ۲).

۳.۳.۱. دسیاسي جغرافیې اصلي مفهوم

په سیاسي جغرافیې کې اصلي او مرکزي بحث (هېواد + حکومت = State) دی . " هېواد " (Country) د سیاسي جغرافیې په مطالعه او څېړنه کې د پام وړ اصلي مفهوم دی ، نورې هغه برخې او مفاهیم چې په دې پوهه کې د بحث او پام وړ دي ، په سیده او اغېزمنه توګه ؛ د" هېواد" د مفهوم سره تړاو پیدا کوي ، او په زیاترو برخو کې دا مفهومونه د هېواد له مفهوم پرته پایښت نه لري .

ketabton.com - The Digital Library

دپام وړ ده چې (هېواد + حکومت) = State د سیاسي جغرافیې د بحثونو مرکزي هسته او اصلي بحث دی . په فارسي ژبه کې دواړو (هېواد او حکومت) مفهومونو ته دانګلیسي(State)او د فرانسوي(etat)اصطلاح کارول کېږي . حکومت د قانوني تشکیلاتو سیاسي جوړښت عمودي بُعد دی ، چې د وګړو د ټولنیزې خوښې پر اساس په یوه انساني ځانګړې تولنه کې رامنځته کېږي چې " ځمکه " (سرزمین) د هغي افقي څېره ګڼل کېږي . په بله وینا سیاسي ځمکه (هېواد) یوه فزیکي پدیده ده چې عمودي بُعد ته یې حکومت ویل کېږي . له بله پلوه په فارسي ژبه کې د هېواد اصطلاح له جغرافیایي پلوه د انګلیسي ژبې د (Country)سره همغږي لري ، خو همدا مفهوم په ورځنۍ ګټه اخېستنه کې له ښار څخه بېرون ته = دغرونو لمنو د مفهوم په معنی کارول کېږي . ځینې مهال له سیاسي پلوه د(State)مفهوم سره ورته والی کوي . ددې دواړو تر منځ توپیر کول د جملې له بڼې معلومېږي ، د بېلګې په توګه د (State) اصطلاح په لاندې جمله کې د هېواد په معني ده ، او دا چې د جملې بشپړ مفهوم په بشپړه توګه جغرافیایي اړخ لري ؛ د (Country) له اصطلاح څخه هم کیدی شي ګټه واخېستل شي (۳۲ : ۳۳).

The two states have defiend their boundaries in the middle of the Parsian Gulf.

یعنې دوه هېوادونو خپلې کرښې د فارس خلیج په منځ کې ټاکلې وې .

په داسې حال کې چې په لاندې جمله کې(State) یوازې سیاسي مفهوم لري او د " حکومت " په معنی ده چې د (Country) اصطلاح نشي کولی د هغې پر ځای راشي .

The state in this country is known as Islamic republic of Iran.

یعنې حکومت په دې هېواد کې جمهوري اسلامي ایران پېژندل کېږي .

په اخر کې ویلی شو چې حکومت پر یوه ځمکه او ملت د حاکم قانوني تشکیلاتو د سیاسي جوړښت عمودي بُعد دی ، چې د ملت په ټولیزه خوښه رامنځته شوی وي ، او هېواد یا ځمکه یا بوم د یاد شوي جوړښت فزیکي افقي څېره ده . په بله ژبه " ځمکه " (سرزمین یا

ketabton.com - The Digital Library

Territory) د حکومت فزیکي ښکارنده (پدیده) ده او حکومت د ځمکې تنظیم کوونکی قانوني او عمودي جوړښت دی (۳۲ : ۳۴).

۴.۳.۱. دسیاسي جغرافیې ځانګړنې

سیاسي جغرافیه د لاندې ځانګړنو لرونکې ده .

۱. پلټنه یا هڅونه : د سیاسي جغرافیې د ځمکې فضاء د دودیزې تقریباً ثابتې جغرافیې د فضاء په پرتله د تحرک او پلټنې لرونکې ده ، نو د دولتونو سیاستونو ته په کتلو ، او په ځمکو کې د مستقرو سیاسي نظامونو د جهت نېونې له امله د سیاسي جغرافیې د ځمکې فضاء د لوړ ارزښت لرونکې ده او تل یې د هېوادونو د سیاست سره یوځای بدلون کړی او نوې محدوده یې په کې رانغښتې ده (۲۰ : ۳۴) .

۲ـ ځانګړې پولـه بنـدي : د سیاسي جغرافیې د سیمو پولې ،په دودیزې جغرافیې کې د دودیزو پولو برخلاف د هېوادونو د ځواک او سیمو د نفوذ پر اساس رامنځته کېږي ، چې دا کار هم د هېوادونو اقتصادي او سیاسي قدرت ته په کتلو سره د ستاینې وړ دی . په بله ژبه لویو قدرتونو (ځواکونو) لکه امریکامتحده ایالاتو خپلې پولې د خپلې ځمکې د سرحدونو ور اخوا جوړې کړي او د دولت بېرونۍ سیاستونو ته په کتلو نړیوال امنیت یې د امریکا داخلي امنیت ګڼلی . مګر کوچنیو او کمزورو هېوادونو لکه واتیکان خپلې سیاسي پولـه بندي یې آن چې د خپلې ځمکې له سرحدونو هم کمې او تنګې دي ، ځکه چې د ایټالیې هېواد داخلي بدلونونو سره دغه هېواد تل د بنسټیزو او د پام وړ بدلونونو سره مخامخ وي .

۳ـ دسیاسي جریانونو لوری نېونه : د دودیزې جغرافیې برخلاف چې له شمال ــ جنوب ، ختیځ ــ لوېدیز او داسې نورو په ځېر تشکیل شوې ده ، په سیاسي جغرافیې کې ډیره پاملرنه شما ل ـ جنوب او له مرکز ګرد چاپېره ته کېږي . ځواکمن دولتونه تل په خپلو سیاستونو سره د نړیوالې ټولنې ټول هېوادونه د ځان سره یوځای کړي او د یو ځایې او بېلو دولتونو په قالب کې په متقابلو او ګدو ګټو وېشل کېږي (۲۰ : ۳۴، ۳۵) .

ketabton.com - The Digital Library

۱.۳.۵. د سیاسي جغرافیې څرنګوالی او قلمرو

سیاسي جغرافیه د انساني جغرافیې یوه څانګه ده ، نن ورځ د سیاسي جغرافیې د وروستي تعریف پر اساس د سیاسي جغرافیې ځانګړی رول د سیاسي پدیدو فضاء یي شننه او د سیاسي پېښو یا پروسو پېژندل دي . هارتشون په (۱۹۵۴م) کې لومړی منسجم تعریف چې زیاترو جغرافیه پوهانو منلو په لاندې توګه وویلو : "سیاسي جغرافیه سیمه ییز سیاسي ورته والي او توپیرونه او د هغوی اړیکې له ټولو جغرافیایي ورته والو او توپیرونو سره څېړي" (۲۰ : ۳۵).

د تیوریکي او سیستماتیکې جغرافیې په پراختیا سره یو نوي تعریف ته اړتیا لېدل کېده ، د ۶۰ مې لسیزې په وروستیو کې لیدونکو بدلونونو او وړاندې شویو تعریفونو دا علم رامنځته کړ. جکسون د سیاسي جغرافیې اساسي کار د هغو په سیمه ییزو ځایونو کې د سیاسي پدیدو څېړنه تعریف کړې ده .

دوه تنو نورو جغرافیه پوهانو د (کوهن اورزنتال) په نومونو سره دنوې مېتودولوژي څخه په ګټې اخېستنې سره یوه بېلګه طرحه کړه چې په ټولنه کې د انسان رول او د ځمکې سره یې د تړاو او له دې تړاو څخه لاسته راغلې پایلې یې د سیاسي نظام په تشکیل کې ښودلې . په دې بېلګه کې د انسان سیاسي رول د سیاسي ایدیولوژۍ ، سیاسي جوړښت او اجرایوي تصمیمونو په بڼه راڅرګندېږي . سیاسي پروسې د هغې د منځته راوړونکو ټولنیزو قوو څخه بېلې نه دي . دا چې دا ځواکونه سیاسي نهادونو ته شکل ورکوي او سیاسي پروسې هم د همدغو نهادونو له لیارې عمل کوي ، بناء پردې دا سیاسي نظام د ټولنیزو ځواکونو ، سیاسي پروسو او هغو پدیدو پورې تړلو جغرافیایي فضاء (چې یو له بل سره ورته چارې لري) څخه تشکېلېږي .

سیاسي نظام هم پراخه لمن لري چې دوه سرونه یې په بشپړه توګه خلاص او یا په بشپړه توګه تړلي نظامونه تشکېلوي . تقریباً ټولو نظامونو ددې دوو افراط او تفریط سرونو ترمنځ ځای نېولی . د سیاسي نظام د ځمکې سره سیده او پراخې اړیکې لري . خلاص

ketabton.com - The Digital Library

نظام داسې یو لید لوری رامنځته کوي چې د متقابل پیوستون محصول وي ، د بېلګې په توګه کولی شو د استوګنې د فشرده نمونې ، له سرچینوڅخه د متمرکز ګټې اخېستنې بڼه ، د ورودي بندرونو پراختیا او د نړیوالو علومو پیدایښت ځخه نوم واخلو. په ټولو نظامونو کې داچې موخه یې پرځان بسیا کېدل دي ، لید لوري په بڼه ښکاري . په دې نظام کې د استوګنې طرز په خواره واره توګه او له سرچینو ځخه ګټې اخېستنې په غیر متمرکزه او پراخه توګه ښکاري . په دې نظام کې د هېواد مرکزي برخو ته د شونتیاوو او اسانتیاوو په برابرولو کې زیاته پاملرنه کېږي. او ملي شعارونه او ننبې د نړیوالو ننبوځای ناستی کېږي . بناءً دسیاسي نظام د ټول او خلاص پراساس ، کولی شو دلیدو وړبدلونونو وړاندوینه یې وکړو(۲۰ : ۳۵،۳۶).

۶.۳.۱. دسیاسي واحدونومفهوم

د سیمو ټولیز وېش سیاسي واحدونه رامنځته کوي چې د ایالتونو یا سیاسي هېوادونو ملي ځانګړتیاوې په خپل ځان کې رانغاړي لکه د امریکامتحده ایالات او مکزیک هېوادونه یې د بېلګې په ټېر ښودلی شو . چې په کور دننه یې ایالتي پولې غالباً انتخابي دي ، چې له دې امله نشوکولی چې د دوی ایالتي اداري د یوخپلواک جغرافیایي واحد په عنوان وکاروو (۲۰ : ۳۸).

۷.۳.۱. جیوپولیتیک یا جغرافیایي سیاست

سیاسي جغرافیه او جغرافیایي سیاست یا جیوپولېټیک (Geopolitics) د یوې پوهې دوه بشپړ بحثونه دي چې د "په جغرافیایي چاپېریال کې د سیاسي قدرت د زیاتوالي پر رول بحث کوي " . په سیاسي جغرافیې کې د انسان اغېز پر چاپېریال چې لاندې برخې لکه د کرښو کښل ، د ځمکو وېش او د سیمو په قیاس د ملتونو او هویتونو پېژندل په کې ټېرل کېږي . په ټوله کې کولی شو ووایو : سیاسي جغرافیه عبارت ده له "پر معلومه جغرافیایي فضاء د انسان د سیاسي تصمیمونو د اغېز شېندنې ټېرنې ځخه " ، لکه په جغرافیایي صحنې کې د یو هېواد سیاسي وېش او سیاسي کرښې .

ketabton.com - The Digital Library

حال داچې جیوپولیتیک په ټولیزه توګه کیدای شي داسې تعریف کړو : " دقدرت او ځواک لرونکو په سیاسي تصمیم نېولو کې د جغرافیایي لاملونو اغېزو څېړنې ته جیوپولیتیک وایي"، لکه د قدرتونو سیاسي موخو په مخته وړلو اړوند برنامو کې د طبیعي سرچېنو او د جغرافیایي موقعیتونو او عوارضو د رول ارزول . په بله ژبه په داسې حال کې چې سیاسي جغرافیه د "هېواد " په چوکاټ کې د چاپېریالي ــ سیاسي زیاتېدونکي رول پر سر غږېږي ، جیوپولیتیک د" قدرت " د مفهوم په چوکاټ کې د چاپېریالي ــ سیاسي زیاتېدونکي رول څخه بحث کوي . له دې امله جیوپولیتیک عبارت دی له " دقدرتونو ترمنځ دسیالۍ او یا د مرستو د اړیکو څېړلو څخه ،د هغو امکاناتو پر بنسټ چې جغرافیایي چاپېریال یې په واک کې ورکوي . یا له هغو امکاناتو څخه چې په دې برخه کې یې له جغرافیایي چاپېریال څخه اخلي .

جیو پولیتیک تر ډیره تر ملت اخوا لید لوری لري ، حال داچې سیاسي جغرافیه تر ډیره د هېواد دننه موضوعاتو یا پدیدو پر رول څرخېږي (۳۲ : ۲۱ ، ۲۲) .

سیاسي جغرافیه (Political Geography) او جغرافیایي سیاست (Geopolitic) دواړه په جغرافیایي محیط کې د سیاسي قدرت پیدا کېدلو او زیات رول څېړلو سره مینه لري . خو یوازې په دې توپیر سره چې په جیوپولیتیک کې د جغرافیایي لاملونو اغېزې د قدرت لرونکو په سیاسي تصمیم نېولو کې تر څېړنې لاندې نیسي . حال دا چې په ټولیز برخورد کې کېدی شي سیاسي جغرافیه په جغرافیایي محیط کې د قدرت لرونکو د سیاسي تصمیمونو د اغېزو څېړنه وښایو (۴ : ۱).

جغرافیایي سیاست د جغرافیایي لاملونو په سیاسي تصمیم نېولوکې د قدرت لرونکو د اغېزو مطالعه ده ، لکه د عوارضو د رول ارزول ، طبیعي سرچېنو او جغرافیایي موقعیتونو او سیاسي موخو د پرمخ بېولو په تړاو د برنامو جوړول .

جغرافیایي سیاست (Geopolitics) د سیمو پر اساس د ځواکونو ترمنځ د سیالیو یا همکاریو مطالعه ده چې جغرافیایي چاپېریال او جغرافیایي شرایط په واک کې لري ، چې په

ketabton.com - The Digital Library

دودیزه ډول د اطلاعاتو ، جغرافیایي تکنیکونو او لید لورو پر اساس د هېوادونو د بېرونۍ سیاست پر مسایلو را څرخېږي ، چې د کاربردي (عملي) سیاسي جغرافیې یو ډول ښودل کېږي . له بله پلوه په نړیوالو حوزه یي مسایلو کې چې د جیوپولیتک مطالعاتو قلمرو دی ، په دودیزه توګه په نړیواله کچه د ځواکونو د مناسباتو په باره کې نړیوالو ځواکونو ته لارې پیدا کول او د هغې زیاتوالی بحث او څېړل کېږي (۲۰: ۳۸).

اوسمهال کې هغه بدلونونه چې په نړیوال سیاست کې رامخې ته دي جیوپولیتیک ته یې د بحث زیاتې څانګې جوړې کړي او د سیاسي جغرافیې څانګې رنګارنګ او تازه مفاهیم تر بحث لاندې نیسي . ددې ډول مفاهیمو څېړل او پلټل دحکومتولۍ په چاروکې زیاته مرسته کوي .

ځینو دجیوپولیتیک اصطلاح دسیاسي جغرافیې سره مترادف ګڼلې ده، مګر په حقیقت کې د هغې اصلي یا نړیواله معنی د ځواکمنو دولتونو ترمنځ د برترۍ اوتفوق د لاسته راوړلو لپاره سیالۍ دي ، ولې په ستراتېژیک بحث کې جیوپولیتک د هېوادونو د ارضي تمامیت په ساتلو سره اطلاق کېږي (۲۰:۳۹).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

جغرافيه د پوهو په ډګر کې هغه يوازينۍ پوهه ده چې د ځمکې د کرې انساني چاپيريال تر څېړنې لاندې نيسي. جغرافيه يوه لرغوني پوهه ده او له بنسټيزو علومو څخه شمېرل کېږي. د جغرافيې علوم په ټوله کې په دوه لويو ښاخونو وېشل کېږي چې يو يې فزيکي جغرافيه او بل يې انساني جغرافيه ده. سياسي جغرافيه هم د انساني جغرافيې يوه څانګه ده. د زياترو پوهانو په آند سياسي جغرافيه ډير لرغونتوب نه لري. دا جغرافيه هغه مهال راپيدا شوه چې په دې نړۍ کې د "ملت" او "ملتي حکومت" مفهوم راڅرګند شو، نو ويلی شو چې دا پديده د ۱۹مې ميلادي پېړۍ زېږنده ده.

سياسي جغرافيه هغه پوهه ده چې د هېوادونو د حدودو، کرښو او همدارنګه د داخلي او نړيوالو اړيکو، د اداري او ټولنيزو تشکيلاتو او دې ته ورته نورو موضوعاتو په اړه بحث کوي. د سياسي جغرافيې د بحث وړ موضوع د هېواد هر اړخيزه څېړنه ده.

سياسي جغرافيه او جغرافيايي سياست يا جيو پوليتيک دواړه په جغرافيايي سياست کې د سياسي ځواک د پيدا کېدو او زيات رول څېړلو سره مينه لري، خو توپير يې دادی چې جيوپوليتيک کې د جغرافيايي لاملونو اغېزې د ځواک لرونکو په سياسي تصميمونو کې څېړي. حال داچې سياسي جغرافيه په جغرافيايي محيط کې د ځواک لرونکو د سياسي تصميمونو اغېزې څېړي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱.په ټولیزه توګه جغرافیه څنګه تعریفولی شئ !؟.

۲.د جغرافیې غوره موضوعګانې کومې دي ؟.

۳.جغرافیایي پوښتنې معمولاً د کومو بنسټیزو پوښتنو په طرح کولو پیل کېږي ؟.

۴.سیاست په لغت او اصطلاح کې څه ډول تعریفونه لري ؟.

۵.د Politics کلمه څه معنی لري او ریښه یې کومه ده ؟.

۶.سیاسي جغرافیه یعنې څه ؟.

۷.د سیاسي جغرافیې اصلي د بحث موضوع څه ده ؟.

۸.سیاسي جغرافیه او جغرافیایي سیاست یو له بله څه توپیر لري ؟.

۹.جیوپولیتیک اصطلاح څه معنی لري ؟.

۱۰.د state مفهوم څه دی ؟.

۱۱.د Polic اصطلاح څه معنی لري ؟

ketabton.com - The Digital Library

دویم څپرکی

په نړۍ کې د سیاسي جغرافیې د منځته راتګ په اړه تولیزې څرګندونې

که څه هم زیاتره د جغرافیې پوهان په دې آند دي چې سیاسي جغرافیه د ۱۹مې میلادي پیړۍ په وروستیو کې منځته راغلې ده، خو په جغرافیایي چاپیریال د سیاسي پربکړو اغیزې په پخوا وختونو کې هم درک شوي. نو ویلی شو چې سیاسي جغرافیه هم په دوه غټو پړاوونو وېشل کېږي، چې یو یې تر ۱۹ مې میلادي پیړۍ وړاندې پیر او بل یې تر ۱۹مې میلادي پیړۍ وروسته پیر دی.

ځینې نور پوهان په دې آند دي چې د سیاسي جغرافیې تاریخ په درېو پړاوونو کې وېش شوی، یعنې د سیاسي جغرافیې د پرمختګ، ګوښه کېدو او راژوندي کېدو پړاوونه.

له ۱۹۸۹ مېلادي کال را پدېخوا د نړۍ سیاسي جغرافیه کې غټ او ژور بدلونونه راغلل، نړۍ له دوه قطبیت څخه ووتله او سړه جګړه پای ته ورسېده او ځای یې بې ثباتۍ ته

ketabton.com - The Digital Library

پرېښودو . د هېوادونو په کورنيو چارو کې د ځينو ارګانونو لکه ملګرو ملتونو ټولنې او ناټو سازمان لخوا لاس وهنې عملاً پيل شوې.

۱.۲. په نړۍ کې د سياسي جغرافيې د منځته راتلو بهير

پوهان سياسي جغرافيه د ۱۹مې پېړۍ د وروستيو وختونو لاسته راوړنه ګڼي ، خو د جغرافيايي چاپيريال د بدلون او يا هم پر جغرافيايي چاپيريال د سياسي پرېکړو د اغېزو نښې موږ له ۱۹مې پېړۍ څخه پخوا په پخواني تاريخ کې هم موندلی شو، په همدې پار د سياسي جغرافيې تاريخي سير ځينې پوهان په دوو پيرونو کې لولي، چې له نولسمې پېړۍ څخه پخوا وختونو کې د سياسي جغرافيې اثار او له ۱۹مې پېړۍ وروسته د سياسي جغرافيې اثار دي . چې هر يو يې په لاندې توګه په تفصيل سره ليکو.

۱. تر ۱۹مې پېړۍ د مخه سياسي جغرافيه.

۲. تر ۱۹مې پېړۍ وروسته سياسي جغرافيه (۱۰ : ۱۰).

خو ځينې پوهان بيا په دې آند دي چې د سياسي جغرافيې تاريخ د يوې علمي رشتې په توګه کولی شو چې په درېو دورو وېش کړو.

الف : دپرمختګ پړاو (د۱۹ مې پېړۍ د وروستيو څخه تر دويمې نړيوالې جګړې پورې).

ب : د ګونبه کېدو پړاو (له ۱۹۵۰ ـ ۱۹۷۰ يمې لسيزې).

ج : د را ژوندي کېدو پړاو (له ۱۹۷۰ م لسيزې را وروسته) .

البته کولی شو چې سياسي جغرافيې پورې تړلي آندونه له دې تاريخونو وړاندې وپلټو . ارستو (۲۳۰۰) کلونه وړاندې په لرغوني يونان کې د ځينو مسايلو لکه پولو ، مرکزي ښارونو او د وګړو د ځای ترمنځ تناسب تر مطالعې لاندې نيولي وو (۲۰ : ۳۹).

همدارنګه د ځينو نورو پوهانو په آند د تاريخي پلوه کولی شو سياسي جغرافيه په درې ببلابېلو دورو کې تر څېړنې لاندې ونيسو.

ketabton.com - The Digital Library

۱. د سیاسي جغرافیې د راپورته کېدو پړاو : چې د ۱۹مې پېړۍ له وروستیو څخه تر دویمې نړیوالې جګړې پورې پایښت مومې .

۲. دانزوا (ګوښه کېدو) او زوال پړاو : چې د ۱۹۴۰ او ۱۹۷۰ م لسیزو ترمنځ کلونه په برکې نیسي.

۳. د سیاسي جغرافیې د بیا را ژوندي کېدو پړاو : چې له ۱۹۷۰ م لسیزې را وروسته کلونه رانغاړي .

که څه هم سیاسي جغرافیه په معاصره بڼه د ۱۹ مې میلادي پېړۍ په وروستیو کې منځته راغله ، مګر سیاسي جغرافیې کې شاملو موضوعاتو تحلیل او مطالعه تاریخي مخینه لري . د لرغوني یونان پوه ارسټو ۲۳۰۰ کاله وړاندې د هېوادو په مطالعه کې د چاپیریالي جبر مفکوره د پولوپه ټاکلو کې او همدارنګه د نفوسو او ځای ترمنځ تناسب تر څېړنې لاندې نیولې وو. همدارنګه نوموړي دیوښار پلازمېنې کېدو لپاره شرایط اړین ګڼل . ارسټو په دې ټولو بحثونو کې د فزیکي چاپیریال په ماهیت په ځانګړي توګه په آب وهوا دیوټاکونکی لامل په توګه اشاره کړې ده.

تر ارسټو درې پېړۍ وروسته سترابو رومي ـ یوناني جغرافیه پوه په ۱۷ ټوکو کې کتابونه ولیکل چې د هماغه وخت د پېژندل شوې نړۍ توصیف و. سترابو (Strabo) په خپلو مطالعو کې وارزوله چې د روم امپراتوري څنګه وتوانېده تر څو د یوې موٴثرې اداري په رامنځته کېدو د هغه هېواد مساحت د پراخوالي ستونزې سره سم مقابله وکړي . علاقه مندانو د هغو لاملونو د ارزولو په باره کې چې د یو هېواد بڼې او سیاسي سیمو څرنګوالي ته بدلون ورکوي آب وهوا وګڼله . سترابو هم لکه د ارسټو په څېر د خپلو ملي سختو تمایلاتو په درلودلو سره په دې باور و چې د هغه هېواد (یونان) غوره آب وهوا او په پایله کې د حکومت کولو غوره تګلاره لري .

په منځنیو پېړیو کې علم او پوهه په اروپا کې د مذهب تر وړانګو لاندې راغله ، حال دا چې په اسلامي نړۍ کې جغرافیې د پام وړ پرمختګ کړی و.

ketabton.com - The Digital Library

ابن خلدون تاریخ لیکونکی ، فیلسوف او پېژندل شوی ټولنپوه له هغو لیکوالان څخه و ، چې له اوږدو سفرونو وروسته يې خپله مشهوره نظریه د ښار اوقبیلې په اړه واورولـه . پر دې واحدونو يې د طبيعي چاپيريال رول د ټاکونکو لاملونو په څېر وښودلو . ددې نظريې له مخې حکومتونه د طبيعي قانون (ودې ، بلوغ ، زړښت او منځه تلو) څخه پيروي کوي . که چېرته له قدرت څخه تر لاسه شوې د فساد اواخلاقو کمزورتيا د يو هېواد د عمر د لمنځه تللو لامل نه شي دغه لاندې پنځه ګوني پړاوونه تېروي (۴ : ۸).

۱. داستبداد د دوران پيدايښت يا د ځواک انحصار پړاو.

۲. دخوښۍ پړاو.

۳. داسراف پړاو.

۴. دانحطاط (وروسته کېدو) پړاو.

۵. دلمنځه تللو پړاو.

د رونسانس پړاو چې له ۱۶ تر ۱۸ مې پېړۍ منځته راغی ، په دې پړاو کې چې ريفورمونه او نه سياسي بې ثباتۍ يې ځانګړتياوې وې ، فلسفې او علومو ته په کې بيا پاملرنه زياته شوه ، دېبلګې په توګه سر ويليام پتې (Sir William petty) انګليسي اقتصاد پوه په ۱۶۹۲ م کې په خپل اثر کې چې د آيرلينډ په اړه يې ليکلی و ، د برتانيې حکومت ځواک يې په آيرلينډ کې د هغه هېواد نفوسو او پراخوالي د لاملونو پر اساس ارزيابي کړ (۴: ۹).

اوس نو په لنډه توګه د سياسي جغرافيې پړاوونه په لاندې توګه څېړو.

۲.۱.۱. د سياسي جغرافيې د راپورته کېدو پړاو

المان نوی هېواد د يومتحد هېواد په توګه په ۱۸۷۱ م کال کې منځته راغی ، او د ۱۹ مې ميلادي پېړۍ په وروستيو کلونو کې د پروس د پاچاهانو تر لارښوونې لاندې يې هڅه

ketabton.com - The Digital Library

کوله ترڅو د برتانیې ، فرانسې ، روسیې ، اتریش او هنګري هېوادونو په څېر په یو نړیوال ځواک بدل شي ، مګر په مرکزي اروپا کې د جرمني جغرافیایي موقعیت چې په وچه کې راګېر و؛ په دې کې یې محدودیتونه لګول . ددې شرایطو لاندې د پراخوالي او ځواک ترمنځ د اړیکو تامینولو پام د المان منورې ټولنې او په تېره بیا فدریک راتزل (۱۸۹۴-۱۹۰۴م) ته چې ځینو هغه د جرمني پلار ګڼلو راواړولو . دراتزل اساسي موخه د هغه په علمي چارو کې د المان پراختیا غوښتنې دلایل و. راتزل په خپلو ارزونوکې د داروین او د هغه د پیروانو له تکاملي تیورۍ څخه متاثره و. د همدې تیورې له مخې د ژوندیو جسمونو تکامل د هغه د چاپېریال تر اغېز لاندې رامنځته شوی . راتزل د سیاست په چاپېریال کې ددې تیورۍ په تطبیقولوسره هېوادونه هم د ژوندیو جسمونو په څېر ورته ګڼل ، او داسې استدلال یې کولو چې هېوادونه هم د خپل پاینبت او دوام لپاره تاکلې حیاتي فضا ته اړتیا لري ، چې راتزل هغه حیاتي فضا (living space)یا(Lebensraum) ونومولـه . راتزل استدلال کولو چې هېوادونه هم لکه د ژوندیو په څېر د ورته (مشابه) قوانینو لاندې پراختیاکوي ، او له همدې امله که چېرې د اړتیا وړ حیاتي فضاء (د بېلګې په توګه د نفوسو د پراختیا په بڼه کې) د یو هېواد لپاره کافي نه وي ، هېوادونه د مجبوریت له مخې د خپلې اړتیا وړ حیاتي فضا د تر لاسه کولو په موخه نویو ځمکو او سیمو په نېولو او اشغال لاس پورې کوي . راتزل د هېوادونو د پراختیا په تړاو اوه بېلابېل قوانین برابر کړي وه ، چې د هغې پر اساس د نورو سیمو نېول آن که په جنګ هم ختمېده د هېوادونو قانوني حق ګڼلو ، په دې اساس راتزل نه یوازې د جرمنیانو د پراختیا غوښتنې لپاره د علمي پلوه قانونیت ورکړ ؛ بلکې هغه یې یوه اړینه او طبیعي عملیه وګڼله . راتزل استدلال کولو چې د جرمنیانو لپاره زیاتې حیاتي فضا لاس ته راوړني لپاره یوازینۍ لاره د هغه هېواد لپاره په افریقا کې استعماري پراختیا ده ، ځکه چې ددې موخې لاسته راوړل په اروپا کې ددې لوې وچې د نفوسو د زیات تراکم له امله ناشونی و (۴ : ۹).

د راتزل نظریات وروسته د سوېډنې محافظه کارانو له ډلې د یو تن رودولف کجیلین (Rudolf Kjellen) (۱۸۶۴ - ۱۹۲۲ م) لخوا ترڅېړې اخېستنې لاندې راغلل. نوموړي د راتزل د تیورۍ څخه په ګټې اخېستنې سره د نړۍ هېوادونه ډلبندي او د نړۍ راتلونکی

ketabton.com - The Digital Library

ځواک يې د هغو د پراخوالي په پام کې نيولو له مخې وښودل . د (Kjellen)يو له غوره کارونو څخه په خپلومقالوکې د(Geopolitiks) اصطلاح کارول و، چې په ۱۸۹۹م کې په چاپ ورسېده . وروسته په جرمني کې په (Geopolitik)ته واړول شوه او په ۱۹۲۴م کال کې انګليسي کې په(Geopolitics) وژبارل شوه ، او موخه يې ترې د سياسي جغرافيې هغه برخه وه چې په کې بهرنۍ اړيکې ، ستراتيژۍ او د هېوادونو سياست او ددې پوهې څخه د سياسي موخو لپاره ګټه اخېستنه تر بحث لاندې ونيوله . هغه مهال دسياسي جغرافيې يو بل بڼوونځی د سر هال ًفورد ميکېندر (Sir Hal ford Mekinder) (۱۸۶۱ ــ ۱۹۴۷م) په وسيله په انګلستان کې پراختيا وموندە . مکيندر چې د (۱۸۸۰ ـ ۱۸۹۰ م) په لسيزه کې يې د اکسفورد په پوهنتون کې د پروفيسور په توګه دنده ترسره کوله د راتزل په څير د نوې سياسي جغرافيې بنسټ اېښودونکی پېژندل کېږي . مکيندر همدارنګه هڅه کوله ترڅو د جغرافيې د پوهې غوره والی او ګټې ثابتې کړي ، په داسې حال کې چې د راتزل برخلاف د مکيندرنظريات د نړۍ په ستراتيژۍ او د ځواک توازن پورې اړوند موضوعاتو په تحليل چې د برتانيې باندينۍ پاليسۍ په طرحه کولو کې هغې ته اړتيا ليدل کېده ، متمرکز و(۴ :۱۰).

د امريکا په متحده ايالاتو کې الفردماهان (Alfred Mahan) (۱۸۴۰ـ۱۹۱۴ م) د هغه هېواد د سمندري قواوو متقاعد افسر په دې آند و ،چې يو نړيوال او نظامي ځواک ته د رسېدو لپاره په سمندري ځواک تکيه کول پکارده . مکيندر په دې اړه د ماهان سره په يو آند نه و . نوموړی په دې آند و ، چې د جغرافيايي اکتشافاتو د عصر په پايښت سره د ځواکونو توازن هم تغيير خوړلی . مکيندر په خپله مقاله کې چې په ۱۹۰۴ م کال کې چاپ شوه ، تاريخ يې په درې بېلابېلو دورو ووېشلو.


۱). له کولمبوس څخه وړاندې پړاو چې په کې دوچې ځواک د ارزښت وړ و.

۲). د کولمبوس پړاو چې په کې سمندري ځوا ک د ارزښت وړ ګڼل کېدو .

ketabton.com - The Digital Library

۳)ـ له کولمبوس وروسته پرٲو ، چې په هغې کې دسمندري ځواک ارزښت راڅيښ شوی ، او د تکنالوژۍ په رامنځته کېدو او د اوسپنې کرښو په پراختيا سره په وچو کې د ډيرو لېرو واټنونو د ننبلولو شونتيا په اسانۍ سره ميسر شوه ، او له همدې امله د وچې ځواک ارزښت يو ځل بيا زيات شو (۴ :۱۱) .

مکيندر دې ملحوظاتو ته په پام سره د نړۍ نقشه په درپيو سياسي سيمو ووېشله ، لکه چې په (۱.۲ نقشه) کې ددې مطلب روښانتيا کېږي .



(۱.۲) نقشه : د ميکندر په آند د نړۍ وېش (۴ :۱۱).

په پورته نقشه کې ۱) د باندني هلا ل سيمه (Outer Crescent) چې د نړۍ سمندرونه او افريقا او امريکا لوې وچې په کې رانغښتل شوي . ۲) د داخلي هلال سيمه (Inner Crescent) چې د اروپا لوې وچې زياتې برخې او د اسيا جنوب سيمې په کې شاملې وې . او بالاخره ۳) محوري سيمه (Pivot area) چې د اسيا او اروپا (Eurasia) سيمو ته شامله وه (۴: ۱۰).

د مکيندر په آند هر هېواد چې دا محوري سيمه په واک او کنترول کې ولري ، نړيوال ځوا ک به وي . لومړۍ نړيوالې جګړې د مکيندر نظريات د ازمايښت لاندې ونېول او د هغو ارزښت يې روښانه کړ. مکيندر په خپل کتاب کې چې په ۱۹۱۹م کال کې چاپ شو د راتزل نظريات يې تر نېوکو لاندې ونېول ، او يو ځل بيا يې د ځينو کوچنيو تغييراتو په لرلو سره

ketabton.com - The Digital Library

خپل نظریات وړاندې کړل ، مکیندر په دې کتاب کې محوري سیمه هارتلینډ (Hearth land) او د اروپا او اسیا لوې وچې یې نړیوالې ټاپو وزمې ونومولې . مکیندر همدارنګه د ختیځې اروپا په ارزښت تاکید وکړ، اوهغه یې د هارتلینډ د کنترول په زمینه کې او پر نړۍ د کنترول لپاره د ارزښت وړ وګڼلې . د مکیندر وړاندیز لویدیځې اروپا ته د او ، تر څو د سولې ساتلو لپاره د روسیې سره چې پر هارتلینډ حاکمیت لري مساوي قدرت باید ولري ، او پرېښودې چې جرمني او روسیه د شرقي اروپا د کنترول لپاره یو له بل سره متحد شي . د مکیندر نظریات د وارسای (Versailles) د سولې کنفرانس کې چې نوموړي په کې د برتانیې د پلاوي په توګه ګډون کړی و ، تر ډیره بریده په پام کې ونیول شول.

د ختیځې اروپا هېوادونه چې د روسیې او جرمني هېوادونو ترمنځ د حایل (Buffer) په توګه منځته راتلل ، تر ډیره بریده د مکیندر د وړاندیزونو له امله رامنځته شول . د مکیندر نظریات د امریکا متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ په طرحه کولو کې د سوړ جنګ (۱۹۴۵–۱۹۸۹م) پر مهال د ارزښت وړ وو.

د مکیندر له غټو تېروتنو یوه دا وه چې د خپلې تیورۍ په طرحه کولوکې یې د شمالي امریکا رول ناچیزه یا ډیر کم ګڼلو . او بله دا چې د هوایي ځواک ارزښت ته په کې کمه پاملرنه شوې وه ، د حیرانتیا خبره نه ده چې د مکیندر او راتزل نظریا ت یو ځل بیا د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په جرمني کې را ژوندي شول (ایضاً :۱۰).

یو له هغو غوره پوهانو څخه چې د راتزل او مکیندر د نظریاتو تر اغېزې لاندې راغلی و ، جغرافیه پوه او نظامي افسر کارل هوشوفر(Karl Haushofer) (۱۸۶۹ ـ ۱۹۴۶ م) و، چې په المان کې دنازي حزب د تشکیل په اوایلوکې د هغه غړیتوب درلود. نوموړي په ۱۹۲۴م کال کې د جیوپولیتیک مجله نشر کړه ، او وروسته یې په دې برخه کې یوه اکاډمي جوړه کړه . هوشوفر (Houshofer) د راتزل د(Lebensraum) اصطلاح څخه په ګټې اخېستنې استدلال کولو چې له نفوسو ډک المان ارتیا لیدله چې په چکوسلواکیا او پولنډ کې د متفرقه نفوسو درلودونکې سیمې چې د المان په ګاونډ کې وې ؛ المان پورې وتړي . نوموړي د مکیندر له نظریاتو څخه په ګټې اخېستنې چې د ختیځې اروپا د کنترول په اړه یې

ketabton.com - The Digital Library

ویلي وو، داسې وړاندیز وکړ چې د روسیې ، جرمني اوجاپان ترمنځ دې اتحاد رامنځته شي ، ترڅو د برتانیې د امپراتوری په مقابل کې متبادل ځواک رامنځته شي .

په هره بڼه د المان جیوپولیتیک د نازي المان په وسیله د پولنډ او چکوسلواکیا نیولو کې د ستالین او هټلر د عدم تعرض قراد داد په لاسلیک کې د ارزښت وړ ؛ و . لږترلږه ددې مکتب په نشریاتو سره جرمنیانو د ذهني پلوه دې تجاوز ته چمتو والی وښودلو، او په همدې ترتیب د سیاسي جغرافیې شهرت هم د نازیانو تبعیضي او ظالمانه رژیم د پلوي په بنسټ تورن شو (۴ : ۱۱).

۲.۱.۲. د سیاسي جغرافیې د انزوا او زوال پړاو

د المان(Geopolitik) د سیاسي جغرافیې پر علمي ارزښت هم منفي اغېزې واچولې او د جغرافیې پوهانو د دویمې نړیوالې جګړې وروسته کلونوکې هڅه وکړه ترڅو د سیاسي جغرافیې شهرت او ارزښت یوځل بیا منځته راوړي . د جغرافیې پوهانوله ډلې یو تن ریچارد هارتشورن (Richard Hart shorne) په ۱۹۵۰ م کال په سیاسي جغرافیه کې دعملي روش (functional Approach) وړاندیز وکړ، او ویې ویل : ترڅو په سیاسي جغرافیې کې د سیاسي ستراتېژی د بڼې ورکولو پرځای د هېوادونو داخلي فعاله (ډینامیک) عملي او بېرونۍ فعالیتونه تر ډیره د پاملرنې وړ وګرځوي . په داخلي فعاله عملیه کې له مرکزه د تېښتې قوې (Center fugal forces) شاملې دي ، لکه مواصلاتي ستونزې او یا قومي تفاوتونه چې کېدای شي په هېوادونو کې د یو والي پرضد چلند وکړي او یا مرکز ته جذب قوې چې کېدای شي هېوادونو کې د یووالي په راوستوکې اغېزمن وي ، د حکومتي سازمان میکانېزم هم په دې برخه کې مطالعه کېږي . په باندنیو فعالیتونوکې (External functions) دیوهېواد اقتصادي ، د ډیپلوماتیکي او ستراتېژیکي اړیکې د یو بل هېواد سره د پام وړ وي(ایضاً: ۱۱).

هارتشون (Hartshone) ددې عملي تحلیل او ارزونه په سیاسي جغرافیې کې د عملي یا رسمي روش (Functional approach) په نوم یاده کړه . که څه هم په سیاسي جغرافیې

ketabton.com - The Digital Library

کې عملي روش له دويمې نړيوالې جګړې وروسته يو شمېر زياتو جغرافيه پوهانو له خوا وکارول شو، مګر کولی شو له هغه څخه د ګټې اخېستنې شواهد آن چې د دوو نړيوالو جګړو په منځ کې په انګلستان او امريکامتحده ايالاتوکې مشاهده کړو . له دې ډلې يو يوه د (Isaiah Bawman) امريکايي و چې په خپل اثر کې يې له نوې نړۍ (The New world) په نوم په ۱۹۲۱ م کال کې له همدې روش څخه ګټه اخېستې وه . نوموړی چې د مکېندر په څېر د وارسای په مزاکراتو کې له ګډونوالو څخه و ، د نړۍ نوې نقشه چې له دې کنفرانس وروسته منځته راغله ؛ متزلزله ، ناثابته او نا عملي وښوده . نوموړي وويل چې ددې نقشې په جوړښت کې اقتصادي او ټولنيز لاملونه لکه طبيعي سرچېنو ته لاس رسی او د نفوسو وېش چې د نوموړي په آند د بې ثباتۍ اصلي لاملونه دي ، په پام کې نه وو نېول شوي . د بومن (Bawman) په آند پر توليداتو کنترول او د خامو موادو توزيع ، د ځمکې وېش او د وګړو مهاجرتونه ، د مستعمراتو موقعيت او قيموميت لاندې سېمې ، د سوداګرۍ موانع او په ترانزيتي او مواصلاتي کرښو کنترول ، د وګړو د اقليتونو څرنګوالی او د هېوادونو په منځ کې سرحدي لانجې د ننني نړۍ تر ټولوسختې ستونزې دي.

په همدې ترتيب بومن په سياسي جغرافيې کې د مطالعې لاندې موضوعګانې په علمي او عملي تحليل متکي وګڼلې . په ټوليزه توګه له دوېمې نړيوالې جګړې وروسته سياسي جغرافيې د سيمه ييزې جغرافيې سره ورته والی درلود، او د هغې وېرې سره چې له پخوا څخه يې شتون درلود په جغرافيې کې علمي څېړنو تشريحي او توضيحي بڼه درلوده او د علمي تيوريګانو له ويلو څخه په کې مخنيوی وشو . دې وېش د سياسي جغرافيې په ساحه کې دوه منفي پايلې رامنځته کړې ، يوه دا چې سياسي جغرافيه يې له تيوريکي انکشافاتو څخه لېرې وساتله او دويم دا چې سياسي جغرافيه يې د انزوا په حالت کې پرېښوده . آ ن چې په پوهنتونونو کې له تحصيلي نصاب څخه وويستل شوه(۴ : ۱۱،۱۲).

۳.۱.۲. د سياسي جغرافيې د بيا ژوندۍ کېدو پړاو

د ۱۹۷۰م کلونو په لومړيو کې دوو عمليو د سياسي جغرافيې په پراختيا کې غوره رول ولوبولو ، چې دا دوه عمليې عبارت دي له : په سياسي جغرافيې کې د تيوريانو بيا پېژندل

ketabton.com - The Digital Library

او جغرافيې ته د سياست بيا راګرځېدل ، چې همدې عملیو د سیاسي جغرافيې کې پراختیا کې غوره رول ولوبولو . په بیا را ژوندي کېدو سره يې د سیاسي پخوانی روش یا منطقي او عملي روش (functional approach) له منځه لاړو، غوره ببلګه يې د مقداري ټاکنیزې جغرافيې (Qualitative Evectional Geography) را څرګندیدل و، چې د ۱۹۶۰ م لسیزې په وروستیو کې منځته راغله ، دا یو نوښت و چې د مقداري جغرافيې پوهانو لخوا وشو.

وروسته جغرافیه پوهانو درک کړه چې سیاست د نړۍ ټولې برخې لکه هېوادونه ، محلي حکومتونه ، عامه لګښتونه او د پالېسیو طرحه کو ل هم د سیستم په توګه ارزول کېدی شي . په همدې ترتیب په سیاسي جغرافيې کې څېړنه او تدریس د سیمو پر ځای په مفاهیمو او موضوعاتو متکي شو(۴ : ۱۳).

په هره بڼه د ۱۹۶۰ م لسیزې په وروستیو کې د سوړ جنګ راکمېدل یو ځل بیا د سیاسي جغرافيې مینه والو د زیاتېدو لامل شو. د هېوادونو ترمنځ سیالي او د هغوی د مطالعې شوق په نړیواله کچه راکم شو ، او د هغوی پرځای په ټولو کچو یعنې له نړیوالو تر ملي ، سیمه ییزو او محلي کچو ، ګروپونو او وګړو ترمنځ د منازعاتو او ستونزو د زیاتې پاملرنې وړ وګرځېدل .

په سیاسي جغرافيې کې د علاقه مندۍ پر زیاتوالي سربېره په دې پړاو کې د ټولنیزې او اقتصادي جغرافيې په بحثونوکې د سیاسي لانجو توضیح چې دوه لسیزې وړاندې د انساني جغرافيې غوره ځانګې يې جوړولې په سیاسي جغرافيې کې شامل شوې .

ددې دورې یو پوه داوید هاروي (David Harvey) په نوم په خپل اثر چې د ټولنیز عدالت او ښار (Social Justice and the City) تر سرلیک لاندې يې لیکلی و په‌کې دا وښوده چې په ښارونو کې استوګنه او دې ته په کتو سره چې کوم ځای کې استوګنه کوي اختلاف لري ، د نوموړي په آند فقیر او غني ، ښځه او سړی او بالاخره تور او سپین په نړۍ کې په بشپړه توګه متفاوت ژوند لري . نوموړی په همدې توګه زیاتوي چې په ښارونو کې د ځینو ګروپونو پر وړاندې پرله پسې تبعیض شتون لري . چې البته په ښاري ژوند کې د

ketabton.com - The Digital Library

سياسي دايمي لانجو د پيدا کېدو لامل ګرځي، د بېلګې په توګه د يوې نوې پروژې په راتلو او يا د يو سرک په جوړولو سره د موجوده کورونو او يا تاسيساتو د تخريب لامل ګرځي چې په پاى کې ددې سيمې د وګړو په ژوند او کسب کې بدلون راوړي چې ښايي د سياسي ستونزو زېږنده شي (۴ : ۱۳،۱۴).

۲.۲. په نړۍ کې د سياسي جغرافيې بدلونونو ته کتنه

له ۱۹۸۹م کال راپدېخوا د نړۍ په سياسي جغرافيې کې اساسي بدلونونه رامنځته شول . د دوه قطبي نړۍ حتميت اوقا طعيت او د سوړ جنګ دوران له منځه ولاړ او پر ځاى يې بې ثباتي راغله . ددې بدلونونو رامنځته کېدو يو اصلي لامل د ځينو نهادونو لکه د ملتونو ټولنې او د شمالي اتلانتيک سازمان (ناټو) مداخلې د هېوادونو په داخلي چارو کې وې . نړۍ د شرقي تيمور ، کوسوو او عراق په هېوادونو کې د جګړو شاهده وه . دې ډول بدلونونو د نړۍ د بحراني او جګړه کې په بالقوه توګه ښکېل سېمو د بيا ارزونې اړتيا پيدا کړه (۲۰ : ۴۳).

سياسي جغرافيه چې اوسمهال د انساني جغرافيې يوه غوره ځانګه ګڼل کېږي ، د ځانګړي ارزښت لرونکې ده . دې جغرافيې له مطرح کېدو څخه يې تر نن پورې په مطالعاتي موضوعاتو او مطالعاتي مقياس کې ډېر بدلونونه لېدلي دي ، چې په لاندې توګه يې په لنډو يادونه کوو.

۱.۲.۲. په منځنيو پېړيو کې

په منځنيو پېړيو کې اروپا کې پوهه او علم د مذهب تر وړانګو لاندې راغلل ، په داسې حال کې چې په اسلامي نړۍ کې جغرافيې د سوداګرو ، مورخينو ، سيلانيانو او فېلسوفانو ترمنځ رواج پيدا کړ. ابن خلدون مسلمان مورخ ، فيلسوف او ټولنپوه يو له هغو لېکونکو څخه و ، چې له اوږدو سفرونو وروسته يې په هغه کتاب کې چې په ۱۴مه مېلادي پېړۍ کې يې د خپلو احوالو په شرح کې ليکلى و، د قبېلې او ښار په اړه يې ويلي او ددې واحدونو د طبيعي چاپېريال په رول د ټاکونکو لاملونو په توګه اشاره کړې (ايضاً: ۴۳).

ketabton.com - The Digital Library

۲.۲.۲. په نوولسمه پېړۍ کې

د نوولسمې پېړۍ په لومړيو کې ((کارل ريتر)) په برلين کې د دولت د رشد نظريه د هغې سره ورته خو په لږ توپير مطرح کړه ، کومه چې ابن خلدون پنځه پېړۍ وړاندې وړاندې کړې وه . خو نومورې دولت د يو ژوندي موجود سره د پرتلنې وړ ګڼلو ، له همدې امله د نومورې نظريه د ارګانېزم په نوم يادېږي.

۳.۲.۲. په نوي پړاو کې

په نوي پړاو کې په سياسي جغرافيې کې بدلونونه په الماني فردريک راتزل سره پيلېږي . راتزل په سياسي جغرافيې کې د نوې مېتودولوژي او مفاهيمو په وړاندې کولو سره ددې پوهې پلار پېژندل شوی . د راتزل سياسي جغرافيې کتاب لومړنی کتاب دی چې تر دې سر ليک لاندې په دې رشته کې ليکل شوی . همدارنګه راتزل د جيوپولېټيک اساس ايښودونکی هم ګڼل کېږي ، اګر چې په خپله يې يادې اصطلاح نه ده کارولې (۲۰ : ۴۴).

ketabton.com - The Digital Library

لنډیز

که څه هم زیاتره پوهان سیاسي جغرافیه د ۱۹ مې میلادي پیړۍ زېږیدلې پدیده ګڼي ، خو زیاتره جغرافیه پوهان په دې آند دي چې سیاسي جغرافیه آن د یوناني لرغون پوه ارستو په اثارو کې هم څرګنده شوې ده . نوموړي پوه د چاپیریال اغېزو څخه د پولو په ټاکلو کې یادونه کړې ده ، همدارنګه یې د یو هېواد پلازمېنې جوړېدو لپاره ځینې شرایط اړین ګڼلي .

په لنډه ویلی شو چې سیاسي جغرافیې هم لکه د نورو پوهو په څېر ډیر پراوونه تېر کړي دي ، چې د سیاسي جغرافیې د زېږیدو او راپورته کېدو پراو ، د سیاسي جغرافیې د انزوا او زوال پراو او بالاخره د سیاسي جغرافیې د بیا راژوندۍ کېدو پراو څخه یادونه کولی شو .

د ۱۹۸۹م کال راپدېخوا سیاسي جغرافیې ببخي نوی رنګ غوره کړ ، چې د ډیرو بدلونونو شاهده وه . په نړۍ کې د دوه قطبیت موضوع ته د پای ټکی کېښودل شو او د سوړ جنګ لمن هم راټوله شوه . د ملګرو ملتونو ټولنې او شمالي اتلس ټرون د هېوادونو لکه ختیځ تیمور ، کوسوو او عراق په داخلي چارو کې بربنډې لاس وهنې پیل کړې ؛ چې له امله یې د سیاسي جغرافیې لپاره د خلکو پاملرنه نوره هم زیاته شوه .

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱. سیاسي جغرافیه له کومه وخته راپیدا شوې ده ؟.

۲ـد جغرافیې پوهانو د سیاسي جغرافیې تاریخي سیر په څو پیرونو کې ښودلی دی ؟.

۳ـد سیاسي جغرافیې د تاریخ درې پړاوونه کوم دي ؟.

۴ـارستو د سیاسي جغرافیې له رول څخه څنګه یادونه کړې وه ؟.

۵ـالمان د یو متحد هېواد په توګه کله رامنځته شوی و او د څه لپاره یې هڅه کوله ؟.

۶ـراتزل د جرمني د پراختیا لپاره یوازینۍ غوره لار کومه ګڼله ؟.

۷.میکندر په خپله مقاله کې چې په ۱۹۰۴م کال کې چاپ شوه ، تاریخ یې په کومو دورو وېشلی و ؟.

۸.د میکندر په آند هېوادونه باید د نړۍ کومه سیمه په واک کې ولري چې په نړیوال ځواک بدل شي ؟.

۹.د سیاسي جغرافیې بیا راژوندي کېدو پړاو د کومو غوره عملیو له امله رامنځته شو ؟.

۱۰.د سوړ جنګ تر ختمېدو وروسته د سیاسي جغرافیې مینه والو ته کومې موضوعګانې په زړه پورې شوې ؟.

۱۱. د ۱۹۸۹م کال را وروسته سیاسي جغرافیې کې کوم بدلونونه رامنځته شول ؟.

۱۲ـپه منځنیو پېړیو کې د سیاسي جغرافیې وضعه څنګه وه ؟.

۱۳.په ۱۹مه میلادي پېړۍ کې د سیاسي جغرافیې وضعیت څنګه و ؟.

۱۴.د فدرک راتزل په وسیله په سیاسي جغرافیې کې کومې کړنې شوي دي ؟.

ketabton.com - The Digital Library

درپیم څپرکی

د نړۍ سیاسي نقشې د بدلونونو پلټنه

د نړۍ سیاسي نقشه تل د تغییر او بدلون په حال کې وي په تېره بیا دا بدلونونه د وستفالیا تړون، وین کنګرې، ورسای صلحې تړون، د ملګرو ملتونونو د ټولنې منشور او د شوروي اتحاد د ټوټه کېدو او د ختیځې اروپا کې د بدلونونو پر بنسټ ډیر زیات رامنځته شوي. اروپا کې په ۱۶ مې میلادي پیړۍ کې د نړۍ په سیاسي نقشې کې په سل ګونو خپلواک هېوادونو شتون درلود، خو په ۲۰ مې میلادي پیړۍ کې یې دا شمېر یوازې لس ګونو ته رابښکته شو.

همدارنګه د دویمې نړیوالې جګړې وروسته په نړۍ کې د لویو امپراتوریو د ټوټه کېدو له امله د خپلواکو هېوادونو شمېر ډیر شو.

هغه عوامل او پروسې چې د نړۍ سیاسي نقشې په شتون او بدلونونو کې رول لري جغرافیایي کشفېدنې، جګړې او جیوپولیتیک غوره بدلونونه او د امپراتوریو ټوټه کېدل او د بېلتون غوښتنې لاملونه ښودل شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

په لنډو ویلی شو چې د نړۍ سیاسي نقشه کې تل بدلونونه لېدل شوي دي ، چې زیاتره دا بدلونونه ددې لامل شوي چې د نړۍ په سیاسي نقشه کې د هېوادونو شمیر کې کمی زیاتی راولي .

د نړۍ سیاسي نقشه له ۱۶۴۸ م کال څخه هغه وخت چې د وستفالي د تړون پر اساس د حکومتونو د حاکمیت حق د هغوی د ځمکو په محدوده کې د اروپایي لویو قوتونو په وسیله په رسمیت وپېژندل شو ، تر ننه پورې د زیاتو بدلونو سره مخامخ شوې ده . دا بدلونونه په یو ځانګړي لوري کې نه دي تر سره شوي ، په دې بڼه چې لومړی د خپلواکو سیاسي واحدونو شمېر چې په زیاته اندازه یې په اروپا کې شتون درلود؛ کم شو . د ببلګې په توګه په المان کې ۹۰۰ دولتونو شتون درلود ، چې د وستفالیا له سولې وروسته یې شمېر تر ۳۵۵ دولتونو او په ۱۸۱۵ م کال (د وینا کنګرې) پر بنسټ یې شمېر یوازې ۳۶ دولتونو ته راښکته شول او په ۱۸۷۱ م کال کې یو واحد دولت شو .

په اروپا کې په ۱۵۰۰م کال کې د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې سیاسي خپلواکو واحدونو شتون درلود ، چې په ۱۹۰۰ میلادي کې دا شمېر ۲۰ هېوادونو ته راښکته شو ، په دې ترتیب اروپا د نړۍ په نورو سیمو نوی نظم تحمیل کړ. له بله پلوه د شلمې پېړۍ له لومړیو څخه ، په ځانګړې توګه د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د نړۍ د لویو امپراتوریو په ټوټه کېدو سره د خپلواکو هېوادونو شمېر د ورځې په تېرېدو سره زیات شوی دی ، د ببلګې په توګه د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د خپلواکو هېوادونو شمېر ۶۷ هېواده و ، په داسې حال کې چې دا شمېر د دویمې نړیوالې جګړې وروسته تر ۸۲ ، او په ۱۹۷۶م کال کې ۱۶۸ ته ، په ۱۹۹۳م کې ۱۸۹ او په ۲۰۰۰ م کال کې تر ۱۹۱ هېوادونو پورې ورسېدو . دلته باید ټه وشي تر څو هغه پروسې او عوامل چې د نړۍ سیاسي نقشې په شتون او بدلونونو کې یې رول لرلی وڅېړل شي .

دا چې هره نقشه د هېوادونو وضع په یوه خاصه موده کې راښیي او دا نمونې تل په بدلون کې دي ، هڅه کېږي چې هغه لاملونه چې د نړۍ د سیاسي نقشې په بدلون کې ونډه لري او هغه پراوونه چې د نړۍ سیاسي نقشې طی کړي دي او تر اوسنۍ وضعې رسېدلي

ketabton.com - The Digital Library

دي د څېړنې او پلټنې لاندې ونېسي. په ټولیزه توګه هغه پروسو چې د نړۍ سیاسي نقشې په موجودیت او بدلون کې یې رول لرلی په لاندې توګه یې له نظره تېروو.

۱.۳. جغرافیایي کشفېدنې

د اروپایانو په وسیله د لېرې پرتو سېمو او لویو وچو کشفېدنې او په دوی پسې د اروپایي حکومتونو دعوې، چې پر هغو ځمکو د مالکیت موجب شوې دي، د نوي زیلاند او استرالیا په څېر هېوادونو موجودیت د نړۍ سیاسي نقشې پر مخ توجیه کوي (۳۷ : ۳۶).

۲.۳. جګړې او جیوپولیتیکي غوره بدلونونه

جګړه او جیوپولیتیکي غوره بدلونونه څه په پخوا او څه په اوس مهال کې د ګټونکو قدرتونو د ځمکنۍ پراختیا او د ماتې خوړلو هېوادونو د ځمکنۍ تنګتیا لامل شوي دي (۲۰ : ۶۶) او (۳۷ : ۳۶).

۳.۳. د امپراتوریو ټوټه کېدنه

د امپراتوریو د ټوټه کېدنې او د خپلواک دولتونو د منځته راتلو په پایله کې د نړۍ په سیاسي نقشه کې غوره بدلونونه رامنځته شوي، په پخوا وختونوکې د اترېش ـ هنګري د امپراتورۍ او د فرانسې او ایټالیې مستعمراتي امپراتوریو ټوټه کېدل چې اسیا او افریقا کې یې د پام وړ پراختیا درلوده، او په دې وروستیوکې د شوروي اتحاد په ټوټه کېدو او د یوګوسلاویا په بېلیدو سره د نړۍ سیاسي نقشه کې پراخ بدلونونه منځته راغلي دي (۳۷ : ۳۶).

۴.۳. د بېلوالي او بېلتون غوښتنې پروسې

بېلتون والی تحمیلي لامل یا پروسه ده، چې د ګټونکو قدرتونو او نړیوال سیاست لخوا ترسره کېږي، همدارنګه د تحمیلي پولو د پیدایښت موجب ګرځي، لکه د المان وېش په دوو (ختیځو او لوېدیځو) واحدونو، کوریا په دوه شمالي او جنوبي واحدونو، وېتنام په

ketabton.com - The Digital Library

دوو واحدونو (شمالي او جنوبي) او د انګليس او فرانسې د تصميمونو د محصول په توګه په منځني ختيځ کې د عثماني امپراتورۍ د ځمکو وېشلو او د لاسپوسو هېوادونو منځته راتلل ، دا ټول د بېلتونوالي د پروسو پايلې وې . سره ددې چې بېلتون غوښتنې د نشنليزم او قوم پالنې اساس او همدارنګه د يوې ډلې د غوښتنو محصول دی، چې د ملي دولت د جوړېدو لپاره هڅې کوي . د آيرلينډ جمهوري دولت منځته راتګ د آيرلينډ د خلکو د غوښتنو او له انګلستان څخه د بېلتون غوښتنې په پايله کې و .په همدې توګه د بنګله دېش منځته راتګ د ختيځ پاکستان د خلکو غوښتنه وه چې له لوېديز پاکستان څخه يې بېلتون غوښتو (۳۷ : ۳۶) .

نن ورځ د دوو المانونو (۱۹۹۰) ، دوه وېتناموتو او دوه يمنونو بيا يوځای والی د وګړو د يو ځای‌توب غوښتنې پايله وه چې د پردیو په اشاره او غوښتنه بېل شوي وو. ځينې وخت دا دوه د بېلتون غوښتنې او يو ځای توب لاملونو يا پروسو په نوبتي توګه د وخت په تېرېدو سره جالبې کړنې درلودې او د سياسي پولو د بدلون لامل شوي . په دې اړه کولی شو د اريتره او بالتيک هېوادونو ته د بېلګې په توګه اشاره وکړو.

د اريتره هېواد په ۱۸۸۹م کال کې د ايټاليا هېواد تحت الحمايه شو، وروسته د ايتوپې هېواد سره د اتحاد له املې د فدراسيون په بڼه رامنځته شو، يو څه وخت وروسته د ايتوپيا په متمرکز دولت کې ادغام شو او نن ورځ يو ځل بيا د نړۍ سياسي نقشې پر مخ د يو خپلواک هېواد په توګه را څرګند شوی (اريتره د ۱۹۹۲م کال په دسمبر کې رسماً خپلواک شوی).

همدارنګه د بالتيک هېوادونه يعنې استونې ، لتوني او ليتواني چې لومړی په ۱۹۱۸ م کال کې خپلواک شول ، وروسته په ۱۹۴۰م کال کې د روسيې واک کې پرېوتل او د دويمې نړيوالې جګړې په پای کې د شوروي اتحاد د پنځلس ګوني جمهوريت جز وګڼل شول . د شوروی اتحاد له ټوټه کېدو وروسته لومړني جمهوريتونه وو چې خپل استقلاليت يې اعلام کړ او په هيڅ وجه دې ته چمتونه شول چې(Common wealth of Independent States (CIS مشترک المنافع خپلواک هېوادونو په ليکه کې وشمېرل شي .

ketabton.com - The Digital Library

د اروپا په نقشه کې هم دې ډول لاملونو یا پروسو په نوبتي توګه چارې ترسره کړي ، په تېر وخت کې اروپایي لویو ځواکونو لکه المان ، فرانسې او انګلستان په منځ کې لانجو او بېلتون ، نن ورځ خپل ځای د اروپا وحدت ته ورکړی او له ډېرو اړخونو یې د هېوادونو تر منځ پولو ارزښت تر ټولو ټیټ حد ته رسولی.

پورته یادو شوو لاملونو ته په کتو سره کولی شو پنځه لاندې مهمې زمانې مقطعې وټاکو . چې د هغو په تېریدو سره د نړۍ په سیاسي نقشه کې غوره بدلونونه رامنځته شوي (ایضاً : ۳۷) .

۱. د ۱۶۴۸ م کال ؛ وستفالیا تړون .
۲. د ۱۸۱۵م کال ؛ ویانا کنګره .
۳. د ۱۹۱۸م کال ؛ د وارسا صلحې تړون .
۴. د ۱۹۴۵ م کال د ملګروملتونو د ټولنې منشور.
۵. د ۱۹۹۱ـ ۱۹۹۲م کلونو د شوروي اتحاد د ټوټه کېدو او د ختیځې اروپا بدلونونه .

۳. ۵ . د نړۍ په سیاسي نقشه کې د بدلونونو رامنځته کېدو مهمې زمانې برخې

دنړۍ په سیاسي نقشه کې د بدلونونو رامنځته کېدو زمانې برخې په کوچنیو سر لیکونو کې څېړو .

۳. ۵ .۱. ۱۶۴۸م کال او د وستفالیا تړون

د وستفالي د ۱۶۴۸م کال تړون چې د اروپایي قدرتونو لکه فرانسې ، انګلستان ، اسپانیې ، المان ، اتریش او هالند ترمنځ د مذهبي ۳۰ کلنو جګړو وروسته لاسلیک شو، د سیاسي جغرافیې د لید لوري له مخې له دوو لورو د ارزښت وړ دی . لومړی دا چې د سر زمیني دولتونو لخوا په رسمیت وپېژندل شو ،او په اروپا کې د قدرت سلسله مراتب نظام په بنسټیزو هېوادونو کې اساس کېښودل شو او وګړو خپل تابعیت له خپلې امپراتورۍ څخه

ketabton.com - The Digital Library

دسر زميني دولت ته انتقال کړ . په همدې دليل نوموړی تړون معمولاً د نويو نړيوالوحقوقو په لومړني سرليک و پېژندل شو . په ياد تړون کې د حکومتونو د حاکميت حق د خپلې خاورې په محدوده کې رسميت وموندلو او د ټولو هېوادونو په کارونو کې ګوتې وهل د نړيوالو حقوقو څخه سرغړونې وګڼل شوې . دويم دا چې د المان د (۳۵۵) ايالتونو استقلال په رسمي توګه پېژندلو سره هېوادونو ترمنځ د نظام چوکاټ د لمنځه ولاړ او د نړۍ لومړۍ سياسي نقشه په هغه مفهوم سره چې تعريف شوه منځته راغله (۳۷ : ۳۸) او (۲۰ : ۶۸).

۲.۵.۳. د ۱۸۱۵م کال د ويانا کنګره

دويم غوره بدلون په ټولو لويو وچو او د اروپا په سياسي نقشه کې په (۱۸۱۵م) کال کې د وين کنګره کې (چې د ناپيلون د جنګونو په پای او د نوموړي د سقوط په پايله کې تشکيل شوې وه) منځته راغی . په سياسي نقشه کې هغه بدلونونه چې د وين کنګرې د تصميم نېونې وروسته منځته راغلل د برتانيې ، اترېش ، روسيې او عثماني څو مليتي امپراتوريو ځمکنۍ پراختيا لرونکو خپل موجوديت وساتلو (۳۷ : ۳۸) .

د روسيې امپراتورۍ د برګران دوشه ورشو (هغه چې د لهستان پخوانۍ بادشاهۍ څخه پاتې وې) سيمو په ولکې سره پراختيا وکړه . د برتانيې امپراتورۍ هم د جنوبي افريقا په جنوب کې د کاپ ولايت (چې پخوا د هالنډ په لاس کې و) په لاسته راوړلو او د سيلان او مالت په ټاپوګانو سره پراختيا وکړه . اترېش هم د هغو ځمکو په بېرته نېولو سره چې له لاسه يې ورکړې وې او له ايټاليا څخه د دوه ايالتونو لمباردي او وينز په لاسته راوړلو سره ځمکنۍ پراختيا وکړه . د پروس بادشاهۍ د ساکسوني د ځينو ايالتونو او د راين سيمې په تر لاسه کولو سره زمکنۍ پراختيا وموندە او د جرمني کنفدراسيون له ۳۶ دولتونو څخه متشکل شو .

يوازې فرانسې ځمکنی تنګوالی وموندو . ټيټې ځمکې (هالنډ او بلژيک) چې د ډول ډول قومونو لکه والونيان ، فلامنيان او داچيان او په همدې توګه د کاتوليک او پروتستانت مذهب پلويانو څخه جوړې وې ، د پروس او فرانسې ترمنځ د حايلې سيمې د

ketabton.com - The Digital Library

منځته راتللو په موخه د نوې بادشاهۍ په بڼه منځته راغلې . ناروی هم د سوېډن د بادشاهۍ یوه برخه شوه .

د نولسمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې د نړۍ سیاسي نقشه کې بیا بدلونونه راغلل ، دا بدلونونه په اروپا او امریکا کې په ټولیزه توګه د وګړو لخوا د ملیت پالنې نهضتونو محصول وو، چې د فرانسې د انقلاب (ازادۍ ، برابرۍ او وروروليۍ) د پیغام د خورولو تر اغېزې لاندې یې د ملي خود مختارۍ د منځته راتللو لټه کوله . دا وګړي د زیار وېستونکو او ازادۍ غوښتونکو وګړو تر لارښوونې لاندې په دې بریالي شول چې ازادي واخلي ، دېبلګې په توګه د مرکزي او سهیلي امریکا وګړي په ځانګړې توګه د سیمون بولیوار د نظامي رهبرۍ لاندې د اسپانیا د استعمار پر ضد و خوځېدل او ازاد جمهوریت یې جوړ کړ . رومانیا هم په دې وتوانېده چې خپله ازادي له عثماني خلافت څخه ازادي واخلي . اګر چې په ټولو سیموکې ځینې حکومتونه په دې وتوانېدل چې ډیر ملي خوځښتونه مات کړي(۳۷ : ۳۹) .

په اساسي توګه په هغه وخت کې دا فکر چې ملتونه باید د خپل ځان لپاره ځانګړي دولتونه ولري ؛ یو انقلابي فکر و، چې د هغه وخت د زورواکو او مشروع حکمرانانو پر ضد د شورش او موجوده وضعې د لمنځه وړلو په معنی و.

د پولنډ د وګړو هڅې له روس څخه د ازادۍ اخېستنې لپاره په ۱۸۳۰ م کال کې او د دویم ځل لپاره په ۱۸۴۸ م کال کې د ماتې سره مخامخ شوې .

د مجارستان د انقلابي جنبش هڅې د کوشوت (Kossuth) تر لارښوونې لاندې په ۱۸۴۸م کال کې د مجارستان د ازادۍ او له اتریش امپراتورۍ څخه د بېلتون په موخه ؛ د روسي عسکرو په مداخلې سره ماتې شوې .

په افریقا کې د اروپا ځواکمن حکومتونه د خپلو مستعمراتو په وېش بوخت وو ،ددې لوې وچې سیاسي کرښې له ۱۸۸۴م کال وروسته منځته راغلې (۳۷ : ۴۰) .

ketabton.com - The Digital Library

۳.۵.۳. د ۱۹۱۸م کال د وارسا د صلحې تړون

د لومړۍ نړیوالې جګړې (۱۹۱۴م) په پیل کې دوه خپلواک هېوادونه حبشه او لایبریه د افریقا لوې وچې د نقشې ښکلا ورکوونکي وو او نوره ځمکه د اروپایي ځواکمنو هېوادونو لکه برتانیې، فرانسې، المان، ایټالیې، پرتګال، اسپانیې او بلژیک ترمنځ وېشل شوې وه.

د اسیا لویه وچه هم لکه د نورو لویو وچو په څېر د څو لویو ځواکونو تر منځ وېشل شوې وه، روسانو سایبریا او د لیرې ختیځ ځینې سیمې او مرکزي اسیا، انګریزانو هندوستان، برما، مالایا، سنګاپور اوهانګ کانګ، فرانسویانو هند وچین، هالنديانو اوسنۍ اندونیزیا، پرتګالیانو د تیمور ټاپو، ګوا (هندوستان کې)، ماکایو (د چین ساحل کې) او بالاخره امریکایانو فیلیپین په واک کې لرل. جاپان هم پر کوریا او تایوان څارنه درلوده.

د لومړنۍ نړیوالې جګړې وروسته جنګ ګټونکو متفقینو هڅه کوله څو د پخوانیو جنګونو تګلارې ته دوام ورکړي او نوې ځمکې په جنګ کې د ماتې خوړونکو له لاسه واخلي، په پای کې په دې توافق وشو چې د اتریش ـ هنګري امپراتوري باید په دوو هېوادونو ووېشل شي او د المان او عثماني امپراتورۍ باید تجزیه شي. دې ته په پام سره چې ددې دوه امپراتوریو وېش اسان کار نه و. هوکړه په دې وشوه ترڅو د عثماني او المان د امپراتوریو پر مستعمراتو د نړیوال نظارت یو نوی سیستم جوړ او پردې مستعمراتو د اداره کوونکو ځواکونو په څېر، نه د حاکم په ډول عمل وکړي.

د متفقینو رول په حقیقت کې د ګټونکو هېوادونو ترمنځ د مستعمراتو وېش د کربنو تعریف او ټاکل او پر هغوی د سرپرستۍ د مودې ټاکل و. دلته متفقه د ملتونو ټولنه چې د جنګ په پای کې منځته راغلې وه، په ځانګړې توګه د سرپرستۍ دایمي کمېسیون، په ټول سیستم یې لوړ نظارت درلود (۲۰: ۷۰).

ketabton.com - The Digital Library

۳.۵.۴. ۱۹۴۵ م کال او د ملګرو ملتونو د ټولنې منشور

د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې د ملګرو ملتونو ټولنه د ملتونو ټولنې (جامعه ملل) د ټولنې په ځای منځته راغله . یادې ټولنې په خپل منشور کې په ځانګړې توګه په لومړۍ ماده کې " ملتونو ته د خود مختارۍ او مساوي حقوقو ورکول" شعار ته ژمنه وشوه . د منشور ټول مواد د مستعمراتي ځواکونو مسوولیت د مستعمره ملتونو پر وړاندې او آن چې ازادۍ ته د هغوی رسېدل یې ښودل . په منشور کې په همدې توګه نوې پدیدې د امانتي ځمکو په نوم د پخوانۍ متفقه ملتونو ټولنې د سرپرستۍ لاندې نظام ځای ناستې شوې . په دې پدیدو کې موخې لږ کمې یا زیاتې خو د پخواني نظام سره ورته وې . هغه په دې معنی چې ددې ډول ځمکو تدریجي پرمختګ او ازادۍ او استقلال لپاره باید په کې هڅې وشي . سربېره پردې چې اداره کوونکو قدرتونو کلني لیکلي راپورونه ورکول ، په منشور کې دا هم راغلي و ، چې په امانتي ځمکو کې باید چې د ملګرو ملتونو د مقاماتو لخوا پرانیستې کتنې هم وشي . په پای کې ویلی شو چې زیاتره هغه خپلواک هېوادونه چې نن د نړۍ په سیاسي نقشه کې لېدل کېږي د ۱۹۴۵م کال وروسته او د ملیت غوښتنې خوځښتونو په اثر رامنځته شوي دي (۲۰ : ۷۱).

۳.۵.۵. د ۱۹۹۱ـ ۱۹۹۲ م کلونو پېښې او د شوروي اتحاد ټوټه کېدل

د ۱۹۹۱ـ ۱۹۹۲ م کلونه د هغو غوره جیوپولیتکي بدلونونو په دلیل د نړۍ د سیاسي نقشې د بدلون د مهمو دورو څخه ګڼل کېږي . په دې کلونو کې شوروي اتحاد ټوټه ټوټه شو او ۱۵ جمهوریتونه یې ازادۍ ته ورسېدل ، د یوګوسلاویا فدرال دولت په پنځو خپلواکو جمهوریتونو ووېشل شو ، دچکوسلواکیا هېواد په دوه جلا هېوادونو چک او سلواک ووېشل شو، دوه المانونه او دوه یمنونه سره یوځای شول ، دابدلونونه د پخوانیو هغو بر خلاف د نړیوالو او یا سیمه ییزو جګړو محصول نه وو، بلکې د شوروي اتحاد په ټوټه کېدو کې په لومړیو کې اقتصادي . ټولنیز بحران اساسي رول ولوبولو، وروسته قومي تضادونو او نشنلستي ځواکونو چې کلونه کلونه د حکومتونو د فشار او سرکوب (سرکوزۍ) په وجه تر خاورو لاندې پټ وو د پلاس ورغلې موقع څخه یې ګټه واخېسته او په خوځښت راغلل . د

ketabton.com - The Digital Library

شوروي اتحاد بدلونونه دختيځې او مرکزي اروپا د بدلونونو موجب شول او په پای کې په ۱۹۹۳م کال کې د ۲۰ په شمېر نوي هېوادونه د نړۍ د خپلواکو هېوادونو په شمېر کې ور زیات شول او د نړۍ سیاسي نقشې یوځل بیا په ټولیزه توګه نوې کېدو ته اړتیا پیدا کړه(۲۰: ۷۲).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

په دې څېړکې کې دې پايلې ته رسېږو چې د نړۍ سياسي نقشې کې تل بدلونونه رامنځته شوي دي. په اروپا کې په ۱۶مې پيړۍ کې ډيرو زياتو دولتونو شتون درلود، يوازې په پخواني المان کې ۹۰۰دولتونو شتون درلود، چې بالاخره په ۱۸۷۱م کال کې يو واحد دولت شو. همدارنګه په ټوله اروپا کې په ۱۵۰۰م کال کې ۱۵۰۰ په شاوخوا کې سياسي خپلواکو واحدونو شتون درلود. په ۱۹۰۰م کال کې دا شمير يوازې ۲۰ ته راکوز شو.

د شلمې ميلادي پيړۍ په لومړيو کې تر دويمې نړيوالې جګړې پورې د لويو امپراتوريو په ټوټه کېدو سره د هېوادونو په شمېر کې تل زياتوالی راغلی لکه چې د لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته په نړۍ کې د خپلواکو هېوادونو شمېر ۶۷ و، خو د هېوادونو دا شمېر بيا د دويمې نړيوالې جګړې وروسته ۸۲ ته لوړ شو چې بالاخره په ۲۰۰۰م کال کې د نړۍ په سياسي نقشې کې ۱۹۱ هېوادونو شتون وموند. چې ددې بدلونونو اصلي لاملونه جغرافيايي کشفېدنې، جګړې او جيوپوليتيکي بدلونونه، د امپراتوريو ټوټه کېدل او د وګړو تر منځ د ېبلتون غوښتنې پروسې دي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱. په المان کې د وستفاليا تر تړون وړاندې د دولتونو شمېر څومره و او څنګه راکم شو ؟

۲. په اروپا کې په ۱۵۰۰م کال کې څو سياسي خپلواکو واحدونو شتون درلود او څنګه بيا دا شمېر راکم شو ؟

۳. دويمې نړيوالې جګړې د خپلواکو هېوادونو په شمېر کې کوم ډول بدلون رامنځته کړ؟

۴. جګړې او جيوپوليتيک بدلونونه څنګه د نړۍ سياسي نقشې ته بدلون ورکوي ؟

۵. د هغو امپراتوريو يادونه وکړئ چې ټوټه شوي او د سياسي نقشې د بدلون لامل شوي ؟

۶. اريتره هېواد د کوم سياسي برخليک سره مخ و ؟

۷. هغه کومې زماني مقطعې دي چې په کې غوره سياسي بدلونونه رامنځته شوي ؟

۸. د وستفاليا تړون کله رامنځته او د کومو ارزښتونو لرونکی و ؟

۹. په افريقا کې زياتره سياسي کرښې څنګه او کله رامنځته شوې ؟

۱۰. د افريقا لويه وچه د کومو اروپايي هېوادونو تر منځ وېشل شوې وه ؟

۱۱. د اسيا لويه وچه د کومو لويو ځواکونو تر منځ وېشل شوې وه ؟

۱۲. له ۱۹۹۱ـ ۱۹۹۲ کلونو کوم غوره جيوپوليتيک بدلونونه رامنځته شول ؟

ketabton.com - The Digital Library

څلورم څپرکی

د سیاسي جغرافیې د بحث وړ مسلې

سیاسي جغرافیه د هېواد په دننه کې سیاسي پدیدې څېړي ، چې د ځمکې ، ملت او حکومت مفاهیم په کې رانغښتل شوي دي ، چې له همدغو مفاهیمو څخه هېواد جوړېږي. هېوادونه په بېلابېل ډول کټګوري کېږي ، چې دلته د سیاسي ، اقتصادي او اداري پلوه ډلبندي شوي دي . له سیاسي پلوه هېوادونه په حایل ، متعهد ، نا متعهد ، ټرلو ، نا خپلواکو او خپلواکو هېوادونو وېشل شوي دي . همدارنګه له اقتصادي پلوه ، هېوادونه په پرمختللو ، مخ په وده یا پرمختیایي او کم پرمختللو هېوادونو وېشل شوي دي . په همدې ترتیب له اداري پلوه د هېوادونو وېش په ساده دولتونو او مرکب دولتونو کولی شو .

همدارنګه هېوادونه د پراختیا او تنګتیا له مخې هم یو له بل سره برابر او یو شان نه دي . که د نړۍ نقشې ته وکتل شي هیڅ هېواد له بل هېواد سره د پراخوالي له مخې ورته والی نه لري . د هېوادونو پراختیا له هغې جغرافیایي محدودې څخه عبارت ده چې د هېواد ملت په کې استوګنه کوي او دا هېواد په کې بیا د حاکمیت چارې پر مخ بیایي .

ketabton.com - The Digital Library

د هېوادونو موقعیت هم پر هېوادونو اغېزمن دی ، هېوادونه د موقعیت له مخې په څو ډولونو وېشل شوي چې غوره یې مطلقه یا ریاضیکي ، نسبي ، سوق الجیشي ، په وچه کې راګېر او اوبو ته د لاس رسی موقعیتونه دي . په همدې ترتیب د هېوادونو هستې او پلازمېنې هم د هېوادونو سیاست کې اغېزمنې وي .

سیاسي جغرافیه د یو هېواد په داخلي فضا کې سیاسي پدیدې تر بحث لاندې نیسي ، چې په دوديزه توګه دغه مفاهیم لکه سر زمین (ځمکه) ، ملت ، حکومت او پولې په کې شامل وي ، دې ته په کتو سره چې یو هېواد د سیاسي جغرافیې مطالعاتو په بطن کې ځای لري ، د درې لاملونو یعنې ملت ، حکومت او سر زمین (ځمکې) له یو ځای کېدو څخه هېواد جوړېږي ، بنأ دا ټولې موضوعګانې په لاندې سر لیکونو کې توضیح کېږي .

۱.۴. هېواد

هېواد یو سیاسي واحد دی او ددې سیاسي واحدونو ټولګه د نړۍ سیاسي نقشه جوړوي . یو هېواد د جوړښت له مخې په لاندې دریو عناصرو پورې تړلی دی .

- ځمکه
- ملت
- حکومت


دغه پورتنۍ درې واړه عناصر به ددې څېرکي په وروستیو کې په مفصله توګه تشریح او وڅېړل شي .

۱.۱.۴. هېواد ته بڼه ورکوونکي لاملونه

د سیاسي جغرافیې له نظره " State " د هېواد په معنې له درېیو پدیدو یا عناصرو څخه جوړېږي ، چې هر یو یې په خپل ذات کې نور عناصر لري . دا درې پدیدې یا عناصر عبارت دي له"ملت ، حکومت او سرزمین " څخه . له پخوانیو حکومتي طرز څخه تر د نوي دوران دیموکراسۍ پورې ، یاد درې مفهومه یو له بل سره یوځای او نه بېلېدونکي شول ،

ketabton.com - The Digital Library

او د همدې سیاسي ـ جغرافیایي مخینې پر اساس دی چې " دیمو کراسي په حکومتي طریقو کې یوه بڼه جغرافیاي طریقه ده . ددې درپیو "ملت ، ځمکې (سرزمین) او حکومت " مفهومونو نه بېلتون او تړاو ددې لامل شوی چې د یو میکانېزم یا لامل په څېر په خوځښت راغلی ، د ملت اراده د خاورې د اداري په پار حکومت ته لېږدوي . ملت خپله اراده د ټاکنو له لیارې حکومت ته لېږدوي او حکومت جوړوي ، چې د ټاکل شوو دولتونو په وسیله چې د حکومت اجرایه رکن دی د ځمکې د اداري کار تر سره کوي (۳۲ : ۳۴).



(۱.۴) انځور: دیو هېواد جوړښت لپاره درې بنسټیز عنصرونه (۳۲ : ۳۵).

۲.۱.۴. دهېواد ډولونه

هېوادونه بېلا بېل ډولونه لري ، چې دلته یې موږ دسیاسي ، اقتصادی او اداري پلوه په ډلبندی غږېږو (۳۷ : ۱۱۹).

۱.۲.۱.۴. د هېواد ډولونه له سیاسي پلوه

د سیا سي پلوه هېوادونه ډیر ډولونه لري چې موږ یې په لاندې توګه تشریح کوو.

ketabton.com - The Digital Library

الف . حايل هېوادونه

هغه کمزوري هېوادونه چې زياتره يې د دوو ځواکمنو هېوادونو ترمنځ د اصطکاک او لانجو د مخنيوي په موخه منځته راغلي وي؛ حايل ګڼل کېږي . کلاسيک حايل هېوادونه عبارت دي له : بوليويا ، پاراګواى او اوروګواى څخه چې د برازيل ، چيلي او ارجنټاين ترمنځ يې د بېلوالي رول په غاړه درلود . بالتيک او لهستان چې المان او روسيه يې يو له بله سره بېلول ، افغانستان چې د روسي او هند ترمنځ يې ځاى درلود ، د نيپال ، سيکيم او بوتان سلطنتي هېوادونو چې د چين او هند ترمنځ د غوره غرنيو معبرونو ساتونکي وو ، مغولستان چې د روسيې او چين ترمنځ يې ځاى درلود او لاووس او احتمالاً تايلينډ چې د انګلستان او فرانسې ځواکونه يې په اسيا کې يو له بله سره بېل کړي وو . ددې هېوادونو زياترو يې د ناسيونااليزم (نشنليزم) ، دهغوى د ځواکمن کولو او پلنوالي بدلون ، د ايديولوژي (پرته له نشنليزم) رول او په نړيواله کچه د سرحدي سيمو د لمنځه وړلو ته د ميلان او د دقيقو او ټاکل شوو کرښو (مرزونو) له امله د حايل توب رول له لاسه ورکړ.

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د ايډيولوژيک حايلې سيمې په نوم يوه حايله سيمه د ختيځ او لويديځ بلاکونو ترمنځ راڅرګنده شوه ، چې ځينې دولتونو يې د امپراتوريو له ټوټه کېدو وروسته ځان څرګند کړ او ځينې يې د پخوانيو حايلو هېوادونو برخې وګرځېدې ، چې بيا يې هم يو بې لورى بلاک منځته راوړلو . ددغسې سيمو رامنځته کيدل ددې لامل شول چې لويو ځواکمنو هېوادنو يوه اندازه انرژي د بې لورو هېوادونو په راجلبولو کې مصرف شي ، چې دا چارې پخپله د درېيمې نړيوالې جګړې په مخنيوي او کمولو کې اغېزمنې وې (ايضاً : ۱۱۹).

ځينې هېوادونه د دوو قوي هېوادونو په منځ کې سياسي استقرار لر ي ، دا ډول هېوادونه په حايل هېوادونو پېژندل کېږي . حايل هېوادونه معمولاً کمزوري وي چې اکثريت يې د دوه قوي هېوادونو په منځ کې د اصطکاک د مخنيوي په موخه منځته راغلي او ځمکنۍ بشپړتيا او ازادي يې د نړيوالو ځواکونو په وسيله تنظيمېږي . که چېرته يو حايل

ketabton.com - The Digital Library

هېواد تر دې کچې قوي شي چې وکړی شي په خپلواکه توګه له خپلو پولو دفاع وکړي ، نور نو بيا حايل هېوادونه نه ګڼل کېږي (۳۷ : ۱۲۰).

ب . متعهد هېوادونه

هغه هېوادونه دي چې د سولې او جنګ پر مهال د بې طرفۍ (Neutraliz) په وضعيت کې پاتې وي او دا وضعيت يې د ټولو هېوادونو په وسيله پېژندل شوی وي .

ج . نا متعهد هېوادونه

هغه هېوادونه دي چې د سولې او جنګ پر مهال يې بې لوری توب نه وي ساتلی او په يو ډول نه يو ډول د هېوادونو په ګټه او زيان تمامېږي (۲۰ : ۸۴).

د . ټرلي هېوادونه

هغه دولتونه دي چې حاکميت يې په ځانګړي توګه په نړيوالو چارو کې بل هېواد پورې ټرلی وي ، نو له همدې امله دوی ته نا خپلواک دولتونه يا هېوادونه ويل کېږي او د نړيوالو حقوقو په خپلواکو شخصيتونو کې نه شمېرل کېږي او نړيوالې حقوقي معاملې نه شي ترسره کولی (۲۷ : ۴۵).

په نړۍ کې يوازې خپلواک هېوادونه هم نه دي موجود ، بلکې د (ټرلو پولو) تر اصطلاح لاندې يو شمېر نا خپلواک هېوادونه هم شتون لري چې په سياست او سياسي نقشه کې يې په بېلابېلو نومونو يادوي . ټرلې پولې کيدی شي د نړۍ سياسي نقشې پر مخ د لاندې سرليکونو څخه په يوې بڼې وښودل شي : مستعمره ، تحت الحمايه (تر حمايې لاندې) ، تر سرپرستۍ لاندې ، امانتي ځمکې ، ګډ حکومت ، بې لورې سيمې ، ازاد ښارونه ، ازاد بندرونه او ازادې سيمې (۱۰ : ۷۵).

په سياسي جغرافيې کې د حکومتونو د مطالعې ارزښت ددې خبرې نه دی چې نا خپلواک سياسي واحدونه يا ټرلي هېوادونه چې د خپلو ځانګړو مليتونو په دليل ؛ يو له بله بېل وڅېرل

ketabton.com - The Digital Library

شي. په (۲۰۰۱م) کال کې ۵۹ نا خپلواک سیاسي واحدونو د نړۍ په سیاسي نقشه کې ځای درلود. د ۱۹۹۵-۲۰۰۰ ام میلادي کلونو په اوږدو کې خپلواکۍ ته د رسېدو په موخه د یو شمېر ټرلو سیاسي واحدونو شاهدان یو. د مکرونزي فدراتیف هېواد، د مارشال ټاپوګانو جمهوریت او د پالایو جمهوریت چې ټول د امریکا متحده ایالاتو د څارنې لاندې امانتي ځمکې وې؛ خپلواکۍ ته ورسېدې. هانګ کانګ چې پخوا د برتانیې مستعمره وه او ماکایو چې د پرتګال مستعمرې په څېریې شتون درلود، نن ورځ د دوو سیاسي واحدونو په څېر د ځانګړي حاکمیت په لرلو سره د نړۍ په سیاسي نقشه کې شتون لري (۳۷: ۱۶، ۱۷).

و. خپلواک هېوادونه

د نړۍ د سیاسي نقشې جوړولو تر ټولو غوره عناصر خپلواک او ازاد هېوادونه دي په عین حال کې همدا خپلواک هېواد د نړیوال نظام غوره لوبغاړی هم ګڼل کېږي. په دې وروستیو لسیزو کې نړیوال نظام د دوو متضادو لورو سره لرونکی و. له یوه پلوه د خپلواکۍ غوښتنې نهضتونو د هڅو په پایله کې د استعمار له ژغه د ملتونو د خپلواکۍ اخېستلو او د خپلواکو هېوادونو زیاتېدلو او له بله پلوه د اقتصادي او سیمه ییز پایښت په موخه د ملتونو وراخوا لویو واحدونو په بڼه د نویو سیاسي واحدونو د رامنځته کېدو شاهد یو (۱۰: ۶۴، ۶۵).

د ۲۰۰۱ کال د شمېر له مخې له ۱۹۱ هېوادونو له ډلې یې ۱۹۰ خپلواکو هېوادونو په ملګرو ملتونو کې غړیتوب درلود، چې د نړۍ د سیاسي نقشې پر مخ بدلون شوي. د دې هېوادونو یا سیاسي واحدونو تر منځ توپیرونه چې د وګړو د شمېر له پلوه دي او که د پراخوالي له پلوه دې، ډېر په زړه پورې او د سیاسي جغرافیې له مخې د پلټنې وړ دي (۳۷: ۱۶).

خپلواک هېوادنه هغه دولتونه دي چې د هېواد په د ننه او بهر کې له بشپړ حاکمیت څخه برخمن او له نړیوال حقوقي اهلیت لرونکي او د نړیوالو حقوقي ملاملاتو د پلي کولو واک ورسره وي، دا ډول دولتونه د نړیوالو عمومي حقوقو خپلواک شخصیتونه بلل کېږي، د خپلواکو هېوادونو شمېره نژدې ۲۰۰ ته رسېږي، چې یادو هېوادونو د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړی دی (۲۷: ۴۴).

ketabton.com - The Digital Library


۲.۲.۱.۴. د هېوادونو ډولونه له اقتصادي پلوه

الف. پرمختللي هېوادونه

پرمخ تللي هېوادونه چې نه يوازې د سړي سر عايد اندازه يې لوړه وي ، بلکې د توليد په پروسه کې له پرمخ تللو روشونو او تکتيکونو څخه ګټه اخلي او د ښوونې او روزنې کچه ، د عمر منځنی حد او د ژوند معيار يې هم نسبتاً لوړ وي ؛ پرمخ تللي هېوادونه بلل کېږي . البته دا کوم ځانګړی او مطلق معيار نه لري ، بلکې په نسبي توګه د نورو پرمختيايي هېوادونو سره پرتله کېږي . په همدې توګه هغه هېوادونه چې د نورو په پرتله پرمخ تللی اقتصاد ، تکنالوژيکه او صنعتي زېربنا ، لوړ ملي او سړي سر عوايد او د ژوندانه لوړ معيار لرونکي وي پرمختللي هېوادونه ګڼل کېږي (۲۹ : ۱۲۵).

د پرمخ تللو هېوادونو اصطلاح هغو هېوادونو ته کارول کېږي چې د ځينو معيارونو پر اساس يې پراختيا ته لاس رسی کړی وي . دا معيارونه د بحث وړ دي ، مګر په ټوليزه توګه اقتصادي معيارونه معمولاً د پرمختللو هېوادونو اصلي شاخص ګڼل کېږي ، د ببلګې په توګه د سړي سر عوايدو ميزان يې يو له غوره معيارونو څخه دی او بنا پردې هغه هېوادونه چې د داخلي نا خالص توليد نرخ يې لوړ وي ، پرمختللی ګڼل کېږي (ايضاً: ۱۲۶).

ketabton.com - The Digital Library



(۱.۴) نقشه : دنړۍ پرمختللي (لومړۍ نړۍ) ، مخ په وده (دويمې نړۍ) او وروسته پاتې (درېيمې نړۍ) هېوادونه

ketabton.com - The Digital Library

http://www.google.com.af/search?dcr=0&biw=1366&bih=598&tbm=isch&sa=1&ei=R1m3WvmpJ8OhsgHazaOACg&q=dByGeOpNo6Q#imgrc=3vLBXFOI0PKd1M:&spf=1521965596142

بل اقتصادي غوره معيار د هېواد د صنعتي کېدو ميزان ، يو بل معيار چې په دې وروستيو کې د وګړو د پام وړ وګرځېدو د انساني پراختيا شاخص دی ، په دې ترتيب هغه هېوادونه چې د انساني شاخص په لوړه نمره کې دي پراختيا موندونکي ګڼل کېږي او نورو هېوادونو ته د پرمختګ په حال کې ويل کېږي(۲۹: ۱۲۶).

ب. مخ په وده يا پرمختيايي هېوادونه

مخ په وده يا پرمختيايي هېوادونو (Developing Countries) ته کله کله د لږو پرمختللو (less developed countries) اصطلاح هم کارول کېږي . معمولاً هغو هېوادونو ته ويل کېږي چې نسبتاً لږ عايد لري ، د خلکو د ژوند سطحه يې ټيټه وي او لږ پر مختللی صنعتي سکتور ولري . دا اصطلاح معمولاً د هغو هېوادونو لپاره کارول کېږي چې پرمختللو هېوادونو سره يې اقتصادي او سياسي واټن ډير وي (۲۹ : ۱۲۵) . لږ پراختيا موندونکي هېوادونه د لاتين امريکا ، اسيا او افريقا د درېيمې نړۍ فقير هېوادونه دي . د لږ پراختيا موندونکو هېوادونو د پېژندلو لپاره ددغو اقتصادي ځانګړتياوو لکه داخلي ناخالص توليد ، د سړي سر پرمختګ او داسې نورو څخه استفاده وکړو، دا ډول هېوادونه د مرستو پلټونکي دي او په نړيواله سوداکرۍ کې نسبتاً لږ رول لري (۲۰ : ۸۵).

دمخ په ودې مفهوم

وده يوه څو بعدي پديده ده ، چې ډير لاملونه پرې اغېزه لري ، چې همدا لاملونه بيا د ودې بريا او ناکامي ټاکي . اقتصادي علوم ددې ستونزې يوازې يوه برخه څېړي ، چې په کې په ځانګړې توګه کلتوري او ټولنيزو شرايطو ته هم زياته پاملرنه کېږي . د مخ په ودې يو ټولېز تعريف چې ټولو ته د منلو وړ وي ناشونی دی . پخوا د" مخ په ودې " پر ځای " وروسته پاتې " او د "غريب " کلمې کارول کېدې ، مګر نن د پرستيژ او ډيپلوماتيکو دلايلو له مخې د ټولو داسې کلمو پر ځای د " مخ په ودې " کلمه کارول کېږي .

ketabton.com - The Digital Library

ددې تعريف د توضيح لپاره بايد ډير خصوصيات په پام کې ونيول شي ، دا خصوصيات بايد د اندازه کېدو وړتيا ولري او يا په ټولیزه توګه وجود ولري .

يوازې " عصريتوب او پرمختګ " د مخ په ودې په مفهوم نه دی ، بلکې په دقيقه توګه د" ژوند د ټولیزو شرايطو ښه کول " د مخ په ودې په مفهوم دي . د (Nuscheler) او (Nohlen) په آند : رشد (پرمختګ)، کار ، عدالت ، ګډون او استقلال د مخ په وده د مفهوم مهم عناصر دي . خو د (Seers) په آند : خوراکي مواد ، کار او ټولنيز عدالت د مخ په ودې مهم عناصر ګڼل شوي دي . په دې بنسټيزو موخو کې هر مخ په وده هېواد ځانګړي د موخو اولويتونه لري . د ټولو دغو موخو مثبټ بدلون د مخ په ودې په معنی دی . که ددې موخو تر منځ مثبتې اړيکې موجودې وي ، نو په دغسې حالت کې اضافي ستونزې نه رامنځته کېږي ، برعکس که ددې موخو ترمنځ تضاد شتون ولري نو په دې صورت کې اضافي ستونزې پيداکېږي (۲۵ : ۵).

د مخ په ودې مفهوم په لاندې توګه تعبيريږي :

د مخ په ودې پروسه (ديناميک ليدنه)

دمخ په ودې حالت (ستاتيک ليدنه)

د مخ په ودې پروسه له يو زيات شمېر مخ په ودې حالتونو څخه لاس ته راځی ، نو له دې کبله مهمه دنده داده چې د مخ په وده حالت په سمه توګه تثبيت شي او د هغه لپاره د اندازه کولو معيار وټاکل شي . د مخ په وده حالت له دې موضوع سره نژدې اړيکې لري ، چې ديو هېواد وګړو کومه د ژوند سطحه لري او کومه د ژوند سطحه غواړی لاسته راوړي . ددې موخې لپاره بايد د ژوند د شرايطو غوره عناصر وټاکل شي (ايضاً: ۵) .

د ټولیزې مخ په ودې د اندازه کولو ستونزه د ټاکلو ټولنيزو ګروپونو د اوسني ژوند د کچې په تثبيتولو کې خلاصه کېږي . يوه مهمه دنده داده ، چې د ژوند د شرايطو هر اړخيز کرکتر په سمه توګه وټاکو ؛ البته چې دا ساده کار نه دی . د ژوند د سطحې د ټاکلو شرايط ډير زيات دي او ډير مختلف متضادې ډلبندۍ په اړه شتون لري . د ملګرو ملتونو ځانګړي

ketabton.com - The Digital Library

سازمانونه داسې یوه ډلبندي چې زیاتره عملي اړخ لري په پام کې نیسي . د ژوند کچې ستندرد او اندازه کول او د هغه اړوند ستونزې د ټولنیزو علومو د څېړنې یوه مهمه برخه ده ، په دې اړه د کارګرانو د نړیوال دفتر یا International Labour Office (ILO) وړاندیز د ملګرو ملتونو د متخصصینو لخوا منل شوی دی . چې په دې بنسټ د ژوند کچې غوره عناصر لاندې دي :

- ✓ روغتیا او نفوس.
- ✓ خوراکي مواد او تغذیه .
- ✓ ښوونه اوروزنه .
- ✓ د کار شرایط .
- ✓ د مشغولیت حالت .
- ✓ ټولیزه تقاضا او سپما .
- ✓ ترانسپورت .
- ✓ کور .
- ✓ کالي .
- ✓ تفریح او فارغ وخت .
- ✓ ټولیزه ډاډینه .
- ✓ د وګړو ازادي .

په زیاترو مخ په وده هېوادونو کې ددې شاخصونو ټاکل ستونزمن کار دی ، ځکه هلته دقیق اعداد او ارقام نشته (۲۵ : ۶).

دمخ په ودې هېوادونو ټولیز او اقتصادي جوړښت یو له بله زیات توپیر لري او دا جوړښت آن چې په یو هېواد کې هم غیر متجانس دی . هر مخ په وده هېواد ځانګړي خصوصیات لري ، له دې کبله د مخ په ودې هېوادونو لپاره یو ټولیز تعریف چې د ټولو اقتصاد پوهانو لپاره د منلو وړ وي نشته . موږ په هیڅ بڼه د ټولو هېوادونو لپاره ټولیزې اقتصادي نسخې او ټاکلی موسساتي چوکاټ چې د ټولو هېوادو په مختلفو شرایطو کې یو

ketabton.com - The Digital Library

شان اعتبار ولري نه شو طرحه کولی . د مخ په ودې هېوادونو د وروسته پاتې والي بنسټيزه ستونزه هغه څو اړخيز والی دی چې د اقتصادي ، ټولنيزو او سياسي هڅو کډې اغېزې د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ لپاره ايجابوي .

په ټوليزه توګه په يوه ټولنه کې د خلکو رفاهيت د مذهبي ، اقتصادي او ټولنيز جوړښت سره نژدې اړيکې لري . په يو هېواد کې نفر سر عايد د يوې ټولنې د اقتصادي وروسته پاتې کېدو په څېړنه کې بنسټيز رول لري ، مګر يوازې نفر سر عايد په هېڅ بڼه په يوه ټولنه کې د رفاهيت د ټاکلو لپار ه بس نه ده ، ځکه چې نفر سر عايد د ټولنيزو شاخصونو سره چې د افرادو د رفاهيت او د يو هېواد د اقتصادي ودې لپاره غوره معيار بلل کېږي؛ نژدې اړيکې نه لري . په يو هېواد کې د انکشاف موخه داده چې د ټولو خلکو لپاره د رفاهيت او با حرمته ژوند شرايط تامين شي . انکشافي سياست بايد د اقتصاديت لپاره بنسټونه رامنځته کړي ، پروګرامونه او پروژې د اقتصاد او ټولنيز پرمختګ لپاره ښاييې کړي . بايد د وروسته پاتې کېدو لاملونه وپېژندل شي او د فقر او غربت د لمنځه وړلو لپاره په مخ په وده هېوادونوکې عملي کړنې وشي (۲۵ : ۱).

ج . وروسته پاتې هېوادونه

ددې ډول هېوادونو بل نوم نه پراختيا موندونکي هېوادونه دي ، زياتره وروسته پاتې هېوادونه هغه د درېيمې نړۍ نوي او ازاد شوي هېوادونه او هغه ځمکې دي چې پخوا په سيده او يا ناسيده توګه د استعمارګرو ځواکونو د سياسي ، اقتصادي ، نظامي او فرهنګي نفوذ لاندې وو . ددې ډول هېوادونو ځانګړتياوې په لاندې ټوګه دي .

- د صحت (روغتيا) او تغذيې (خوراک) ټيټه سطحه .
- نالوستوب (بې سېوادي) .
- له چارو څخه بې زاري (زړه بدوالی) او بې ميلي (بې مينې توب).
- د پانګې کمښت.
- طبقاتي ژور بدلونونه .

ketabton.com - The Digital Library

- اقتصادي څو ګونی توب.
- د کرنې لومړیتوب پر صنعت.
- د پولي سیستم نه رسیدل توب .
- پانګې اچونې سره بې مینې توب.
- د اقتصادي کارکوونکوکمښت.
- د پرمختللې فني شپوې او د پراختیا د روحیې نه شتون (۲۰ : ۸۴).

۴.۱.۲.۳. د هېوادونو ډولونه له اداري پلوه

د دولتونو ډولونه د ترکیب اوساختمان له پلوه په دې معنی چې ایا دولتونه واحد او مرکزي قدرت لری او د نورو دولتونو سره به د یو والی او اتحاد په بڼه ترکیب لري ، له همدې امله دولتونه په دوه ډوله وېشل کېږي ، چې یو یې ساده او بل یې مرکب دولتونه دي (۱۳ : ۷۱).

۴.۱.۲.۳.۱. واحد دولتونه

هغه دولتونه دي چې یوازې یو واحد مرکزي قدرت ولري او د دولت ملي حاکمیت په حقیقت کې د همدې مرکزي قدرت په وسیله تطبیق او عملي کېږي لکه افغانستان ، ایران او داسې نور.

ګارنر ساده دولتونه داسې تعریفوي : که چېرې د قانون پر بنسټ ټول واکونه یوازې د مرکزي دولت په لاس کې وي ، نو دې ډول نظام ته ساده دولت وایي .

د ساده یا بسیطو دولتونو اطلاق په هغو دولتونو کېږي چې د یوې مرکزي واحدې سیاسي تګلارې لرونکی وي او په ټوله کې خپل سیاسي قدرت ، دندې او واکونه د یو واحد حقوقي شخصیت په وسیله چې هماغه بسیط دولت دی ؛عملي کېږي . او ټول هغه افراد چې د یو ټوغ لاندې موجود وي له یو سیاسې قدرت څخه پیروي کوي او هم یو سیاسي قانون د هماغه دولت په ټول قلمرو کې پر هغوی تطبیقېږي . ځینې مهال ددې لپاره چې په نظم او امنیت کې اسانتیاوې رامنځته شي ، نو هېواد پر یو لړ اداري واحدونو لکه

ketabton.com - The Digital Library

ولايت ، ولسوالۍ ... باندې وېشي ، او د مرکز تر اغېز لاندې وي ، مرکزي دولت کولی شي د دوی په واکونو کې کموالی يا زياتوالی راولي(۱۳ : ۷۱).

د واحد(ساده) دولتونو وېش

دساده دولتونو په اړه بايد ووايو چې د ساده دولتونو اداري سيستم به يا داسې عيار شوی وي چې واک به په‌کې ټول د مرکز سره وي او يا داسې وي چې په ځينو مواردو کې به يې واک د مرکز او نور واک به يې سيمو او ولايتونو ته سپارلی وي چې له همدې امله مورِ کولی شو ساده دولتونه په دوه برخو ووېشو:

۱. هغه واحد سياسي رژيم چې اداري سېستم يې مطلق مرکزيت ولري : دا هغه رژيم دی چې ټول مامورين د مرکز لخوا ولايتونو ته ټاکل کېږي او دوی پر خلکو يا تر اداري لاندې وګړو باندې له دولت څخه استازيتوب کوي او هيڅ ډول ځانګړی صلاحيت نه لري . ټولې اجرايوي پرېکړې د مرکز لخوا ولايتونو ته صادرېږي ، ولې ددې ډول رژيمونو تطبيق نن ورځ ناشونی دی ، ځکه يو تن نه شي کولی چې له مرکز څخه ټول ولايتونو اداره کړي او د هر ولايت غوښتنو اړوند پرېکړې وکړي .

۲. هغه واحد سياسي رژيم چې اداري سېستم يې پر عدم مرکزيت ولاړ وي : دعدم مرکزيت په رژيم کې موضوع داسې وي چې ځينو سيمو يا ولايتونو ته يو حکمي شخصيت ورکول کېږي ، په دې معنی چې ولايت يا سيمه کولی شي چې په مطلقه توګه ځانته عايدات ولري ، خپله بودیجه ترتيب کړي ، په ازادانه توګه پرېکړې وکړي او خپل اړوند مامورين په خپله وټاکي . بايد وويل شي ولايتونو ته دا صلاحيت يوازې په هغه حدودو کې ورکول شوی وي چې د دوی سيمه ييزې ګټې يې ايجابوي ، البته په ملي او ټوليزو موضوعاتو کې صلاحيت د مرکزي دولت په لاس کې وي او دې ډول موضوعاتو ته د مرکزي دولت لخوا د حل لارې لټول کېږي (۱۳ : ۷۱).

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه دوکتور میرحیدر دره ساده دولتونه یا واحد دولتونه په لاندې توګه تشریح کوي : واحد هېوادونو هغه هېوادونو ته ویل کېږي چې د یو ډیر ځواکمن مرکز لرونکی او په سیاسي قدرت متمرکز وي، او داخلي تفاوتونه یې ناچیزه وي .

ټول حکومتونه د اداري اوسیاسي موخو لپاره په کوچنیو واحدونو وېشل کېږي او هر یو له دې واحدونو د یو محلي مدیریت لرونکی وي چې د چارو اداره کوي . د واحد حکومتونو په اړه مرکزي دولت ټول محلي مدیریتونه د خپلې ځارنې لاندې لري او د هغو د ځواکونو اندازه ټاکي ، آن چې ځینې وخت په موقته توګه د محلي مدیریت رول هم په غاړه اخلي . مرکزي دولت کولی شي خپل تصامیم پر ټولومحلي واحدونو تحمیل کړي ، پرته له دې چې دا تصمیمونه د هغو سېمو د وګړو د قبلولو او احترام وړ دي او که نه ؟. په اړینو مواردو او د ملي بحرانونو په وخت کې مرکزي دولت کولی شي د زیا ت ځواک په لرلوسره چارې تر سره کړي ، بحران لېرې کړي او برعکس د ارامۍ په وخت کې زیاتره مسولیتونه محلي واحدونو ته لېږدوي . پورته مطلب ته په پام سره کولی شو د واحد حکومتونو لپاره لاندې ځانګړنې وښایو (۳۷ : ۱۴۸).

۱ . واحد حکومت باید چې پراخه اوډیره پراخه ځمکه ونه لري ، هرځومره یې چې ځمکه پراخه او پلنه وي ددې احتمال شته چې له یوې خوا فرهنګي ناحیې په کې زیاتې وي او له بله دا چې د مواصلاتي لارو او ارتباطاتو پر وړاندې د طبیعي موانعو شونتیا په کې زیاتېږي .

۲. واحد حکومت باید چې د ګرد او راټول شکل لرونکی وي ، هغه حکومت چې ځمکه یې ټوټه ټوټه او یا لکۍ لرونکی وي د ملي یو والي په لاره کې د ستونزو سره ښایي مخامخ شي او باید چې مختلفو نواحیو ته خود مختاري ورکړي . په ټوټه ټوټه هېوادونو کې د قومي ، نژادي ، مذهبي او ژبنې تفاوتونو د شتون شونتیا زیاته وي او یوازې د یو سیاسي فدرال چوکاټ ورته په کار دی تر څو زیاتره وګړي په کې رضا کړي .

ketabton.com - The Digital Library

۳. واحد حکومت باید چې په ټوله خوره وره خاوره کې یې په یو ډول وګړي استوګن وي . له استوګنو څخه خالي او غیر تولیدي سیمو شتون او د حاصلخېره استوګنې سیمو ترمنځ د انزوا غوښتنې او سیمې پالنې حس پیدا کوي .

۴. واحد حکومت باید یوازې د یوې سیاسی هستې لرونکی وي ، هغه حکومتونه چې د ملي او سیاسي څو ګونو هستو لرونکی وي ، د یوې قوی سیمې پالنې سره مخامخېږي . دا وضع په یو واحدحکومت کې چندانې مطلوبه نه وي . د نظري پلوه د یو واحد حکومت پلازمېنې لپاره تر ټولو ورځای د یو را ټول شکل جغرافیایي مرکز دی . دا چاره ددې لامل ګرځي چې د پلازمېنې چاپېره سیمو فاصله کمېږي او په پای کې د پلازمېنې او سیاسي هستې حضور د هېواد په هره څنډه او لوري کې احساسېږي . ښاري مرکز چې د سیاسي مقاماتو د استوګنې ځای وي د زیات سیاسي نفوذ لرونکی وي اوملي احساسات هم په هغې کې په لوړترینه سطحه کې وي . په همدې دلیل د وحدت راوستلو لامل وي او مرکز نه یوازې د خپلې هستې لپاره بلکې د ټول حکومت لپاره ښایي جوړ شي (۳۷ : ۱۴۹).

په همدې ترتیب پوهاند دوکتور ودیر صافی ساده دولتونه په لاندې توګه تشریح کوي : واحد یا ساده دولتونه چې یو مرکزي عالي قدرت ولري او همدغه عالي مرکزي ارګانونه یې یوازینې د اعمالو ارګانونه وي او کورنی او باندینی حاکمیت همدغه ارګانونه تمثیل کړي ، په دې ډول هېوادونو کې قدرت په حکومتي ایالاتونو نه وي وېشل شوی ، بلکې ټول هېواد او د هېواد نفوس له یوه عالي مرکز څخه رهبري کېږي . د نړۍ ډیری دولتونه واحد دولتونه دی ، واحد دولتونه له خپل بنسټې قانون سره سم د یوه عالي مرکزي ارګان لرونکی وي چې په کورنیو چارو کې عمل کوي او هم په نړیوالو اړیکو کې له ټول هېواد څخه استازیتوب کوي (۲۷ : ۴۵ ، ۴۶).

ketabton.com - The Digital Library

۲.۳.۲.۱.۴. مرکب هېوادونه

مرکب دولتونه هغه دولتونه دي چې له يوه حکومت څخه له زياتو ايالتونو جوړشوي وي ، ددغو دولتونو غوره ډولونه فدرالي (فډريشن) او کنفدرالي (کانفډريشن) دي (۲۷ : ۴۶).

مرکب دولتونه هغه دولتونو ته وايي چې له نورو دولتونو سره يا د يو والي (اتحاد) په بڼه يو ترکيب ولري او يا د فدرال يا کنفدرال بڼه ولري ، يا په بل عبارت مرکب دولتونه له هغو دولتونو څخه عبارت دي چې يا له دولت سره د قدرت په کړنو کې يو بل دولت برخه وال وي او يا داچې د دولت په دننه کې دولت ته ورته ځينې نور ارګانونه موجود وي ، يا په بل عبارت مرکب دولتونه هغه دولتونو ته وايي چې ساده شکل و نه لري يا واحد مرکزي قدرت و نه لري ؛ بلکې هلته څو دولتونه شتون لري (۱۳ : ۷۲).

۱.۲.۳.۲.۱.۴. د مرکب دولتونو ډولونه

مرکب دولتونه په درې ډوله وېشل کېږی چې عبارت دي له : دولتونو اتحادي سيستم ، د دولتونو فدرېشن سيستم او د دولتونو کنفدرېشن سيستم څخه ، چې هر يې په لاندې توګه توضيح کېږي. (۱۳ : ۷۳).

۱.د دولتونو اتحاد

د دولتونو اتحاد په دې معنی چې دولتونه په خپلو ټولو داخلي او باندينيو چارو کې خپلواک وي ، مګر د يو دولت رييس د بل دولت رييس دنده هم ترسره کوي ، چې دا ډول اتحاد په دوه ډوله دی چې يو ته يې شخصي اتحاد او بل ته يې عيني (حقيقي) اتحاد وايي ، چې هر يو يې په لاندې توګه روښانه کوو :

الف ـ شخصي اتحاد: هغه قرار دادي اتحاد ته ويل کېږي چې په کې د يو دولت رييس د بل دولت د رييس دنده هم تر سره کوي ،خو د هر دولت ټول وزارتونه او دولتي ارګانونه به بېل وي ، دېلګې په توګه په ۱۷۱۴م کال کې دانګلستان ملکه مړه شوه او هغې وارث نه درلود ،

ketabton.com - The Digital Library

نو پارلمان پرېکړه وکړه چې هانور پاچا (لومړی جورج) دې د انګلستان د پاچا په حیث هم کار وکړي ، چې دې حالت تر ۱۸۳۷م کال پورې پایښت درلود . همدارنګه په ۱۸۳۹ م کال کې د هالند د دولت رییس د لوګزامبورګ د دولت د رییس په حیث هم دنده تر سره کوله .

همدارنګه په ۱۹مه پیړۍ کې د بلجیم او کانګو هېوادونو تر منځ شخصي اتحاد رامنځته شوی و، چې په‌کې د بلجیم پاچا د کانګو پاچا هم حسابېدو، نن ورځ د دغسې اتحاد کوم بېلګه نشته . دا باید څرګنده کړو چې شخصي اتحاد د حقیقي اتحاد لپاره یوه مقدمه ده ، ځکه په دې کې د هېواد رییس چې معمولاً شاه وي او کوښښ کوي چې د دوو هېوادونو ترمنځ واقعي اتحاد رامنځته کړي .

ب ـ عیني (حقیقي) اتحاد: دا ډول اتحاد د دوو دولتونو هغه اتحاد ته وایي چې د یو ټرون په وسیله د یو دولت رییس د بل دولت د رییس په توګه دنده تر سره کوي ، پر دې سربېره درې وزارتونه (دفاع ، باندینیو چارو او مالیې) هم سره شریک وي . د بېلګې په توګه په ۱۸۱۵ م کال کې د ناروي دولت د سوېډن دولت سره په جګړه کې مات شو ، نو د (TOST) د سولې ټرون په وسیله یې یو واقعي اتحاد رامنځته کړ او د ناروي دولت د سوېډن دولت ته غاړه کېښوده ، خو د ۱۹۰۵ م کال د اکتوبر ۲۶ ام د هغه شورش په وسیله کوم چې په ناروي کې رامنځته شو ؛ دا اتحاد یې پای ته ورسولو.

په عیني اتحاد کې هر دولت د نړیوالو حقوقو شخصیت لرونکی دی . دا چې ولې دې اتحاد ته عیني اتحاد وایي په لاندې دلایلو کې واضح کېږي .

عین په معنی د شي دی ، همدارنګه د مادیاتو او منافعو په معنی هم دی . یعنې دلته یوازې شخص ګډ نه دی بلکې مادیات چې هغه درې وزارتونه دي هم شریک دي . دویم دلیل دا کېدی شي چې عین د حقیقي او واقعي په معنی هم وکارول شي ، نو ځکه ورته عیني اتحاد وایي چې دا یوازې شخصي اتحاد نه دی ؛ بلکې یو حقیقي او واقعي اتحاد دی (۱۳ : ۷۳، ۷۴).

ketabton.com - The Digital Library

۲. د دولتونو فدرېشن

فدراسيون د واحد دولت د تشکيل لپاره د څو سياسي واحدونو (ايالتونو يا هېوادونو) يوځای توب ته وايي . په فدراسيون کې کوچني سياسي واحدونه دخپل ځان او وګړو لپاره د ځينو واکونو او ځواکونو لرونکی وي او باندنۍ چارې فدراسيون ته په واک کې ورکوي . د فدراسيون يا فدرال حکومت هر غړی ايالت د اداري جوړښت او قانون جوړونې مجالسو لرونکی وي ؛ خو قوانين به يې د فدرال حکومت د بنسټيزو قوانينو سره په ټکر کې نه وي . تر ټولو غوره فدرالي حکومتونه د امريکا متحده ايالات ، کاناډا ، استراليا ، ارجنټاين ، مکسيکو او هند دي (۱۱ : ۵۳).

فدرېشن دولتونه هغه دولتونو ته وايي چې په داخل کې له يوه لوړې يې مرکزي دولت موجود وي ، خو له بلې لوري هماغه دولت کې ايالتونه هم شتون لري چې هر يو ايالت ځانګړي صلاحيتونه لري ، يعنې ځانته ځانګړې فضاء ، پارلمان اوحکومت لري او په داخلي عادي کارونو کې خپلواک وي ، خو په داخلي مهمو او په ټولو باندينيو موضوعاتو کې دوی خپلواک نه وي او د مرکزي دولت تابع وي (۱۴ : ۴۲).

د اساسي قانون د حکم پر بنسټ معمولاً فدرالي دولتونه په دوه ډوله منځته راځي .

۱. داچې څو خپلواک دولتونه سره يو ځای کېږي او دامنې چې د اساسي قانون پر اساس به دوی فدرال دولتونه جوړوي ، دېبلګې په توګه په ۱۷۸۷ م کال کې د امريکا ۱۳ بېلابېلو دولتونو ژمنه وکړه چې داساسي قانون په وسيله به فدرال دولتونه جوړوي .

۲. يا دا چې يو دولت په داخل کې خپل رژيم ته بدلون ورکوي او فدرالي نظام د خپل نظام په حيث قبلوي ، لکه المان ، هند ، سوېس ، پاکستان او داسې نور ... ، چې فدرالي نظامونه لري . يعنې په لومړي ډول کې څو بېروني دولتونه سره يوځای کېږي او يوفدرال دولت رامنځته کوي ، په داسې حال کې چې په دويم ډول کې د يو موټي کورني دولت په داخل کې دا سيستم منل کېږي .

ketabton.com - The Digital Library

په فدرال طرم کې د قانون اړوند واکونه د مرکز او ایالاتو ترمنځ وېشل کېږي او مرکزي دولت نه شي کولی چې د ایالتونو واکونه په خپله خوښه لمنځه یوسي . همدارنګه باید یاده کړو چې د مرکز او ایالتونو تر منځ د واکونو وېش په دوه ډوله صورت نېولی شي .

۱. د ایالتونو لپاره واکونه ټاکل کېږي اوپاتې نور واکونه او صلاحیتونه د مرکز سره وي .

۲. لومړی د مرکز لپاره واکونه ټاکل کېږي او پاتې نور واکونه ایالتونو ته ورکول کېږي . مګر په ځینو حالاتوکې پر ځینو واکونو هم د مرکز او هم د ایالتي حکومتونو ګډ کنترول وي لکه د مالیې وضع کول (۱۳: ۷۴ ، ۷۵).

فدرالي حکومتونه له ګڼو ایالتونو یا حکومتونو څخه جوړشوي وي ، خو د دوي د جوړښت حقوقي سند د فدرالي نظام بنسټې قانون دی او له هغه سره سم رامنځته کېږی لکه د شوروي اتحاد فدرالي هېوادونه او نور .

یو فدرالي حکومت که څه هم له څو حکومتونو څخه جوړ شوی وي ، خو دفاعي ارګان ، د باندیني سیاست پراختیا ، پولي سیستم یا پولي واحد یې ګډ او مرکزي سیستم لري . د جګړې اعلان او د جګړې د متارکې (پرېښودلو) لاسلیکول له مرکزي ارګانونو څخه د ټول فدرالي هېواد په استازیتوب تر سره کېږي . فدرالي هېوادونه د نړیوالو حقوقو له نظره د نورو ساده هېوادونو په شان دي ، یعنې یو فدرالي هېواد یو نړیوال شخصیت پېژندل کېږي ، پرته له دې چې یو یا دوه یا زیات فدرالي حکومتونه یا ایالتونه لري یعنې نړیوال عمومي حقوق فدرالي هېوادونو ته یوازې د یو نړیوال شخصیت په توګه یا لکه د یو ساده او واحد هېواد په توګه ګوري لکه پخوانی چکوسلواکیا هېواد چې له دوو حکومتونو څخه جوړ و، امریکا متحده ایالتونه چې له پنځوسو ایالتونو جوړ دی (۲۷ : ۴۶).

دمتمرکز نظام برخلاف چې په کې مرکزي دولت خپل ځوا ک د حکومت په ټولو متشکله برخو په یو ډول عملي کوي ، یو فدرالي نظام کې مرکزي دولت ته دا مجاز دی چې د سرحدونو په دننه کې چې د ګډو علاقو زمینه لکه دفاع ، باندني سیاست او اړیکو کې

ketabton.com - The Digital Library

دخالت وکړي . همدارنګه د فدرال حکومت هر متشکله سیاسي واحد لکه امریکا متحده ایالاتو کې پخپله د سیاسي مرکز ، لومړي وزیر او داخلي بودجې لرونکی وي . د فدرال حکومت هر سیاسي واحد د فدرال اداري پلازمېنه کې استازی لري ، تر څو له همدې لارې هغه چارو کې چې فدراسیون پورې تړلې دي د نظر څرګندونې وکړي.

تاریخ ښودلې ده چې فدرال حکومتونو هم لکه د واحد حکومتونوپه څېر دوخت په تېرېدلو سره په تدریجي توګه بدلون او بشپړ تیا موندلې ده ، هغه ډول چې دعدم تمرکز په لور د حرکت ځینې نښې لېدل کېږي ، فدراسېونونه هم د زیات مرکزیت په لوري د بدلون په حال کې دي ، دا وضع دقیقاً د امریکا متحده ایالاتو کې رامنځته شوې ده .

نن ورځ د امریکا متحده ایالات د هغو ګڼو بدلونونو په رامنځته کولوسره چې په بنسټې قانون کې یې د اصلاحاتو ترسرلیک لاندې راوړي ، د هغو ۱۳ لومړنیو ایالتونو چې د فدرال حکومت هلته جوړ وي په کراتو زیات مرکزیت لري ، له بله پلوه ځینې فدرال حکومتونه تردې کچې په مرکزیتوب عمل کوي چې کیدای شي د واحد حکومتونو په لیکه کې وګڼل شي (۳۷ : ۱۵۱).

له نظري پلوه د فدرالېزم نظام پراخ او ډیر پراخ هېوادونو کې وي ، د ټولو هغو پرمختګونو چې د تګ راتګ او تړاوونو په برخه کې ترلاسه شوي ، نن هم ځینې هېوادونه لکه برازیل او زایر د ارتباطي کمزورۍ او د خپلې ځمکې د پراخو ځمکو بې اغېزې اشغال څخه ځورېږي ، همدا د ارتباطاتو او سیاسي کنترول په لاره کې خنډونه ، شونې ده چې د واحد حکومت د تجزیې لامل شي ، په داسې حال کې چې د داسې پېښو تحمل په فدرال حکومتونو کې اسانه وي .

دا رښتیا ده چې د فدرالېزم نظام د بڼې له پلوه د ټوټه ټوټه او تړانګې په څېر هېوادونو تر ټولو غوره حکومتي طریقه ده ، یو هېواد چې له اوږدوالي له پلوه زیات اوږد وي او له یوې څخه د زیاتو سیمه ییزو هستو لرونکی وي ، غوره به ورته دا وي چې فدرال نظام په کې پلی کړي .

ketabton.com - The Digital Library

فدرال حکومتونه کولی شي له دوه سیمه ییزو هستو څخه د زیاتو په لرلو سره د دوه یمو درجو سیمه ییزو هستو په ښودلو سره همغږې کړي . ننني زیاتره فدرال حکومتونه څو هسته یي دي . د کاناډا ، نایجریا ، پاکستان او استرالیا هېوادونه دیو فدرال بنسټي قانون په تدوین سره کولی شي د بېلابېلو سیمو تر منځ یو ځای توب منځته راوړي . په دې ترتیب سره یو فدرال حکومت معمولاً د زیاتو انساني تجمع مرکزونو لرونکی وي ، چې د پراخو کم مېشتو او بې مولده سیمو په وسیله یو له بل څخه بېل شوی وي چې غوره بېلګه یې د استرالیا او کاناډا هېوادونه دي .

د فدرال حکومتونو پلازمېنې معمولاً له ایالتونو څخه خپلواکې او حکومت پورې تړلې ځمکو کې ځای پر ځای کېږي ، دا چاره د هغو رقیبو او سیالو ایالتونو چې د پلازمېنې کېدو شرایط لري د سیالۍ مخه نیسي (۳۷ : ۱۵۲).

دنایجریا په هېواد کې له لوېدیځو سیمو څخه د یو ښار بېلول او د هغې ټاکل د یو فدرال پلازمېنې په توګه د دوو لاملونو له امله وو.

۱. دا ښار د استعمارپر مهال د دولتي اسنادو خوندي ځای و.

۲. دې ښار د هېواد د غوره بندرونو په توګه کولی شول د شمال وچو تړلو سیمو لپاره د فدرال حکومت داخلي سیمو لپاره د لاس رسي تضمین وکړي (۳۷ : ۱۵۳).

د فدرال نظام د هغو ځمکو د اداري لپاره غوره سیاسي لاره ده چې مختلفې پرګنې (ژبنۍ ، مذهبي ، قومي اوفرهنګي) په کې استوګنې وي . دا ډول د حل لاره په ټېره په هغو برخو کې چې سیمه ییز تفاوتونه په کې وي او د هېواد د هرې سیمې وګړي چې په دې هېواد کې استوګن هېواد خپل هېواد ګڼي.

فدرال چوکاټ د انعطاف قبلونې له املې ، د ځمکو د اداري وړتیا چې مخ په پراخېدونکې حالت کې ده ، اکثریت د هغو سیمو لپاره چې تر دې مهاله ورسره نه وي یو ځای شوې ځانګړي ترتیبات وړاندې کېږي . د امریکا متحده ایالاتو ، هندوستان ، مکزیک

ketabton.com - The Digital Library

او برازیل خپل څو سیمه ییز موقعیت د قلمرو له سطحې څخه د ایالت سطحې ته چې د فدرال حکومت لومړی درجه وښې ګڼل کېږي لوړ کړي .

د فدرال نظام بل غوره والی د فردي پانګې اچونې د تشویق شونتیا ده . د امریکا متحده ایالاتو د اقتصادي چټکې پراختیا تر ډیره بریده د همدې لامل د پکار اچولو پایله وه(ایضاً : ۱۵۴).

دحقیقي فدرالي نظام ایجادول په هغو هېوادونو کې چې سربېره پر زیاتې پراختیا د قومي ، ژبنې تفوق لرونکی وي د چارو اداري د اسانتیاوو لپاره وي (۳۷ : ۹۹) .

۳. کنفدرال هېوادونه

د څو دولتونو یا هېوادونو یوځای توب ته چې د دفاع او مرستو په موخه سره یو ځای شوي وي ورته کنفدرال حکومتونه یا کنفدراسیون ویل کېږي . کنفدراسیون د هېوادونو پر وګړو د مرکزي ځواک لرلو ته ژمن نه وي او غړي هېوادونه یې په باندېنې او داخلي سیاست کې ازاد وي . د کنفدراسیون حکومت غړي هېوادونه په نړیوالو اړیکو کې ځانګړو هېوادونو په ټېر پاتې کېږي ، مګر جنګ به خپلو منځونو کې تحریموي او د نورو د جنګ پر وړاندې په متحده توګه اقدام کوي (۱۱ : ۵۳ ، ۵۴).

همدارنګه پوهاند دوکتورودیرصافی کښي : کنفدرالي د دوو یا تر دوه زیاتو هېوادونو یو والي ته وایي ، چې دا یووالی د یو نړیوال تړون پر اساس منځته راځي . په کانفدرېشن کې د فدرالي نظام برعکس هر هېواد ځانګړی خپلواک شخصیت پېژندل کېږي او د نړیوال حقوقي اهلیت لرونکي وي او همدغه اهلیت ته لا دوام ورکوي . دا هېوادونه یوازې د خپلو ګټو په پار یوه نړیواله ارتباطي یابهرنۍ شعبه کې ګډې کړنې کوي ، د نړیوالو حقوقو له مخې د کانفډرېشن هر یو غړی یو ځانګړی شخصیت لري ، د دغو هېوادونو حقوقي اهلیت او خپلواکي د بل هیڅ هېواد په ګټه نه وي . هر وخت چې د کانفډرېشن غړي هېوادونه خپلې موخې ترلاسه کړي ،نو کانفډرېشن توب ته پای ورکوي .

ketabton.com - The Digital Library

دا مهال په نړۍ کې د کانفډرېشن هېوادونو کومه بېلګه نېشته . کانفډرېشن هېوادونه ډېرى مهال د متقابلو مرستو او ګډو پېښو له امله رامنځته کېږي (۲۷ : ۴۷).

کنفدرېشن هغه دولتونو ته ويل کېږي چې دوه يا څو دولتونه د يو ټرون له مخې يو له بل سره ژمنه کوي چې په ځينو ځانګړو ساحو کې د بېلګې په توګه سوداګريزو ، نظامي او يا فرهنګي برخو کې به ټولې چارې يو ګډ کمېسيون ته سپاري ، بناءً دا ډول هېوادونه په خپلو نورو ټولو داخلي چارو کې بشپړ ازاد وي ، خو په هماغه اړوند ساحوکې بيا هيڅ يو له نومورو دولتونو څخه خپلواک صلاحيت نه لري او هماغه شورا صلاحيت لرونکې وي .

په کنفدرېشن رژيم کې د فدرېشن بر عکس هر غړي دولت خپل هويت ساتلى وي او د پوره نړيوالو حقوقي اهليت لرونکى وي . دې دولتونو يوازې د خپلو ګټو له املە د نړيوالو اړيکوپه يوه شعبه کې سره اتحاد کړى وي .

د يو کنفدرېشن د تحقق لپاره لاندې شرايط لازمي ګڼل شوي دي .

۱ـ د يو څو ازادو دولتونو شتون چې د خپلو چارو په يوه يا څو برخو کې د ګډ برخليک غوښتونکي وي ، خو نه غواړي چې خپل بنسټيز حاکميت له لاسه ورکړي .

۲.د کنفدريشن دولتون ترمنځ يو نړيوال ټرون يا معاهده موجوده وي چې ددې کنفدرېشن د تشکيل شتون تاييد کړي ، او دا ټرون د کلي او عمومي شکل لرونکى وي او ټول غړي دولتونه بايد هغه تصويب او اطاعت ترې وکړي .

۳.د کنفدرېشن د چارو تنظيم او اداري لپاره د لازمو نهادونو رامنځته کېدل چې په کې د غړو دولتونو استازي سره را ټول شوي وي .

۴.د غړو دولتونو لخوا کنفدرېشن ته د حاکميت لېږد بايد جزوي وي ،هسې نه چې د هغوى حاکميت د مرکزي حاکميت قربان شي .

۵.د کنفدرېشن ټول تصميمونه او پرېکړې د ګډ کمېسيون د استازو د رايو په اتفاق سره تر سره کېږي .

ketabton.com - The Digital Library

۶. د کنفدرېشن له غړو دولتونو هر یو یې کولی شي په خپل تصمیم سره له دغه اتفاق څخه بېرون شي (۱۳: ۷۶).

په اخر کې باید یادونه وکړو چې نن ورځ د کنفدرېشن دولتونه شتون نه لري ، د سوېس دولت په لومړیو وختونوکې د کنفدرېشن بڼه درلوده چې په ۱۸۱۳م کال کې جوړ شو او تر ۱۸۴۸ م کال پورې یې پایښت درلود، چې بیا وروسته په فدرالي دولت وا وښتو .

د فدرالي او کنفدرالي دولتونو تر منځ یو څه ورته والي او توپیرونه شته چې په لاندې توګه یې روښانه کوو :

۴.۱.۲.۳.۲.۲. دفدرالي او کنفدرالي دولتونو ترمنځ ورته والی

د فدرال او کنفدرال دولتونو ترمنځ ورته والي په لاندې ډول دي .

۱. په فدرالي او کنفدرالي دواړو کې ازاد او خپلواک دولتونه د یو یا څو ځانګړو موخو لپاره نوموړي نظامونه منځته راوړي .

۲ـ د ګډو موخو د لاسته راوړلو لپاره یو بل صلاحیته مرکزي تشکیل رامنځته کوي چې شریکې موخې تر سره کړي (ایضاً:۷۷).

۴.۱.۲.۳.۲.۳. د فدرال او کنفدرال دولتونو ترمنځ توپیرونه

د فدرال او کنفدرال دولتونو ترمنځ توپیرونه په لاندې ډول دي .

۱ـ د واحده حاکمیت له مخې : په کنفدرېشن کې ګډ دولتونه د واحده حاکمیت څخه نه محرومېږي، په داسې حال کې چې په فدرالي نظام کې ګډ دولتونه له خپل واحده حاکمیت څخه محرومېږي ؛ او یو نوی دولت منځته راوړي .

۲. د اړیکو له مخې : په کنفدرېشن کې اړیکې یوازې په هماغه مشخصه ساحه کې وي په کومه کې یې چې یو والی کړی وي ، خو په فدرالي نظامونوکې مرکزي دولتونه په سیده توګه د خپلو خلکو سره په اړیکه کې وي او مستقیماً پرې قانون پلی کوي .

ketabton.com - The Digital Library

۳ـ د قانون له مخې : که په کنفدرال نظام کې ګډ یو والي سره د قانون د وضع کولو صلاحیت نه وي ، نوموړی یو والی یوازې وړاندیزونه وړاندې کوي او قوانین د اړوند دولتونو لخوا وضع کېږي ، خو په فدرالي نظامونو کې مرکزي دولت په هغو چاروکې چې ورته سپارل شوې وي په ازادانه توګه کولی شي چې قانون وضع کړي .

۴. د دولت له مخې : فدرالي نظام د نړیوال اعتبار له مخې یو دولت ګڼل کېږي او په کې شامل دولتونه عموماً د کوم نړیوال سازمان غړیتوب تر لاسه کولی نه شي ، ځکه چې دوی خپلواک نه دي . خو په کنفدرال نظام کې شامل دولتونه بیل بیل حقوقي شخصیت ګڼل کیږي .

۵. د انفصال له مخې : د کنفدرال یو والی موقتي او د یو ټرون پر اساس شوی وي او هر وخت کولی شي سره بېل شي ، خو په فدرالي دولتونو کې مرکزي دولت هیڅ یو شامل شوي دولت ته کوم چې فدریشن ته د شاملېدو وروسته ایالتي شکل غوره کوي ؛ د انفصال صلاحیت نه ورکوي .

۶. دجنګ له مخې : که د فدرال دولت د ننه جنګ پېښ شي هغه ته داخلي جنګ ویل کېږی ، خو که د کنفدرال دولتونو ترمنځ جنګ پېښ شي ؛ نړیوال جنګ ورته وایي .

۷. دموخو له مخې : په کنفدرال نظامونو کې د موخو ساحه محدوده وي لکه یوازې دفاع ، بهرونۍ چارې ، سوداګري ... ، خو په فدرالي نظام کې ټولې ملي ګټې او موخې په پام کې نېول کېږي (۱۳: ۷۷ ، ۷۸).

۳.۱.۴ . د هېوادونوپراختیا

دیوهېواد پراختیا له ټولې هغې جغرافیایي محدودې څخه عبارت ده چې د هېواد اوسېدونکي په کې استوګنه کوي او دا هېواد په کې د خپل حاکمیت او نفوذ چارې ترسره کوي (۱۰: ۳۹).

ketabton.com - The Digital Library

تر (۲۰۱۱م) کال پورې نژدې ۱۹۳ خپلواکو (ازادو) هېوادونو په نړۍ کې شتون درلود چې د ملګرو ملتونو په ټولنې کې يې غړيتوب درلود. يو شمېر نور ازاد هېوادونه هم شته چې ددې ټولنې غړيتوب نه لري . سويس يا سويتزرلينډ تر ۲۰۰۲ م کال د بې طرفۍ سياست په لرلو سره ددې ټولنې غړی نه و ، سره ددې چې په ملتونو ټولنې کې يې غړيتوب درلود . د چين ولسي جمهوريت غړيتوب په دې ټولنه کې تر ۱۹۷۱ م کال پورې په تعويق کې اچول شوی و . فدرالي المان او د المان ديمو کراتيک جمهوريت تر ۱۹۷۳ م کال پورې د ملګرو ملتونو ټولنې غړي نه و. يو شمېر نور کوچني هېوادونه لکه اندورا (Andora) ، موناکو (Monaco) ، واتيکان (Vatican) او داسې نور هم شتون لري چې د ملګرو ملتونو ټولنې کې غړيتوب نه لري . سره له دې چې ددې ټولنې په ځينو فعاليتونوکې برخه اخلي . په هره برخه دنړۍ هېوادونه دپراخوالي له مخې توپير لري د ببلګې په توګه واتيکان ۱۰۸.۷ مربع ايکړه ، دچين ولسي جمهوريت ۹۵۹۶۹۶۱ کېلومترمربع ، د برازيل هېواد ۸۵۱۴۸۷۷ کېلومترمربع مساحت په لرلو سره يو له بله توپير لري . په همدې توګه دا چې لېدل کېږي د ملګرو ملتونو ټولنې تر ټولو پراخ هېواد روسيه د ۱۷۰۷۵۰۰۰کېلومتر مربع پراخوالي لرونکی ددې ټولنې د تر ټولو کوچني غړي هېواد يعنې توالو (Tuvalu) (چې ۲۶ کېلو متر مربع مساحت لري) څخه ۶۵۶۷۳۰ ځلې زيات پراخوالی لري .

په ټوليزه توګه هغه هېوادونه چې د ۲.۵ مېليون کېلومتر مربع څخه زيات پراخوالی لري لکه (روسيه ، کاناډا، چين او د امريکا متحده ايالات ډير پراخ هېوادونه ګڼل کېږي . په داسې حال کې چې هغه هېوادونه چې د ۲۵ زره کېلومتر مربع څخه دکم پراخوالی لرونکي هېوادونه لکه (برونای او لبنان) ډيرکوچني هېوادونه جوړوي .

له ۲۵ زره تر ۱۵۰ زره کېلومترمربع پراخوالي لرونکي هېوادونه لکه (انګلستان او پولنډ) منځني هېوادونه او هغه هېوادونه چې له ۳۵۰ زره تر ۲.۵ مېليون کېلو مترمربع پراخوالی لري لکه (فرانسه او مکسيکو) پراخ هېوادونه دي.

ketabton.com - The Digital Library

د نړۍ د هېوادونو د پراخوالي منځنی حد د ۷۷۷ زره کېلومتر مربع یا د ترکیې او چیلي هېوادونو برابر پراخوالی دی . په داسې حال کې چې د نړۍ له نېمایي څخه زیا ت هېوادونه له ۲۵۰،۰۰۰ کېلو متره مربع پراخوالي څخه کم دي (۴ : ۵۷، ۵۸).

د هېوادونو ډلبندي د پراخوالي له مخې چندان مفیده نه برېښي ، همدارنګه پراخوالی په یو ځای توګه او وګړو او په ځمکه کې د هغو د خوړېدو څرنګوالی ، جغرافیایي موقعیت او د ځمکې فزیکي ځانګړتیاوو لکه آب وهوا، نا اواري او طبیعي منابعوته په نه پاملرنې نه شي کولی د ځواک معیار شي . بناءً غوره به داوي چې د هېوادونو ترمنځ توپیر تر زیاته د کیفي پلوه بر رسي شي ، نه د کمي پلوه (۳۷ : ۹۷).

په دې کې شک نیشته چې حاکمیت د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې د هغو له کوچنیتوب له امله تل تر پوښتنې لاندې وي ، د بېلګې په توګه موناکو په ۱۸۶۱ م کال کې د فرانسې تر حمایت لاندې راغی او له هماغه وخته تر ننه پورې د ښه ګاونديتوب معاهدې له مخې له ځواکمن ګاونډي څخه مرسته اخلي (۴ : ۵۸).

د سان مارینو هېواد چې سربېره پر کوچنیتوب د ایټالیې په وسیله په جغرافیایي ډول راګېر شوی ، لکه چې په (۲.۴ نقشه) کې لېدل کېږي ، د کوچنیتوب او ځانګړي وضعیت له مخې د خپل ګاونډي هېواد په اقتصادي او سیاسي ګروګان کې دی .

دسان مارینو جمهوریت له ۱۸۶۲ م کال څخه د ایټالیې سره ګمرکي اتحادیه لري او له اقتصادي پلوه هم د هغه هېواد سره مرسته کوي ، په دې جمهوریت کې په اردو کې خدمت کول د اوطلبانه کار دی او هر وخت چې لازمه وي له ۱۶ـ ۵۵ کلونو عمر لرونکي سړي له هېواده د دفاع لپاره احضارېږي .

د لختن شټاین پرنس نشین هېواد چې د راین سیند په پاسنیو برخو کې موقعیت لري ، د اتریش او سویس په منځ کې د ۱۹۲۳ م کال د تړون له مخې له ګمرکي پلوه د سویس متحد ګډل کېږي او د همدې هېواد له پولي واحد څخه ګټه اخلي ، همدارنګه یې پُستي او ګمرکي اداري د سویس سره ګډې دي . سویس د لختن شټاین دېپلوماتیک استازیتوب په


ketabton.com - The Digital Library

غاړه لري . دا هېواد هم لکه د نورو کوچنيو هېوادونو په څېر فوځ نه لري ، لختن شتاين په ۱۹۹۲ م کال کې د ملګرو ملتونو غړی شو (۳۷ : ۹۷ ، ۹۸).

د اندورا موقعيت د اسپانيې او فرانسې تر منځ داسې دی چې اندورا د اسپانيې او فرانسې د کليسا په وسيله په ګډه توګه اداره کېږي . دلته ښايي دا پوښتنه را ولاړه شي چې ايا د اقتصادي او نظامي پلوه حد اقل پراخوالي ټاکل د هېوادونو لپاره اړين دي او که نه ؟ (۴ : ۵۸) .

معمولاً ديو هېواد زياته پراختيا دکمو پراخو هېوادونو په پرتله برتري لري ، د ځواک د لامل په توګه مطرح کېږي . د بېلګې په توګه دسويس هېواد سره له دې چې د اقتصادي پلوه د اروپا له پرمختللو هېوادونو څخه دی د کم پراخوالي له امله د نظامي پلوه ستونزې لرونکی دی او په همدې دليل يې دخپل تاريخ په اوږدو دسياسي ـ اقتصادي ډلبنديو څخه ځان غاړې ته کړی ، آن چې د ملګرو ملتونو د ټولنې غړيتوب يې هم نه دی قبول کړی . ددې په مقابل کې که چېرې يو هېواد د پراخې بې کښته او له استوګنې څخه تشې ځمکې لرونکی وي او وګړي يې دغرنيو او يا صحرايي سيمو په وسيله يو له بله ليرې پراته وي ، دداسې هېوادونو اداره زېربنايي تاسيساتو ته اړتيا لري ، چې دا کار زيات لګښتونه غواړي ، د بېلګې په توګه د روسيې هېواد زيات پراخوالی د جغرافيايي طول له پلوه ددې لامل شوی چې د ډيرې ختيځې سيمې بيرنګ تنګي او مسکو ترمنځ د وخت له مخې يوولس (۱۱) زماني سيمې موجودې دي . دا دساعتونو د وخت زيات توپير مرکزي حکومت ته زياتې ستونزې منځته راوړي . دا موضوع په (۴.۳نقشه) کې روښانه کېږي (۳۷ : ۹۹).

ketabton.com - The Digital Library



(۲.۴) نقشه : په پخواني شوروي کې زماني مهمې سيمې (ايضاً :۹۹).

هغه حکومتونه چې ځمکې يې په داسې بڼې وي چې وګړي يې په حاصلخېزه سيمو کې ګڼ استوګن او پراخې ځمکې يې په مخ کې له استوګنو څخه خالي وي لکه د کاناډا " سپر " سيمه ، داسې هڅه کوي ترڅو وګړي تشويق کړي چې په خالي ځمکو کې استوګن شي او ددې وضعې منفي اغېزې جبران کړي . د يادولو ده چې همدا کار د افغانستان په شمال ولايتونو کې مومند بابا هم کړی و. د سوډان په هېواد کې د ځمکې د پراخوالي مسله د بېلتون غوښتونکو ځواکونو سره نېغ په نېغه په تړاو کې ده ، چې د دولت سره د ازادۍ له وخته په پرله پسې توګه په جګړه کې دي . سوډان يو پراخ هېواد دی چې ۲.۵ مېليون کېلومترمربع پراخوالی لري چې په شمال کې د عربي افريقا څخه تر جنوب کې تور پوستې افريقا پورې پراخه دی . په پای کې د پلازمېنې په ګاونډ کې شمالي سيمو اوسېدونکي له عربي نژاد څخه دي په داسې حال کې چې د جنوبي لمنو اوسېدونکي د نژادي ، فرهنګي او تاريخي پلوه د تور پوستو افريقايانو سره نژدې تړاو لري . ددې دوو استوګنو سيمو ترمنځ واټن کې وچې دښتې او جبه زارې دي ، بنا پردې حاکم هيات ددې دواړو سيمو ترمنځ د تړاو

ketabton.com - The Digital Library

د پیداکولو او د بېلتون غوښتونکو ځواکونوسره د مخامخ کېدو لپاره تل د ستونزو سره مخامخ وي (۳۷ : ۹۹ ، ۱۰۰).

زیاتره هغه هېوادونه چې په تدریجي توګه یې د ځمکې پراخوالي له پلوه پراختیا کړې وي او پراخه ځمکې یې لاس ته راوړې وي په اخر کې د غیر قابل کنترول مرزي ځمکو ته د نه لاس رسي له امله د مرکزي دولت په وسیله تجزیه شوي وي . دا کار د لرغونو امپراتوریو لکه (روم، غنا او ازتک) د ټوټه کېدو لامل و . د وروستۍ استعماري امپراتورۍ آن شوروي اتحاد ټوټه کېدو کې هم یاده چاره اغېزمنه وه . په همدې توګه نن ورځ د سوډان او هندوستان هېوادونه هم د حساس لامل په توګه ګڼل کېږي (ایضاً : ۱۱۰).

په دې کې شک نیشته چې د نړۍ اوسنیو هېوادونو یو زیات شمېر یې اوسنۍ پراختیا د پراختیا غوښتنې د یوې دورې په پای کې لاس ته راوړي د بېلګې په توګه د فرانسې پراختیا د ختیځ پر لور د پرله پسې کلونو په اوږدو کې شوې ، یا په اوسنۍ بڼې سره رومانیه چې پخوا دوه ځانګړې کوچنۍ سیمې (والاچیا Walachia او مولداویا Moldavia)وې ؛ ورځخه منځته راغلې . یا د مسکو ناحیې اطرافي سلطنت او یا د متحده ایالاتو چې په لومړنیو (۱۳) ایالتونو د تدریجي زیاتوالي په پایله کې راغلی . دا ځمکنۍ پراختیا او رشد چې د هېوادونو نظامې او سیاسي قوتونو په وسیله ترسره شوی ، د ځینو پوهانو په اند طبیعي امر دی (۴ : ۵۸).

روسو په خپل مشهور اثر کې د ټولنیز قرارداد په نوم چې په ۱۷۶۲م کال کې چاپ شو په دې اړه داسې لیکلي : کولی شو یو سیاسي واحد یا یو هېواد له دوه اړخونو مطالعه کړو ، یو یې د پراختیا او بل یې د نفوسو له مخې . د نوموړي په آند د یو هېواد مطلوبه او مناسبه پراختیا ددې دواړو پدېدو تر منځ تناسب پورې تړاو لري ، ځکه هر هېواد له وګړو څخه متشکل شوی چې په دې هېواد کې ژوند کوي او موجوده ساحه دې وګړو ته د ژوند وسایل برابروي . بنا پردې د هېواد لپاره په بشپړه توګه مطلوب او مناسب پراخوالی هغه دی چې د پراخوالي له مخې اوسېدونکو ته د ژوند او اوسېدلو ټول وسایلو د برابرېدو شونتیا په کې میسره وي . او یا د وګړو شمېر په دې اندازه وي چې د هغه هېواد له ټولو تولیداتو څخه ګټه

ketabton.com - The Digital Library

وکړای شي . د همدې دوو پدیدو د څرنګوالي په رڼا کې او د تړاو له مخې کولی شو چې د یو هېواد ځواک وارزوو، ځکه که چېرته د یو هېواد پراختیا د نفوسو په پرتله زیاته وي نظامي دفاع یې ستونزمنه وي او له طبیعي سرچینو څخه یې اغېزمنه ګټه نشي کولی ، همدارنګه که چېرې د یو هېواد پراختیا د نفوسو په پرتله کمه وي د اړتیا وړ زیاتره خوراکي توکي یې باید له بېرون وارد شي (ایضاً: ۵۸).

روسو د یو هېواد لپاره د حقیقي اندازې ټاکلو موضوع د هېواد د چارو د اداري له نظره هم تر بحث لاندې ونېوله او هغه یې د انسان د بدن ودې پورې پرتله کړه . د نوموړي په آند د پراختیا په زیاتوالي سره فرهنګي یو والی له منځه ځي او کلي وحدت منځته راتلو چارې د ستونزو سره مخامخېږي . په دې توګه لکه چې لېدل کېږي روسو د هېوادونو لپاره د یو متعادل پراخوالي د رامنځته کولو په فکر کې و . حال دا چې د نړۍ په سیاسي نقشه کې یو شمېر هېوادونه د متعادل پراخوالي د نه لرلو سربېره کلونه کلونه د سیاسي ازادۍ لرونکي دي . د روسو بله تېروتنه دا وه چې په دې باره کې یې ټول جغرافیایي او اغېزمن لاملونه له پامه غورزولي وو، او یوازې یې د پراخوالي پر لامل تاکید کولو.

له روسو وروسته یو بل تن درینر (G.T. Renner) په نوم پوه هم په ۱۹۴۲م کال کې هڅه وکړه تر څو د نړۍ نوې او احتمالي سیاسي نقشه برابره کړي . د نوموړي په آند کوچني او له ځانه د دفاع نه لرونکي هېوادونه باید له منځه ولاړ شي ، او په دې توګه به د هېوادونو سرچینو او پراخوالي تر منځ تعادل منځته راشي ، تر څو په پایله کې یې په ټوله نړۍ کې سوله او قراري رامنځته شي (۴: ۵۹).

په هره بڼه د پراخوالي له مخې تر ټولو غوره پراخوالی هغه ده چې د وګړو خواره واوره مېشت کېدل په کې تر پولو پراخوالی ولري ، په بله ژبه د هېواد خاوره باید تر دې اندازې پراخوالی ونه لري چې یو شمېر برخې یې د ګاونډیو ملتونو په واک کې وي او نه دومره کوچنی وي چې نه شي کولی چې نه شي کولی خپل ملت ته په خپله خاوره کې ځای ورکړي . په لومړۍ حالت کې د سیاسي استقرار منځته راتلل د ستونزو سره مخامخېږي ، په دې اړه کولی شو د ایټالیې په شمال کې د تایرول (Tyrol) سیمې د المانې ژبې وګړو د

ketabton.com - The Digital Library

وضعیت یادونه وکړو . په دویم حالت کې هم هېوادونه هڅه کوي د خپل ملت وګړي بېرته د هغو اصلي ټاټوبي ته ورستانه کړي ، د بېلګې په توګه د چکوسلواکیا د سدوتنلینډ (Sudutenland) سیمې په اړه د المان ادعا چې بالاخره د دغې سیمې وګړي المان ته په ۱۹۴۵م کال کې ولېږدول شول .

په هرصورت اګر چې د پراختیا لامل به یوازې د هېوادونو د پیاوړتیا او کمزورتیا وسیله نه وي ، مګر سربېره پر دې چې له پخوانیو زمانو راهېسې یې چې دامپراتوریو د منځته راتلو مفکوره راپورته شوې ، یوازې یې دولکې لاندې ځمکو په پراختیا فکر کولو ځکه د زیاتو ځمکو په لاس ته راوړلوسره یې کولی شول چې زیات وګړي هم تر خپلې ولکې لاندې راولي ، بنا پردې د یوې امپراتوری زیاته پراختیا د هغې د عظمت او ځواک غوره دلیل و. لومړنیو وګړو هر مهال زیاتې غذا ته اړتیا درلوده ، په څنډو او ګاونډیو یې حمله کوله او د نویو ځمکو په لاس ته راوړلو به یې د ځان لپاره خوراکي سرچینې برابرولې او ځینې وخت به د امپراتوریو جوړولو ته هڅېدل ، آن چې اوس مهال هم د بېلګې په توګه که دوه هېوادونه بلژیک او استرالیا پرتله شي لېدل کېږي چې سره له دې چې داقتصادي ، ټولنیز او آن د وګړو د شمېر له پلوه ورته والی لري . په استرالیا کې د زیات پراخوالي له امله په راتلونکې کې د یو سیاسي لوی ځواک د رامنځته کېدو شونتیا برابره ده . حا ل دا چې بلژیک کې نیشته . پردې سربېره په ځینو هېوادونو کې شونې ده چې د زیا ت پراخوالي ارزښت د نورو لاملونو په وسیله له منځه لاړ شي . د بېلګې په توګه که چېرې د یو هېواد نفوس ډېر لږ وي زیات پراخوالی یې هم د ستونزو لامل ګرځي ، خو که هڅه وشي تر څو چې وګړي په کم نفوسه سیمو کې ځای پرځای شي . یو له هغو دلایلو څخه چې ددې لامل کېږي چې زیات پراخوالی د یو هېواد د ځواک لاملونو څخه وګڼل شي دادی چې معمولاً هر څومره چې د یو هېواد پراخوالی زیات وي د آب وهوا اومعدني سرچېنو د تنوع شونتیا او په پایله کې یې د کرنیزو ، معدني او صنعتي چارو د پراختیا شونتیا زیاتېږي چې په پایله کې هېواد کولی شي داخلي سرچېنو څخه ګټنې وکړي ،د وګړو ژوند تامین کړي او ټولو هېوادونو ته اړ نه شي (۴: ۶۰).

ketabton.com - The Digital Library

ډیر داسې هېوادونه شته چې له دې قانون څخه په ټولیزه توګه مستثنی دي ، په دې معنی چې پر کوچني والی سربېره د معدني ډول ډول او ګڼو سرچینو سیمې لري او له همدې امله د پراخو هېوادونو په پرتله غني وي ، د بېلګې په توګه د چک ، سلواک او اسپانیې هېوادونه چې د لویو هېوادونو په پرتله د ډول ډول او زیاتو سرچینو لرونکي دي . په داسې حال کې چې برعکس ایټالیا او ناروي هېوادونه د کوچنیو زیاترو هېوادونو په پرتله فقیر دی . د لګسمبورګ هېواد چې د پراخوالي له مخې د نړۍ یو له زیاتو کوچنیو هېوادونو څخه دی د اوسپنې او ډبرو سکرو د غټو زېرمو په درلودلو سره له غني هېوادونو څخه دی . او په همدې دلیل د بنې لکس (Benelux) او ګډ بازار اقتصادي ټولنو کې غړیتوب لرلی .

د زیات پراخوالي بل غوره والی د دښمن د حملو پر وړاندې د زیات مقاومت زمینې برابروالی دی ، په ځانګړي توګه په پخوانیو زمانوکې چې د لېږد را لېږد وسایلو او لارو د نن په پرتله چندان پرمختګ نه و ، کړي . پراخو هېوادونو په اسانۍ کولی شول خپل دفاعي وسایل لېږې پرتو سیمو ته ولېږدوي آن چې نن ورځ هم د علومو او صنایعو پراختیا او نور زیات پرمختګونه چې د لاور او جنګي وسایلو په ساحه کې شوي په پراخو هېوادونو کې له کوچنیو هېوادونو په پرتله په ښه توګه شوي (۴ : ۶۱) .

د یادولو ده چې زیا ت پراخوالی سره ددې چې ګڼ امتیازات لري ، ولې په مقابل کې یې ځینې عیبونه هم لري ، چې له دې ډلې په لومړیو هېوادونوکې د داخلي چارو اداره یو ستونزمن کار دی . په پخوا وختونو کې له مرکزي حکومت څخه د سیمو لېږې توب به ددې لامل کېدو چې په ناخوښو خلکو کې به یې د ازادۍ او بېلتون مفکوره پیدا کوله او په دې ترتیب به یې د مرکزي حکومت لپاره ستونزې زېږولې چې په پایله کې به یې د هېواد سیاسي کمزورتیا لپاره زمینه برابروله . آن چې اوسمهال د اړیکو د پرمختګ سربېره په پراخو هېوادونو کې د داخلي چارو اداره د ستونزو سره مخ وي د بېلګې په توګه د سوډان هېوادکې چې ۲.۵ مېلیون کېلو مترمربع پراخوالی لري ، د پراخوالي مسله یې د بېلوالي فعالیتونو سره نېغ په نېغه تړاو لري . د سوډان په پراخ هېواد کې ، عربان په شمال او تورپوستي افریقایان یې په جنوب کې استوګن دي ، ددې دواړو استوګنو سیمو تر منځ پراخ ډاګونه او

ketabton.com - The Digital Library

جبه زاړې موجودې دي چې په جنوب کې بېلتون غوښتونکو ځواکونو د مقابلې په چارو کې يې حکومت لپاره ستونزې جوړې کړ ي دي او بالاخره د هېواد په تجزيه تمامې شوې . همدا چارې د لرغونو امپراتوريو لکه روم ، ګانا او ازتک د ټوټه کېدو دلايل او لاملونه وو . په پای کې وروستنۍ امپراتورۍ آن چې شوروي هم له دې چارې اغېزمن و او په نن وخت کې هم په ځينو هېوادونو کې لکه هندوستان کې يو حساس لامل ګڼل کېږی .

د يو هېواد پراختيا په ځانګړې توګه که څه هم نفوس يې کم وي بيا هم دستونزو زېږنده وي ، ځکه هغسې چې لازمه وي له طبيعي سرچينو څخه ګټه نه شي اخېستلی ، په داسې وخت کې د هېوادونو لپاره د دفاعي پلوه هم ستونزې جوړېږي ، په دې معنی که چېرې بې استوګنې ځنډې د ګاونديانو د تهديد سره مخامخ کېږي ورځخه په بشپړه توګه د دفاع شونتيا نه وي ، ددې برعکس که چېرې يو هېواد کوچنی او ډير نفوس ولري او وګړي يې له سرچينو څخه ګټه واخلي ددې زياته شونتيا لېدل کېږي چې ياد هېواد له اقتصادي پلوه پرمختګ وکړي ، سره له دې چې د دفاعي او نظامي پلوه کېدای شي کمزوری وي ، د بېلګې په توګه د سوېس هېواد چې د پراختيا له مخې کوچنی دی ، مګر له اقتصادي پلوه د اروپا له غوره هېوادونو څخه دی . دا چې د پراختيا له مخې د کوچنيتوب له امله نشي کولی نظامي غوره ځواک جوړ کړي له همدې امله د اروپا له ټولو نظامي او سياسي ډلبنديو څخه يې ځان ګوښه کړی ، آن چې تر ۲۰۰۲ م کال پورې يې په ملګرو ملتونو کې غړيتوب هم نه و؛ اخېستی.

په هره بڼه پورتنيو مطلبونو ته په پام سره دې پايلې ته رسېږو چې پراخوالی په يوازې توګه د يو هېواد د سياسي کمزورتيا يا پياوړتيا لامل نه ګرځي تر څو چې د يوهېواد طبيعي وضعه (جغرافيايي موقعيت ، فزيکي جوړښت ، اقليم او د خاورو ډولونه) ، د کرنې ، معدني سرچينو ، انساني او اقتصادي وضعې څرنګوالی ورسره يو ځای نه وي(ايضاً : ۶۲).

ketabton.com - The Digital Library

۴.۱.۴. دهېوادونو موقعيت

د يو هېواد موقعيت له دوه اړخه د څېړنې وړ دی : ۱) د ځمکې د کرې پر مخ د رياضي موقعيت له مخې چې د مدارونو (عرض البلد) او نصف النهارونو (طول البلد) له مخې مشخص شوي وي او مطلقه موقعيت ورته ويل کېږي ؛ ۲) د نسبي موقعيت له مخې . مګر د سياسي جغرافيې ځينې نور پوهان او ليکوالان د هېوادونو موقعيت په ډېرو ډولونو سره ښيي او ټينګار کوي چې د هېوادونو موقعيت له څو اړخونو د څېړنې وړ دی چې په لاندې توګه به يې هر يو روښانه کړو (۳۸ : ۱۰۷).

۱.۴.۱.۴. رياضي يا مطلق موقعيت

دغه موقعيت ته رياضي موقعيت ځکه وايي چې د ځمکې د کرې پرمخ د رياضی وضعيه کمياتو (طول البلد او عرض البلد) په ځانګړې توګه له استوا کرښې څخه يې د واټن له مخې د هېواد موقعيت ښودل کېږي.

رياضي موقعيت هغه دی چې د مدارونو او نصف النهارونو کرښو په وسيله مشخص شوي وي او مطلق موقعيت ورته ويل کېږي. دا ډول موقعيت ددې ښودنه کوي چې د جغرافيايي پلوه يو هېواد له استوا کرښې څخه څومره لېرې او يا نژدې دی ، او يا له استوا او قطبونو څخه ديو هېواد د لېرې والي او نژدې والي ميزان رابنيي(۳۷ : ۱۰۸).

دا ډول موقعيت يعنې له استوا څخه لېرې والی او يا نژدې والی له دې امله د ارزښت وړ دی چې د اقليم ټاکونکو لاملونو څخه ګڼل کېږي . په يو هېواد کې د اقليم ښه والی او خرابوالی په نېغه توګه د هېواد په اقتصادي وضعې اغېزه لري چې دا وضعه په نوبت سره د هېواد د سياست او نظامي ځواک په څرنګوالي زيا تې اغېزې لري .

يو شمېر زيات پخواني ليکونکي او پوهان چې د چاپېريالی جبر پلويان وو، د سياسي موضوعاتو د تحليل په برخه کې ددې لامل د ارزښت يادونه هم کړې ده . د اپلاتون په آند ځينې سيمې له طبيعي پلوه د ښو او يا بدو وګړو په تربيه يا پالنه کې له نورو سيمو څخه توپير لري . هېرودت په دې اړه ليکي :" د معتدل ډول خواصو لرونکي وګړي د همدې ډول

ketabton.com - The Digital Library

طبعیت لرونکې سیمې څخه منځته راځي ". یوه ډله پخوانیو او اوسنیو پوهانو د اب وهوا اغېزمنتوب د یوې سیمې د وګړو په تربیت او فکري او روحي شخصیت جوړولو ټینګارکړی ، ځینو نورو بیا تردې هم ډیر اغېزمن ګڼلی او هغه یې (د اب وهوا اغېزمنتوب) د شخصیتونو او تمدنونو جوړولو یوازینی لامل ښودلی ، د بېلګې په توګه له ارسطو رانقل شوي چې د سړو سیمو وګړي په ځانګړې توګه په اروپا کې زړه ور مګر کم فکره او کم هنره دي ، اسیایان هوښیار او هنرمند مګر بې زړه وي ، یونانیان چې ددې دواړو سیمو ترمنځ استوګن دي له دواړو خاصیتونو برخمن دی یعنې هم زړه ور او هم هوښیار دي (۲۰ : ۸۹).

دا ډول نظرونه زیات وو آن چې په ۱۶ مه پېړۍ کې هم د لیکوالانو له ډلې ځینویې لکه جین بودن (Jean Bodin) لکه د ارسطو په څېر وایي د منځنیوعرض البلد سیمو اوسېدونکو لخوا د نړیوال سیاست کنترو ل د اقلیم په مناسب والي پورې تړاو لري . مونتسکیو (Montesquieu) په ۱۸ مه میلادي پېړۍ کې په ګرموسیمو کې د غلامۍ د رامنځته کېدو او یا په سړو سیموکې د ازادۍ روحیه اقلیمي اغېزې ګڼي .

پر پورته یادو شوو څرګندونو سربېره باید څرګنده شي چې د هېوادونو سیاسي ځواک او اقلیم ترمنځ نېغ په نېغه تړاو نه شته ، ځکه چې د تاریخ په اوږدو کې مدنیتونو د چاپېریالي جبرونو په معتدله سیمو کې په یوازیتوب پراختیا نه ده کړې . که څه هم په دې اړه آن چې په ۲۰ مې میلادي پېړۍ کې هم ځینې لیکوالان لکه هنګتنګتن (Hungtington) د اقلیم بدلون اغېزمن او ارزښتمن ګڼلو . په هره بڼه د آب وهوا د اغېزو څخه په دې اړه انکار نه شو کولی . یوازې دا چې دا اغېزې ثابتې ، منظمې او د وړاندوینې وړ وګڼل شي (۴ : ۶۶ ، ۶۷).

همدارنګه دوکتور میرحیدر دره هم خپل کتا ب (مباني جغرافیای سیاسی) کې د اقلیم اغېزمنتیا لږه مني ، خو په ټولیزه توګه یې اغېزمنتیا ته قانع نه دی . نوموړي لیکي : نن ورځ دا جوته شوې چې د آب وهوا او د یوهېواد د سیاسي ځواک ترمنځ داسې نېغ تړاو نه شته ، په حقیقت کې مادي تمدن او ثروت یا د یو هېواد سیاسي ځواک نشي کولی چې د آب وهوا او یا د طبیعي ځانګړتیاوو معلول وښیو (۳۷ : ۱۰۹).

ketabton.com - The Digital Library

۲.۴.۱.۴. نسبي يا مرتبط موقعيت

له نسبي موقعيت څخه موخه له سمندرونو څخه نژدې والی يا نژدېتوب دی ، يا د يو قوي ، ځواکمن او پراختيا غوښتونکي هېواد ګاونډيتوب دي ، له ټاپوګانو جوړ يا هغه هېوادونه چې په ټولیزه توګه په وچه کې راګېر وي ، هغه هېوادونه چې د نړيوال کانال يا تنګي په ګاونډ کې موقعيت لري يو شمېر ښېګڼې او ستونزې لري چې د هغو څېړل د سياسي جغرافيې له پلوه مهم دي . له بله پلوه بايد پوه شو چې که څه هم ديو هېواد نسبي موقعيت ثابت دی ، ارزښت يې د وخت په تېرېدو سره بدلون کوي (۳۷ : ۱۰۹).

د نسبي موقعيت سياسي ارزښت د مطلق يا رياضی موقعيت په پرتله زيات وي ، ځکه د ټولو ځواکمنو او کمزورو هېوادونو په سياسي تصميم نېولو کې د ګاونډي هېواد ښکاره اغېزې لېدل کېږي چې د تاريخ په اوږدو کې يې بدلون موندلی دی او بنا ء پردې تل په نسبي توګه څېړل کېږي . ددې ډول موقعيتونو زياتره يې په حايل سيمو او يا هېوادونو کې لېدل کېږي . حايل هېوادونه معمولاً هغه کوچني هېوادونه يا سياسي واحدونه دی چې د دوو ځواکمنو هېوادونو ترمنځ موقعيت لري ،آن چې ځينې وخت ځمکنۍ بشپړتيا او ازادي يې هم د ملګرو ملتونو د ځواکونو په وسيله تضمن کېږي . د بلجيم ، هالند او لکسمبورګ هېوادونه معمولاً د فرانسې او جرمني ترمنځ د حايل په توګه وو . همدارنګه پولنډ ، چکوسلواکيه او رومانيه د مرکزي اروپا او شوروي ترمنځ د حايل په توګه وو(۴ : ۶۷).

د يو هېواد نسبي موقعيت د هېواد بېروني مقام او مرتبې په معنی دی ، چې دمناسب موقعيت په لرلو سره دنړيوال ارزښت لرونکي کېږي . د هېوادونو د نسبي موقعيت ځينې بېلګې په لاندې توګه دي .

- د ځواکمن ګاونډيانو سره ګاونډيتوب .
- د ابناګانو او کانالونو په ګاونډ کې موقعيت .
- د تمدنونو او فرهنګونو ترمنځ د تړاو او تبادلې مرکزونه .
- د اوبيزو لارو سره د يو هېواد نسبت (۲۰ : ۹۰ ، ۹۱).

ketabton.com - The Digital Library

۳.۴.۱.۴. سوق الجيشي موقعيت

ددې ډول موقعيت ارزښت د هېوادونو سياسي موقف په پام کې نېولوسره بدلون مومي ، د ځينو ځانګړو شرايطو سره کېدای شي ځينې هېوادونه يا ځينې سيمې سوق الجيشي ارزښت پيداکړي اوپه داسې ځايونو يا مقامونو بدل شي چې له هغې څخه ګټې اخېستنې سمندري ، ځمکنۍ او هوايي لارې کنترول او وڅارل شي . بنا پر دې له دې ډول ځايونو څخه دهېوادونوپه ساتنې او يا يې برعکس د دښمنانو په تهديد کې ګټه اخيستلی شي ، چې په هره بڼه کې د هېوادونو پر ځواک اغېزمن وي . په دې باره کې يو بل ډول جغرافيايي موقعيت چې دځانګړي ارزښت لرونکی و او اوس هم د هېوادونو د پاملرنې وړ دی د معابرو او ابنا ګانو لکه د انګليس کانال ، دجبل الطارق ابنا ، سسلي ابنا ، د سويز کانال ، ترکيې ابناګانې (پاسفورس او در دانيل) ، د باب المندب ابنا ، هرمز تنګي ، د پانامې کانا ل ، د ماجيلان ابنا او بالاخره د اميد نيک دماغې (پوزې) چې اوس هم د زيات سوق الجيشي اوسياسي ارزښت لرونکي دي ، په ګاونډ کې يې ځای لرل دي(۴: ۶۸) .

بايد وويل شي چې دسوق الجيشي موقعيت ارزښت دسياسي قدرتونوپه بدلون او يا د تکنالوژۍ په پرمختګ سره بدلون کوي ، دېبلګې په توګه په ۱۸مه مېلادي پېړۍ کې انګلستان په جنوبي اتلس سمندر کې دفالکليند ټاپوګان په واک کې واخيستل ځکه چې د سوق الجيشي ارزښت لرونکي وو ، او د هغو په لاس ته راوړلو سره يې په ټولو هغو لارو چې د جنوبي امريکا له جنوب څخه غزېدلې وې ؛ څارنه شونې کړه . دېبلکې په توګه په ۱۹۱۴م کال کې يې د المانې کشتيو په لمنځه وړلو کې غوره رول درلود. په داسې حال کې چې د پانامې کانال په کېندلو سره دې سمندري سوداګريزې او ارتباطي لارې خپل ارزښت له لاسه ورکړ. په لومړيو وختونو کې چې د فالکليند ټاپوګانو خپل ارزښت له لاسه ورکولو، د آيسلينډ ټاپو ورځ په ورځ ارزښت زياتولو. له هغه مهال چې اړيکې او ټراوونه په اتلس سمندرکې د کشتيو په وسيله کېدل د آيسلينډ ټاپو موقعيت په شمالي عرض البلدونو کې خطرناک وو ، له همدې امله يې د ګاونډ اوبه کمې ترګټې لاندې راتلې ، مګر د لنډ پروازه هوايي الوتنو له امله يې ارزښت زيا ت شو ، نن ورځ چې اوږد پروازه جيټ الوتکې په ياد

ketabton.com - The Digital Library

ټاپوکې ناستې نه کوي تر یوه بریده یې ارزښت له لاسه ورکړ. په همدې توګه شمالي کنګل سمندر چې پخوا په بشپړه توګه له پامه لېرې غورزول شوی و ، نن ورځ د هوایي کرښو په وسیله ترګټې اخیستنې لاندې دی او کاناډا ،ګرینلینډ او داسې نورې قطبي بې حاصله ځمکې داقتصادي اونظامي موخو لپاره تر استفادې لاندې نېول کېږي او سوق الجیشي ارزښت یې پیدا کړ (ایضاً: ۶۹).

۴.۴.۱.۴. په وچه کې راګېر موقعیت

په وچه کې راګېر موقعیت هغې موقعیت ته ویل کېږي چې دغه هېوادونه ازادو اوبو (سمندرونو او نورو) ته هیڅ ډول لاس رسی نه لري (۲۰ : ۹۸). د هېوادونو مطالعه کې دجغرافیایي ځانګړتیاوو لکه پراختیا ، شکل ، موقعیت او سرحدونو سربېره چې په پام کې نېول کېږي ، وچه کې راګېر توب یا د سواحلو نه لرل هم د ارزښت وړ دی . اګر چې دا ډول ځانګړنې د سمندري هېوادونو په منځ کې په اداري واحدونوکې هم لېدل کېږي ، مګر دا چې ددې واحدونو ستونزې معمولاً اقتصادي یا تخنیکي وي نو په سیاسي جغرافیې کې د پام وړ نه وي . په داسې حال کې چې په وچه کې راګېر هېوادونه د ګټو ستونزو سره لاس او ګریوان وي ځکه د اوبو او ددې هېوادونو ترمنځ نړیوالې پولې شتون لري ، له همدې امله وچه کې راګېرتوب یوه له نړیوالو مهمو موضوعګانو څخه شمېرل کېږي . ددې ستونزې د غوره والي دوه وجې دادي چې له یوې خوا دا هېوادونه سمندرونو ته لاس رسی نه لري او له بله پلوه نه شي کولی په سمندرونوکې له شته سرچېنو څخه ګټه واخلي . پټه دې نه وي چې دکوچنیو سواحلو لرونکي هېوادونه لکه زایر ، اردن او عراق اوبو ته دلاس رسي په ستونزو اخته دي ؛ مګر اقلاً په نړیوالو اوبوپه کمو برخو دحاکمیت حق لري اوکولی شي په اغېزمنه توګه ورڅخه ګټه واخلي .

ددې هېوادونو اوبوته دلاس رسي یوازینۍ اصلي لاره داده چې دنورو هېوادونو له ځمکو څخه په اغېزمنه توګه ګټه واخلي . په دې اړه مهمه داده چې په ګاونډي هېواد کې د وړلو راوړلو اسانتیاوي لکه سرکونه ، د اوسپنې کرښې ، بندرونه او د لېږد وسایل ولري او د دواړو هېوادونو تر منځ حسنه اړیکې موجودې وي . سربېره پر دې چې سمندري هېوادونو

ketabton.com - The Digital Library

ته د مالیې ورکړه هم په زیاترو برخو کې اړین ښودل کېږي ، ځکه د ساحلي هېواد د نه هوکړې په بڼه کې په وچې کې راګېر هېوادونه په هیڅ بڼه سمندرونو ته لاره نه شي پیدا کولی . که چېرې د واتیکان ښار هم یو ځانګړی هېواد وپېژندل شي ، نو ویلی شو چې په اوس وخت کې په نړۍ کې ۴۲ هېوادونه په وچه کې راګېر موقعیت لري ، چې له دې ډلې یې ۱۵ هېوادونه په اروپاکې موقعیت لري چې زیاتره یې د پرمختللو هېوادونو څخه دي .

تصادفي نه ده چې د نړۍ د ډیرو فقیرو هېوادونو له ډلې څخه یو ثلث یې په وچه کې راګېر هېوادونه جوړوي . د موقعیت له پلوه هغه هېوادونه چې پراخو لویو وچو لکه افریقا اواسیا په منځ کې ځای لر ي د مالونو ، وګړو او مفکورو د لېږد رالېږد په برخه کې د زیاتو ستونزو سره مخامخ وي (۴ : ۱۰۵).

په وچه کې راګېر هېوادونه آن چې د اړیکو د جوړولو او پایښت په برخه کې دفضا له لارې هم د ستونزو سره لاس او ګریوان وي ، ځکه اړ دي چې د فضا له لارې تېرېدو لپاره هم له ګاونډي هېواده اجازه واخلي . معمولاً په وچه کې راګېر هېوادونه اوبو ته د لاس رسي لپاره له لانجو ډک تاریخ لري . په وچه کې راګېر هېوادونه نه شي کولی د ټولو هېوادونو سره سیده اونېغ په نېغه اړیکې ولري ، له همدې امله زیاترو ته یې اجازه ورکړل شوې ترڅو د نورو هېوادونو له ازادو بندرونو اوسمندرونو له اوبو څخه ګټه واخلي لکه چکوسلواکیا هېواد ته چې د خپلو سوداګریزو چارو لپاره یې کولی شول د هامبورګ له بندرونو څخه ګټه واخلي (۲۰ : ۹۹) .

(۱.۴) جدول: په وچه کې دراګېر هېوادونو لېنتلیک (۱۷ : ۱۹۴).

لویه وچه	په وچه کې د را ګېر هېواد نوم	شمیر یې
اسیا	ازبکستان ، افغانستان ، بوتان ، تاجکستان ، قرغزستان ، لاوس ، مغولستان ، نیپال ، قزاقستان ، ترکمنستان ، اذربایجان او ارمنستان	۱۲
اروپا	اندورا ، اتریش ، اسلواکي ، سپینه روسیه ، سان مارینو ، سویس ، لوګزامبورګ ، لختن شټاین ، مقدونیه ، مجارستان ، چک ، مولداوی او واتیکان	۱۳

ketabton.com - The Digital Library

افریقا	ایتوپیا ، مرکزي افریقا ، اوګاندا ، بوتسوانا ، بورکینافاسو ، بوروندی ، چاد ، رواندا ، زامبیا ، سوازیلینډ ، لسوتو ، مالاوي ، مالي ، نیجر ، او زمبابوی	۱۵
امریکا	بولیویا او پاراګوای	۲
اقیانوسیه	نه یې لري	۰

۱.۴ . ۴ . ۵ . اوبو ته د لاس رسي موقعیت

دا چې له اوبو او سمندرونو څخه ګټه اخیستل او اقتصادي او ټولنیزو اړیکو تر ټولو ارزانه او اسانه لاره ده او له همدې لارې دنړۍ ۱۰۰ ازاد هېوادونه او د نورو هېوادونو یو شمېر سیمې له همدې لارې ګټه اخلي ؛ نوویلی شو چې اوبیز موقعیت تر ټولو غوره او مساعد موقعیت ګڼل کېږي (۱۱: ۵۷). له دې موقعیت څخه د ګټې اخیستنې شرایط تر یوه بریده په ځینو لاملونو لکه فني او تخنیکي مهارت ، د خلکو د ژوند سطحه ، نظامي ځواک ، د هغو هېوادونو د سوداګرۍ پیمانه چې د هغو سره سوداګریزې اړیکې لري او نړیوالو اړیکوته د نورو هېوادونودرناوی(۲۰: ۵۷) .

اوسمهال په نړۍ کې له ۲۸ څخه زیات هېوادونه شتون لري چې په اوبو کې راګېر دي او په بشپړه توګه اوبیز موقعیت لري . برعکس په نړۍ کې زیات شمېر هېوادونه شتون لري چې اوبو کې راګېرنه دي ، مګر د اوبیزو سواحلو لرونکي دی . دسواحلو څرنګوالی د ګټې اخیستلو په برخه کې د سوداګریزو ، سیاسي او نظامي فعالیتونو د پرمخ بېولو په برخه کې د ارزښت وړ دی ، د بېلګې په توګه د شوروي اتحاد ، کاناډا او الاسکا شمالي زیاتې برخې د سختې یخنۍ له امله دیو کال په اوږدو کې نژدې لس میاشتې کنګل وي او د ګټې اخیستنې جوګه نه وي ، او یا په افریقا کې د ګاناسواحل چې ریګي دي او د مصنوعی بندرونو جوړول پرې زیات لګښت غواړي (۱۱: ۵۸).

۱.۴ . ۴ . ۶ . خواوو ته د لاس رسي موقعیت

ابعاد یا لورو ته لاس رسی او سیاسي پولې له یوې سیاسي پولې څخه د بلې سیاسي سیمې د بېلوالي او پېژندلو غوره نښې دي . د همدې ابعادو شتون دی چې یوه سیمه کې

ketabton.com - The Digital Library

سياسي يو والى رامنځته كوي ، په هغې سيمه كې چې هيڅ ډول د طبيعي وحدت او يووالي څرک په كې نه وي (۲۰ : ۱۰۵ ، ۱۰۶).

۴.۱.۵. د هېوادونو هستې

دهېوادنو هسته له هغې سيمې څخه عبارت ده چې هېوادونه يې تر شاوخوا اباد شوي وي ، د نړۍ زياتر و هېوادونو د تدريجي تكامل په جريان كې د يوې مركزي سيمې څخه سرونه راپورته كړي وي او بېلابېلې بڼې يې ځانونو ته غوره كړې وي . په تاريخي لحاظ د هېوادونو د هستې سيمه زياتره كرنيزه او ګڼ نفوسه سيمه اوسي ، ځكه خو د ډير زيات يا اضافي كرنيز محصول او پر كرنې سربېره د نورو دندو او بوختياوو فرصتونه هم په كې موندل كيدى شي . دا ډول هستوي سيمې په جغرافيايي لحاظ په غوره توګه د دفاعى ارزښت لرونكې هم وي ، او همدارنګه د ځانګړو او تبادلې وړ كرنيزو محصولاتو د توليد شونتياوې هم په كې وي ، له همدې امله سوداګرۍ او صنعت ته زمينه برابرېږي او پايله دا كېږي چې په دې سيمه كې سركونه او ښارونه اباد شي په دې سره د ژوند سطحه لوړېږي . په خلكو كې يې د مرستې او يو والي روحيه پياوړې كېږي . د سوېس هېواد د اروپا د زياترو هېوادونو هستوي سيمه ده ، د پولنډ هستوي سيمه د رودر (Ruder) او وستولا (Vistola) سيندونو په منځ كې پرته ده او د فرانسې هستوي سيمه د راين سيند او د ألپ غرونو لړيو په امتداد تثبيط شوې ده . هغه مهال ددې سيمې پلازمينه په لوګدونام (Logdunam) يا اوسنى ليون (Lyon) ښار و، چې ددې هېواد په سويل ختيځ كې موقعيت لري . د انګلستان هېواد هسته د تايمز دره ده ، چې له ختيځ څخه تر شمال بحيرې پورې پرته ده . د روسيې هېواد هسته د كيف سوداګريز ښار تشكيلوي (۱۰ : ۵۹ ، ۶۰).

دا ډول هستې د اروپا په ټولو هېوادونوكې لېدل كېږي ، په سوېډن كې د استكهلم لويديزې دښتې ،په ډنمارک كې كوپن هاګن ته نژدې جزيرې او په يونان كې آتيكا دښتې ددغو ډول هستو څخه عبارت دي .

ketabton.com - The Digital Library

په اسیا کې هم هېوادونو د معینو هستوپه شاوخوا کې پراختیا کړې . د بېلګې په توګه د چین هېواد هسته د اوسني چین په شمال لوېدیځو برخو کې د هوانګهو سیند او د هغه دمرستیا ل سیند په درو (وادیو) کې موقعیت لري . په همدې ترتیب د هندوستان هېواد هسته د ګنګا وادي وه چې د دوی د فعالیت مرکز هم و او لومړنۍ پلازمینه یې د کلکتې ښار و(۲۰ : ۹۳).

د نړۍ زیاتره هېوادونه د هغو د تدریجي تکامل په اوږدو کې له یوې مرکزي سیمې څخه چې په هغې کې د هغې هېواد ارمانونو اوحکومت بڼه غوره کړې وي په تشکل پیل کړی وي ، پس د هېوادونو هسته له هغې سیمې څخه عبارت ده چې په هغې یا د هغې په څنډو کې هېوادونه ایجادېږي . دا سیمې زیاتره یې شنې، سمسورې ،کرنیزې او زیات شمېر نفوس لري ، ترڅو په همدې ترتیب د کرنیزو اضافي محصولاتو د تولید شونتیا او په همدې توګه د اضافي وګړو مصروفیت په غیر کرنیزو فعالیتونو کې برابر وي ، ددې ترڅنګ دا سیمې د جغرافیایي وړ او مناسب موقعیت په لرلو سره د دفاعي او مواصلاتي پلوه هم د ارزښت وړوي ، چې البته وروسته دکرنیزو تبادلې وړ خاصو موادو د تولید زمینه ، د سوداګرۍ او صنایعو په ګډون او د هغو په پایله کې د ښارونو اوسرکونو پراختیا په کې مساعده کېږي او بالاخره ددې سیمې د اوسېدونکو د ژوند سطحې د لوړېدو لامل شوې وي چې د اوسېدونکو ترمنځ یې د همکارۍ او یووالي روحیه زیاته لیدل کېږي . په دې اړه دسویس کنفدراسیون جوړښت یوه ښه بېلګه ده . دسنت ګوترد (St .Gothard) تونل پرانستل د ۱۳مې پېړۍ په لومړیو کې د آلپ د مرکزي او کم نفوسه غاړو د سوداګرۍ د پراختیا لامل شو ، سوداګرو له ځان سره له ایټالیا څخه غرنیو سیموته چې د هغو د اوسېدونکو د خدماتو څخه یې ګټه اخېسته سیاسي مفکوره او شتمني راوړه . لکه څرنګه چې ځینې خلک مصر دنیل سیند تخفه ګڼي ، سوېس د همدې کوتل تخفه ګڼي ، ځکه چې ددې ځای وګړو ددې سیمې د سوداګرۍ کنترول په لاس کې واخېستو او وروسته د لاسته ورغلو امتیازاتو لپاره یو له بل سره متحد شول . سره له دې چې دکانتونیانو دازادۍ مفکورې له ایټالیې څخه الهام اخېستي و، نو دسوېس هېواد لومړنۍ هسته د همدې کوتل په ګاونډ کې د ځنګلي چارکانتون سیمه وه (۵ : ۱۰۸).

ketabton.com - The Digital Library

د پولنډ هېواد د هغې هستې چاپېره چې د اودر (Oder) او وستولا (Vistula) سیندونو ترمنځ یې موقعیت لرلو ایجاد شوی ، په همدې سیمه کې په اتمه اونهمه پېړۍ کې د نورو ګاونډیوسیمو په پرتله د پراختیا زیاته زمینه برابره وه او د پوزنان (Poznan) ، کنیزنو (Gniezno) او کروزویکا(Kruszwica) په سیمو کې کوچني ښارونه منځته راغلل . په همدې وخت کې لومړني کسبونه چې له ډلې یې تعمیرونه جوړول د سوداګرۍ په ګډون چې معمولاً له بحیرو څخه په ګټې اخېستنې دشمال پر لورد بالتیک بحیرې د مدخل په لور او د جنوب پر لور د دانیوب په طرف په دې ښارونو کې پراختیا راغله ، دا سیمه دپولنډ لومړنۍ اوپخوانۍ هسته وه په اخر کې همدا وروستني د سرحدونو او د هېواد ساحه کې بدلونونه وو چې پلازمېنه لومړي پوزنان (Poznan) وروسته په جنوب کې کراکاو (Krakow) او بالاخره ختیځ کې وارسا (Warswa) ته انتقال شوه .

فرانسه د هغو هېوادونو لپاره غوره بېلګه جوړوي چې د یوې مرکزي هستې په ګاونډ کې یې پراختیا موندلې . له میلاد څخه وړاندې په لومړۍ پېړۍ کې دفرانسې اوسنۍ ساحه د ایټالیې د لښکرو په وسیله د ژول سزار په مشرۍ انتقال او پولې یې د راین سیند او آلپ غرونو په اوږدو کې تثبیت شول ، چې پلازمېنه یې د لاک دونام (Lagdunam) یا د ننني لیون (Lyon) ښار ، ددې هېواد په جنوب ختیځ کې او د رون (Rhone) او سون (Saone) سیندونو د یوځای کېدو په سیمه کې یې موقعیت لرلو ، له همدې ښاره د هغې وخت فرانسې ټولوسیموته سرکونه غزېدلي وو. ترمیلاد وروسته په څلورمه او پنځمه پېړۍ کې داسیمه د جرمني یرغلګرو په وسیله ونېول شوه او په یو شمېر کوچنیو هېوادونو ووېشل شوه . دا هېوادونه یوځل بیا د شارلمان (۷۷۱ – ۸۱۴ م) پرېاو کې یوځای شول ، چې البته پر فرانسې سربېره د هالند ، بلجیم ، د جرمني د لوېدیځ یوڅه برخې او د ایټالیې زیاتې برخې یې هم رانغښتلې چې پلازمېنې یې په آشن (Aachen) کې موقعیت درلود . یاده امپراتوري هم په ۸۴۳م کال کې یو ځل بیا په درې برخو ووېشل شوه او هرې یوې یې ځانګړی هېواد جوړ کړ. فرانسه هم په ګڼو ولایتونو ووېشل شوه چې هر یو یې دیو کونت په وسیله اداره کېدو . یو له دې ولایتونو څخه یې دپارس ولایت و ، چې وروسته یې بیا د اوسنۍ فرانسې د ایجاد هسته جوړه کړه . په ۹۸۷ م کال کې د پاربس مدافع قهرمانانو له ډلې د یوه زوی د

ketabton.com - The Digital Library

شمالي يرغلګرو پر وړاندې ددې سيمې د بادشاه په حيث وټاکل شو ،تر دې وروسته د فرانسې بادشاهان وتوانېدل چې تر ۱۷مې مېلادي پېړۍ پورې د فرانسې پراختيا اوسنۍ بڼې ته ورسوي (۵ : ۱۰۹).

پارېس د ۱۰۰ مېلو په اندازه له سمندر څخه واټن لري او ساين (Seine) سيند دپاسه ددې د دوه مرستيالانو د پيوستون په سيمه کې موقعيت لري . د فرانسې تاريخ له دې څخه په ګټې اخېستنې پورې نژدې تړاو لري . په هره بڼه د فرانسې هسته په يوولسمې پېړۍ کې هم له همدې ارزښت لرونکې وه ، فرانسه له هغو هېوادونو څخه ده چې د حکومت زياتره دندې او ادارې يې په پارېس کې متمرکز ې دي .

انګلستان هم يوه بله او دفرانسې سره ورته بېلګه وه ، رومن نيانو له ۴۹م کال وروسته انګلستان ونيولو، حا ل داچې ددې نېولو اغېزې د ويلز غرينو لمنو او سکاتلينډ کې لږې احساسېدې . ددې هېواد هسته د تايمز وادي وه چې په ختيځ کې ترشمال بحيرې پورې يې پراختيا لرله چې پلازمېنه يې ويرولاميام (Verulamiam) په ښارکې وه ، چې د لندن شمال لوېديز لورته ۲۰ ميلۍ کې يې موقعيت درلود. اوس لندن ددې سيمې سوداګريز لوی مرکز جوړوي . د برتانويانو وحدت د رومن نيانو په پړاو کې د انګلوساکسونيانو د يرغل په وسيله له منځه لاړو او هېواد په قبايلي کوچنيو سلطنتونو ووېشل شو ، مګر د انګلوساکسون وروستيو شاهانو پړاو کې چې يو ځل بيا ددې هېواد وحدت جوړشو لندن د غوره مرکز په څېر ارزښت تر لاسه کړو ، په تېره بيا د نارمن (Narmans) د اشغال په پړاو کې چې لوې کليساګانې او ودانۍ په کې جوړې او دسوداګرۍ او اداري چارو زياتره مرکزونه په کې متمرکز شول . سرببره پردې يو شمېر غوره سرکونه چې د رومن نيانوپه وسيله جوړ شوي وو له دې ښاره هرلوري ته غزېدلي وو. ددې ترځنګ کشتۍ ګاني د تايمز سيند او لندن بندر څخه په ګټې اخېستنې ددې سيمې تړاو د ټولو سيمو سره تامينولو(۵ : ۱۱۰).

د شوروي اتحاد په تاريخ کې د ماسکو سيمه د پارېس او لندن په څېر د ارزښت لرونکې وه . په ټول شوروي اتحاد کې چې اروپايي او اسيايي برخې په برکې نيسي له جنوبه د شمال پر لور پراخ نباتي زونونه لکه سټېپ (Steppe) ، ځنګلونه او بالاخره تندرا

ketabton.com - The Digital Library

(Tundra) لیدل کېږي . د روسیې لومړنی هېواد هم په لومړۍ یاده شوې سیمه کې په نهمه پېړۍ کې تاسیس او منځته راغی ، چې هسته یې دکیف (Kiev) سوداګریز ښار تشکیلوله . دې ښار د دنیپر (Dnieper) سیند او د تورې بحیرې او بالتیک بحیرې ترمنځ د ټولوسیندونو د بهېدو په اوږدو کې پراختیا وموندله . دختیځ پلوه د تاتاریانو د یرغل په وسیله یې سوداګري ځنډ او ښارونه یې ویران شول . ددې ځای وګړي یو شمېریې د شمال په لور شاته ولاړل او په ځنګلي سیمه کې چې وروسته د ماسکو ښارپه کې پراختیا وکړه استوګن شول . اوه پېړۍ وروسته یې په جنوب کې له لاسه وتلې سیمې بېرته لاسته راوړې . اصلاً ددې هېواد لومړنۍ هستې پراختیا په ۱۵مه مېلادي پېړۍ کې پیل شوه چې د ماسکو په ځنډو کې یې ځای درلود.

هغه مهال چې یو شمېر اوسېدونکي په تدریجي توګه ددې سیمې اطرافي ځنګلونوکې خپاره شول او په دې ترتیب د روسیې ځمکه په تدریجي مګر په زیاته چټکتیا په وروستیو پېړیو یعنې دتزاریانو په دوران کې دهمدې لومړنۍ هستې په ځنډوکې پراختیا وموندە (ایضاً:۹۳).

اروپایي هېوادونوکې هم همداسې هستې لیدل کېږي ، لکه په سوېډن کې د ستاکهولم غربي دشتو ، په ډنمارک کې دکوپن هاګن نژدې ټاپوګانو او په یونان کې د اتیکا (Attica) په دښتو کې دا ډول سیمې لیدلی شو. مګرپه جرمني کې موضوع بل ډول ده ، ځکه ددې هېواد ریښتینی وحدت یوازې په ۱۸۷۱م کال کې منځته راغی ، تردې مخکې د جرمني هېواد استازیو چې عملاً ازاد وو ، ځینې وخت د راین حوزې منځنیو ښارونو لکه فرانکفورت (Frankfort) ، ماینز (Mainz)، وارمز (Warms) ، سپیر (Speyer) او کولن (Koln) کې ملاقاتونه کول . همدې ناحیې د لرغوني المان کلتوري هسته جوړوله ، مګر د المان له وحدت وروسته ددې ناحیې پر ځای ددې هېواد واکمنانو د پراندنبورګ ـ پروشیا Brandenburg- Prussia سیمه ددې هېواد د هستې په بڼه وټاکله ، چې البته د برلین غاړې او ځنډې یې رانغښتلې . په دې ترتیب جرمني د دوو هستو په ځنډو یعنې یوه کلتوري (راین حوزه) او بله یې سیاسي (دبرلین حوزه) کې پراختیا کړې ده (ایضاً: ۱۱۱).

ketabton.com - The Digital Library

د ایټالیا هېواد هسته په څرګنده د روم د ښار او هغې په څنډ وکې موقعیت لري ، چې البته دا واقعیت یې د ۲۵۰۰ کلونو لپاره ساتلی دی ، سره له دې چې ددې هېواد اقتصادي هسته د شمال پر لور ښارونو کې چې په اوارو سیمو کې دي او غوره یې میلان ښار دی موقعیت لري ، آن چې په منځنیو پېړیوکې هم له دې سیمې د صنعتي او سوداګریزو پراختیاوو په لرلو سره د روم رقیب و .

د بلجیم هېواد شرایط هم المان ته ورته دي ، ځکه داسې یوه سیمه جوړوي چې ۱۸۳۰ م کال کې د هالند تجزیې او فرانسې د پراختیا وروسته په جنوب کې باقي پاتې شوه ، بروکسل د مرکزي موقعیت په لرلو سره له هماغه لومړنیو وختونو څخه د هغې هېواد د پلازمېنې په توګه غوره شو ، حال دا چې د صنعتي پراختیا هسته یې د سمبر ـ میوز (Sambre _ Meux) سیندونوپه امتداد کې موقعیت لري (۲۰ : ۸۲).

د اسپانیې په هېواد کې د هغې هېواد ظاهري وحدت سربېره درې لومړنۍ هستې په کې لیدل کېږي ، چې دوه هستې یې شمالي لیون (Leon) او بارسلونا (Barcelona) د ایبر (Ebro) په وادي کې موقعیت لري ، البته له کلتوري پلوه لومړنۍ یادې شوې هستې یو له بله سره ورته والی لري ، حال دا چې په جنوب کې د دایمي هستې سره څرګند توپیر لري(۵ : ۱۱۲).

د اسیا په لویه وچه کې هم هېوادونو د ټاکلوهستو په خواوشا کې پراختیا موندلې ده . سره له دې چې ځینې وخت د یرغلګرو د حملو له امله یې د پراختیا په چاروکې ځنډ هم رامنځته شوی ، آن چې ځینې وخت ددې ډول وقفو وروسته هېوادونو د نویو هستو په چاپېره پراختیا کړې ده . د ښلګې په توګه لکه په چین کې چې لیدل شوي ، د چین د مدنیت ځای د ننني چین په شمال لویدیزو برخوکې د هوانګهو سیند (Hwang ho) او د مرستیالانو په وادي کې یې واقع شوی . ددې ناحیې حاصلخیزه او رسوبي خاورې چې په پرله پسې بڼه د انساني او بادي فعالیتونو په پایله کې نوې شوي د کرنې د پراختیا زمینه یې مساعده کړې ده . د چین پخوانۍ پلازمېنې (Changan) هم په همدې ځای کې ځای درلود. وروسته په تدریجي توګه دې هېواد د ختیځ اوجنوب ختیځ په لوري پراختیا کړې تر څو چې دینګسي

ketabton.com - The Digital Library

کیانګ (Yangtzekiang) وادی ته ورسیده . اګر چې اقتصادي پراختیا د لومړنۍ ناحیې په پرتله په اخیرالذکرسیمه کې وروسته پیل شوه ، مګر ددې سره د معتدل اقلیم شتون او دنمو اوږد موسم ددې لامل شو تر څو د هېواد جنوبي سیمې د شمالي سیمو په پرتله د غذایي موادو د تولید د یوې غوره سرچینې په توګه وښیي . په همدې توګه د چین امپراتورۍ هسته له شماله د مرکز په لور د ځای بدلون وکړ او د نانکینګ (Nanking) ښار د پلازمېنې په توګه غوره شو ، چې وروسته د هوانګچو (Hwang chow) ښار ته ولېږدول شو ؛ چې له ۱۱۲۷ ـ۱۲۸۰م کلونو پورې بیا هوانګچو ښار د پلازمېنې په توګه یادیدو . په وروستیوکلونوکې د چین د سیاسي قدرت مرکز یو ځل بیا د شمال لورته ولېږدول شو ، دا هغه وخت و چې د مغلو کورنۍ له ۹۰۷ ـ ۱۱۲۷ م او له ۱۲۸۰ـ ۱۳۶۸م کلونو د مغلستان په څړځایونوکې چې د لوېدیز پر لور تر ګوبي دښتې پورې پراختیا لرله ؛ د یوې لوې امپراتورۍ اساس کېښود. ددې لړۍ ګڼې کورنۍ لکه کېتان (Kitan) او یووان (Yuan) په شمال کې د پېکنګ ښار د پلازمېنې په توګه وټاکل شو . په یو لنډ ۲۴ کلنه پړاو کې وروسته له ۱۳۶۸ م کال څخه چې مینګیانو مغلوته ماتې ورکړه پلازمېنه یې نانکینګ ته ولېږدوله ، حال دا چې په وروستیو کلونوکې آن چې د مینګیانو په پړاو کې پېکنګ د پلازمېنې په توګه پاتې شو . په ۱۷ مه مېلادي پېړۍ کې د مانچو (Manchu) کورنۍ مینګیانو(Ming) ته ماتې ورکړه او دا ښار تر ۱۹۱۱م کال پورې ددې هېواد پلازمېنې په توګه پاتې شو ، ددې کورنۍ د پرځېدو وروسته پلازمېنه یوځل بیا جنوب لورته یعنې نانکینګ ښار ته (۱۹۲۷ ـ ۱۹۴۹ م) ولېږدول شوه . حال داچې وروستیو کلونو کې یو ځل بیا پلازمېنه په پېکنګ کې متمرکز شوه.

همدارنګه سره له دې چې د هند سیاسي وحدت د انګریزانو په پړاو کې منځته راغی ، ولې بیا هم یو شمېر زیاتې هغه کورنۍ چې پخوا یې هم ددې پراخ هېواد په ځینو برخو کې حاکمیت درلودو ، د ګنګا وادي یې د فعالیتونو مرکز وګرځولو . انګریزان د سمندر له لارې دې هېواد ته داخل شول بنا پردي د هغو لومړنیو مرکزونو په بندرونو او یا د کشتۍ چلولو وړ سیندونو په خولو کې موقعیت درلود، له همدې امله و؛ چې کلکته دبرتانوي هند دلومړنۍ پلازمېنې په توګه وټاکل شوه ، مګرپه ۱۹۱۱ م کال کې انګریزانو پلازمېنه د ډهلي ښار چې ددې هېواد لرغونې هسته وه ولېږدولو.

ketabton.com - The Digital Library

د لاتين امريکا ټول هېوادونه له برازيل پرته د اسپانيې امپراتورۍ اداري تقسيماتو پر اساس پراختيا موندلې . اسپانويانوپه دې لويه وچه کې چې زيات نفوس يې نه درلود ، هغه سيمې چې دوی لپاره مساعدې وې د استوګنې لپاره غوره کړې . په ځينو ځايونوکې خو يې آن چې د هغوی نفوذ له همدې سيمو څخه زياته پراختيا ونه مونده ، حال دا چې ددې لوې وچې وروستيو جمهوريتونو د همدې مرکزونو په څنډو کې يې اداري مرکزونو پراختيا کړې . په مرکزي امريکا کې هم همداسې اداري مرکزونه په لوړو او حاصلخېزو سيموکې تاسيس شوي وو. د مکسيکو ښار يوازينی هغه و؛ چې داسپانويانو اداري مرکز په دې ګڼ نفوسه اوپخوانۍ پرمختللې سيمه کې ټاکل شوي و(۲۰ : ۸۳).

دشمالي امريکا دوه هېوادونو د امريکامتحده ايالاتو او کاناډا تر ډيره بريده د اروپايي مهاجرينو په وسيله پراختيا وموندله . په بله ژبه له دوی څخه په هيڅ يو کې هم له پخوانيو هستو څخه چې هندیانو پورې يې تړاو درلود ؛پراختيا پيل شوې نه ده . هغوی خپل د استوګنې مرکزونه د لبرادور (Labrador) دختيځو غاړوپه اوږدو کې تر فلوريدا (Florida) او تر زياتې اندازې د ډيرو ځانګړو موخو پام کې نېولو پرته غوره کړي وو . د يوې پېړۍ تر تېرېدو وروسته تقريباً چې په يو نسبتاً مناسبه غاړه کې راټول شول ، چې له هغې څخه دسنت لارنس (St. Lawrence) وادي ، دفندي (Fundy) خليج د غاړو سيمې ، د بوستون (Boston) سيمه ، د نيويارک ساحلي سيمه د جنوب پر لور تر بالتيمور (Baltimore) او بالاخره د ورجينيا (Virginia) سيمه د وروستيو هستو په حيث ددې هېواد پراختيا ته د ارزښت وړ وې . البته بايد وويل شي چې ددې پنځه ګونوسيمو ترمنځ منظم مواصلاتي سيستم موجود نه و ، په ۱۷۸۷م کال کې د اتلس سمندر په اوږدوکې داستوګنو مرکزي سيمو ترمنځ ديوفدرال قانون له لياړې يو بل سره متعهد شول او هېواد ته يې دجنوب او لوېديز پر لور تر لټ سمندر پورې پراختيا ورکړه . په کاناډا کې هم د هغه لومړنۍ په کيوبک (Quebec) او انتاريو (Ontario) کې موقعيت لرلو (۳۷ : ۱۳۴).

ددې ډول پراختيا له مخې د جنوبي افريقا اتحاديې هېواد هم تر يوه بريده کاناډا سره ورته والی درلود . ځکه د هغه لومړني اروپايي اوسېدونکي په سمندري غاړو کې استوګن

ketabton.com - The Digital Library

وو ، ځکه یو شمېر له دې اروپایانو جنوبي غاړې په ځانګړې توګه د کېپټاون (Cap town) او دوربان (Durban) ښارونه یې د لومړنیو هستوپه بڼه غوره کړلې او له هغه ځایه یې دمرکز په لور د پراختیا هڅې پیل کړې ، حال دا چې د هغوی یوې بلې ډلې یوه ببله هسته ددې هېواد په مرکزي لوړو کې د بلومفونټاین (Bloemfontein) او پریتوریا (Pretoria) ترمنځ منځته راوړه . دا دواده هستې اوس هم په دې هېوادونو کې شتون لري (۵ : ۱۱۴).

په ټولو افریقایي هېوادونو کې پرته له مصر ،سوډان او ایتوپې څخه ځانګړې او د یادولو وړ هستې لرې لېدل کېږي . په مصرکې دنیل وادی د سکندرې او قاهرې ترمنځ سیمه کې ، په حبشه کې د ادیسه بابا د شاوخوا وادي او په سوډان کې دخرطوم شاوخوا سیمه یا د سپین او آبي نیل د یوځای کېدو سیمه ددې ډول هستو ببلګې شمېرل کېږي .پر پورته یادو شوو څرګندونو سربېره د نفوسو د تجمع کوچني مرکزونه د نایجریا په شمالي دښتو ، د کینیا په لوړو ، د ویکتوریا جهیل غاړو سیمو ، د ګانا جنوبي ناحیو ، د زمبابوې لوړې سطحې او د زایر اړوند د ګتانګا سیمه هم کولی شو وګورو(ایضاً: ۱۱۵).

په استرالیاکې هم اروپایانو خپل د استوګنې کورونه د سواحلو په غاړو کې غوره کړل ، چې البته وروسته له هغو تر ټولو مناسبې سیمو ته یې پراختیا وکړه، چې له هغې ډلې د سدني د خواوشا سیمې په نیوساوت ویلز (New South Wales) کې ، ملبورن په وکتوریا کې او د پرت (Perth) سیمه په غربي استرالیا کې کولی شو ددې هېواد پراختیایي هستې وګڼو.

په اوس وخت کې هم د نړۍ په زیاترو هېوادونوکې داسې هستې لیدل کېږي چې د ټولنیزو ، اقتصادي او سیاسي فعالیتونو زیاتره یې په هغو کې متمرکم کېږي او معمولاً ددې هېوادونو د پلازمېنو په غاړو کې لیدل کېږي . اګر چې په ځینو وختونو کې ددې ډول فعالیتونو د تنظیم شونتیا دځو غوره ښارونو ترمنځ لکه د امریکامتحده ایالاتو کې د واشنګټن او نیویارک ، کاناډا کې د اتاوا ، ټررانټو او مونټریال ، د هند په نوي ډهلي ، بمبۍ او کلکتې کې وجود لري . مګر پر دې سربېره هغه سیمې چې د نفوسو او وګړو له مخې له پلازمېنې سیمې څخه پراخه وي ، کېدای شي د پورته یادو شوو مطلبونو په پام کې

ketabton.com - The Digital Library

نړولوسره د هر هېواد لپاره وټاکل شي .چې د نفوسو زياتره تراکم او مواصلاتي نسبتاً منظمو شبکو شتون او د ټولو ارتباطاتو زياتوالی کولی شو د هغو مميزات وګڼو . ددې ډول هستو شتون په ځينوځايونو لکه امريکا متحده ايالاتو ، ايټاليې او داسې نورو او همدارنګه د ښاري او کليوالي سيمو ترمنځ په زياترو مخ په وده هېوادونو کې کيدای شي د سياسي ستونزو د منځته راتلو لامل شي ، هغه ستونزې چې هيڅ ډول ژبنۍ او نژادي سرچينه نه لري (۵ : ۱۰۸– ۱۱۸)او (۳۷ : ۱۳۴).

۱.۵.۱.۴. د هېوادونو د هستې جوړېدو لاملونه

لاندې لاملونو ښايي چې د هېوادونو هستې جوړولوکې اغېزمن وي .

- کرنيزې حاصلخېزې ځمکې .
- غوره جغرافيايي موقعيت .
- دفاعي مناسب موقعيت .
- مناسب اقليم .
- مواصلاتي مناسب موقعيت.
- سمندرونو يا اوبو ته نژدې والی.
- سوق الجيشي موقعيت .
- د ناحيې شکل.
- د هستې مطلقه موقعيت(۱۰ : ۵۹).

۶.۱.۴. د هېوادونو پلازمېنې

د هېوادونو پلازمېنه يا سياسي مرکز هغه سيمه ده چې هلته د هېواد سياسي تمرکز موجود وي او معمولاً د درې ګونو قواوو (اجرايه ، مقننه او قضايه) د مشرانو ، د هغو د غړو او ټولو وزارتونو ، دولتي ادارو او بېرونۍ سفارتونو د استقرار محل وي . هغو پلازمېنو چې د يو ملت د تاريخ په اوږدو کې يې تل فعاله رول درلود معمولاً د ملي ، فرهنګي او تاريخي نمايشونو په رامنځته کولو او ښودلو پر نورو ښارونو برتري ښيي . البته

ketabton.com - The Digital Library

په هغو هېوادونو کې چې پلازمېنې ، خپل ځای ته په پرله پسې توګه تغیر ورکړی، ښاییه ده دا ځانګړنې په هغو ښارونو کې چې یو وخت یې د پلازمېنې رول درلودلو وموندل شي . په ځینو افریقایي او جنوبي امریکا پلازمېنو کې د دولت د عمراني بودیجې ډیره برخه د پلازمېنو په پراختیا او جوړولو مصرف شوې .

په ځینوهېوادونو کې د پلازمېنې رول د څو ښارونو ترمنځ وېشل شوی دی ، د بېلګې په توګه د بولیویا په هېواد کې لاپاز ددې هېواد ریښتینې پلازمېنه اومقر دی . په داسې حال کې چې سوکر د قضایه قوې مقر (ځای) دی . په فدرالي حکومتونو لکه امریکا متحده ایالاتو او استرالیا کې پلازمېنه معمولاً په هغې ځمکې کې واقع شوې وي چې له ایالتي قلمرو څخه خپلواک وي لکه د کلمبیا برخه او د استرالیا د پلازمېنې منطقه(۳۷: ۱۳۸، ۱۳۹) .

د پلازمېنو د ډلبندۍ په اړه زیاتې هڅې شوي دي . یوه ډلبندي چې پلازمېنه د هغې د نسبي موقعیت له مخې او هسته یې سیمو ته په پاملرنې سره څېړي . په دې ډلبندۍ کې پلازمېنې په دایمي ، نویو او وېشل شوو (منقسمو) پلازمېنو ډلبندي شوي ، چې په لاندې ډول یې هره یوه په لنډه توګه له نظره تېروو.

۱. دایمي پلازمېنې : هغه پلازمېنې چې خپل عظمت او برتري یې دځمکنې تکامل ـ سیاسي حکومت پورې په پرله پسې پړاوونوکې ساتلې وي لکه لندن ، پارېس ، روم ، دمشق او بغداد پلازمېنو ته دایمي پلازمېنې ویلی شو.

۲. نوې رامنځته شوې پلازمېنې : هغه پلازمېنې چې دنویو موخو او نقشونو د ترسره کولو او د پخوانیو پلازمېنو سره په متفاوته توګه منځته راځي لکه اسلام آباد او برازیلیا.

۳ـ وېش شوې پلازمېنې : دا ډله پلازمېنې د بې سارو پلازمېنو بېلګې دي ، په دې ډول پلازمېنو کې د پلازمېنو رول د دوو یا څو ښارونو ترمنځ وېش شوی وي ، د بېلګې په توګه په بولیویا ،او جنوبي افریقا کې . په جنوبي افریقا کې اجرایه قوه په پروتوریا ، مقننه قوه په کیپ ټاون او قضایه قوه په بلوم ښارونوکې ځای لري (۳۷ : ۱۳۹ ، ۱۴۰).

ketabton.com - The Digital Library

پلازمېنې د هر هېواد غوره سياسي ښاروي ، چې د هغه رول د تاريخ په دورو کې بدلون کوي . اوسمهال د نړۍ په زياترو هېوادونوکې پلازمېنه د هغې هېواد تر ټولو لوی ښار جوړوي لکه چې د اروپا د ۲۵ هېوادونو له ډلې يې په ۲۳ هېوادونو کې دا حقيقت ليدل کېږي . يوازې په سوېس او فدرالي المان کې د دوی پلازمېنې لويو ښارونو کې نه دي . په جنوبي امريکا کې هم دا موضوع په څرګنده ليدل کېږي ، حال دا چې په اسيا کې دا ډول حالات زيات استثناءت لري ، په ترکيه کې استانبول د انقرې په مقابل کې ، په اسرايلوکې بيت المقدس د تل ابيب په مقابل کې ، په هند کې بمبئ ، کلکته او مدراس د ډهلي په مقابل کې ، د پاکستان په هېواد کې کراچۍ د اسلام آباد په مقابل کې او يا په چين کې شانګهای د پيکېنګ په مقابل کې د هغې غوره بېلګې دي .

پلازمېنه چې د ازادو هېوادونو له ځانګړنو څخه شمېرل کېږي د هېواد دلومړي شخص او د دولت د حاکم هيات او د مقننه ، اجرايه او قضايه قوو مرکزنه او د هېواد ټولې اداري چارې ورڅخه رهبري کېږي . پردې سربېره د يو شمېر نورو موسيسو نماينده ګان او مشران هم په پلازمېنه کې متمرکز وي (۵ : ۱۱۹، ۱۲۰).

بايد يادونه وشي چې په ټولو هېوادونو کې په تېره د ۱۹ مې پېړۍ راپدېخوا د حکومتونو دندې زياتې شوي دي . دا چې ددې ډول کارونو زياتره يې په پلازمېنو کې متمرکزې شوي دي له همدې امله په ښاري ځمکو زيات فشار واردېږي او حکومت د زياترو ستونزو سره لاس او ګريوان کوي ، آن چې په دې وروستيو کې هڅه شوې ده تر څو په ادارو کې ددې ډول زياتو کارونو له تمرکز څخه مخه ونېول شي . د يادولو ده چې پلازمېنې معمولاً د باندنيو هېوادونو د سوداګريزو او سياسي نماينده ګيو د تمرکز ځای هم ګڼل کېږي او مذهبي لوی مرکزونه هم په کې ځای لري .

د نړۍ زياتره پلازمېنې د هېوادونو د مرکزي هستې په برخه کې منځته راغلي چې د پارېس ، لندن ، روم ، قاهره ، اتن ، ستاکهولم ، ماسکو او داسې نورې بېلګې دي . مګر په ځينو نورو ځايونو کې پلازمېنه د ځينو لاملونوله امله د ځای بدلون کړی او نويو هغو ځايونو ته چې د هېواد تازه اړتيا وو ته ځواب ويونکي وي ؛ انتقال کړي . ددې ډول

ketabton.com - The Digital Library

پلازمېنو غوره ببلګې په برماکې له مندلي (Mandalay) څخه رنګون ته او په تایلینډ کې له ایوتایا (Ayutthaya) څخه بنکاک ته د پلازمېنو لېږدول دي . همدارنګه په هندکې د پلازمېنې لوی ځای د ډهلي او پتنه ترمنځ سیمې کې موقعیت لرلو چې د انګریزانو د تسلط پر مهال کلکتې ته ولېږدیدو او له ۱۹۱۱م راوروسته د سند او ګنګها حوزو ترمنځ په ډهلي کې یې ځای ونیوو . پردې سربېره دا ښار د تاریخې پلوه هم د ارزښت وړ و ، ځکه د شاجهان له دورې (۱۶۲۸ ـ ۱۶۵۹م) را وروسته د مغلو امپراتورۍ پلازمېنه وه ، البته تردې وړاندې د اګره ښار د ډهلي په ګاونډ کې په دې موخه غوره شوی و (ایضاً : ۱۲۰ ، ۱۲۱).

(۲.۴) جدول : دنړۍ په ځینو هېوادونو کې دپلازمېنو دځای بدلون (۵ : ۱۲۱).

هېواد	پلازمېنه (موقعیت او وخت یې)	دپلازمېنې ځای بدلون (موقعیت او وخت یې)	بیا دپلازمېنې ځای بدلون (موقعیت او وخت یې)
برازیل	سلوادور	ریودجنیرو(۱۷۶۲م)	برازیلیا (۱۹۶۰م)
برما	اوا	مندلی (۱۸۵۷م)	رنګون (۱۸۸۵م)
کاناډا	کنګستون (۱۸۴۱م)	مونتریا ل (۱۸۴۴م)	اتاوا (۱۸۵۹م)
سریلانکا	کتمندو	کولمبو	
چین	پیکنګ	نانکنګ (۱۹۲۷م)	پیکنګ (۱۹۴۹م)
هند	ډهلی	کلکته (۱۸۳۳م)	ډهلی (۱۹۱۲م)
ایټالیا	تورین (۱۸۶۱)	فلورانس (۱۸۶۵م)	روم (۱۸۷۱م)
جاپان	کیوتو	توکیو (۱۸۶۸م)	
پاکستان	کراچۍ (۱۹۴۷م)	اسلام آباد	
فلپاین	مانیلا	کویزان (۱۹۴۸م)	
شوروي اتحاد	مسکو	ست پترزبورک (۱۷۱۲م)	مسکو(۱۹۱۸م)
تایلینډ	ایوتایا	تانبوري (۱۷۶۷م)	بنکاک (۱۷۸۲م)
ترکیه	قسطنطنیه	انقره (۱۹۲۲م)	

ketabton.com - The Digital Library

متحـــــده ایالات	نیو یارک (۱۷۸۷م)	فلادلفیا (۱۷۹۰م)	واشنګټن (۱۸۰۰م)

۱.۴.۱.۶. دپلازمېنې ټاکل

د پلازمېنې ټاکلوکې لاندې شپږ لاملونه اغېزمن دي ، چې هر یو یې په لاندې توګه یادوو.

۱. د دود ـ تاریخ لامل.

۲. د مسلطې ملي ډلې لامل.

۳.د باندینۍ اړیکو لامل.

۴.دفاعی ـ ستراتیژیک لامل.

۵.د سیاسي مصلحت او سولې لامل.

۶. دمرکزي موقعیت لامل (۳۷ : ۱۴۰)

۲.۴.۱.۶. دپلازمېنې دځای په بدلون کې اغېزمن لاملونه

د پلازمېنو د ځای په بدلون کې لاندې لاملونه اغېزې لري .

د هېواد اړتیاوو ته د ځواب ویلو نه جوګه کېدل .

نا مناسب جغرافیایي موقعیت .

سیاسي ستونزې .

سیمه ییز اختلافات .

سیمه ییزې ګډوډۍ .

ketabton.com - The Digital Library

د طبيعي سرچپنو نه شتون .

د نوې سيمې سمسورتيا

ځينې مهال د هېوادونو پلازمېنې د بېلابېلو لاملونو له امله خو زياتره دسياسي لاملونو له امله له يو بنار څخه بل بنارته بدلون کوي ، په لاندې جدول کې د يو څو هېوادونو د پلازمېنو بدلونونه په بېلابېلو وختونو کې کتلی شو (۱۰ : ۶۴).

(۳.۴) جدول : دنړۍ دځينو هېوادونو دپلازمېنو ادلون بدلون بنيي(۱۰ : ۶۴).

ګڼه	هېواد	دلومړي ځل پلازمينې ځای او وخت	بدل شوې پلازمېنې ځای او وخت يې	بيا ځل بدل شوې پلازمنې ځای او وخت
۱	چين	پيکنګ	تانکينګ (۱۹۲۷)	
۲	افغانستان	کندهار	کابل	
۳	امريکا	نيويارک (۱۷۸۷)	فلادلفيا (۱۷۹۰)	واشنګټن (۱۸۰۰)
۴	پاکستان	کراچۍ (۱۹۴۷)	اسلام آباد	
۵	هندوستان	ډيلی	کلکته (۱۸۳۳)	نوی ډيلی (۱۹۱۲)
۶	روسيه	مسکو	سويتر بورک (۱۷۱۲)	مسکو (۱۹۱۸)

۷.۱.۴. د هېواد جوړوونکي عناصر

لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه چې هېواد له درې عناصرو لکه سرزمين (ځمکې) ، ملت او حکومت څخه تشکيليږي نو دا درې واړه عناصر دلته په بشپړه توګه تشريح کوو.

ketabton.com - The Digital Library

۱.۷.۱.۴. سرزمين يا قلمرو

ديو هېواد افقي او فزيکي څېره ده ،ژان ايوناګاتمن د سرزمين په اړه په خپله مقاله کې ليکي : " سرزمين هم سياسي او هم جغرافيايي مفهوم دی، ځکه چې دځمکې جغرافيايي څېره د سياسي بېلوالي ښودونکې ده او هم د سياسي جريان له لوري سازمان کېږي " همدارنګه ارستو وايي: څه شی چې مکان کې ځای نه لري وجود نه لري . بناءً سرزمين د ملت ، حکومت د مفاهيمو د يو ځای والي له پلوه اړين دی ، ترڅو د هېواد مفهوم واقعيت پيداکړي (۱۵ : ۴۰).

سرزمين يا " بوم " په فارسي ژبه کې يوه پخوانۍ اصطلاح ده چې له يوې خوا د هېواد مفهوم سره برابره ده او له بلې خوا چې په اروپايي مفهوم د " سرزمين " يعنې ځمکې سره نژديوالی مومي . موږ دلته د " سرزمن " يعنې ځمکې د مفهوم سره سروکار لرو ، هغه چې د اروپا په سياسي جغرافيايي فرهنګ کې د " Territory " مفهوم ورکوي او د بحث وړ دی . ځمکه کيدای شي د هېواد فزيکي يا افقي څېره تعريف کړو ؛ جغرافيايي مفهوم چې دحکومت مفهوم ته پام سره سياسي اړخ پيداکوي ، او دې او د"ملت " مفهوم ته په پام سره جغرافيايي ـ سياسي پديده يعنې هېواد واقعيت مومي (۳۲ : ۲۴).

۱.۱.۷.۱.۴. د نړيوالو عمومي حقوقو له مخې د يو هېواد سيمه يا قلمرو

د يو دولت ساحه يا قلمرو د هغه دولت له غوره متشکله عناصرو څخه ګڼل کېږي ، چې له دې قلمرو پرته د يو خپلواک دولت منځته راتلل ناشونی دی .

د هېواد ساحه يا قلمرو هغه ځای دی چې د نړيوالو عمومي حقوقو له مخې د اړوند دولت تر صلاحيت او امر لاندې وي ، نو له همدې امله د يو هېواد لايتجزی (نه بېلېدونکې) برخې لکه ټولې وچې سيمې ، داخلي او ساحلي اوبه ، د وچې په سر فضا او اوبه او تر ځمکې سطحې لاندې او د ځمکې په تل کې اوبه د اړوند هېواد ساحه بلل کېږي . دولت په ټولو پورتنيو يادو شوو سيمو ساحوی صلاحيت لري او د ځان په ګټه ورڅخه ګټه کوي او په

ketabton.com - The Digital Library

یادو شویو سیمو کې د نړیوالو حقوقو د موازینو سره سم خپل حاکمیت هم پلی کولی شي . د یو هېواد سیمې یا ساحې چې د دولت قلمرو بلل کېږي لاندې ذکر کېږي:

۱. وچې سیمې : د ځمکې هغه برخه چې د ځمکې د کرې پر مخ د ځمکې تر مرکز پورې په مخروطي بڼه امتداد لري ، او د نورو دولتونو د وچو ځمکو څخه د پولو په وسیله او له سمندرونو څخه د سواحلو په وسیله بېلې شوې وي ، د یو دولت وچه ساحه جوړوي . د یو هېواد ټولې وچې سیمې د هغه هېواد وچه ساحه بلل کېږي .

۲. اوبه : د دولت دا برخه ساحه (اوبه) بېلابېلو ډولونو ته وېشل شوې ده ، چې لاندې تړې یادونه کوو :

الف . داخلي اوبه : د یو هېواد داخلي اوبه د هغه هېواد د سېندونو ، کوچنیو سیندونو ، او کانالونو له ټولو اړخونو څخه چې په بشپړه توګه د هغه هېواد په داخل ساحه کې شتون لري ، او له بله پلوه دسمندر د اوبو ځینې برخې هم داخلي اوبه بلل کېږي لکه داخلي سمندري سیمې ، خلیجونه ، بندرونه ، او داسې نور.

ب . ساحلي اوبه : هغه اوبه چې د یو هېواد د ساحل په امتداد پرتې وي د ساحلي اوبو په نوم یادېږي . ساحلي اوبه او د هغه د پاسه فضا ، بستر او د بستر لاندې د همدې ساحوي دولت تر واکمنۍ لاندې دي . د نورو هېوادونو د سوداګرۍ ، مسافر وړونکې بېړۍ او هغه بېړۍ چې لږ تر لږه تخنیکي ستونزې ورته پېښېږي ، د یو ساحلي هېواد اوبو ته د عبور په نیت ، نه د ودرېدلو په نیت د ورننوتلو حق لري .

د ساحلي اوبو پوله هغه اخېرنۍ اوږده پوله ده چې د ساحل په اوږدو کې پرته وي ، د ازاد سمندر او ساحلي اوبو تر منځ د بېلوالي حد دی ، یعنې د ساحلي اوبو پلنوالی ، تر اوسه نه دی ټاکل شوی په دې معنی چې تر اوسه دساحلي اوبو د پلنوالي لپاره په نړیوالو حقوقو کې کومه مقرره نشته چې ټولو هېوادونو دې منلې وي . خو په عملي ډګر کې له درې تر ۱۲ مېلو (Miles) پورې هېوادونو منلې ده ، آن چې په ځینو ځایونو کې تر ۲۰۰ مېلو (Miles) پورې هم ادعا کېږي او رعایت شوې هم ده (۲۷ : ۱۰۲) .

ketabton.com - The Digital Library

۳. ګاونډ سیمه یا الحاقیه امنیتي ساحه : د سمندر د اوبو هغه برخه ده چې له ساحلي اوبو وروسته پیل او د هغې په ګډون د ازاد سمندر په امتداد چې پلنوالی یې تر ۱۲ مېلو (Miles) زیات نه وي . لکه چې له نوم څخه یې ښکاري ځینې هېوادونه د امنیت د ټینګښت په موخه ساحلي اوبه او د هغې په په تل کې سرچینې (لکه نفت اونور) د ازادو اوبو یو څه برخه هم د ځان بولي . د امنیتي الحاقیې سیمې اوبه د ساحل له اوبو سره له دوو اړخونو بشپړ توپیر لري . لومړی دا چې ساحلي اوبه د اړوند هېواد تر ساحوي صلاحیت لاندې وي . په داسې حال کې چې ګاونډه سیمه له حقوقي او فزیکي پلوه د ازاد سمندر برخه ګڼل کېږي . دویم دا ، سره له دې چې ساحلي دولت په ساحلي اوبو خپله واکمني پلې کوي ، خو په ګاونډه سیمه کې خپل ساحوي حاکمیت نه شي پلې کولی .

۴. فضایي ساحه : فضایي ساحه چې د هېواد د قلمرو یوه برخه هم ګڼل کېږي ، هغې فضا ته ویل کېږي چې د یو هېواد د وچو ځمکو د داخلي او ساحلي اوبو له پاسه وي ، لکه څرنګه چې ګاونډه سیمه یا امنیتي الحاقیه ساحه د یو هېواد تر ساحوي واکمنۍ لاندې نه راځي ، په فضایي ساحه کې هم یو هېواد هیڅ ډول ساحوي صلاحیت نه شي تطبیقولی ، فضایي ساحه تر بېرونیو فضایي پولو پورې غزېدلې وي .

هغه څه چې تر اوسه د هېوادونو هوکړه پرې په ټولیزه توګه تردې مهاله نه ده راغلې ، هغه د یو هېواد د پولو ساحوي فضا ده . خو د نن ورځې تکنالوژۍ د عادي الوتکو د پروازونو په مټ ټاکلې ده ، چې تر ټاکلې برخې اخوا ازاده فضا ده او ټول هېوادونه ور څخه ګټه پورته کولی شي .

ډیری هېوادونه د بېرونیو الوتکو په فضایي ساحه کې د پروازونو اړوند چارې او په خپل قلمرو کې د همغې الوتکې رابښکته کېدل د دوه اړخیزو یا څو اړخیزو ټړونونو په وسیله تنظیموي . خو هغه به هم د هغه هېواد تر ساحوي صلاحیت لاندې وي ، ځکه د نومړي هېواد له فضایي ساحې څخه عبورکوي (۲۷ : ۱۰۴).

ketabton.com - The Digital Library

۲.۷.۱.۴. ملت

ملت (Nation) د وګړو هغه ټولګه چې د خپل ځان په اړه د ځانګړيتوب احساس ، خپل منځي يوځايتوب ،ګډ تاريخ او کلتور او همدارنګه ډير وخت (نه هر وخت) ګډه ژبه ولري (۲۸ : ۴۰).

يوې انساني قبيلې ته چې د يو نژاد ، فرهنګ او ژبې لرونکی وي ويل کېږي ، چې د يو حکومت لرونکې وي او يا ددغسې حکومت جوړولو نيت لري (۲۰ : ۷۹).

د ملت (Nation) اصطلاح د لاتين ريښه لري چې له (Natio) څخه اخېستل شوې چې د ګډو نېکونو او د (Naseere) په فعل سره د تولد او توليد شوي په معنی دی (۷ : ۲۴۳) . دا اصطلاح له لاتين ژبې څخه ټولو اروپايي ژبو ته ولېږدول شوه . په پخوانۍ فرانسه کې د Nation اصطلاح د Nacion په بڼه کارول کېده چې د کورنۍ ، ټبر ، ريښې او نژاد معادل وه .دا اصطلاح په الماني ژبه کې د Natie په بڼه کارېده چې په لومړيو کې يې د اصل او ريښې معنی درلوده ، ولې په تدريجي توګه د وګړو په مفهوم سره وکارېده (۲ : ۱۲).

په دې حساب ملت غير مادي (معنوي) شی دی . يو ملت هغه مهال شتون لري چې غړي يې فکر وکړي چې شتون لري . دولت (هېواد) يوه جسماني (مادي) موسسه ده مګر ملت ((يو روح او معنوي کيفيت دی)).

ملت هغه ولس ته ويل کېږي چې لاندې درې فکتورونه ولري :

الف.ګډ ديموګرافيک او کلتوري ورته والي ولري : ګډ مشابهتونه له يوه ولس سره د ملت په جوړولو کې مرسته کوي . دا ورته والي کېدای شي چې ديموګرافيک مشخصات (ژبه ، نژاد او مذهب) وي . يا ګډ کلتور او يا هم ګډې تاريخي تجربې او ويارنې ولري . داسې ويل کېدی شي چې د امريکا ملت د دويمې عمومي جګړې ، د مارتين لوتر کېنګ (Martin Luther King) ، مک دونالداو ډيرې نورې دا ډول پېښې ، دامريکا ګډې تجربې ګڼل کېږي . دا مريکا ببرغ او د پک عقاب په شان سمبولونه د امريکايي نېشنلېزم په تقويه کې مرسته کوي .

ketabton.com - The Digital Library

ب . ګډ ټولنيز احساس ولري : ټولنيز احساس هم د يو ملت په تشکُل کې مرسته کوي ، د ملت والي درک او استنباط دلته ډير مهم رول لري . که يو ګروپ هرڅومره عيني (Objective) ورته والي هم سره ولري ، مګر که دوی په زړه کې د ملتوالي عندي (Subjective) احساس ونه لري ملت نشي بلل کېدی . د ګروپ په دننه کې وګړي بايد دا درک او استنباط ولري چې دوی ګډ ورته والی لري او يو له بله سره ددې ګډو ورته والو له امله ټرلي دي .

ج . په سياسي لحاظ د ځان د کنترول او اداره کولو غوښتنه ولري : په سياسي لحاظ د ځان د کنترول او اداره کولو غوښتنه يعنې (دسياسي جلاوالي غوښتنه) هم د يوملت د تشکُل سره مرسته کوي . د ملت او اتنيکي ګروپ ترمنځ توپير دادی چې د اتنيکي ګروپ برخلاف يو ملت غواړي چې خپل حکومت ولري او يا لږ تر لږه داخلي خود مختاري ولري . د امريکا په متحده ايالاتو کې ډير ګروپونه شته لکه ايټاليايي امريکايان چې ګډ کلتور او د هويت احساس لري ،مګر دا اتنيکي ګروپونه دي ،نه ملتونه . ځکه دوی له امريکا څخه د بېلتون غوښتنه نه لري . په ملي لحاظ په وېشل شوو دولتونو کې لکه قبرس چې ديوناني اکثريت او ترکي اقليت څخه جوړشوی ، اقليت ډلې نه غواړي د اکثريت مشروعيت ته غاړه کېږدي .

دا خبره بايد په ياد ولرو چې د اتنيکي ګروپونو او ملتونو ترمنځ توپير هر مهال روښانه نه دی ، په ډيرو هېوادونو کې داسې اتنيکي ګروپونه شته چې د جلا غوښتنې احساسات لري او يا دا چې ځينې غړي يې جلا غوښتونکي يانشنلستان وي . په کاناډا کې د کيوبيک (Quebec) په ايالت کې ډير فرانسوي کاناډايان د کاناډا په دولت کې له خپل موقف څخه راضي نه دي . ځينې کيوبېکيان له کاناډا څخه د جلاکېدو غوښتنه لري او ځينې يې بيا دا غوښتنه نه لري (۱۵ : ۷۴ – ۷۶)

د ملت والي عناصر : په ټولیزه توګه ويل کېږي چې ملتونه ځانته ټاکلې ځانګړنې لکه قلمرو (محدوده) ، نفوس (وګړي) ، استقلاليت او حکومت لري . يادې ځانګړنې هره يوه يې په ځينو ځايونو کې تر پوښتنې لاندې راتلای شي ، دا ځکه چې يادې ځانګړنې کله قوي او روښانه او کله بيا کمزورې او يا غايبې وي (۲۸ : ۴۰).

ketabton.com - The Digital Library

۳.۷.۱.۴. حکومت

د حکومت بحث په لومړۍ درجه کې د هېواد جوړوونکی عمودي جوړښت او د سیاسي جغرافیې اصلي بحث دی ، ځکه چې دا مفهوم له یوه لوري د جغرافیایي چاپیریال سیاسي کولو ته واقعیت ورکوي او یو جغرافیایي بحث ګڼل کېږي او له بله پلوه هغه مفهوم دی چې په جغرافیایي چاپیریا ل کې سیاسي منځته راتلونکي رول ته ځانګړی تمرکز ورکوي او سیاسي اړخ لري . همدارنګه حکومت په سیاسي جغرافیې کې یوه پراخه موضوع ګڼل کېږي ، له همدې امله د پام وړ ده . په داسې حال چې په چاپیریال کې د حکومت د اغېز او منځته راتلو مطالعه جغرافیایي بحث دی ، د حکومت د حاکمیت چارې حقوقي بحث او د حکومت له خوا د ځمکې یا هېواد اداره کول سیاسي علومو پورې تړلی بحث ګڼل کېږي .

د حکومت اړیکې د خپلې تشکیلاتي بدنې یعنې دولت په وسیله د نورو حکومتونو سره نړیوالې اړیکې ګڼل کېږي . " حکومت " د عمودي بُعد سیاسي ، تشکیلاتي او قانوني جوړښت دی چې په یوه ځانګړې انساني ټولنه کې د اکثریت وګړو د خوښې پر اساس منځته راځي . " ځمکه " (سرزمین) یا د "هېواد فزیکي بدنه " د یاد شوي سیاسي جوړښت فزیکي یا افقي څېره ده ، په بله ژبه ځمکه (سرزمین) یا هېواد (کشور) د حکومت فزیکي ښکارنده او حکومت د ځمکې یا هېواد تنظیموونکی عمودي جوړښت دی (۳۲ : ۱۰۷).

څرګنده خبره ده چې یو ملت باید د خپلو خلکو د اداره کولو په موخه یو جوړښت (سازمان) ولري . د داسې سازمان نه شتون انارشي رامنځته کوي ، چې حکومت نه وي ملت نه وي . حکومت که څه هم په ځینو ټاکلو حالاتو کې له ملت څخه خپلواک وجود لرلی شي د ببلګې په توګه جلاوطنه حکومتونه چې د اشغال ګرو یا ګوډاګي حکومتونو د شړلو لپاره مبارزه کوي . د لویو وچو کانګرس (Continental Congress) یو لومړنی حکومت و ، چې د ازاد متحده ایالاتونو د تاسیس لپاره منځته راغی ، د همدې لپاره وجنګېدو او په پایله کې ورځخه د امریکا متحده ایالاتو حکومت راوزېږېدو .

ketabton.com - The Digital Library

په ۱۹۴۰ م کال کې له فرانسې څخه د جرمنيانو د وېستلو لپاره جنرال چارلس دوګول د " ازادې فرانسې " حکومت اعلان کړ چې ډيرو سترو ځواکونو د فرانسې د حکومت په توګه په رسميت وپېژندلو . په ۱۹۴۴ م کال کې د پارېس له ازاديدو سره له هغه څخه يو داسې حکومت جوړ شو چې قلمرو (محدوده) ، ولس او ازادي يې درلوده.

ديو قانوني حکومت موجوديت خامخا دا معنی نه لري چې دا حکومت به اغېزمن وي او د خپل قلمرو او ولس کنترول به يې په لاس کې وي ، کله چې حکومت کمزوری وي د داخلي او باندينې مخالفت پر وړاندې به د پايښت وس ونه لري ، د بېلګې په توګه د بوګوتا Bogota حکومت د کلمبيا پر ډيرو هغو سيمو چې د مخدره موادو دلالانو او ګوريلايانو په ولکه کې دی ، کنترول نه شي ټينګولی .

پخواني سياسي تيورستان د ملت لپاره پوره بيان شوې ځانګړتياوې لازمې بولي . چېرته چې يو ملت شتون لري خامخا بايد قلمرو ، نفوس (وګړي) ، ازادي ، حکومت او د ملت نور صفات ولري . معاصرو پوليټيکل ساينټستانو د ملت سوچه او خالص حقوقي مفهوم ايسته غورزلی او دعملي واقعيت کې يو غښتلی ولس او يو اغېزمن حکومت لري چې خپل قلمرو اداره کړی شي او که نه ؟ . ځينې چې ځانونه ملت بولي په حقيقت کې د کولمبيا په څېر کمزوري دولتونه دي او ځينې بيا آن د سومالیا په څېر ناکامه دولتونه دي . ډيرملتونه په پرله پسې توګه اوس هم د ملت والي پر لور تکامل کوي(۲۸ : ۴۰- ۴۲).

۴.۱.۷. ۳ .۱. دحکومت ډولونه

حکومتونه د سياسي جوړښت له مخې په دوه ډوله دي ،۱). بادشاهي حکومتونه ، چې دا ډول هېوادونه ډيرپخواني دي او ۲) . جمهوري حکومتونه چې د راتزل (Ratzel) په آند اصلي ربښه يې په لرغوني يونان کې ولټول شي .

سنتي او مطلقه يا بادشاهي حکومتونه لکه عربو ټاپوو زمه کې چې باد شاه په هغو کې حاکم وي او د اصلي او وروستي تصميم نېوونکی وي ، يا مشروطه او د ېموکراتيک حکومتونه لکه چې په زياترو اروپايي هېوادونو کې بادشاهي حاکمه ده چې بادشاه په هغو

ketabton.com - The Digital Library

کې سمبولیک رول لري او حکومت او حاکمیت په کې په وګړو پورې تړاو لري. او د خلکو اراده د ځمکې یا هېواد د اداري لپاره منتخبو دولتونو ته چې د حکومت تشکیلاتي جلوه ده انتقالیږي. دې حالت ته پام سره د تداوم اصل او مشروعیت په دواړه ډوله حکومتونو کې "وراثت" دی. نورپاتې قبیله یي حکومتونه چې اوسمهال یې ببلګې په افریقا او د فارس خلیج په عربي څنډو کې شتون لري د سنتي او مطلقه بادشاهۍ حکومتونو په ډله کې راځي.

پر دې سربېره د امپراتورۍ نظام چې په یوویشتمه پېړۍ کې پرته له جاپان څخه بل ځای کې عملاً نېشته د باد شاهي نظام پراخ شکل دی. په داسې حال کې چې په بادشاهي نظام کې حکومت د یو ملت د موجودیت پر بنسټ منځته راځي او د یو ملت په حدودو پورې محدود وي، خو امپراتوري د باد شاهي حکومت هغه نظام دی چې له یو ملت څخه زیات په کې ګډون کوي. په همدې زمینه کې د امپریالېزم مفهوم راڅرګندېږي.

امپریالېزم د یو هېواد هغه سیاسي نظام ته ویل کېږي چې خپل حکومتي حاکمیت یا اقتدار په نورو ملتونو یا هېوادونو تحمیلوي. د پخواني امپریالېزم بڼې د پخواني یا کلاسیک استعمار په چوکاټ کې وجود درلود او نوې بڼه یې په نوې بڼه د نړیوالتوب یا ازاد اقتصاد په بڼه رامنځته شوی.

جمهوري حکومت چې د ټولیز حاکمیت یا سیاسي جمهوریت (Pluralism) د اصلي انګیزې پر بنسټ رامنځته کېږي په لرغوني روم کې د سنا لخوا د انتخاب شوي "سزار" فرمان ورکوونکي حکومت کې ربښه لري. د پام وړ ده چې لرغونی روم خپل د باد شاهي نظام له بدلولو وروسته په انتخابي یاد شوي نظام یعنې جمهوریت د امپراتورۍ نظام تبدیل کړ (۳۲: ۱۱۵، ۱۱۶).

د درېیمې زریزې په پیل کې د نړۍ په سیاسي نقشه کې د ۲۰۰ خپلواکو هېوادونو له ډلې یې ۱۹۳ هېوادونو د ملګرو ملتونو د ټولنې غړیتوب لرلو. باید وویل شي چې هېوادونه پر پراخوالي، نفوسو، موقعیت او نورو طبیعي ځانګړتیاوو سربېره د داخلي سازمانونو (

ketabton.com - The Digital Library

جوړښتونو) او د هغو د پراختيا يې څرنګوالي له مخې هم په دې وروستيو ۲۰۰ کلونو کې يو له بله سره توپير لري.

له تاريخي پلوه پر مستعمراتو سربېره چې ببلابېل ډولونه يې درلودل او په هغو کې حکومتي مکلفيتونه ببرونيانو پورې تړلي وو، د نړۍ هېوادونه د دوه ډوله حکومتي سېستمونو يعنې جمهوري او شاهي څخه پېروي کوي چې دا بيا په خپله په ډيرو ډولونو وېشل شوي.

په شاهي رژيمونو کې چې سلاطين (سلطانان)، بادشاهان، شهزاده ګان، امپراتوران، او تزاريان په کې رانغښتل کېږي، د هغوی حکومت او صلاحيتونه په ځانګړو کورنيو پورې منحصر وي. حال دا چې په جمهوري هېوادونو کې لکه اپلاتون چې هم ويلي و" حکومتونه د خلکو په وسيله او د خلکو لپاره تاکل کېږي". او د نړۍ د هېوادونو يو زيات شمېر يې همدې موخې ته د رسېدلو لپاره جمهوري رژيم خوښ کړي، سره له دې چې ښايي په ربښتيا کې ورڅخه زيات واټن هم لري.

د تاريخ په اوږدو کې او په تېره بيا په تېره يوه پېړۍ کې ددې درې ډوله حکومتونو شمېر کې زيات بدلونونه راغلي دي. په ۱۹۰۰م کال کې شاهي نظامونو د اروپا او استراليا لوې وچې او جمهوري ډوله حکومتونو شمالي او جنوبي امريکا راګېره کړې وه. په اروپا کې فرانسه او سوېس يوازيني هغه هېوادونه وو چې جمهوري نظامونه يې درلودل. د نړۍ ټولو هېوادونو په ليکه کې يوازې په جنوبي افريقا کې Orange free state او ترانسوال (Transvaal) کې جمهوري ډوله نظام شتون درلود. حال دا چې په ۲۰۰۰م مېلادي کال کې جمهوري نظامونه د نړۍ د لويو وچو په ببلابېلو هېوادونو کې لېدل کېدل. سره له دې چې په زياترو برخو کې ښايي دا نظامونه يوازې تش په نامه جمهوري وي، په شمالي امريکا کې کاناډا هغه هېواد دی چې په کې اوس هم لکه د استراليا او نوي زيلاند په څېر د برتانيې بادشاه د حکومت رييس په توګه منل شوی. همدارنګه د اروپا په ځينو هېوادونو لکه ډنمارک، ناروي، سوېډن، هالنډ، بلجيم، اسپانيې او انګلېستان کې هم شاهي نظامونه، خو د بادشاهانو د محدودو واکونو په لرلو سره موجود دي.

ketabton.com - The Digital Library

د جاپان امپراتور اوس هم په هغې هېواد کې د حکومت رییس دی . د منځنۍ ختیځ په ځینو هېوادونو کې لکه عربستان ، عمان ، عربي متحده اماراتو ، قطر ، بحرین ، اردن او کویټ کې هم همدا نظام دود دی (باد شاه یې د حکومت رییس دی) .

د اسیا په جنوب ختیځ کې لکه تایلینډ ، کمبودیا ، مالیزیا او برونای (Brunei) کې هم له همدې نظام څخه پېروي کېږي . په افریقا کې د مراکش ، سوازیلینډ (Swaziland) او لېسوتو (Lesotho)هېوادونو کې همدا نظام چلېږي .

په هرصورت په شاهي نظامونو کې هم ټولیزه هڅه دا کېږي چې حکومتي زیاتره واکونه د هغې هېواد اوسېدونکو ته ورکړي (۴ : ۵۲ ، ۵۳).

ډیموکراتیک حکومتونه

ډیموکراسي ترمیلاد ۵۰۰ کاله وړاندې د لرغوني یونان په ښار ـ دولتونو (City-States) کې منځته راغلې وه او د ۲۰۰۰ کلونو راهیسې وخت نا وخته دلته او هلته وجود لري . په انګلستان کې د ډیموکراسۍ تدریجي پاڅون او د اتلسمې پېړۍ په پای کې د امریکې او فرانسې انقلابونو ډیموکراسي په یوې مهمې سیاسي نظریې واړوله . ولې بیا هم د ډیموکراسۍ خپرېدلو په کراره اوبطي بڼه دوام درلود. په دې وروستیو څو لسیزو کې د ډیموکراسي د پراختیا جریان ډېر چټک شو . ډیموکراسي لږ تر لږه د حکومت داسې سیستم دی چې دوه ډوله حقوق خلکو ته وړاندې کوي . لومړی ډول یې یو ډول سیاسي حقوق دي چې وګړي په ازاده توګه خپلوکاندیدانو ته د رایې ورکولوحق ولري . کاندیدان چې د مختلفو نظریاتو لرونکي وي د انتخاب په بڼه کې به د حکومت د پالیسۍ په جوړولو کې مهم اغېز ولري ، دوهم ډول یې بیا یو لړمدني ازادۍ دي لکه د بیان ازادي ، د اجتماعاتو ازادي او د قانون پر وړاندې مساوات چې د یو ازاد حکومت لپاره مهم دي (۱۵ : ۱۴۲ ، ۱۴۳).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

دا چې د سياسي جغرافيې اصلي د بحث وړ موضوع هېواد ده، چې هېواد د ځمکې، ملت او حکومت څخه جوړ دی، د يو هېواد ځمکه يا قلمرو له هغې محدودې ساحې څخه عبارت دی چې د هېواد وګړي په کې ژوند کوي او د همدې هېواد حاکميت په کې چلېږي، چې په دې محدوده کې د ځمکې وچه برخه، اوبيزه برخه او فضا شامله ده.

هېوادونه بېلابېل ډولونه لري چې د سياسي، اقتصادي او اداري پلوه يې دلته کټګوري شوې ده. د سياسي پلوه هېوادونه په لاندې توګه وېشل شوي دي. ۱) حايل هېوادونه: چې د دوو ځواکونو ترمنځ د بېلتون په بڼه رامنځته شوي؛ چې تر ډيره دا هېوادونه بې وزلي دي. ۲) ـ بې لوري هېوادونه: چې د بې لوري توب وضعيت يې د جنګ او سولې پر مهال ساتلی وي. ۳) ـ تړلي هېوادونه: چې په نړيوالو چارو کې بل هېواد پورې تړلي وي او خپلواک شخصيتونه نه ګڼل کېږي. ۴) ـ خپلواک هېوادونه: چې د نړۍ سياسي نقشې جوړولو تر ټولو غوره عناصر خپلواک او ازاد هېوادونه دي چې د نړيوال نظام لوبغاړي هم دي، د دغسې هېوادونو شمېر نژدې د ۲۰۰ په شاوخوا کې ښودل شوی دی.

هېوادونه د اقتصادي پلوه په ۱) ـ پرمختللو هېوادونو يعنې هغو هېوادونو چې په هر اړخيزه توګه يې پرمختګ کړي وي. ۲) ـ مخ پر وده هېوادونو: چې معمولاً هغو هېوادونو ته ويل کېږي چې نسبتاً لږ عوايد لري او د پرمختللو هېوادونو سره يې اقتصادي او سياسي واټن ډير وي. او ۳) ـ وروسته پاتې هېوادونه: وروسته پاتې هېوادونو بل نوم نه پراختيا موندونکي هېوادونه دي چې زياتره يې نوي ازاد شوي هېوادونه دي.

په همدې ترتيب هېوادونه د اداري پلوه هم په ساده او مرکب ډولونو وېشل شوي دي. ساده دولتونه يې هغه دي چې يو واحد مرکزي ځواک ولري او د دولت ملي حاکميت د همدې مرکزي دولت په وسيله تطبيقېږي. دا ډول حکومتي رژيمونه هم په دوه ډولو وېشل کېږي يعنې ۱) ـ هغه ساده دولتونه چې اداري سيستم يې پر مطلق مرکزيت ولاړ وي او ۲) ـ هغه واحد سياسي رژيمونه چې اداري سيستم يې پر عدم مرکزيت ولاړ وي.

ketabton.com - The Digital Library

هېوادونه د پراختيا له مخې هم توپير لري، تر ۲۰۱۱م کال پورې نژدې ۱۹۳ خپلواکو هېوادونو په نړۍ کې شتون درلود، خو دا ټول هېوادونه د پراخوالي له مخې برابر او يو شان نه دي. د نړۍ په سياسي نقشه کې کوچني هېوادونه لکه اندورا، موناکو، واتيکان او داسې نور شته، چې د هېوادونو پر سياست اغېزې کوي. د دوکتور دره په آند د هېوادونو ډلبندي د پراخوالي له مخې چندان ګټه نه لري، غوره داده چې د هېوادونو تر منځ توپير له کيفي پلوه برسي شي؛ نه د کمي پلوه.

همدارنګه هېوادونه د ځمکې پر مخ د موقعيت له پلوه هم سره ورته والی نه‌لري، ځينې هېوادونه په ښو موقعيتونو کې او ځينې يې بيا خراب او ناوړه موقعيت لري. تر ټولو ښه موقعيت اوبو ته د لاس رسي او تر ټولو بد موقعيت په وچه کې راګير موقعيت ښودل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱. هېواد څنګه تعریفولی شئ ؟

۲. د هېواد متشکله عناصر کوم دي ؟

۳. د یو هېواد داخلي اوبه کومې اوبه دي ؟

۴. ساحلي اوبه کومې اوبه دي او نورو هېوادونو ته په کې د کومو کړنو اجازه شته ؟

۵. حایل هېوادونه کوم ډول هېوادونه دي او د څه په موخه منځته راغلي دي ؟

۶. متعهد یا بې لوري هېوادونه کوم ډول هېوادونه دي ؟

۷. نا متعهد هېوادونه کومو هېوادونو ته ویل کېږي ؟

۸. ټرلي هېوادونه کوم ډول هېوادونه دي ؟

۹. خپلواک یا خپلواک هېوادونه کوم ډول ځانګړنې لري ؟

۱۰. د پرمختللو هېوادونو اطلاق په کومو هېوادونو کېږي ؟

۱۱. د وروسته پاتې هېوادونو ځانګړتیاوې کومې دي ؟

۱۲. ساده دولتونه کوم ډول سیستم ته وایي ؟

۱۳. مرکب هېوادونه د اداري سیستم له مخې په څو برخو وېشلی شو ؟

۱۴. کنفدرالي هېوادونه کوم ډول اداري سیستم لري ؟

۱۵. فدرالي هېوادونه کوم ډول هېوادونه دي ؟

۱۶. د نړۍ کوچنیو هېوادنو ټبلګې کوم هېوادونه دي ؟

۱۷. د هېوادونو ډلبندي د پراخوالي له مخې څومره ګټوره ده ؟

ketabton.com - The Digital Library

۱۸ـ د روسو په آند یو هېواد باید د کومو اړخونو له مخې مطالعه شي ؟

۱۹ـ د هېوادونو زیات تنګوالی کومې ستونزې لري ؟

۲۰ـ د هېوادونو زیاته پراختیا کومې لانجې را ټوکوي ؟

۲۱ـ ترټولو ښه موقعیت کوم دی او ولې ښه ګڼل کېږي ؟

۲۲ـ ترټولو ستونزمن موقعیت کوم دی او ولې ؟

۲۳ـ د هېوادونو هستې یعنې څه؟

۲۴ـ د هېوادنو هستې جوړوونکي عناصر کوم دي ؟

۲۵ـ د پلازمېنې د ځای په بدلون کې اغېزمن لاملونه کوم دي ؟

۲۶ـ دیو هېواد قلمرو څومره اړین دی ؟

۲۷ـ ملت څنګه تعریفوئ او ملت کوم فکتورونه لري ؟

ketabton.com - The Digital Library

پنځم څپرکی

نړیوالې سیاسي پولې

سیاسي پولې (سرحدونه) هغه ټاکل شوې کرښې دي چې د ځمکې پر مخ د سیاسي سیمو دمحدودولو په موخه کارول کېږي. سرحد یا طبیعي وي او یا مصنوعي، چې طبیعي پولې د طبیعي پدیدو په مرسته لکه غرونو، سیندونو، روانو اوبو، دښتو، جهیلونو او داسې نورو په مرسته ښیل کېږي. مصنوعي پولې د هندسي کرښو او یا کواردینیتونو او یا داسې نورو په وسیله ټاکل کېږي. سرحدونه ډیر ارزښت لري چې یو یې د منطقې او بل یې د تخنیکي پلوه دی.

د سرحدونو ټاکل او مفهوم په پخوا وختونو کې د نن ورځې د سرحدونو څخه توپیر درلود. په پخوا وختونو کې پراخې سیمې د پولو په توګه ټاکل کېدې. په منځنیو پېړیو کې پولې ډیر ژر بدلېدې، یعنې هر مهال به نوې کېدې. په وروستیو کې دا چې د ځمکې ارزښت

ketabton.com - The Digital Library

د ورځې په تېرېدو زياتېدو ، د سرحدونو ټاکلو ته هم پاملرنه کېده ؛ چې بايد څلور پړاوونه تېر کړي .

دا چې د سرحدونو ارزښت ورځ تر بلې د ځمکې د ارزښت په رامنځته کېدو سره زياتېږي ، نو له همدې امله د سرحدونو (پولو) ځای مرزونو (کرښو) ونېولو . مرزونه هغه نرۍ پديدې دي چې موږ له هغوی څخه ښلوي .

همدارنګه هر هېواد خپلې ځمکنۍ ، اوبيزې او هوايي پولې لري چې د يو هېواد لپاره حتمي او اړينې دي او له پولو څخه پرته د هېواد شتونتيا نا شونې ده .

۱.۵. دسرحدونو تعريف

سياسي سرحدونه له يوې متشکله سيمې څخه د بلې سياسي متشکله سيمې د بيلتون يا جدا والي غوره ننبې دي . چې شونې ده دا ننبې طبيعي او يا مصنوعي وي .

سياسي کرښې هغه ټاکل شوې کرښې دي چې د ځمکې پرمخ د سياسي سيمو د محدودولو په موخه کارول کېږي . البته که د سياسي سيمې څخه موخه يو ملک وي په دغه بڼه کې دا سرحدونه د نړيوالو سرحدونو په نوم يادېږي، که چېرته د سياسي سيمې څخه موخه يو ولايت يا ولسوالي وي چې د يو هېواد په داخل کې سياسي پولې رامنځته کوي نو دې ډول سرحدونو ته ملي سرحدونه وايي (۵ : ۸۲) . او يا په بله ژبه د يو هېواد سرحدونه هغه ټاکل شوې کرښې دي چې د يو هېواد سيمه د بل هېواد له سيمې څخه ښلوي .

ديو هېواد سرحدونه يا خو طبيعي او يا مصنوعي وي . طبيعي سرحدونه هغه سرحدونو ته ويل کېږي چې يوه سيمه له بلې سيمې څخه د طبيعي پديدو په مرسته لکه غرونو ،سيندونو، روانو اوبو، دښتو، جهيلونو او داسې نورو په وسيله ښلېږي . مصنوعي سرحدونه د هندسي کرښو او يا کواردينتونو او يا داسې نورو ننبو په څير د وګړو په وسيله لکه پوستو ،تيږو ،ديوالونو ،سرکونو ،پايو (سيمنټي پايو) پېلرونو په مرسته ټاکل کېږي (۲۶: ۷۷).

ketabton.com - The Digital Library

۲.۵. دسرحدونوارزښت

سرحدونه معمولاً ډېر ارزښت لري چې موږ يې ارزښت له دوو اړخونو څخه څېړو چې يو يې له منطقي اړخه او بل يې په تخنيکي اړخه .

الف ـ له منطقي اړخه : که چېرته موږ فکر وکړو سرحدونه له هغو کرښو څخه عبارت دي چې د هغو په وسيله د يو هېواد د قلمرو سيمې ځانګړې کېږي . نو اړينه‌ده‌چې‌د يو هېواد قلمرو بايد ځانګړی شوی وي ، ځکه چې قلمرو د هېواد له متشکله عناصرو څخه يو مهم عنصر دی او د قلمرو په نه موجوديت کې دولت منځته راتلی نه شي ، پس دا چې سرحد دومره اړينه موضوع څرګندوي نو منطقي ده چې د سرحد ارزښت ومنو.

ب ـ له تخنيکي يا حقوقي اړخه : له تخنيکي يا حقوقي اړخه هم د سرحدونو په ارزښت ډېر ښه پوهيدی شو ، په حقوقي لحاظ سرحدونه له دوو اړخونو څخه با ارزښته ګڼل شوي . يو د ملي حقوقو له اړخه او بل د نړيوالو حقوقو له اړخه .

د ملي حقوقو له اړخه سرحدونه ډېر مهم او اړين دي ځکه چې ديو دولت ډېرې اړينې موضوعګانې د سرحدونو په دننه کې سرته رسيږي د بېلګې په توګه د مالياتو د اخيستلو لپاره د سرحدونو موجوديت ته اړتيا ده ، همدارنګه د نفوس شمېرنې پر مهال هم سرحدونه اړين دي تر څو د خپل دولت وګړي پرې معلوم شي او په نفوس شمېرنه کې وګډل شي ، په همدې ترتيب د داخلي او بيرونيو وګړو د تفکيک لپاره هم سرحدونه اړين دي .

د نړيوالو حقوقو له اړخه هم د سرحدونو د ارزښت څخه سترګې نشو پټولی د بېلګې په توګه د بيرونيو تصرفاتو او تېريو د مخنيوي لپاره اړينه ده ترڅو د يو دولت سرحدونه څرګند وي ، په همدې ترتيب د بيرونيو وګړو د داخليدو د مخنيوي او همدرانګه د وارداتو او صادراتو اندازې د ټاکلو لپاره د سرحدونو موجوديت اړين دی.

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه په سوداګري ي موضوعګانو کې د محصولاتو د اخېستلو له اړخه هم د سرحدونو موجودیت ضرور بریښي ، که چېرته سرحدونه دقیق ټاکل شوي نه وي نو پر سرحدونو باندې د اختلافاتو د پیدا کیدو شونتیا زیاته وي ، همدارنګه پر سرحدنو باندې اختلافات هغه مهال هم را پیدا کېږي چې سرحد د بدلون په حال کې وي. د بېلکې په توګه که چېرته یو سیند د سرحد په توګه ټاکل شوی وي هغه مهال چې سیند خپل اصلي مسیر پریږدي نو پدغه وخت کې په سرحدنو باندې کشمکشونه راپیداکېږي ،خو که چېرته دا موضوع په نړیوالو تړونونو کې مخکې له مخکې روښانه شوې وي نو پدغه حالت کې د دوو دولتونو تر منځ پر سرحدنو ناندرې او ګوابښونه نه پیدا کېږي ، نو له دې څخه څرګندیږي چې د سرحدونو معلومول او سم ټاکل د یو هېواد لپاره ډېر اړین بریښي(۹ : ۱۳، ۱۴).

۵. ۳. د سرحدونوټاکل

تاریخې ننبې ننبانې دا ښیي چې د سرحد مفهوم په پخوا وختونوکې د نن ورځې د سرحدونوسره په پرتله ایزه توګه توپیرلري. لکه چې پخوابه معمولاً سرحدونه دیوې کرښې په بڼه نه وو. اوددوو امپراتوریو ترمنځ به د بیلتون وسیله یوه پراخه سیمه ټاکل کېده اود دغه ډول سرحدونو ټاکلو به ځانګړې موخې درلودې، د بیلګې په توګه چینایانو او رومیانو سرحدونه ددې لپاره ټاکلې وو چې خپل مدنیت د وحشت او بربریت څخه خوندي وساتي . چې په دې باره کې د رومیانو د راین او دانیوب سیندونو او د چینایانو د چین دیوال څخه یادونه کولی شو(۹: ۱۲).

په منځنیو پیړیو کې هم د سرحدونو څه عجیبه غوندې حال و په دغه دوره کې د یو هېواد ټرلې سرحدي کرښې د بل هېواد سره د بدلون او تحول په حال کې وې .ځکه چې امپراتورانو به خپلې د امپراتوری سیمې او د هغې اوسیدونکي خپل ملکیت ګڼل .نو کله به یې چې خوښه شوه د خپلې امپراتوری سیمه به یې د زامنو ترمنځ وېشله اویا به یې پرنورو وګړو باندې پلورله اوپه دې توګه به هر وخت نوي سرحدونه رامنځته کېدل . سربېره پردې د

ketabton.com - The Digital Library

پیاوړي مرکزي حکومت په نه موجودیت سره به د هېوادونو ځمکې په ځانګړو ټوټو او خورو ورو شکلونو لیدل کېدې . ولې په دې وروستیو پېړیو کې هېوادونو یو واحد شکل غوره کولو او مرکزي قوي حکومت رامنځته کېدو چې ورسره سرحدونو هم ورو ورو د کرښو بڼه غوره کړه (۵ : ۸۲).

په هر حال د هغه وخت راپدیخوا چې هېوادونه او حکومتونه د ملتونو د غوښتنو پر بنسټ جوړ شول نو سرحدونو د نن ورځې د سرحدې کرښو مفهوم غوره کړ. او په تدریجي توګه سرحدي سیمې په سرحدي کرښو بدلې شوې . ځکه چې په وروستیو وختونو کې د ورځې په تېریدو سره د نفوسو زیاتوالی او د دوی اړتیاوې ځمکو اوله ځمکې څخه پلاس راونې ددې لامل شوې تر څو چې هېوادونه د سرحدي کرښو په نښه کولو کې له ډیرې ځیرکتیا او جدیت څخه کار واخلي (۹: ۱۳).

اوس مهال د سرحدي کرښو ټاکل معمولاً د بېلا بېلو پراوونو د تیرولو وروسته تر سره کېږي . چې دا پراوونه به په لاندې څو کرښوکې ذکر کړو.

لومړی پړاو: د سرحدي کرښوټاکل

پدې پړاو کې د دواړو هېوادونو د باندینو چارو وزیران او یا د دواړو هېوادونو استازي د مناسبو خبرو اوپروتوکولونو د سرته رسولو وروسته په هر هېواد پورې تړلې سیمې ځانګړې کوي اوټاکي یې، سره لدې چې کېدای شي دواړه خواوې اویا یو لوری یې په خپله خوښه ونه مني د بېلګې په توګه د اسرایلو او د هغه د ګاونډیو عربي هېوادونو ترمنځ خبرې اترې چې په ناخوښۍ سره پاې ته ورسیدې او یا هم د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د ډیورند سرحدي کرښه یا (Durand Line) چې پر افغانستان په ناخوښۍ تحمیل شوې او هېڅ وخت هم د افغانستان وګړو ته د منلو او قبلولو وړ نه ده (۵ : ۹۴).

ketabton.com - The Digital Library

دويم پړاو : د سرحدي کرښو محدودول

پدې پړاو کې سرحدي کرښه له هغو سيمو او يا فزيکي پديدو څخه چې دغه کرښه ورڅخه تيريږي ورته ډيره پاملرنه راړول کېږی . ددې پړاو بشپړيدل معمولاً د دواړو هېوادونو د رسمی استازو په وسيله او د سيمې د بشپړې ځيړنې او نقشو څخه په ګټې اخيستلو سره سر ته رسيږي (۹: ۱۴).

درپيم پړاو: د سرحدي کرښو په نښه کول

پدې پړاو کې د دواړو هېوادونو استازي سرحدي کرښه د ځمکې پرمخ چې په پروتوکول کې يادە شوې وي په نښه کوي . دا پړاو د سرحدونو په ټاکلو کې يو پيچلی پړاو دی . چې د ځمکې د جوړښت په نظر کې نيولو سره کېدی شي ډيره او يا لږه موده په برکې ونيسي .

پټه دې نه وې چې سرحدي نښې (پيلر) په ګڼ نفوسه سيمو کې د واتن له مخې يوه له بلې څخه د نيم ميل واټن (0,5 mile) څخه په کم او په کم نفوسه سيمو کې ۳ ميله څخه په زيات واټن کې درول کېږي . ددې پړاو پايلې په ډيره ځيرکتيا په نقشو کې ځای په ځای کېږي او د حکومتونو په واک کې ورکول کيږي (۱۰: ۹۳).

څلورم پړاو: قانوني تاييد يا وروستی تصويب

پدې پړاو کې په نښه شوې اونقشه شوې سرحدي کرښه د پارلمان د وکيلانو او د دواړو غاړو هېوادونو د سرانو لخوا تائيديږي تر څو چې قانوني بڼه ونيسي .دا پړاو هم کيدای شي لږه اويا ډيره موده په برکې ونيسي د ببلګې په توګه د انګلستان او د امريکا متحده ايالاتو تر منځ سرحدي ستونزه چې په ۱۷۸۳م کال کې د نه حليدوپه وجه تر ۱۸۴۳م پورې وغزيده .

په هر حال تر څو چې په يو سرحد څلورم پړاونه وي عملي شوی په حقيقيت کې ذکر شوی سرحد په قانوني بڼه نه دی ټاکل شوی . پدې توګه کېدی شي ووايو چې سرحدونه

ketabton.com - The Digital Library

هیڅکله هم طبیعي او همیشنې نه دي . ددوو هېوادونو د وګړو له خوا ټاکل کیږي او هر وخت چې وغواړي بدلون ورته ورکولی شي . د بېلګې په توګه هغه ټرون چې په همدې اړوند د المان (German) او شوروي اتحاد (USSR) تر منځ په ۱۹۳۹م کې لاسلیک شوی و د قانوني والي سره سره دواړو هېوادونو دا سرحد همیشنی نه ګڼلو او یا دامور(Amore) سیند چې د چین (China) او شوروي اتحاد (USSR) تر منځ د سرحد په توګه ټاکل شوی او قانوني پراو یې هم تیر کړی ولی بیا هم چین ته د منلو وړنه دی .هغه مهال چې د سرحدونو په ټاکلو کې درې لومړني پړاوونه سرته رسیدلي وي دغه ډول سرحدونو ته ډیفکتو (Defacto) سرحدونه وایي.

مګر د دیجور (Dejure) یا قانوني بڼه هغه وخت نیسي چې څلورم پړاو یعنې وروستي تصویب پړاو (Ratification) یې هم تېر کړی وي ، همدارنګه د اوربند موقتي کرښې د دیفکتو په بڼه وي د بېلګې په توګه د شمالي او جنوبي کوریا ګانو (Koreas) د عرض البلد ۳۸ درجې چې دواړه کوریاګاني یو له بل څخه بېلوي ، دا کرښې سره ددې چې وروستنی او قانوني پړاو (Ratification) یې نه دی تېر کړی ولې بیا هم د دواړو هېوادونو تر منځ د سرحد په توګه منل شوی . په همدې ترتیب د شمالي عرض البلدونو ۲۱ درجې د مصر او سوډان تر منځ ګډ سرحد جوړوي چې البته ټول قانوني پړاوونه یې هم تېر کړي چې دې ډول سرحد ته دیجور (Dejure) سرحد ویل کېږي. مګر دغه سرحدي کرښه په ختیځو برخو کې د مالدارانو او کوچي قبیلو په موجودیت سره په دواړو هېوادونو کې د اصلي تګلارې څخه انحراف کوي چې معمولاً ددې ځای اوسیدونکو کوچي قبیلو ته هیڅ د منلو وړ نه دی چې دې ډول شکل ته یې دیفکتو (Defacto) ویل کېږي. پس ویلی شو چې نن ورځ په نړۍ کې زیاتره سرحدونه د دیفکتو (Defacto)په بڼه دي. لکه چې پوهېږو د دوو هېوادونو تر منځ سرحدونه زیاتره د یوې کرښې په بڼه ښودل کېږي مګر بیا هم ځینې نورسرحدونه لکه چې د عربستان Saudi Arabia او عراق Iraq تر منځ لیدل کېږي او یا په پخوا وختونو کې د عربستان او کویت په منځ کې موجود وو او په منځ کې یې ناپیلې سیمه

ketabton.com - The Digital Library

چې په حقیقت کې دواړه هېوادونه یې د وېش برخه کې هوکړې ته نه دي رسیدلي رامنځته شوي (۵ : ۹۲، ۹۳).

پدغه سیمه کې د پترولو سرچینو د کشفیدو وروسته د واړو هېوادونو پریکړه وکړه تر څو هر هېواد ۵۰ په سلو کې ددې سیمې د پترولو پلاس راوړنې خپلې کړي دواړو یادو شوو هېوادونو په پاې کې د (۱۹۶۹ او ۱۹۷۱م) کلونو په اوږدو کې داسیمه په دوه برخو ووېشله چې شمالي برخه یې په کویت او سهیلي برخې یې په عربستان پورې تړاو وموند.

په ځینو سیمو کې د دیفکتو سرحدونو د تثبیت لپاره سرحدي کرښې د دوو موازي کرښو په وسیله ښایي ددې کرښو په منځ کې معمولاً نا پیلې سیمې موجودې وي چې دیو هېواد تر اغیزې لاندې هم نه وي .

همدارنګه د ۳۸ عرض البلد درجې یعنې د دواړو کوریاګانو تر منځ سرحد د ۱۷ عرض البلد درجې یعنې د دواړو ویتنامونو Vietnams تر منځ سرحد د دواړو ویتنامونو د پیوستون څخه وړاندې ، د ختیځ او لویدیځ برلین تر منځ سرحد او همدارنګه د بیت المقدس د ښار د دواړو برخو تر منځ سرحد (د ۱۹۶۷ م کال د جنګ څخه وړاندې) ددې ډول سرحدونو د بېلګو څخه دي چې البته ددې ډول سرحدونو ټول ډولونه د نظامي موخو له مخې او له جنګ څخه د مخنیوي لپاره رامنځته شوي (ایضاً : ۹۴، ۹۵).

ketabton.com - The Digital Library



(۱.۵)نقشه : د شمالي او جنوبي کوریاګانو ترمنځ کرښه.

http://www.google.com.af/search?dcr=0&biw=1366&bih=677&tbm=isch&sa=1&ei=wIG8Ws6HBaSr6AT1mb_0.7DC5Ybn6Kgw

۴.۵. دسرحدونو ډولونه

کولی شو چې سرحدونه د څو اړخونو له مخې وېش کړو.لومړی داچې سرحدونه د وچې ، سمندرونو او فضاء بیا د وچې سرحدونه کولی شو چې پر ځمکې او وګړو د تطبیق له مخې کټګوري کړو او بل یې له طبیعي پدیدو څخه د ګټې اخېستنې له امله وښایو .

۱.۴.۵. دپیدایښت او پروګړو د تطبیق له مخې سرحدونو ډولونه

الف- هغه سرحدي کرښې چې په یوه سیمه کې د انساني ټولنو له میشت کیدو څخه وړاندې کښل شوې وي : دا ډول سرحدونه دسرحدونو غوره بېلګې ګڼل کېږي ځکه کله چې ورو ورو او په تدریجي توګه انساني ټولنې ددې ډول سرحدونو په څنډو او لمنو کې میشت

ketabton.com - The Digital Library

کېږي نو ځانونه د سرحد د قوانينو سره برابروي چې له همدې امله دا ډول سرحدونه هيڅ ډول ستونزې نه راولاړوي غوره بېلګه يې د الاسکا (Alaska) او کاناډا (Canada) تر منځ سرحد دی ، ځکه کله چې په ۱۸۲۵– ۱۸۲۷م کلونو کې د روسانو او انګريزانو تر منځ ددې کرښې د ويستلو پريکړه کيده هيڅا په دغو سيمو کې ژوند نه کولو ، دا ډول سرحدونه د انتي سيدنت (Anticedent) سرحدونو په نوم يادېږي . بله بېلګه يې د امريکا د متحده ايالاتو (USA) او کاناډا (Canada) تر منځ سرحد دی چې په ۱۷۸۲–۱۸۴۶م کې ټاکل شوی (۵ : ۸۸).



(۲.۵) نقشه: د کاناډا او الاسکا ترمنځ کرښه.

http://www.google.com.af/search?dcr=0&biw=1366&bih=641&tbm=isch&sa=1&ei=0o-8WvyNLKSg6ATgkILIBA&q=%...1c.1.64.psy-ab..0.0.0....0.oyWM5pDhs-k

ب ـ هغه سرحدونه چې له وګړو څخه په ګڼو سيمو کې غزيدلي وي خو د سيمو کلتوري ارزښتونو ته په کې درناوې شوی وي : دا ډول سرحدونه د سبسي کونت (Subsequent) په نوم يادېږي ددې ډول سرحدونو غوره بېلګې د زياتره اروپايي هېوادنو تر منځ ليدل کېږي او بله بېلګه يې د هند او پاکستان له ازادۍ او وېش (۱۹۴۷م کال) څخه وورسته د دواړو هېوادونو تر منځ سرحد دی (۹ : ۱۹).

ج . هغه سرحدونه چې ديوې سيمې د اوسيدونکو کلتوري ارزښتونو ته د درناوي پرته يواځې د نړيوال سياست په پايله کې کښل شوي وي : ددې ډول کرښو په غزولو سره هغه وګړي چې د يوې ژبې، يو کلتور اويو نژاد څخه وي او کلونه کلونه يې يو له بل سره ديو

ketabton.com - The Digital Library

کلتور په درلودلو سره لکه د ورونو په څیر ژوند کړی وي په ببلا ببلو هېوادونو پورې تړل کېږي چې د افریقایي هېوادونو تر منځ زیاتره سرحدونه او د افغانستان په ختیځ او سهیل ختیځ کې د دیورند Durand سرحدي کرښه یې غوره ببلګې دي. په بله ژبه زیاتره هغه سرحددونه چې له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته په ببلا ببلو لویو وچو کې د استعماري هېوادونو په وسیله منځته راغلي ددې ډول سرحدونوڅخه ګڼل کېږي. همدا وجه وه چې په زیاترو ازادو افریقاي هېوادونو کې سرحدي کشمکشونه له غوره سیاسي مسایلو څخه دي چې د توګو ، ګانا ، بنین ، نائجریا او کامرون هېوادنو سرحدونه ددې ځای د اوسیدونکو ژبې او نژاد ته په نه پاملرنې سره ټاکل شوي دي او همدا لامل دی چې د ګاونډیو تر منځ یې همیشني مخالفتونه موجود دي. ددې ډول سرحدونو نورې ببلګې د حبشې شمال ختیځ سیمې او د جیبوتي د جمهوریت تر منځ سرحد دی چې د سومالې د وګړو په وېش تمام شوی . همدارنګه د کینیا او تانزانیا تر منځ سرحد چې د ماسائي (Masai) د وګړو وېش په کې رامنځته شوی . په همدې ترتیب د زایر او کانګو هېوادونو تر منځ د کانګو د وګړو وېشل ددې ډول سرحدونو ببلګې دي . په همدې ډول د نائیجریا په شمال دموریتانیا په جنوب ، په کلمبیا ، د مکسیکو په شمال ، د برما شمال ختیځ او شمال لویدیځ ، د عراق شمال ختیځ او یو شمېر نورو ختیځو اروپایي هېوادونو کې ددې ډول سرحدونو ببلګې لیدل کېږي. دا ډول سرحدونه د تحمیلي سرحدونو Superimposed په نوم یادیږي (۵ : ۹۴)او (۹ : ۱۹،۲۰).

۲.۴.۵. طبیعي عوارضو سره د تطابق له پلوه سرحدونه

هغه سرحدونه چې له فزیکي پدیدو څخه په ګټې اخېستنې سره ټاکل کېږي او د طبیعي سرحدونو په نوم یادیږي . ددې ډول سرحدونو څخه ګټې اخېستنې له ډېر پخوا څخه د هېوادونو په منځ کې رواج درلود. ددې ډول سرحدي کرښو د ټاکلو اصلي لامل دادی چې د سرحدونو په نښه کولو او د تثبیت پرلاوونه یې په اسانۍ سره بشپړېږي ، همدارنګه ددې ډول سرحدونو دفاعي ارزښت هر وخت او بیا په ځانګړې ډول په پخوا وختونو کې زیات و.لیکن باید څرګنده شي چې دې ډول سرحدونو ته د طبیعي سرحدونو اصطلاح ورکول

ketabton.com - The Digital Library

ناسمه ده چې ګويا دا ډول سرحدونه په طبيعي بڼه رامنځته شوي او د بدلون وړنه دي . ددې ډول سرحدونو اصلي رول دا وي چې د دوه هېوادونو د قلمرو سيمې يو له بل څخه بېلوي او عادتاً ددې ډول سرحدونو د وګړو تر منځ اړيکې او پيوستون کم ليدل کېږي. پدې ډول سرحدونو کې د وګړو د تېريدو راتريدو لپاره يو يا څو ځانګړي معبرونه يا د تيريدو ځايونه ټاکل کېږي چې همدا معبرونه په اسانۍ سره دفاعي وړتيا هم لري . او په همدې ترتيب ددې ډول سرحدونو څارنه او کنترول د لږو لګښتونو په ګاللو سره کېږي دا ډول سرحدونه غوره او دوام لرونکي سرحدونه ګڼل کېږي ځکه چې سربيره پر دفاعي او نظامي ارزښت يې د نقشې پرمخ ددې ډول سرحدونو ټاکل او تثبيت اسانتياوې لري. پردې ټولو غوره والو سربيره کيدای شي دا ډول سرحدونه ځينې ستونزې هم ولري د بېلګې په توګه شونې ده چې د غرونو په درو کې ځينې وګړي استوګن وي هغه وخت چې دا ډول سرحدونه ددې فرهنګي او ټولنيزو مرکزونو څخه تېريږي کيدی شي چې ستونزې راولاړې کړي چې همدغو غرنيو وګړو ته د منلو وړ نه وي د بېلګې په توګه له چين (China) او هند (India) تر منځ د تبت (Tibit) د سيمې او د همالیا د لړيو منځنۍ سرحدي کرښه (مکمهان) چې په ۱۹۱۴م کې تثبيت شوی وه ليکن هيڅ وخت په سيمه کې په نښه نه شوه(۵ : ۸۹، ۹۰)

په همدې ترتيب د الاسکا (Alaska) ايالت او کاناډا (Canada) او همداسې د چيلي (Chile) او ارجنټاين (Argentina) تر منځ سرحدونه چې د انديز د لړيو په غرنۍ سيمه کې دي، د دواړو هېوادونو د ۱۸۸۱م کال تړون پر بنسټ د سرحدي کرښو ټاکلو لپاره له جهيلونو کانالونو او سيندونو څخه ګټې واخيستل شوې او ددې جهيلونو ، کانالونو او سيندونو د ګټې اخيستلو غوره والی يې د غرونو په پرتله له دوه اړخونو څخه وښودلو . يو دا چې ددې پديدو پلن والی د غرونو په پرتله کم وي او د نقشې پر مخ نښه ټاکل کېږي او بله دا چې د ځمکې په مخ يې په نښه کول اسانه بريښي ، ددې ډول سرحدي کرښو په ټاکنه کې د سيند د بستر ژور ترينه سيمه (Thalweg) او يا د سيند منځنۍ برخه (Median) د سرحد په بڼه ټاکل کېږي (۹ : ۲۱) .

ketabton.com - The Digital Library

له ۱۹۲۰ز څخه راورسته دا پریکړه وشوه چې د سیندونو منځنی بستر د سرحد په توګه باید وټاکل شي. خو پټه دې نه وي چې پدې وروستیو کې د تکنالوژۍ پرمختګ او ورځخه د سیندونو له اوبو څخه په ګټې اخیستنې لکه د اوبه خور سیستم ، د برق پلاس راوړلو، کشتۍ چلولو او داسې نورو موخو کې یې د سیندونو ارزښت او ورځخه یې د ګټې اخیستو پروسې ګړندۍ کړې او د سرحدي کرښو په توګه د سیندونو ټاکلو زیاتې ستونزې او باریکۍ راپیدا کړې. له بلې خوا دا چې دسیندونو د اوبو اندازه او تګلارې د بدلون په حال کې وي او ثابتې نه وي نو نشي کولی چې د یو ثابت سرحد په توګه رول ولوبوي . په زیاترو سیندونو کې د اوبو بهیدل داسې وي چې له یو لوري په ساحلي ځمکو ورشیله کېږي او بلې خوا ته خپل بستر پرېږدي چې دغه ډول کړنې په جغرافیه کې د اکریشن) (Accretion په اصطلاح یادیږي . د افغانستان په شمال کې د آمو سیند یې غوره بېلګه ده ، همدارنګه ځینې وخت سیندونه په وچو غاړو کې خپلې تګلارې ته پوره بدلون ورکوي نو که چېرته دغسې سیندونه د دوو ملکونو تر منځ سرحد وټاکل شي نو زیاتې ستونزې به وزیږوي . د سیندونو دا ډول ناڅاپي بدلون اولژن (Avulsion) بلل کېږي چې د هلمند Helmand سیند یې د افغانستان Afghanistan او ایران Iran تر منځ ددې ډول سرحد غوره بېلګه ښیي(۵: ۹۱، ۹۲).

همدارنګه هغه پنځه ګوني جهیلونه چې د امریکا متحده ایالاتو (USA) او کاناډا (Cananda) تر منځ سرحد جوړوي .دا جهیلونه ددواړو هېوادونو په منځ کې په دوه برابرو برخو وېشل شوي دي ، په همدې ترتیب په افریقا کې د کاریب (Karib) او همدارنګه د ویکتوریا جهیلونه (Victoria lake)د پورته سرحدي کرښو په بڼه ټاکل شوي دي. برعکس ځینې نور جهیلونه لکه تي تي کاکا او چاد کې د طول البلد او عرض البلد کرښې او یا هغه کرښې چې د قطب نما په مرسته رسم شوې وي د سرحدونو په بڼه ټاکل کېږي چې په دې ډول ټاکنو کې ددې جهیلونو څخه هېوادونه په نا برابره توګه ګټه اخلي(۹: ۲۳).

ketabton.com - The Digital Library

ځنګلونه او جبه زارې هم هغه طبیعي پدیدې دي چې له پخوا څخه انساني ټولنو د بېلتون لامل ګرځېدلي او له همدې امله عادتاً د سرحدونو په ډول منل شوي. چې د بېلګې په توګه يې په افریقا کې صحرای اعظم (لوې دښتې) څخه یادونه کولی شو (۵: ۹۳).

همدارنګه د اروپا د شمال ختیځ ځنګلونه چې له شوروي اتحاد (USSR) څخه د فنلینډ(Finland) او لتواني (Lithuania) له جمهوریت څخه د پولینډ (Poland) د بېلتون لامل ګرځیدلي . اګر چې د جبه زارو پراخوالی ډېر زیات نه وي ولې بیا هم دا ډول فزیکي پدیدې هم د سرحدونو په توګه تر ګټې لاندې نیول شوي . د بېلګې په توګه د بلجیم (Beljium) او هالینډ (Netherland) تر منځ د میوز (Meuase) او راین د سیندونو لاندینۍ وادي چې یوه جبه زاره ده د دواړو هېوادونو تر منځ په سرحد منل شوې.

همدارنګه د دوو نړیوالو جګړو په منځ پراو کې د پولینډ (Poland) سره د شوروي (USSR) د سرحدونو په ټاکلو کې له جبه زارو څخه ګټې اخیستل شوی . ددې ډول سرحدونو ټاکل زیاتره وخت او بیا په ځانګړې توګه هغه مهال چې د همدې جبه زارو څخه اقتصادي په لاس راوړنې شونتیا پیدا کړي ، نو دغه وخت د هېوادونو تر منځ د لانجو او ستونزو د پیدا کیدو لامل ګرځي. د بېلګې په توګه دهند او پاکستان په سرحدونوکې د (Ran of Catch سیمه چې په ۱۹۶۵م کال کې د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي ناندریو زیږنده شوه، تر څو چې په ۱۹۶۸م کې دا ناندریزه مسئله حل وفصل شوه (۹ : ۲۳،۲۴).

پټه دې پاتې نه وي چې په زیاترو هغو ملکونو کې چې د سرحدي کرښو په ټاکلو کې له طبیعي پدیدو څخه د ګټې اخیستنې شونتیا نه وي نو د طول البلد او عرض البلد له کرښو څخه د سرحدونو د ټاکلو په موخه کار اخلي ، له دې ډول سرحدونو څخه لومړی ځل په (۱۷۹۵م) کې د فلوریدا (Florida) په سیمه کې د اسپانې(Spain) او د امریکا متحده ایالاتو (USA) تر منځ ګټه واخیستل شوه چې دې ډول سرحدونو ته هندسي سرحدونه وایي . اګر چې دا ډول سرحدونه د ځمکې او نقشې پرمخ په اسانۍ سره د ټاکلو وړتیا لري مګر دا چې عادتاً د هغې سیمې د اوسیدونکو اقتصادي ، تولنیزې او فزیکي وضعې ته په کې د

ketabton.com - The Digital Library

درنښت پرته ټاکل کېږي نو زياتره مهال د ناندرو د پيدايښت خطر په کې وي . ددې ډول سرحدونو غوره بېلګه دشمالي عرض البلد ۴۹ درجې کرښه ده چې د کاناډا (Canada) او د امريکا متحده ايالاتو (USA) تر منځ په ۱۸۱۸م کال کې د سرحدي کرښې په توګه ومنل شوه . همدارنګه د هندسي سرحدونو نورې بېلګې د امريکا دمتحده ايالاتو په دننه ، استراليا، افريقايي هېوادونو، منځني ختيځ او دې ته ورته په نورو سيمو کې ليدل کېږي(۹: ۹۴) .

په دې وروستيو کې سرحدونو (پولو) خپل ماهيت له لاسه ورکړی دی او ځای يې مرزونو (کرښو) ته پرېښی دی ، نو لازمه به وي چې د سرحدونو (پولو) پر ځای په مرزونو (کرښو) ړنا واچوو.

۵.۵. د پولې او کرښې مفاهيمو پېژندل

۱.۵.۵. د سرحد او مرز د تعريف تاريخي بهير

په برهان قاطع کې راغلي دي : ((در برهان قاطع امده است" مرز به فتح اول و سکون ثاني و زای نقطه دار)) هغې ځمکې ته وايي او ويل شوي دي چې د مربع په بڼه جوړه وي، څنډې يې راجيګې وي او په منځ کې يې څه کښت کوي ، د سرحد په معنی هم راغلی .

يادده شوې توضيح د برهان قاطع له فرهنګه ، په فارسي ژبه کې له پخوانيو تعريفونو څخه ده ، او هماغه د سرحد "د بېلتون کرښه" معنی يې په اوستايي او پهلوي متنونو کې راغلې . د مرز اصطلاح او د هغې مترادفه "سامان" د دوو ځمکو منځ معنی لري . همدارنګه نورې اصطلاح ګانې لکه "کنارګ" هم په متنونو کې لېدل کېږي چې ټولې د مرز په معنی کارول شوي . د پهلوي په متنونو کې د "کښ" کلمه د مرز په مفهوم راوړل شوې ، چې هماغه د سرحد او دوو ځمکو ترمنځ د بېلتون په معنی بدل شوې . دکشور کلمه هم له دوو برخو يعنې "کښ" د مرز او "ور" د لرونکي په معنی ترکيب شوې . په داسې حال کې چې مرز په فارسي کې د" سامان "له مفهوم څخه اخوا نه وراوړي او هغه خط (کرښه)دی چې دوه هېوادونه يا دوه

ketabton.com - The Digital Library

سیاسي واحدونه سره بېلوي . "سرحد "په حقیقت کې د نهایي یا اخیرني مفهوم میزان یا اندازه جوړوي ، په داسې حال کې چې "مرز" د فرضي کرښې ښکاره کېدونکی ځای دی چې یو له بل سره دوه ځواکونو لخوا د سیاسي ـ نظامي فشارونو په پایله کې منځته راځي . "سرحد" د دوه سیاسي ـ اقتصادي خپلواک او له یو بل څخه بېل موجودیتونو د تماس سیمه ده چې په ډاډ سره کولی شي د یو حکومت د نفوذ او د بهرونۍ قدرت محدوده وګڼل شي ، او یوه سرزمیني پدیده ده چې له یو مرز څخه ډیره پراخېږي او د یوې سرحدي سیمې حالت غوره کوي (۳۲ : ۴۲).

د سرحد مفهوم د بېلابېلو ملتونو په نزد توپیر کوي . ژان ګاتمن اشاره کوي : د ځینو ملتونو په آند سرحد په محیط کې هغه کرښه ده چې باید ورڅخه ساتنه او دفاع شوې وای . د "طبیعي سرحد "فرانسوي مفهوم شاید تردې ډیر غوره وي ، د نورو ملتونو په نزد سرحد هغه راچاپېره سیمه وه چې د ټولنیزو او اقتصادي بدلونونو سبب کېده ، چې د ملت د موجودیت لامل او د ملت د ګټو په خوندیتوب کې اغېزمنه ګرځېده .

سرحد د ځمکې پرمخ هغه پدیده ده چې پراخوالی یې له یو خط (کرښې) څخه پلن او د سیمې حالت غوره کوي ، سرحد ښایي د موانعو لکه غر ، سیند ، دښته ... او داسې نورو لرونکی وي . دا پدیده د اوږدوالي له مخې معلومه وي ، مګر پلنوالی یې ښایي ټاکلی حد و ،نه لري او د هېوادونو ترمنځ د قراردادونو او د بېلابېلو موخو له مخې ښایي معینې اندازې ورته پام کې ونېول شي . مرز د دوو هېوادونو ترمنځ د بېلوالي کرښې ته وایي . د وروستني تعریف پر اساس د ځمکني ، سمندري ، هوایي او تحت الارضي قلمروونو وروستی حد د هر هېواد لپاره مرز ګڼل کېږي . مرز د یو هېواد لپاره د ګاونډي هېواد د بېلتون او پېژندلو تر ټولو غوره لامل دی .

نوې دنیا د سیاسي جغرافیې پوهان په دې آند دي چې "مرز "نوی مفهوم دی او په اروپا کې د صنعتي انقلاب وروسته منځته راغلی ، هغوی په دې باور دي چې دقیقو کرښو ته اړتیا په نوولسمه پیړۍ کې ولیدل شوه (۱۰ : ۳،۴).

ketabton.com - The Digital Library

۲.۵.۵. دسرحد اومرزتوپیرونه

مرزونه په ټولیزه توګه د یو سیاسي نظام یا حکومت د حدوداتو او قلمرو د حاکمیت او مالکیت ټاکونکي دي، او هېوادونه یو له بله تمیز او بېلوي. په تېرو وختونو کې هېوادونه یو تر بله په مرزي کرښو نه بېلېدل، بلکې په سرحدونو یا سور لرونکو پولو یو له بله لېرې واقع او پېژندل کېدل. سرحدونه جغرافیایي ـ سیاسي سور لرونکي سیمې وې او لزوماً د هېوادونو ترمنځ تفکیک کوونکې نه وې. دا سرحدې سیمې ددې ترڅنګ چې د دوو هېوادونو محدودې یې یو له بله بېلولې د هېوادونو حرص (لالچ) یې هم تحریکولو (پارولو) چې په پایله کې به یې په اشغال لاس پورې کولو. ځینې وختونه سرحدونه د طبیعي عوارضو او پدیدو لکه غرونو، سیندونو، دښتو، ځنګلونو ... او داسې نورو لرونکي وو، چې د یو طبیعي مانع په توګه یې عمل کولو او ځینې وختونو کې به یې یوه سرحدي سیمه د حایل سیمې په توګه وه، چې د دواړو ګاونډیو هېوادونو د ټکر او تماس مانع کېده (۱۰ : ۲).

د نوولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د اروپایانو د امپریالستي دوران د پراختیا په اوج کې سرحدونه د سیاسي خبرو اترو یوه شریکه برخه او د دوه هېوادونو ترمنځ د سیاسي وېشنې ښودونکي وو. نن ورځ مرزونه نوې بڼه لري، مرزونه د نړیوالو جریانونو، د انساني استوګنځایونو او د اقتصادي پراختیا تر اغېز لاندې د سرحدونو ځای نېوونکي شول، هغه سرحدونه چې په ځیرکتیا د کرښو په ډول ټاکل شوي دي. په هر حال اوس هم له دواړو اصطلاحګانو څخه په جغرافیه کې ګټنه کېږي، مګر د مرز اصطلاح په څرګنده توګه د یو عام نوم په ډول د جغرافیایي وېشنو د تشریح لپاره منل شوې (۸ : ۱۸۴).

تاریخي ننبې رابنیي چې د سرحد مفهوم په پخوا وختونو کې د هغه په پرتله چې نن ورځ ورڅخه استنباط کېږي توپیر لري. په پخوا وختونو کې به معمولاً سرحد د یوې کرښې په بڼه نه و او یوې پراخې سیمې به د دوو امپراتوریو ترمنځ د بېلتون حد جوړولو، اصلاً دا ډول سرحدي سیمې د یوې امپراتوري د پرمختګ د امکان وروستی حد په ګاونډي سیمه کې تمثیلوي؛ که څه هم په دې اړه هم استثنات موجود وو لکه د چین او روم پخوانیو امپراتوریو کې د هغو سرحدونه یې غوره بېلګه ده. سره له دې چې دا سرحدونه د هېوادونو ترمنځ د

ketabton.com - The Digital Library

مساوي حقوقو او ارزښت لرونکي نه و، به بله ژبه دا ډول سرحدونه د رومیانو او چینایانو لپاره هغه کرښې وې چې خپل مدنیت یې د نورو له بربریت او وحشت څخه پرې ښلولو. همدارنګه د انګلستان په شمال او د جرمني په جنوب کې د دیوال جوړول د سرحدونو نورې ښلګې وې (۴ : ۷۳).

سرحدونه اوسرحدي کرښې تل د پوهانو لپاره په سیاسي جغرافیې کې د خوښې وړ موضوعګانې دي. باید وویل شي چې د دواړو اصطلاحګانو ترمنځ روښانه توپیر نه لیدل کېږي. د د۱۹مې پېړۍ په وروستیو او د ۲۰مې پېړۍ په لومړیو یعنې د اروپایي استعمار د اوج په کلونو کې د Frontier یا سرحد اصطلاح د هېوادونو ترمنځ د سیاسي وېشنې ښودلو لپاره یا د هېوادونو د اوسېدونکو د استوګنې ځایونو د حدوداتو د ټاکلو په موخه د هېوادونو ترمنځ تر ګټنې لاندې راغلې وه. نن ورځ په نړۍ کې د استوګنې ځایونو او اقتصادي سیستم کې د بدلون له املې سرحدونه (Frontiers) په سرحدي کرښو (Boundaries) چې د هېوادونو حدودات په دقیقه توګه ټاکي تبدیل شوي. که څه هم دا دواړه اصطلاحګانې نن هم په جغرافیه کې تر ګټنې لاندې دي مګر په جغرافیه کې د سیاسي وېش ښوونې او ګټې وړ مروجه او معمول اصطلاح په اوسني وخت کې سرحدي کرښه (Boundary) ده (ایضاً : ۸۱).

دمرز او سرحد اصطلاح په پراخه توګه د جغرافیه پوهانو او نورو لخوا د سیاسي وېشنو لپاره په ځانګړي توګه په ملي سطحه ترګټنې لاندې راځي. په دې اړه ددې دواړو ترمنځ توپیر پیداکول ستونزمن دي. د۱۹مې پېړۍ په وروستیو او د ۲۰مې پېړۍ په لومړیو کې د اروپایانو د امپریالستي پراختیا د اوج په وخت کې، سرحدونه د سیاسي خبرو اترو مشترکه برخه وه او د دوو هېوادونو او یا دایمي وګړو د استوګنو ځایونو د وېشنې ښودونکي وو. نن ورځ سرحدونه نوې بڼه لري، سرحدونه په مرزونو چې د کرښو په توګه ټاکل شوي ،ځای ناستي دي. که څه هم ددې دواړو اصطلاحګانو څخه په سیاسي جغرافیې کې ګټه اخېستل کېږي مګر د مرز اصطلاح د یو عام نوم په توګه د جغرافیایي وېشنو د تشریح لپاره منل شوې ده (۳ : ۱۸۴). همدارنګه د نیومن په آند چې مرزونه د سرحدي سیمې ځای ناستي دي (۶ : ۲).

ketabton.com - The Digital Library

ددې لپاره چې د سیاسي کرښو (مرز) او سیاسي پولو (سرحد) ترمنځ په دې وروستیو کلونو کې ډیرو توپیرونو ته د سیاسي جغرافیې پوهان قایل شوي دي له همدې امله غواړو چې د کرښو (مرزونو) توضیح هم په لاندې څو کرښو کې وکړو.

۳.۵.۵. سیاسي مرزونه

انسان د خپلو کارونو د ترسره کولو او ځانګړو کولو په موخه د خپلې استوګنې په وروستیو برخو یا د چاپیریال په وروستیو برخو کې د سیاسي کرښو تاکلو ته اړتیا لري، ددې مفهوم پراختیا موندونکې بېلګه چاپیره کرښه ده، چې د یو ملت د چارو وروستۍ پراخه شوې سیمې ځانګړې کوي او سیاسي اړخ مومي چې سیاسي کرښه یعنې مرزورته ویل کېږي. کولی شو د یوې ځمکې (هېواد) وروستۍ څنډې (حاشیې) په درې طریقو سره وتاکو.

۱. کرښه (مرز) : چې د انګلیسي اصطلاح (Boundary) سره مترادفه ده، او په خلا یا تشه کې د یوې کرښې څخه چې د "موږ" مفهوم له "هغوی" څخه بېلوي عبارت ده . ددې موضوع د ښه روښانتیا لپاره لاندې انګلیسي جمله لیکو.

Boundary is a line in space for separating the concept of us from them.

۲. پوله (سرحد) : چې د انګلیسي ژبې (Prontier) اصطلاح سره ورته ده، او عبارت له هغې نسبتاً پراخې یا پلنې سیمې څخه ده چې د دوو هېوادونو یا دوو ځمکو په اخېرنۍ برخه کې واقع وي او دوه ګاونډي هېوادونه نه وي توانېدلي چې ځانګړې کرښه (مرز) هلته رامنځته کړي . نن ورځ د زیاتو هېوادونو په منځ کې د سیاسي کرښې (خط مرزی) په تاکلو سره د پولې (سرحد) مفهوم عملاً نشته، خو داسې ښکاري چې دې مفهوم خپل ځای "حایلو سیمو" مفهوم ته پرېښی وي.

۳. څنډه : چې په انګلیسي کې ورته (Border) او په فارسي کې ورته (سامان) وایي او د یو قلمرو وروستۍ څنډه ده چې د کرښې دواړو غاړو ته پرته وي . د سامان (څنډې) اصطلاح

ketabton.com - The Digital Library

په فارسي کې د استوګنې ملکیت، باغ او یا د کرنې لپاره کاروي، او د مالکیت یا محدودې څنډې ورځخه موخې دي (۳۲ : ۴۶، ۴۷).

۵ . ۶. د کرښو ډولونه

ځینې انګلیسي کرښه کښونکي لکه لارد جورج کرزن(Lard George Curzon) او سر هنګر فورد هولډیچ(Sir Hongerford Holdich) چې د ایران او هند (اوسني پاکستان) کرښې یې کښلې د کرښو (مرز) په واقعیت لرلو سره معتقد وو ، او طبیعي کرښې یې د کرښو غوره کرښې ګڼلې . همدارنګه امریکایي ریچارد هارتشون کرښه (مرز) په انساني نړۍ کې اړینه ګڼله ، او کرښې یې په پنځو ډولونو په لاندې توګه وېش کړي .

۱ـ هغه کرښې چې د مهاجرینو لخوا له استوګنې پرته سیمو کې راپیدا شوې ، چې ورته (Pioneer) وایي.

۲. هغه کرښې چې په طبیعیت کې د وګړو تر استوګنې مخکې شتون لري یعنې (Anticedent) کرښې .

۳. هغه کرښه چې په نوبت سره د یو هېواد یا یو ملت په څو ټوټو کېدو او یا وېش تمامې شوې وي او په تطبیقي توګه رامنځته شوې وي ؛چې (Subsequent) کرښې یې بولي .

۴.تحمیلي کرښې لکه د اروپایانو لخوا چې د نړۍ په نورو برخو کې د پیدایښت په لومړیو وختونو کې تحمیل شوي لکه د ډیورنډ کرښه ؛ چې (Superimposed) ورته هم ویل کېږي .

۵. ترک شوې کرښې یا (Relict) : هغه غوره نېوکه چې د کرښو په ډلبندۍ کې پر هارتشون وارد ده ، هغه داده چې هره کرښه چې متروکه وي ؛ نور خو کرښه نه ده . په اوسنۍ (۲۱مه) پېړۍ کې د کرښې د مفهوم په کارولو ښایي هغه ډلبندي چې د هارتشون لخوا شوې د سیاسي او جغرافیایي ټینګ منطق څخه چندان برخمنه نه وي . ښایي په اوسنۍ سیاسي نړۍ کې کرښه (مرز) په لاندې توګه ډلبندي کړو (۳۲ : ۵۱).


ketabton.com - The Digital Library

۷.۵. د کرښو نوې ډلبندي

لکه چې وویل شول د دوو خپلواکو محدودو د تفکیک لپاره د کرښې (مرز) کلمې د کارونې تاریخ ډیر پخوانی نه دی، دا اوسنۍ د کرښې کلمه د سرحد ځای ناستې ده. نن ورځ د بېلابېل ډوله کرښو شاهد یو چې ځینې یې په لاندې توګه پېژنو.

۱.۷.۵. طبیعي کرښې

دا ډول کرښې د طبیعي یا جغرافیایي عوارضو لکه غر، د ړې (لګډې)، رودخانې یا د سیندونو په وسیله منځته راغلې وي. په همدې توګه طبیعي کرښې یا د وچې کرښې د غرونو او درو په امتداد، بیدیاوو په منځ کې، د کرنیزو ځمکو په امتداد او داسې نورو کې جوړېږي، او اوبزې کرښې د سیندونو یا سمندرونو په امتداد کې ټاکل کېږي. سیندنۍ کرښې په دوه ډوله دي. د کشتۍ چلولو وړ سیندونو کې د نړیوالو منل شوو مقرراتو پر اساس د سیندونو د تالوګ (Thalweg) یا (قعر الماء) یعنې د سیندونو ژورې برخې په امتداد ټاکل کېږي، لکه په شط العرب (اروند رود) اوبو کې د ایران او عراق سیندنۍ کرښه چې د ۱۹۷۵م کال د پرېکړې پر اساس ټاکل شوې ده.



(۱.۵) انځور: د تالوګ پر اساس اوبنۍ کرښه.

http://www.google.com.af/search?dcr=0&biw=1366&bih=598&tbm=isch&sa=1&ei=23G3Wq6QLeqF6ASezqD4Bg&q=Thalweg&oq=

ketabton.com - The Digital Library

د کشتۍ چلونې په نه وړ اوبو کې کرښه (مرز) د غاړې هېوادونو د پرېکړې پر بنسټ د سیندونو د څنډو پر امتداد یا د اوبو منځنۍ کرښې (وسط الماء) په امتداد ټاکل کېږي (۳۲ : ۵۲).

۲.۷.۵. فرهنګي کرښې

دا ډول کرښې معمولاً د بېلابېلو فرهنګونو بېلوونکې وي، پرته له دې چې حتمي په سیاسي بڼې منځته راشي او د جغرافیایي صفحې پر مخ ترسیم شي، مګر که چېرته د بېلابېلو فرهنګونو محدوده له یو بل سره د بېلو ملتونو محدودې سره تطبیق پیدا کړي، سخته ده چې د هغو ملتونو جغرافیایي-سیاسي بېلوونکې کرښې د هغو تر منځ فرهنګي کرښې وګڼل شي.

۳.۷.۵. سیاسي کرښې

دا ډول کرښې سیاسي فلسفې یا ایډیالوژیانې یو له بله بېلوي. یا په بله ژبه سیاسي کرښې له یو سیاسي متشکل واحد څخه د نورو سیاسي متشکله واحدونو د بېلولو او پېژندلو غوره لاملونه دي. سیاسي کرښې په یو هېواد کې چې د هر ډول طبیعي وحدت لرونکې هم نه وي؛ سیاسي وحدت رامنځته کوي (ایضاً : ۵۵).

۴.۷.۵. قومي کرښې

دا ډول کرښې یو له بل څخه بېل قومونه بېلوي، په هره ځمکه کې د یو قوم جغرافیایي پراخه وروستۍ محدوده له نورو قومونو څخه دهغه قوم بېلوونکې کرښه ده. شونې ده دا ډول کرښې پر فرهنګي کرښو تطبیق شي او یا د ذهنیت له حد څخه بهر ون نه شي، خو هغه مهال چې یو قوم یو ملت وي یا څو یو ربښه لرونکي قومونو یو ملت منځته راوړی وي؛ له نورو ملتونو څخه د هغه ملت بېلوونکې کرښې "قومي" کرښې ګڼل کېږي (۱۲ : ۱۷).

ketabton.com - The Digital Library

۵.۷.۵. تحميلي کړنې

دا ډول کړنې هغه کړنې دي چې پرته له دې چې د هغې سيمې د استوګنو فرهنګي، ديني يا قومي جوړښت ته په کې پام شوی وي؛ د نړيوال سياست په پايله کې رامنځته شوي (۱۲: ۱۷). په پخوا وختونو کې نړيوالو يا سيمه ييزو قدرتونو کولی شول د خپلې خوښې کړنې د خپلو مستعمراتو ترمنځ يا د خپل ځان او کمزورو هېوادونو ترمنځ تحميل کړي. په اوسنۍ نړۍ کې بر ترقدرتونه په ځانګړو شرايطو کې ځان ته اجازه ورکوي تر څو د دوو يا د څو ښکېلو هېوادونو ترمنځ د نا امنيو او جنګ د ختمولو لپاره په دغو د پولو پر سرلانجو کې ښکېلو هېوادونو باندې د ملګرو ملتونو ټولنې لخوا تحميلي کړنې تحميل کړي. ددې ډول تحميلي کړنو غوره بېلګه په ننۍ نړۍ کې د کوټې او عراق ترمنځ په وچه کې تحميل شوې کړنه ده؛ چې په ۱۹۹۳ م کال کې تحميل شوه. که څه هم کوټې ددې کړنې سره خوښ دی، خو عراق خپله نا خوښي ورسره اعلام کړې ده؛ او دا کړنه يې تحميلي ګڼلې ده (۳۲: ۵۶).

۶.۷.۵. اقتصادي کړنې

چې د ګمرکونو په جوړېدو سره په سرحدي کړنو کې ښکاري. په دې وروستيو کې د ازاد بازار اقتصاد "د نړيوال توب" او د خبر رسونې انقلاب (Information technology) ددې کړنو رول بدل کړی (۱۲: ۱۷).

۷.۷.۵. هندسي کړنې

په زياترو هېوادونو کې د کړنو په ټاکلو کې له طبيعي عوارضو څخه ګټنه نا شونې وي، له کواردينټونو (طول البلد او عرض البلد) او يا له سيده او ګردو کړنو څخه ګټه اخلي؛ دې ډول کړنو ته هندسي کړنې وايي (ايضاً: ۱۷).

ketabton.com - The Digital Library

۸.۷.۵. متروکه کرښې

دې ډول کرښو د سیاسي کرښو په عنوان خپل باور له لاسه ورکړی دی؛ خو نښې یې تر اوسه په سترګو کېږي (۱۲ : ۱۷).

۸.۵. د کرښو کښلو ټولیزې ځانګړتیاوې

کرښې د زیاتو ځانګړنو لرونکي دي، مګر داسې معلومېږي چې څلور غوره ځانګړتیاوې یې په لاندې توګه وښایو.

۱. کرښه سربېره پردې چې د هېوادونو ترمنځ د حدودو د ټاکلو لپاره کښل کېږي، شونې ده چې د ځانګړو غوښتو او شرایطو پر مهال دوه ټولنې یو له بله بېلې کړي، د بېلګې په توګه د اسرایلو او فلسطینیانو ترمنځ دیوال چې د اسرایلو په وسیله جوړ شوی دی.

۲. ښایي چې کرښې له مقابل لوري څخه د وېرې او امنیتي ستونزو له امله جوړې شي، لکه د دواړو شمالي او جنوبي کوریا ګانو ترمنځ کرښه چې په ماینونو پوښل شوې ده.

۳. ښایي چې کرښې له ټولیزه اړخه د دوو ټولنو ترمنځ منځته راشي او اصولاً قومیت پورې تړاو نه لري، لکه په ځینو هېوادونو کې د بډایو او غریبو ترمنځ کرښې.

۴. په ځینو لویو وچو کې کرښې د ځمکې لاندې سرچینو د تصرف او اوبو او نفتو ته د لاس رسي له امله په سیالۍ کې رامنځته کړي دي، لکه په منځني ختیځ او نورو هېوادونو کې (۱۲ : ۱۶).

۹.۵. سمندري سرحدونه

د نړۍ ډیری هېوادونه د یو یا څو سېندونو یا اوبو سره د ګاونډ له امله اوبیزې کرښې لري، ځینې هېوادونه د خپل موقعیت (په وچه کې د راګېرتوب) له امله اوبیزې کرښې نه لري

ketabton.com - The Digital Library

له بلهپلوه ځینې هېوادونه لکه آیسلینډ ، جاپان ، استرالیا ، نوی زیلاند او مالاګاشي د ټاپوګانو لرونکي موقعیت په دلیل په بشپړه توګه په اوبو کې راګېر دي او هېڅ ډول د وچې کرښې نه لري (۳۷ : ۱۷۳).

د هېوادونو د اوبیزو کرښو ټاکل برخلاف د هغې چې په ظاهره ښکاره ؛ اسانه کار نه دی .آن چې زیاترو وختونو او ځایونو کې یې د هېوادونو ترمنځ سخت جنجالونه او کشمکشونه را ولاړ کړي دي . هر هېواد حق لري چې د خپلو غاړو اوبو پر ځینو برخو حاکمیت ولري او پای کې د نورو هېوادونو لپاره په دغو اوبو کې د ازاد کشتۍ چلولو ، کب نېولو او له بستر څخه یې د ګټې اخېستلو حق سلبېږي .

۱.۹.۵. د سمندري قوانینو تاریخچه

د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو وختونو کې قانون جوړوونکو هڅه کړې ده تر څو په سمندرونو د حاکمیت د حق لپاره قوانین وضع کړي .لومړنی قانون چې په دې اړه وضع شو د توپ مرمۍ د لګېدو قانون و، چې په ۱۷۰۲م کال کې د هالنډ قانون جوړوونکي وان بینکرشوک(Van Binkershoek) وړاندیز کړ. د نوموړي په آند اګر چې سمندرونه په ټولو ملتونو پورې تړاو لري ، ولې هر ساحلي هېواد باید د توپ مرمۍ تر لګېدو ځای پورې پر ساحلي اوبو د حاکمیت حق ولري . وروسته ددې قانون پر بنسټ تر درې میله پورې ساحلي اوبه او تر دې اخوا ؛ ازادې اوبه وګڼل شوې (ایضاً : ۱۷۳).

دا قانون د انګلستان هېواد ته چې د سمندري غلو څخه تهدیدلو ؛ د ارزښت وړ و . وروسته د توپ مرمۍ د اوږد واټن وهلو له امله ددې قانون ارزښت له پامه وغورزېدو او د ځینو هېوادونو د نېوکو لاندې راغی او په تدریج سره ځینو هېوادونو د خپلو اوبو سور (عرض) له درېو تر شپږو او آن چې تر ۱۲ میلو پورې وغزولو . هغو هېوادونو چې د سمندر په غاړو کې یې موقعیت درلود او پر وړاندې یې مدعیانو شتون نه درلود لکه برازیل او پېرو تر دې هم وړاندې ولاړل او په سمندرونو کې یې له خپلو غاړو څخه بیا تر ۲۰۰ میله پورې د حاکمیت دعوه کوله . ددې ګډوډۍ د لمنځه وړلو په موخه او د هېوادونو د اوبو حد ټاکلو په

ketabton.com - The Digital Library

پار په لومړيو کې د متفقو ملتونو ټولنې د لاهه په ښار کې د سمندرونو د حقوقو کنفرانس په ۱۹۳۰م کال کې جوړ کړ ، وروسته درې کنفرانسونه د ملګرو ملتونو ټولنې په وسيله په ۱۹۵۸م او ۱۹۶۰م کلونو کې په جينيو او په ۱۹۸۲م کال کې د جامايکا د مانتيګوبی (Mantego Bay) په ښار کې وشول او د هېوادونو سمندري عرض (سور) يې د کم تر کمه درې څخه تر زيات نه زيات ۱۲ ميله پورې وټاکلو (۳۷ : ۱۷۳، ۱۷۴).

د ګوتو په شمېر له څو هېوادونو څخه پرته چې په وچه کې راګېر دي د نړۍ زياتره هېوادونه د سمندرونو او سمندرګيو سره د ګاونډيتوب له امله په ښلا ښلو واټنو سره د سمندري سرحدونو لرونکي دي . يا په بله ژبه ددغې هېوادونو يوه زياته اندازه پراخه سيمه په سمندرونو کې هم وي ، په سمندرونو د برلاسۍ او حاکميت څرنګوالی د وچو په پرتله توپير لري ، ځکه چې په سمندرونو کې انساني ټولنې د تل لپاره نه اوسيږي. ولې همدا د سمندرونو څنډې دي چې سرېيره له هغو کانونو څخه چې د سمندر په بستر او يا ساحلي برخو کې دي نورې اقتصادي سرچينې لکه له سمندر څخه د کبانو تر لاسه کول هم په زياته پيمانه په همدې سيمو کې ليدل کېږي (۵: ۹۴) .

په ۱۶ز پيړۍ کې اسپانې (Spain) او پرتګال (Partugal) د نړۍ د سمندرونو په زياتو برخو تر هغه چې شونې بر ښېيده د برلاسي او حاکميت دعوه کوله ، د هېوادونو د سمندري سرحدونو ټاکل د فکر او خيال پر خلاف ساده او اسان کار نه دی . ځکه هر هېواد کولی شي چې د خپلو ساحلي اوبو پر پراخه اندازه باندې د برلاسي او حاکميت دعوه وکړي . سره ددې چې د تاريخ په اوږدو کې پدې کوښښ شوی دی تر څو ددغسې ساحلي سيمو د پراختيا په اړوند قوانين وضع کړي چې په دې اړوند په ۱۷۰۲م کال يو تن هالندي عالم وان باينکر شويک (Van Bynker Shoek) دارنګه نظر وړاندې کړ چې: ((سمندرونه د ټولو وګړو دي او ساحلي هېوادونه کولی شي چې په ساحلي اوبو کې د توپ د مرمۍ د لګيدو په اندازه د حاکميت دعوه وکړي)). دا چې دې واټن د توپ مرمۍ پورې تړاو درلود او د مرمۍ لګيدل او دا واټن ثابت نه وو نو وروسته يو منځنی حد واټن د درې ميله (3Miles)

ketabton.com - The Digital Library

په اندازه د هېوادونو د سمندري سرحد په توګه وټاکل شو چې دا سیمه د بحري قلمرو (Territorial Water) په نوم یادیږي .


هغه سرحد چې په سمندرنو کې د بحري قلمرو په نوم یادیدو ټولو هېوادونو کې د منلو وړ ونه ګرځید او دا د سمندري سرحد واټن په بېلا بېلو هېوادونو کې توپیر درلود چې دا د توپیر اندازه له درې میله (3Mile) څخه تر دوه سوه میله (200 Mile) پورې رسیده د بېلګې په توګه داد سمندري قلمرو سیمه په انګلستان ، استرالیا ، د امریکا په متحده ایالاتو او په ځینو نورو هېوادونو کې تر درې میله (3Mile) ښودل شوې وه ، په همدې ترتیب په البانیا او یوګوسلاویا کې لس میله (10 Mile) په الجزایر ، مصر ، چین او شوروي کې دولس میله (12 Mile) ،په سریلانکا کې شپږ میله (6 Mile) ،په کامرون کې اتلس میله (18 Mile) ، په ترکیه کې شپاړس میله (16 Mile) ، په ناروي کې څلور میله (4 Mile) او بالاخره په ارجنټاین ، پیرو او پانامه کې تر دوه سوه میله (200 Mile) پورې رسیده (۵: ۹۵).

د سمندري قلمرو له غوره موخو څخه د ناروا سوداګرۍ څخه مخنیوی کول دي چې له ډېر پخوا څخه ډېرو هېوادونو لپاره سوداګریزه او اقتصادي ستونزه وه . چې په همدې اړه د برتانیې پارلمان دې واټن ته په لومړیو کې د سمندر په دننه کې تر شپږمیله (6 Mile) پورې پراخوالی ورکړې و . چې البته وروسته دا پراخوالی تر ۹،۱۲ میله او آن چې تر ۳۰۰ میله وغزیدو ، په ۱۷۳۹م کې د برتانیوي حکومت له غړو څخه یوتن د سمندرونو په سواحلو کې د څارونکو کشتیو ګرځیدل د ټولو ساحلي هېوادونو مسلم حق وګڼلو ، چې په ۱۸۷۶م کې یو ځل بیا یاده شوې سیمه تر ۹ میله پورې راکمه شوه او په ۱۷۹۰م کې د امریکا متحده ایالاتو په خپل هېواد کې دا واټن ۱۲ میله وټاکلو . همدارنګه اسپانېې په ۱۸۷۴م او ۱۸۷۵م کلونو کې دا واټن ٦ میله ومنلو (ایضاً: ۹۵).

په هر حال د درېیم هغه پرله پسې کنفرانس په ناستو کې چې په ۱۹۷۴م کې په نیویارک او کاراکاس کې وشوې او بیا په ۱۹۷۴م کې په جینوا او په ۱۹۷۵م کې کلونو کې

ketabton.com - The Digital Library

په نیویارک کې په نوبتي ډول تر سره شول چې په پایله کې یې یوه قانوني مسوده برابره شوه چې په هغې کې د هېوادونو د سمندري قلمرو سیمه د پېل له نقطې څخه تر ۱۲ میله ، د نظارت لاندې ساحې پراخوالی تر ۲۴ میله او بالاخره اقتصادي سیمه تر ۲۰۰ میله پورې د سمندرونو په دننه کې وټاکل شوې .



(۲.۵) انځور : دسمندري قلمرو، نظارت او اقتصادي سیمه (۳۷: ۱۸۳)

همدارنګه د نورو هېوادونو لکه د ډېرو ټاپوګانو څخه جوړشوو هېوادو ، په وچو کې د راګیرو او بالاخره د سمندرونو څخه د ګټې اخستلو په اړوند د یوې نړیوالې ټولنې د جوړیدو پر موضوع باندې غور وشو چې دا پریکړه لیک د یو څه تعدیلاتو او تفصیلاتو سره د ۱۹۸۲م کال په وروستیو کې د نړۍ له ۱۰۰ سلو څخه د زیاتو هېوادونو په وسیله په جمیکا کې لاسلیک شوه .

په هره بڼه پر سمندرونو باندې د هېوادونو د برلاسي اوکنترول څرنګوالی په لاندې توګه واضح کېږي .

ketabton.com - The Digital Library


د داخلي اوبو ساحه (Internal Water) : دا هغه سيمه ده چې کوچني خليجونه او ټولې هغه اوبه چې د وچو او پېل د کرښو تر منځ موقعيت لري په بر کې نيسي ، ددې ساحې په تعقيب د سمندري قلمرو ساحه (Territorial Sea) موقعيت لري او دا هغه ساحلي سيمه ده چې له پېل کرښې څخه د سمندر په لور تريوې معلومې فاصلې پورې دوام لري. هېوادونه پدې ساحلي سيمه کې د پوره پوره برلاسي لرونکي ګڼل کېږي (۵ : ۷۴).

د سمندري قلمرو په ګاونډ کې د نظارت لاندې ساحلي سيمه ده او دا هغه سيمه ده چې پلنوالی يې د بېلا بېلو هېوادونو لپاره توپير لري او قسماً د هېوادونو د کنترول (ولکې) لاندې وي ددې سيمې د لرلو غوره موخه د سمندرونو له بستر څخه د کاني زيرمو په لاس راوړل، ماهي (کب) نيول او د نا قانونه سوداګرۍ کنترول کول دي (۵ : ۹۶).

۵ . ۹ . ۲. د دوو مجاورو هېوادونو ترمنځ د اوبيزو کرښو ټاکل

د دوو مجاور هېوادونو ترمنځ د اوبيزو کرښو ټاکل معمولاً د منځني خط کښلو سره ټاکل کېږي. که چېرې د دوو هېوادونو په منځ کې بېلوونکې کرښه سيده او د کرېلېچونو نه لرونکې وي، نو هغه کرښه چې پر ساحل عموده وي د دوو هېوادونو ترمنځ اوبنۍ کرښې تفکيک کړي . خو هغه غاړې چې ماتې راماتې لري د نيمايي (منصفې) کرښې کښل په کې ستونزمن وي. د دوو مجاورو هېوادونو ترمنځ د منصفه کرښې کښل چې غابنې لرونکې غاړې لري، لومړی د اوبو سره د هغه دوو هېوادونو د وچو کرښو د پيوستون ټکی مبدا (پېل) نېسو او ددې ټکي په مرکز او د خپلې خوښې وړانګې (شعاع) (هر څومره چې لنډه وي دقيقه وي)، يوه نېمه دايره جوړوو ، په داسې ډول چې د مبدا ټکي د دواړو لورو غاړې قطع کړي. په پايله کې دوه نوي ټکي په مساوي فاصلې سره د پېل ټکي په دواړو لورو کې په لاس راځي . وروسته ددې دوو ټکو په هريو د پرکار د نوکې په کښودو سره د هغوی ترمنځ له نيمايي فاصلې څخه د زياتې شعاع په لرلو سره نېمه دايره تر سېمو ترڅو يو بل سره قطع کړي. وروسته د وچې مبدا ټکي يو له بل سره وصلوو ، دا چارې تر هغې پورې تکراروو ترڅو چې ساحلي منصفه کرښه لاس ته راشي (۳۷ : ۱۸۰).

ketabton.com - The Digital Library



(۵ . ۳)انځور : د دوو مجاورو هېوادونو د اوبنۍ کرښو د منصفه کرښې د ترسیمولو څرنګوالی .(۳۷ :۱۸۱)

۵ . ۱۰. هوايي کرښې

د فضايي کرښو په اړه بېلابېل آندونه شتون لري او تر ننه پورې يې د تاکلو کوم ګانون په پام کې نه دی نېول شوی . په دې اړه هڅه شوې تر څو د فضايي کرښو لپاره قوانين برابر کړي . د اتموسفير ټيټه برخه د هېوادونو کرښې ګڼل شوي او لايتناهي فضاً د ازادو اوبو په څېر ګڼل شوې . مګر تر اوسه هيڅ هېواد هم د ځان لپاره داخلي فضاً او لايتناهي فضاً تر منځ کومه کرښه نه ده په نښه کړې .

که څه هم اوس د هېوادونو حقوقي وضعه د اتموسفير په اړه روښانه نه ده ، مګر د ځمکې د ټيټ اتموسفير (هغه فضاً چې الوتکې په کې پرواز کوي) په اړه وضاحت په بشپړه توګه روښانه نه دی . هر هېواد د اتموسفير په ټيټه برخه کې د حاکميت حق لري ، او دعوه کوي چې د هيڅ هېواد آن چې دخپل دوست هېواد الوتکې هم ورڅخه د پرواز حق نه لري ، مګر دا چې پروازونه يې د نړيوالو ټرونونو سره برابر او د هماغه هېواد په اجازه او د ځانګړو شرايطو پر بنسټ وي . هر هېواد حق لري اوکولی شي د حق العبور شرايطو پر بنسټ په خپلې فضاً کې نورو ته د الوتنې اجازه ورکړي ، هر هېواد حق لري چې بېرونۍ الوتکې په خپله فضاً

ketabton.com - The Digital Library

کې ممنوع اعلام کړي. د هر هېواد لپاره د خپلو سمندري سرحدي د پاسه فضاً کې د حاکمیت حق وي، نو له همدې امله هر هېواد هر څومره چې د سمندري قلمرو لرونکی وي، کولی شي چې په هماغه اندازه فضاً د خپل څارلاندې راولي (۲۰: ۱۳۶، ۱۳۷).

د هر هېواد حاکمیت د هغه هېواد د اوبو او وچو په کربنو کې پای ته رسېږي. دا کربنې په حقیقت کې د سطحو په بڼه ښکاري چې د ځمکې تر فضا پورې امتداد لري او په همدې وخت کې د دوو ګاونډیو هېوادونو هوایي قلمرو یو له بله بېلوي.

د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د بمبارد لپاره د الوتکو نظامي قوت نندا تون وشو، ویې ښودله چې هېوادونو ته هیڅ شی پر خپلې محدودې د بشپړ حاکمیت او نورو ته د بې تاوانه حق العبور پرته؛ ډیر خوښ نه دی. امنیتي ملاحظو هم همداسې حکم کولو. له هماغه مهاله دودیزه قاعده دا وه چې د یو هېواد الوتکې حق لري چې د ازادو اوبو پر سر الوتنې وکړي، مګر د وچې او ځمکنیو اوبو د پاسه هوا کې یې نورو ته د الوتنو حق نه و.

د بل هېواد هوایي حریم نقض، د نړیوالو حقوقو جدي نقض ګڼل کېږي. د ۱۹۶۰م کال د مۍ په میاشت کې د امریکا یو ۲. امریکایي تجسسي الوتکه د پخوانۍ شوروي اتحاد د خاورې د پاسه تر حملې لاندې راغله او رانسکوره شوه، بې له ځنډه شوروي اتحاد د خپل هوایي حریم د نقض په اعتراض کې د مشرانو اجلاس لغوه کړ، البته دا مخینه په دې معنی نه ده چې په هرو شرایطو کې هېوادونو ته د دوی د هوایي حریم په نقض کې پر الوتکو د حملو نا محدوده حقونه شته.

په ۱۹۵۳م کال کې د "نړیوالو حقونو" په مجله کې امریکا وړاندیز وکړ چې لاندې قاعده باید له عرفي حقوقو څخه راوښتل شوې قاعده ومنل شي.

"د تېرې کوونکو الوتکو د حرکاتو د کنترول لپاره، حاکم هېوادونه باید په اړونده چاپیره کې د متجاوزې الوتکې او ورکې د سپرو لپاره نا اړین ګواښ جوړ نه کړي، یعنې هغه ګواښونه چې د تجاوز د احتمالي زیانونو څخه زیات وي؛ باید الوتکو او سپرو ته یې و نه رسېږي".

ketabton.com - The Digital Library

د پورته قاعدې پر بنسټ په مختلفو الوتکو حمله هغه مهال د قبول وړ ده چې دا ثابته شوې وي چې د هېواد لپاره يې په ربښتيا سره خطر رامنځته کړی. په دې ترتيب زيات احتمال دادی چې نظامي الوتکې دا ډول خطر را پيدا کوي؛ نه غير نظامي. په دې وخت کې ارټيا ده چې تر هوايي حملې مخکې الوتکې ته د کښناستلو او يا د تګ لوري د بدلون ګوابښ وشي.

په ۱۹۸۱م کال کې د هېوادونو د الوتنو نړيوال سازمان، هېوادونو ته داسې توصيه وکړه : "هوايي الوتنې له يو هېواده بل هېواد ته د دوه اړخيزو نړيوالو تړونونو له ليارې بايد تنظيم شي او د هغې پر بنسټ يو هېواد بل هېواد ته اجازه ورکوي چې له هوايي حريم څخه يې تير شي (معمولاً د ورته حق ورکولو په مقابل کې) (۳۷ : ۲۰۸).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

سياسي سرحدونه (پولې) هغه ننبې دي چې يو سياسي واحد له بل سياسي واحد څخه پرې بېليږي. د موخې له مخې په دوه ډوله دي چې يو يې ملي پولې چې داخلي سياسي واحدونه يو له بله بېلوي او بل يې نړيوالې پولې دي چې يو هېواد له بله څخه بېلوي.

پولې د ډير زيات ارزښت لرونکې دي، چې له دوه اړخونو يې ارزښت ښودلی شو يعنې له منطقي او تخنيکي اړخه. پولې له لرغونو زمانو څخه تر دې وروستيو پورې په بېلابېلو ډولونو ټاکل شوي. په لرغونو دورو کې به پراخې سيمې لکه دښتې، غرونه، ځنګلونه، جبه زارې... او داسې نورې پديدې د هېوادونو ترمنځ د پولو په توګه منل کېدې. په منځنيو پېړيو کې د پولو ټاکل او را منځته کېدل عجيبه حالت کې وې، د امپراتورانو په بدلون او مړينې سره به د پولو په ټاکلو کې بدلون راتلو، او يا دا چې امپراتورانو به ځينې مهال د امپراتورۍ ځينې برخې پلورلې چې له امله به يې په پولو کې بدلون راتلو. اوس مهال د پولو ټاکلو لپاره څلور پړاوونه اړين ښودل شوي.

سرحدونه د بېلابېلو موخو له مخې ډير ډولونه لري لکه د پيدايښت او پر ځمکې او وګړو د تطبيق له مخې، له طبيعي پديدو څخه د ګټې اخېستنې له مخې، همدارنګه مصنوعي سرحدونه يې بېلګې ښودلی شو. په ټوله کې سرحدونه د وچې، سمندرونو او هوايي سرحدونو باندې وېشل شوي. په دې وروستيو کې سرحدونو (پولو) خپل ماهيت له لاسه ورکړی دی او پر ځای يې مرزونه (کرښې) رامنځته شوي دي. نو ويلی شو چې کرښې هغه نرۍ پديدې دي چې دوه سياسي واحدونه سره بېلوي، مرزونه (کرښې) په بېلابېل ډول کټګوري شوي. همدارنګه سمندري کرښې هم په درې برخو وېشل شوي چې د سمندري سرحد، د نظارت سيمه او د اقتصادي زون ساحه بلل کېږي. هوايي فضاً هم د يو هېواد لپاره سرحد ګڼل کېږي، چې د اتموسفير لاندينۍ برخه تر هغې فضاً پورې چې الوتکې په کې پرواز کولی شي د يو هېواد د قلمرو کرښې ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱ـ سرحد تعریف کړئ ؟

۲ـ طبیعي سرحدونه یعنې کوم ډول سرحدونه ، راویې پېژنئ ؟

۳ـ د سرحد ارزښت وښایاست ؟

۴ـ د سرحد ټاکلو لپاره کوم پړاوونه اړین دي ؟

۵ـ د پیدایښت او پر وګړو د تطبیق له مخې سرحدونه کوم دي ؟

۶ـ د مرز (کرښې) او سرحد (پولې) ترمنځ توپیر واضح کړئ ؟

۷ـ ریچارد هارتشون کرښې په څو ډولونو وېشلي ؟

۸ـ تحمیلي کرښې یعنې کوم ډول کرښې د بېلګې سره یې واضح کړئ ؟

۹ـ طبیعي کرښې یعنې کوم ډول کرښې په بېلګه راوړلو یې وښایاست ؟

۱۰ـ قومي کرښې یعنې کوم ډول کرښې ؟

۱۱ـ هالندي عالم وان باینکر شویک د سمندرد سرحدونو په اړه په کوم آند و ؟

۱۲ـ په سمندر کې د نظارت لاندې ساحې کوم واکونه د اړوند هېواد سره وي ؟

۱۳ـ د سمندري قلمرو سیمې څنګه ټاکلی شو ؟

۱۴ـ د دوو مجاورو هېوادونو ترمنځ د اوبیزو کرښو ټاکل څنګه کېږي ؟

۱۵ـ له فضایي کرښو څخه د تېرېدو شرایط کوم دي ؟

ketabton.com - The Digital Library

شپږم څپرکی

باندینۍ سوداګري

په اوسنۍ نړۍ کې د هېوادونو تر منځ سوداګریزې اړیکې یو منلی حقیقت دی ، هر هېواد اړ دی تر څو د بل هېواد سره سوداګریزې اړیکې تر سره کړي ، اجناس یو تر بله سره تبادله کړي ، د ورځې په تېریدو سره په نړیواله سوداګرۍ کې زیاتوالی راځي .

په منځنیو پېړیو کې باندینۍ سوداګري تر ډیره بریده په اروپا کې کنترول وه ، یعنې هغه ډول مواد باید هېواد ته را وارد شوي نه وای چې د تولید شونتیا یې د هېواد په دننه کې وه ، خو د ادم سمت د تیورۍ له مخې هېوادونو باید هر هغه څه وارد کړي وو چې د تمام شد قیمت یې د هېواد په دننه کې له بېرونیو وارد شوو موادو په پرتله زیات و . ددې نظریې پر بنسټ حکومتونه باید باندینۍ سوداګري تشویق کړي .

په هره بڼه اوس هم په نړۍ کې داسې هېواد نشته چې په هره برخه کې پرځپلو تولیداتو متکي وي ، نو ځکه ده چې باید بېرونۍ سوداګري تر سره کړي . د هېوادونو تر منځ د باندینۍ سوداګرۍ د تنظیم په موخه هڅې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته کېدې . د

ketabton.com - The Digital Library

GeneralAgreement on Triffs and Trade (GATT) ټرون د هېوادنو ترمنځ په سوداګرۍ کې ډیرې اسانتیاوې رامنځته کړې.

باندینۍ سوداګري د هېوادونو ترمنځ د بېلابېلو ترانسپورتي وسایلو لکه کشتۍ، اوسپنې لیکې، سرکونو، هوایي کرښو په مرسته ترسره کېږي. ابناګانې په پخوانیو او اوسنیو وختونو کې په سوداګرۍ کې د زیات ارزښت لرونکې وې او دي. هغه ابناګانې چې په نړیواله سوداګرۍ کې ورځنه زیاته ګټه اخېستل کېږي د بېلګې په توګه یې د سویز کانال، پانامې کانال او کیل کانال یادونه کولی شو.

۱۰۶. د باندینۍ سوداګرۍ په اړه تیوریې څرګندونې

د باندینۍ سوداګرۍ کنترول په منځنیو پیړیو کې په اروپا کې یو له غوره عناصرو له ډلې څخه لیدل کېدو، حال داچې په ننني عصر کې د یوې مهمې سیاسي وسلې په توګه د ګټې لپاره وکارول شو. د هغې مهال د سوداګرۍ په تیورۍ کې چې اقتصادي کلک او ټینګ اساس یې نه درلود او اوس د مرکانتلیزم (Mercantalism) په نوم یادیږي طلا (سره زر) او نقره (سپین زر) اساسي شتمني ګڼل کیده. هېوادونه تشویقیدل ترڅو په داخلي تولیداتو متکي شي او په دې ترتیب یوازې د باندینۍ سوداګرۍ هغه برخه به یې چې د هغې خالصه ګټه د طلا د لاس ته راتلو لامل کیده تشویق کوله. په بله ژبه هیڅ نوعه هغه مواد چې تولید یې په داخل کې شونی وو، باید له بیرون څخه نه وای وارد شوي. آن چې د مستعمراتو په لیکه کې هم هغو سیمو ته زیات ارزښت ورکول کیدو چې د استعماري ملکونو داخلي اړتیاوو د پوره کولو لپاره ګټورې ګڼل کیدې، له همدې امله وو چې برتانیې د شمالي امریکا جنوبي مستعمره سیمې چې په کې د ګنیو، وریجو، تنباکو او داسې نورو کرنیزو حاصلاتو د تولید امکان موجود و؛ د نیو انګلینډ (New England) د ایالت په پرتله چې ورځنه د انګلستان مشابه تولیدات حاصلیدل ترجیح ورکوله.

پورته تیوري د لومړي ځل لپاره په ۱۷۷۶ م کې د ادم سمت (Adam Smith) (دهغه د ثروت ملل) په کتاب کې تر نیوکې لاندې راغله، او د هغې په عوض کې په ځانګړې

ketabton.com - The Digital Library

امتیاز او سوداګرۍ ټینګار کیدو. د نوموړي په آند اګر چې د انګورو او په پای کې مشروباتو د تولید شونتیا په سکاتلینډ کې هم شتون لري، مګر د هغې د تمام شد قیمت له بیرون څخه د وارد شوو تولیدتو په پرتله ۳۰ ځلې زیات وي ، بنا پردې غوره ده چې مواد یا د اړتیا وړ نباتات له هغو سیمو څخه په لاس راوړل شي چې د هغې د تولید لپاره زیات مناسب وي . دا نظریي په ۱۹ پیړۍ کې د سوداګریو د ازادۍ او ددې مفکورې د رامنځته کیدو لامل شوې چې د بهرنۍ سوداګرۍ څرنګوالي او جریان په مقابل کې حکومتونه باید د هغوی برخلاف تشویق کړي . په دې ترتیب په دې پړاو کې د سوداګرۍ ازادي عملي شوه، په بله ژبه هغه څه چې د سوداګرۍ لپاره ارزښتمن و، د هېواد لپاره هم ګټور ګڼل کیدل. ځکه چې له سوداګرۍ مخکې د حکومتونو لخوا د ځینو موادو د لېږد رالېږد د مخنیوي له لارې په صادراتو او وارداتو محدودیتونه او یا ګمرکي تعرفو وضع کول د کنترول لاندې نیول شوي وو . په هره بڼه آن چې په ۱۹ م پیړۍ کې هم په هیڅ هېواد کې د سوداګرۍ بشپړ ازادي نه وه. د سیاسي ګټنې سرېیره حکومتونو د ګمرکي محصول د وضع کولو له لیارې زیات عواید هم ترلاسه کول .انګلستان یوازینی هغه هېواد و چې د سوداګرۍ له ګټې ترلاسه کولو سرېیره یې ازاده سوداګري په ۱۹ م پیړۍ کې په پراخه توګه تشویقوله، ځکه په لومړي پړاو کې یا د هېواد د صنعت په ډګر کې د ټولو پرمخ تللو هېوادونو په پرتله مخکې و او ددې ترڅنګ دا چې صنعتي تولیدات یې نسبتاً ارزانه وو، په بله ژبه د ټولو هغو هېوادونو لپاره چې د صنعتي کیدو په لومړي پړاو کې وو حتمي وه تر څو خپل صنایع د برتانیې د تولیداتو په مقابل کې حمایت کړي. د ښلګې په توګه جرمني چې په ۱۸۷۸م کال کې دفولادو او اوسپنې د صنایعو د ملاتړ په موخه په هغه هېواد کې په باندینیو مشابه (ورته) تولیداتو محصول زیات کړو (۵ : ۱۷۶،۱۷۷).

په هرې بڼه په اوس وخت کې په نړۍ کې هیڅ پرمختللی هېواد نشته چې په هره برخه کې په خپلو تولیداتو متکي وي، دا ددې لامل کېږي ترڅو د اړتیا وړ یو څه مواد له بیرون څخه واردکړي، خصوصاً د ادم سمت استدلال چې مخکې ورته اشاره وشوه هم په نظر کې نیول شوی وي، مګر دا ډول په زیاته پیمانه تکیه ځینې ستونزې رامنځته کوي، د ښلګې په توګه په لومړۍ مرحله کې هېوادونه په یو خاص او ستونزمن موقعیت کې راګیروي د ښلګې

ketabton.com - The Digital Library

په توګه انګلستان چې د نورو هېوادونو په پرتله ترزياتې اندازې په وارد شوو خوراکي موادو متکي و، له همدې امله په دواړو نړيولو جګړو کې خطرناکې وضعې سره مخامخ و.

په اوس وخت کې د سوداګرۍ بشپړه ازادي اګر چې ناشوني نه ده، مګر لږ تر لږه غير عملي ښکاري، په داسې حال کې چې په دې لاره کې د ځينو ستونزو د لمنځه وړل شوني او عملي ګڼل کېږي.

د سوداګرۍ انحصاري بشپړه ستونزه د اتلسمې پيړۍ په لومړيو کې مشاهده کولی شو. هغه وخت چې اسپانې ددې هېواد مستعمراتو سره په لاتينه امريکا کې سوداګريز کنترول لرلو، او هيڅ هېواد نشو کولی ددې هېواد له اجازې پرته ددې سيمو سره په رسمي توګه سوداګريزې اړيکې ونيسي. د ښلګې په توګه د ۱۷۱۴ کال د ټرون وروسته د يو ځانګړي امتياز په بڼه د انګلستان لپاره اجازه ورکړل شوه ترڅو په کال کې په سوداګريزو مختلفو توليداتو بار يوه کشتۍ هسپانوي امريکا ته يوسي. د يوې نيمې پيړۍ وروسته په منځنۍ افريقا کې جنجال منځته راغی چې بالاخره په دې سيمه کې په خاص توګه او د نړۍ په ټولو سيمو کې په عامه توګه د سوداګرۍ په نسبي ازادۍ تمامه شوه. د هغې وخت اروپايي قدرتونه په دې حوزه کې د موجوده منابعو لاسته راوړلو په سيالۍ کې پريوتل او له همدې امله و چې د هغوي ترمنځ د ټکر مخنيوي لپاره په ۱۸۸۵م کال کې د کانګو حوزې ټرون د فرانسې، انګلستان، پرتګال او المان ترمنځ لاسليک شو. په دې ټرون کې د افريقا د لوې وچې د سرچينو په پراختيا کې د مساوات ،د نفوسو د استوګنو او صنايعو د تاسيس په ګډون څخه يادونه شوې وه. د جنګ پر مهال د غلامانو پر سوداګرۍ ،د سيمې په بيطرفۍ او بالاخره د کانګو، نايجر سيندونو کې ازاد تګ راتګ باندې ټينګار شوی و. د دې ټرون تر اغيزې لاندې ساحه د کانګو سيند حوزې په پرتله پراخه وه او ټوله ختيځه افريقا (کينيا، يوګندا او تانګانيکا) ،نياسالينډ او شمالي رودشيا ځينې برخې، استوايي فرانسوي افريقا او د پرتګال مستعمرې لکه انګولا او موزمبيق سيمې يې په برکې نېولې. په دې ټولو ساحو کې د توکو پېرودل او پلورل په ازاده توګه تر سره کېدل (۵ : ۱۸۲).

ketabton.com - The Digital Library

په غربي افريقا کې هم د فرانسويانو او انګريزانو ترمنځ د ټرون په پايله کې د ځانګړو تعرفو څخه ګټه اخيستل لمنځه ولاړل . په همدې ترتيب په ۱۹۱۹م کال کې نسبتاً ازاده سوداګرۍ د پخواني المان مستعمراتو کې چې د لټ سمندر جنوب غرب او افريقا کې د فرانسې، انګلستان، بلجيم، جاپان، جنوبي افريقا، استراليا او نوي زيلاند تر قيموميت لاندې وو، پيل شوه. په دې شرط چې دا هېوادونه به د غلامانو، سلاح او مشروباتو سوداګرۍ څخه په دې سيمه کې ډډه کوي او د نظامي استحکاماتو په ايجاد کې به اقدام نه کوي . مګر بايد يادونه وشي چې دا ډول د سوداګرۍ ازادي يوازې د ملتونو ټولنې (جامعه ملل) غړو هېوادونو لپاره په پام کې نېول شوې وه . په داسې حال کې چې متحده ايالاتو هيڅ وخت د دې ټولنې غړيتوب ونه لرلو . او ايټاليا، جاپان او جرمني هم وروسته ورځخه ووتل . همدارنګه جنوبي افريقا هيڅکله هم خپل مسوولیت ته د جنوب غربي افريقا پر وړاندې احترام او پاملرنه نه کوله

د هېوادونو ترمنځ د باندينۍ سوداګرۍ د تنظيم په موخه هڅو د دويمې نړيوالې جګړې وروسته هم دوام درلود. د هاوانا اعلاميه چې موخه يې د سوداګرۍ ازادي وه ، ونه توانېده چې د هېوادونو لازم ملاتړ ترلاسه کړي ترڅو چې بالاخره په ۱۹۴۷م کال کې مصالحتي ټرون په جينوا کې تصويب شو. چې د General Agreement on Triffs and Trade (GATT) په نوم يادېدو. دا ټرون (هوکړه ليک) د نړۍ له نيمايي زياتو يعنې (۸۹) هېوادونو په وسيله چې د (۸۰) سلنې په خواوشا کې نړيواله سوداګرۍ يې کنترولوله، منل شوی دی. ددې هوکړه ليک د باندينۍ سوداګرۍ د تنظيم، ګمرکي تعرفو په کمولو، او په حمايوی تعرفو کې د تخفيف په اړه مقررات منځته راوړل . همدارنګه هڅه وشوه ترڅو د ترانزيتي موادو سوداګري له دې لاري تنظيم شي . مخ پر وده هېوادونولپاره ددې هوکړه ليک په تطبيق کې اجازه ورکړل شوه ترڅو هغوی کې د صنعتي ځوان سکتور څخه ملاتړ وشي . د سوداګرۍ نړيوال مرکز(International trade organization(ITO چې د ګات (GATT) ټرون په وسيله په ۱۹۶۴ م کال کې تاسيس شوی دی، له ۱۹۶۴ م کال را وروسته د اطلاعاتو په برابرولو، د بازار پيدا کولو، د پرسونل په پالنې او داسې نورو په برخه کې يې د مخ په وده هېوادونو سره مرستې کولې . په هره‌بڼه د ګات (GATT) ټرون

ketabton.com - The Digital Library

لخوا داسې کړنو په پایله کې اوس هېوادونه کولی شي ترڅو خپله سوداګري په یوشمېر زیاتو توکو اونسبتاً پراخو سیمو کې ترسره کړي او ددې ترڅنګ د دې زمینه یې برابره کړې چې د اړتیا وړ مواد له ارزانترین مارکیټ څخه واخلي. چې البته د دې په پایله کې د کاریګرو لپاره د کار برابرولو شونتیاوې ، د خالصو عوایدو د زیاتوالي، د نړۍ له سرچینو ګټه اخیستنې او د تولیدي او تبادلوي چارو پراختیامساعده شوه ، چې ورسره جوخته د خلکو د ژوند سطحه ښایې لوړه شوې وای(۲۵ : ۸۲) .

باید یادونه وشي چې د پورته مقرراتو تطبیق د سوداګرۍ په محدودیت او یا ازادۍ برخه کې د هغو هېوادونو لپاره چې په هغو کې دا چارې د سوداګرو په وسیله تر سره کیدې په پام کې نیول شوی و. حال دا چې په سوسیالستي هېوادونو کې دا طبقه نه وه او سوداګري د حکومتونو په انحصار کې وه .

څرنګه چې پوهیږو باندینۍ سوداګري دهېوادونو ترمنځ د بیلا بیلو وسایلو لکه کشتۍ، د اوسپنې لیکې، سرکونو او په لږه اندازه د هوایي کرښو څخه په ګټې اخیستنې تر سره کېږي، په ځینو برخو کې لوی جهیلونه لکه‌په کاناډا او یا د راین(Rhine) سیند څخه په ګټې اخیستني د سویتزرلند، فرانسې، جرمني او هالند ترمنځ شونې ده. د هېوادونو تر منځ په نړیوالې سوداګرۍ کې په بشپړه توګه له همدې اوبیزې لارې څخه ګټه واخلي .په ځینو نورو ځایونو کې نړیواله سوداګري په بشپړه توګه د وچو مواصلاتي کرښو(سرکونو) له لارې تر سره کېږي. حال دا چې په ځینو حالاتو کې په بیلا بیلو هېوادونو کې د بیلابیلو وسایلو څخه په سوداګرۍ کې ګټه ترسره کوي . سره له دې چې د نړیوالې سوداګرۍ زیاته برخه په سمندرونو کې د کیشتیو په وسیله تر سره کېږي . د بېلګې په توګه که چیرې د متحده ایالاتو او استریا (اتریش) ترمنځ ارتباط په پام کې ونېسو کیدای شي سوداګریز مالونه د متحده ایالاتو له مرکزي سیمو څخه د اوسپنې کرښو څخه په ګټې اخیستنې د شیکاګو بندرته ولیږل شي او له هغه ځایه له لویو جهیلونو څخه په ګټې اخېستنې او په کاناډا کې د سنت لارنس سیند د بهیدنې له لیاري ازادو سمندرونو ته ورسیږي . یاد مواد وروسته د هالند روتردام بندر له لیارې او د راین سیند په ګټې اخیستنې له جرمني څخه

ketabton.com - The Digital Library

تیریږي او د سویس بازل(Basel) بندرته لږدول کږي له دې ځایه یو ځل بیا د اوسپنو لیکو په وسیله اتریش ته رسیږي، په دې ترتیب دا ډول سوداګریز مالونه د څلورو بیلا بیلو هېوادونو د تیریدو وروسته او کم تر کمه دوه هېوادونو په بندرونو کې د مجددې بارګیرۍ له امله ټاکلې سیمې ته رسیږي. البته په دغسې حالاتوکې د اضافی پیسو، وخت او داسې نورو مصرفیدل ډیر لیدل کږي. دا موضوع چې هېوادونه له کومو شرایطو لاندې له شته اسانتیاوو څخه په ټولو هېوادونو کې په آزادانه توګه ګټه واخیستلی شي، هغو هوکړه لیکونو او قراردادونو پوري تړاو لري چې د دوو هېوادونو ترمنځ موجود وي ، د ملتونوټولنې (جامعه ملل) ، ملګرو ملتونو او ټولو سازمانونو هڅې ددې ډول قراردادونو په موخه معمولاً د بریاوو لرونکي نه دي(۵ : ۱۸۲،۱۸۳).

۲.۶. دباندینۍ سوداګرۍ د ستراتیژیو پلټنه

دباندینۍ سوداګرۍ ستراتیژي په ټولو هغو کړنلارو، طریقو او تدابیرو اطلاق کږي چې یو هېواد یې د خپل ملي قلمرو د استوګنو(د ټاکلو موخو په چوکاټ کې) د اداري او اقتصادي روابطو د تنظیم لپاره د ټولو هېوادونو د استوګنو سره په تناسب جوړوي او په مطلق او یا نسبي توګه یې شکل عملي کوي . د یو هېواد د بېرونۍ سوداګرۍ جوړښت، د حاکم اقتصادي او سیاسي نظام او د هغو د زماني غوښتنو په بنسټ رامنځته کږي . بنا پردې د خلاصون درجه یا د مبادلاتو تحدید د هېوادونو ترمنځ فرق لري . د اقتصادي پراختیا پر جریان د بېرونۍ سوداګرۍ د اغېز لرونکي ارزښت د درک کولو لپاره کافي ده چې دې ټکي ته پام وشي چې د پراختیا ټولې ستراتیژۍ په تیره بیا د صنعت د پراختیا ستراتیژیانې، د بېرونۍ سوداګرۍ سره نه شلیدونکې اړیکې لري. لکه د وارداتو بدیل لارښوونه ، د صادراتو د پراختیا لارښوونه، د درندو صنایعو لارښوونه او دې ته ورته نور . په اقتصادي ادبیاتو کې د بېرونۍ سوداګرۍ لپاره په ټولو اقتصادي فعالیتونو کې درې ډوله رول ته قایل شوي.

۱- باندینۍ سوداګري، د داخلي اقتصادي ټولو ساحو پراختیا غزول او رشد ورکول دي .

ketabton.com - The Digital Library

۲- باندینۍ سوداګري، موټر د داخلي اقتصادي برخو لپاره محرکه انرژي او د رشد لامل ګڼل کېږي .

۳- باندینۍ سوداګري، د اقتصادي ټولو برخو د رشد توازن کوونکې ده (۲۰ : ۱۱۶،۱۱۷).

۳.۶. ازاده سوداګري

هره راکړه ورکړه چې پرته له هرډول محدودیت سرته ورسېږي ورته آزاده سوداګري ویل کېږي . د هېوادونو داخلي سوداګري معمولاً په همدې بڼه ترسره کېږي . په داسې حال کې چې بېرونۍ نړیواله سوداګري معمولاً د ګمرکي تعرفو په وضع کیدو او ټولو مقرراتو له امله د محدودیتونو سره مخامخېږي.

دآزادې سوداګرۍ نظریه په دې بنا ده چې که چیرته سیاسي او غیرطبیعي موانع د سوداګرۍ په برخه کې موجودې وي ،هره سیمه به د هغه د موادو د تولید لپاره ځانګړې شي چې کیدای شي هغه ارزانه او اسانه عرضه کړي، چې په دې توګه به مصرفوونکي ښایي وکړای شي چې د اړتیا وړ توکي په ارزانه او اسانه لاس ته راوړي . باندینۍ سوداګري د یو هېواد په اقتصاد کې اغیزمن لامل ګڼل کېږي او کولی شي ټولې اقتصادي برخې تر خپلې اغېزې لاندې راولي . ښایي وویل شي چې غوره اقتصادي بحث د دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ځانګړي توګه په مخ په وده هېوادونو کې د اقتصاد د پرمختګ موضوع وه . له همدې امله د دویمې نړیوالې جګړې وروسته کلونو کې د اقتصادي رشد په اړه زیاتې نظریې مطرح شوې.

د اقتصادي نمو د نظریو اساسي موخه په یو هېواد کې د نرخونو د رشد ټاکونکو لاملونو توضیح او د هېوادونو په منځ کې د سړي سر عوایدو او نرخونو د رشد د تفاوتو د دلایلو پلټنه ده . یو له هغو لاملونو څخه چې د ځینو مخ پر وده هېوادونو پر اقتصادي رشد زیاتي اغېزې کوي، باندینۍ سوداګري ده.

ketabton.com - The Digital Library

اوس په نړۍ کې هیڅ داسې هېواد نشته چې په ټولو اقتصادي او سوداګریزو برخو کې په خپلو داخلي تولیداتو تکیه ولري . دا کار ددې لامل ګرځي چې یو څه اندازه د اړتیا وړ مواد له بیرون څخه وارد کړي . هېوادونه معمولاً په دوه برخو ویشل کېږي یعني د خامو موادو تولیدوونکي او د خامو موادو صنعتي کوونکي . د خامو موادو تولیدوونکي چې مخ په وده هېوادونه دي د صنعتي هېوادونو په پرتله د باندینۍ سوداګرۍ په برخه کې د زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان وي، لکه چې د خامو موادو قیمت د صنعتي موادو په پرتله زیات تغیرات مني . په ځانګړي توګه د سوداګریزو بحرانونو پر مهال، چې ددې ډول موادو قیمت هغه تر ټولو ټیټ نرخ ته یې ورسیږي. په دغسې وختونو کې د خامو موادو تولیدوونکي هېوادونه معمولاً د داخلي منابعو پر پراختیا واردات کموي او یا د خبرو اترو او قراردادونو د ترلو له مخې صنعتي هېوادونو ته هغه هم د ځینو امتیازاتو په ورکولو سره دا ستونزه په موقته توګه حل کوي .

په ۱۹۱۹م کال نسبتاً ازاده سوداګري د پخواني المان په مستعمراتو کې چې د ارام سمندر په جنوب غرب او افریقا کې د فرانسې، انګلستان، بلجیم، جاپان، نوي زیلاند، جنوبي افریقا او استرالیا د قیمومیت لاندې و؛ پیل شوه . په دې شرط چې دا هېوادونه به د غلامانو، وسلو او مشروباتو سوداګري په دې هېوادونوکې نه کوي . دنړۍ هېوادونو د باندینۍ سوداګرۍ د تنظیم لپاره هڅې د دویمې نړیوالې جګړې وروسته پیل کړې . د هوانا اعلامیه چې موخه یې د سوداګرۍ ازادي وه په دې وتوانیده چې د هېوادونو لازم ملاتړ ترلاسه کړي، چې د ګات (Gatt) مصلحتي توافقنامې په نوم یادیږي ؛ په ۱۹۴۷م کې په جنوا کې تصویب شوه . د ا توافقنامه (هوکړه لیک) چې د نړۍ له نیمایي زیاتو یعنې (۸۹) هېوادونو لخوا چې ۸۰ سلنه نړیواله سوداګري یې کنترولوله ومنل شوه . دې هوکړه لیک کې دباندینۍ سوداګرۍ د تنظیم ، د ګمرکي تعرفو په کمولو او د حمایوي تعرفو د سپکولو په اړه مقررات منځته راغلي . همدارنګه هڅه وشوه ترڅو د هېوادونو په منځ کې سوداګري دکشتیو، اوسپنې لیکو او په یوه کمه اندازه له هوایي کرښو په ګټې اخیستنې ترسره شي(۲۰ : ۱۱۵،۱۱۶) .

ketabton.com - The Digital Library

۴.۶. په نړۍ کې د لېږد رالېږد څرنګوالی

دچین اقتصادي چټک او مستمر پرمختګ کې، ددې هېواد باندینۍ سوداګرۍ په پرله پسې توګه پراختیا کړې ده . د نړۍ د سوداګرۍ په لیکلړ کې چین په ۱۹۷۸م کال کې (۳۲) ام ،په ۱۹۸۹م کال کې(۱۵) ام، په ۱۹۹۷ م کال کې لسم او په ۲۰۰۱م کال کې شپږم مقام ته لوړشو.

همدارنګه په ۲۰۰۱م کال کې د چین ټولو صادراتو او وارداتو حجم له ۵۰۰ ملیارد ډالرو زیات شو. او ۵۰۹ ملیارده او ۶۵۰ مېلیون ډالروته ورسیدو. په ۲۰۰۲م کال کې د چین د ټولو صادراتو او وارداتو حجم د۶۲۰ ملیارده او ۷۷۰ مېلیون ډالرو په اندازه شو . په ۲۰۰۳م کې دا شمېر ۸۵۱ ملیارده او ۲۰۰ مېلیون ډالرو ته ورسید چې د ۲۰۰۲م کال په پرتله ۳۷.۱ سلنه زیاتوالی ښیي.

له دې جملې څخه د صادراتو حجم (۴۳۸) ملیارده او ۴۰۰ مېلیون ډالرو ته رسېدو چې د ۲۰۰۲م کال په پرتله ۶.۳۴ سلنه زیاتوالی په کې راغلی. او د وارداتو حجم ۴۱۲ ملیارده او ۸۰۰ مېلیون ډالروته ورسید چې ۳۹.۹ سلنه زیاتوالی په کې راغی.

اوسمهال چین د نړۍ له ۲۲۰ هېوادونو او سیمو سره سوداګري کوي . او جاپان، امریکا، اروپایي اتحادیه، د هانګ کانګ ځانګړې اداري سیمه ، جنوب شرقي اسیایي هېوادونو اتحادیه، جنوبي کوریا ،د چین تایوان ولایت، استرالیا، روسیه او کانادا د چین لس نوي سوداګریز شریکان دي (۲۰ : ۱۲۰،۱۲۱).

۱.۴.۶. اوبیزه سوداګري او ابناګاني

اوبیزه سوداګري په نړۍ کې پرته له شکه د کشتیو او بندرونو په مرسته ترسره کېږي، بناً پردي دې ډول بندرونو ته لاسرسی د زیات ارزښت لرونکی وي . په ۱۹۲۲ م کال کې د ملتونو ټولنې (جامعه ملل) یوې کمېټې یو مسوده ترتیب کړه چې وروسته په دویم عمومي کنفرانس کې چې په جینوا کې و، په هماغه کال کې تصویب شوه. د دویمې

ketabton.com - The Digital Library

نړیوالې جګړې تر پیل پورې دا ټرون د (۲۳) هېوادونو د مستعمراتو په ګډون د قبول وړ وګرځیدو، د دې ټرون د دویمې مادې له مخې د هېوادونو په بندرونو کې پرته له تبعیض څخه د شته ټولو اسانتیاوو څخه د ټولو لپاره د ګټې اخېستنې اجازه وه. البته د نړیوالو او آن د هېوادونو له قلمرو اوبو څخه ګټه اخیستل د کشتیو چلولو او سوداګرۍ لپاره د نړیوالو قوانینو پر اساس د سولې په وخت کې د ټولو هېوادونو مسلم حق دی. په داسې حال کې چې له ابناګانو څخه په دې باره کې استفاده د زیات ارزښت لرونکې ده، ځکه ددغو مغابرو پلنوالی د استانبول په ګاونډ کې ابناګانو لپاره تر سلګونو متره، د انګلیسان او فرانسې ترمنځ د دور(Dover) ابنا او یا د الاسکا او پخواني شوروي اتحاد ترمنځ د بیرنګ (Bering) ابنا لپاره تر ۲۰ میله زیات اختلاف موندونکی دی.

په هر حال که چیرته د ابناګانو پلنوالي له ۶ میلو څخه زیات وي، هېوادونه لهدې امله چې په ټولنیزه توګه سمندري قلمرو تر درې میله پراختیا لري د هغې منځنۍ برخې څخه د نړیوالو اوبو په بڼه د استفادې حق لري. آن چې په دې بڼه هم د مالاکا(Malaca) ابنا چې له شپږو میلو څخه زیات پلنوالی (سور) لري د مالیزیا او اندونیزیا د هېوادونو په وسیله چې هریو یې دولس (۱۲) میله ساحه د خپل سمندري قلمرو د ساحې ادعا لري په دوه مساوي برخو ویشل شوې ده.

په هره بڼه ابناګانې لهدې امله چې سمندري مسافرتونه لنډوي، په تیره په پخوا وختونو کې د زیات ارزښت وړ و. په ځینو وختونو کې یې د نړیوالې سوداګرۍ لوی مرکزونه جوړ کړي وو، اګر چې په اوس وخت کې له ابناګانو لکه ماجیلان، تورس (Torres) اویا بیرنګ څخه په سوداګریو چارو کې زیاته ګټه نه اخېستل کېږي، خو تر دې اخوا د ډنمارک، جبل الطارق، هرمز، ملاکا، دور او داسې نورو ابناګانو له ارزښت څخه انکار نه شو کولی. له همدې امله دی چې د نړۍ ځواکمن هېوادونه ددې ابناګانو د خلاص ساتلو او یا کنترول په برخه کې تل علاقه مند وو. چې البته د جبل الطارق، عدن، سنګاپور او یا فاکلینډ سیمو کنترول د انګلیسانو په وسیله یې له غوره بېلګو څخه دي (۵: ۱۸۳)..

ketabton.com - The Digital Library

د جبل الطارق ابنا چې لنډ سور (عرض) يې تر۸.۶ ميل پورې رسيږي د نړۍ له مشهورو ابنا ګانو څخه ده چې د اسپانيې جنوبي سواحل د افريقا له شمال غربي سواحلو څخه بيلوي، غرنۍ سيمه چې د هسپانيې په لور د هغې په ختيځه برخه کې موقعيت لري په ابنا کې تردد (دوه زړه توب) کنترولوي. اګر چې د اسپانيې تر ټولو جنوبي سيمه د تاريف (Tarifa) په نوم پر ابنا باندې د حاکميت له پلوه د جبل الطارق په پرتله ښه موقعيت لري، مګر د استفادې وړ بندر د نه شتون له امله او د دفاعي ستونزو له امله د کم ارزښت لرونکې ده.

انګليسانو د جبل الطارق غرنۍ سيمه په ۱۷۰۴م کال کې له اسپانويانو څخه لاس ته راوړه او د پرليسې ادعاوو سربيره دا هېواد تر اوسه پورې هغه کنترولوي. دا سيمه آن چې د هغې د نظامي پلوه د وخت په تيريدو سره له‌پامه غورزيدلې ده، هيڅ ډول اقتصادي او سوداګريز ارزښت نه لري. ددې ابنا د جنوبي ساحل د کنترول په موخه چې مراکش پورې تړاو لري د شلمې پيړۍ په لومړيو کې د جرمني، فرانسې، اسپانيې او انګلستان ترمنځ سياسي کلکې مبارزې روانې وې. د انګلستان هېواد هڅه کوله چې يا ده سيمه اقلاً بايد د جرمني تر کنترول لاندې رانشي، هغه مهال چې مراکش د فرانسې تر حمايت لاندې راغی، اسپانيې د ابنا جنوبي سواحل ونيول او د تنجير(Tangier) ښار د ملګرو ملتونو لخوا بې طرفه ښار په توګه وګڼل شو. ترڅو چې په ۱۹۵۶م کال کې د مراکش ازادۍ له‌امله د اسپانيې اړوند سيمې د تنجير په ګډون په هغه هېواد پورې وتړل شوې، اګر چې په دې ابنا کې د ازادۍ په برخه کې تردد(شک) هيڅ وخت نه و، مګر بيا هم د دې ابنا د سواحلو سياسي کنترول موخه د جنګ پر مهال د ځانګړو هېوادونو د کشتيو چلولو لپاره د دې ابنا خلاص ساتل و.

ترکي ابنا ګانې يا د باسفورس(Bospores) او د دردانيل (Dardanells) معابر د مرمره (Marmara) بحيرې په ګډون چې توره بحيره او مديترانې بحيره سره وصلوي د طارق ابنا په پرتله زيات ارزښت لري .د داردانيل ابنا چې اوږدوالی يې (۴۱ ميله) دی، سور يې له يو څخه تر څلورو ميلو پورې اختلاف لري. حال داچې د باسفورس ابنا د (۱۸.۶ ميله)

ketabton.com - The Digital Library

اوږدوالي او له ۶۰ یاردو *[1] څخه تر دوه میلو پورې سور لري . ددي ابنا ګانو د موقعیت په باره کې د ترکیې هېواد په داخلي قلمرو کې هیڅ ډول پوښتنه نشته ،مګر ددې ابناګانو سوداګریز ارزښت د تورې بحیرې ګاونډیو هېوادونو ته د پخواني شوروي اتحاد په ګډون تر دې حد پورې دی چې له هغې څخه ازاده ګټه کول د نړیوالو هوکړه لیکونو په وسیله تضمین شوی . له ۱۴۵۳ م را وروسته چې ترکانو قسطنطنیه فتح کړه او د دې ابنا دواړه غاړې یې په واک کې شوې د درېو پیړیو څخه د زیات وخت لپاره یوازې ترکیې پورې اړوند کشتۍ او یا د هغې هېواد په خدمت کې کیشتیو له هغې څخه د استفادې کولو حق لرلو. (۲۵ : ۷۳)

په ۱۷۷۴م کال کې یعنې هغه مهال چې تورې بحیرې شمالي غاړو کې تزاري روسیه مستقره وه د کوچک کاینارجي (Kuchuk Kainardji) د یو طرفه ترون له مخې د روسیې کوچنیو سوداګریزو کشتیو ته په یاده ابنا کې د ترکیې د اداري مقرراتو په پام کې نیولو سره د ګټې اخېستلو اجازه ورکړل شوه (۵: ۱۸۴، ۱۸۵).

په ۱۸۰۰ م کال کې دا امتیاز ترکیې په وسیله نورو سوداګري ي قدرتونو ته هم ورکړل شو چې د ۱۹ پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې د نړۍ ټولو هېوادونو ته وغزیدو، دې امتیازاتو کې جنګي کشتۍ شاملې نه وي . په ۱۷۹۸ م کال کې د روسیې او ترکیې ترمنځ د لږ دوام اتحاد د جوړیدو په پایله کې د روسیې هېواد جنګي کشتیو ته اجازه ورکړل شوه چې د باسفورس له ابنا تیر را تیرشي، په داسې حال کې چې د نورو هېوادونو پر جنګي کشتیو تورې بحیرې ته په تلو بندیز و. د یو څو کلونو وروسته د ترکیې او روسیې ترمنځ د ترون د ختمیدو او مخالفت د پیداکیدو او د غربي اروپا د ځواکونو د علاقو په ځانګړې توګه د انګلستان له املې مدیتراني بحیرې ته د جنګي کشتیو د ورود په برخه کې په ۱۸۴۱م کال کې ترون وشو ، چې ددې ترون له مخې یوازې د ترکیې جنګي کشتیو ته له دې ابناګانو څخه د تیریدو اجازه ورکړل شوې وه. په داسې حال کې چې ټولو هېوادونو کولی شول ورڅخه د سوداګرۍ په موخه کار واخلي.

---

*[1]: یو یارد د ۹۰ سانتي متره سره مساوي دی.

ketabton.com - The Digital Library

سره له دې چې ترکانو غوښتنه کوله ترڅو د کشتيو تګ راتګ د ورځې په موده کې وکړي او د هغې لپاره يې تحريري او رسمي اجازه لرله، دې وضعې دوام وکړ ترڅو چې ترکيه په عمومي نړيوالې جګړه کې د اتريش او جرمني په پلوي جنګ ته ورداخل شوه، په ۱۹۵۱م کال کې د انګلستان د فاجعه اميزې ناکامۍ د ګالي پولي (Gallipoli) جګړې له دې ابنا ګانو څخه د تيريدو او د هغه متحدې روسيې ته د مرستو رسولو په موخه ددې ابناګانو سوق الجيشي او سوداګريز ارزښت ډير زيات کړ. له همدې امله د جګړو ختميدل په ۱۹۲۰ م کال کې د سورس Sevre ټرون په لاسليک کيدو سره فيصله وشوه چې په دې ابناګانو کې د کيشتيو هر ډول مالونو د لېږد لپاره ازادي ده . تر دې وروسته په ۱۹۲۲م کال کې د لوزان ټرون د ترکيې او متفقينو ترمنځ لاسليک شو چې د هغې پر اساس د هر ډول مالونو وړلو راوړلو ته اجازه ورکړل شوه آن چې جنګي کشتيو هم کولی شو د نظامي ځواکونو د محدوديتونو په پام کې نيولو سره د سولې په وخت کې ورځخه تيرې شي (ايضاً : ۱۸۶) .

بايد يادونه وکړو چې د غربي هېوادونو په وسيله د دې ډول تصميم نيولو په برخه کې په هغه وخت کې د شوروي اتحاد د بحري قوو کمزوري هم دخيله وه، لکه وروسته چې په ۱۹۳۰م کلونو کې شوروي اتحاد د يولوی صنعتي او سمندري ځواک لرونکې هېواد په بڼه بدل شو، سياست هم بدلون وکړ. په دي وخت کې ترکيې ددې ابناګانو په سواحلو کې د نويو استحکاماتو د جوړولو لپاره له شوروي څخه د مرستې غوښتنه وکړه چې د شوروي او انګلستان لخوا تاييد شوه. د شوروي اتحاد موخه تورې بحيرې، او دانګلستان موخه مديترانې بحيرې ته د کشتيو مخنيوی و. چې په هره بڼه د سوداګريزو کشتيو مصونيت تر يوه بريده له منځه ولاړو، ځکه د لوزان د ټرون تطبيق د ترکيې په غاړه شو. دا چاره بالاخره په ۱۹۳۶م کال کې د مونترکس(Montreux) هوکړه ليک په وسيله پای ته ورسيده، چې د هغې پر اساس ددې ابناګانو د اداري په برخه کې زياتره امتيازات ترکيې ته ورکړل شول . تر دې وروسته شوروي اتحاد په پرله پسې توګه ددې ابناګانو په چارو او اداره کې د مستقيمې برخې او حق غوښتنه کوله، چې البته د غربي هېواد د ملاتړله امله د ترکيې لخوا ونه منل شوه .

ketabton.com - The Digital Library

د ډنمارک ابناګانې هم د سوداګریزو او سیاسي مسایلو او ارزښتونو له مخې د ترکیې ابناګانو سره ورته والی لري . ځکه د بالتیک بحیره چې شوروي اتحاد ورسره هم سرحد لري، د نړۍ له ازادو اوبو څخه ګڼل کېږي او د جغرافیایي پلوه ټولو ابنا ګانو په پرتله پیچلې بڼه لري . دا درې ابناګانې چې په موازي توګه یو له بل سره موقعیت لري عبارت دي له :

۱)ـ The great belt ابناچې د ډنمارک ټاپو وزمې ، د جټلنډ (Jytland) په نوم او فاین (Fyn) جزیرې ترمنځ ده، د موجوده ستونزو له امله کمه ترکټې اخېستنې لاندي ده.

۲)ـ The great belt ابنا چې د فاین (Fyn) جزیرې (ټاپو) ا ود جایلنډ (Sjaeland) ټاپو ترمنځ موقعیت لري او د زیات ژوروالي او پلن والي له مخې تر ډیرې ګټې اخیستنې لاندي ده .

۳). د ساوند (The sound) ابنا د جایلنډ ټاپو او سویډن ترمنځ موقعیت لري زیاتې ګټې تړې اخېستل کېږي .

د ډنمارک هېواد له پخوا زمانو راهیسې تر ۱۷ پیړۍ منځنیو پورې د پورته یادو شوو ابناګانو په دواړو خواوو واک لرلو، تر دې چې په (۱۶۵۸م)کال کې د سویډن هېواد د ساوند ابنا ختیځې غاړې لاس ته راوړې . په هره بڼه ډنمارک تر یوه بریده د همدې ابناګانو د کنترول او په بالتیک او شمال بحیره کې د سوداګریز کنترول د ځواک په پیداکولو په یو لوی اروپایې ځواک بدل شو.

د ساوند ابنا چې په کم عرضه ځای کې له ۳ میله زیات سو ر درلود، طبعاً د بحري قلمرو ساحه ګڼل کېږي، له همدې امله د ډنمارک بادشاه پر هغې د حاکمیت دعوه لرله، او له ۱۵م پیړۍ را وروسته ټولې هغه کشتۍ چې له هغې تیریدلې حق العبور ورڅخه اخېستل کیدو، دې وضعې تر ۱۹ م پیړۍ پورې آن تر دې وروسته هم هغه وخت چې سویډن شرقي سواحل هم تصرف کړل دوام ومونډو. اګر چې پر ډنمارک هېواد ددغسې کنترول له امله په پرله پسې نېوکې وي، مګر ډنمارک ورته ډیره په کمه کتل ترڅو چې په ۱۹ م پیړۍ کې د

ketabton.com - The Digital Library

بالتیک او شمال بحیرې په منځ کې د سوداګرۍ حجم کې زیاتوالی راغی او له همدې امله په ۱۸۴۸م کال کې د ډنمارک دغه چارې د امریکا متحده ایالاتو د سختو نیوکو لاندې راغلې او د ډنمارک هېواد لخوا له کشتیو څخه د حق العبور اخیستل یې د نړیوالو مقرراتو سره مخالفت وګڼلو . ډنمارک دعوه کوله چې نژدې څلور پیړۍ یې دا ډول محصول اخیستی، بناً پردې په راتلونکي کې هم باید دې ډول ګټې اخېستنې ته دوام ورکړل شي (۳۵: ۷۷).

په هره بڼه په ۱۸۵۷م کال کې دکوپن هاګن کنفرانس په پایله کې له دې ابنا ګانو څخه د ګټې اخېستنې بشپړه ازادي د ټولو هېوادونو لپاره د تاییید ورڼ شوه.

د ماجیلان ابنا چې د جنوبي امریکا او د (Tiorradel fuego) ټاپو ترمنځ موقعیت لري هم له دې پلوه د ارزښت وړ ده . دا ابنا (۳۵۷) میله اوږدوالی لري او د زیاتو کږ لیچونو په لرلو سره په ځینو ځایونو کې ډیره کم سوري (کم عرضه) وي. حال داچې سیاسي ارزښت یې د هغو ابناګانو په پرتله چې وړاندې ورڅخه یادونه وشوه د پرتلنې وړ نه دی، ځکه کشتۍ کولی شي له دې څخه تر تېرېدو پرته یا د هورن(Horn) دماغې له جنوب څخه تیرې شي . سره له دې چې د ماجیلان له ابنا څخه تیریدل د واټن د کمولي او د مسافرت د مصونیت له امله د ارزښت وړ دي . اګر چې ددې ابنا شرقي مدخل (ختیځه د ننوتلو لار) د اطلس سمندر پر لور د ارجنټاین سمندري قلمرو کې راځي، مګر بیا هم یاده ابنا چیلي هېواد پورې تړاو لري . له دې ابنا څخه ګټه اخیستنه په ۱۹م پیړۍ کې د زیاتیدو په حال کې وه او تر (۱۹۱۴م) کال پورې چې د پانامې کانال پرانسته وشوه د ترافیکو حجم زیات توپیر ؛ ونه کړ. مګر له یادې نېټې وروسته یې ارزښت په تدریجي ډول کم شو. که څه هم د چیلي او ارجنټاین جمهوریتونو د دې ابنا د کنترول په برخه کې کلونه وړاندې دعوې لرلې مګر په ۱۸۵۵م کال کې دا ډول پریکړه وشوه، چې د هغې اداره دې د اسپانې امپراتورۍ پخوانیو ولایتونو پر اساس ویش شي. نورو هېوادونو لکه انګلستان او متحده ایالاتو هم په دې اړه علاقه وښودله او اړوند هېوادونو په وسیله یې د مستقیم کنترول سره

ketabton.com - The Digital Library

مخالفت وښود، په ځانګړي توګه متحده ایالاتو چې په دې ابناکې یې د سوداګرۍ ازادي د ډنمارک ابناګانو څخه څو چنده مهمه وه.

په ۱۸۸۱م کال کې د چیلي او ارجنټاین حکومتونه د متحده ایالاتو په منځګړیتوب موافقې ته ورسیدل. ددې موافقې (هوکړې) پر اساس د دواړو هېوادونو تر منځ پولې تثبیت او د ابنا بیطرفي (بې لوری توب) تضمین شوه . او په همدې توګه د ټولو هېوادونو لپاره ورځخه دګټې اخېستلو اجازه وشوه.

د نړۍ د ابناګانو ټولیزشمېر چې پورته نړیوال قوانین پرې تطبیق شوي، او ځینې یې د زیات سوداګریز ارزښت لرونکې هم نه دي ؛ ډیر زیات دی، چې یو شمېر زیاتې یې د غرب الهند او شرق الهند ټاپوګانو ترمنځ لیدلی شو(۵: ۱۸۳–۱۸۹).

(۱.۶) جدول: دنړۍ غوره ابنا ګانې(۵: ۹۰).

ګڼه	ابناګانې		اړوند هېواد	په میل Mile سره یې عرض (سور)
۱	دو ور	Dover	انګلستان اوفرانسه	۲۱
۲	مېسینا	Messina	ایټالیا	۲
۳	اوترانتو	Otranto	ایټالیااوالبانیا	۴۵
۴	سکاګیراک	Skagerrake	ډنمارک اوناروی	۷۰
۵	کاتیګات	Kategat	سویډن اوډنمارک	۳۸
۶	شمال کانال	North Chanal	انګلستان	۱۲
۷	سیسلي ابناګانې	Sicily	ایټالیا اوتونس	۹۰
۸	باب المندب	Bab ul mandab	حبشه اویمن	۲۰
۹	هرمز ابنا	Hormuz	عمان اوایران	۴۰
۱۰	ملاکا	Malaca	اندونیزیا	۲۵
۱۱	پالک	Palk	هند اوسریلانکا	۲۵

ketabton.com - The Digital Library

۱۲	فارموسا ابنا	Formosa	فارموسا اوچين	۹۰
۱۳	تسوشيما	Tsushima	جاپان اوکوريا	۹۵
۱۴	تورس	Torres	استراليا اونوی ګيني	۹۰
۱۵	باس ابنا	Bass	استراليا	۱۳۰

۲.۴.۶. اوبيزه سوداګري او کانالونه

کانالونه هغه نرۍ اوبه دي چې دوه لوې اوبه سره نښلوي، او دوه وچې سره بېلوي . کانالونه د دوو کتلو اوبو د يوځای والي په موخه کيندل کېږي او د کشتيو د تګ راتګ لپاره د ابناګانو په ځير کارول کېږي.

هغه کانالونه چې د بحيرو(سمندرګيو) د پيوستون په موخه کېندل شوي دي په لاندې ډول يې په تفصيل سره روښانوو.

۱.۲.۴.۶.دسويز کانال

دسويز کانال دترافيکو د حجم له پلوه ډير غوره ګڼل کېږي چې د جوړولو چارې يې په (۱۸۵۹) کال کې پيل او په (۱۸۶۹م) کال کې د ګټې اخېستنې جوګه شو، په همدې توګه له (۱۸۷۵م) کال را وروسته برتانيه هم ددې کانال په اداره کې برخمنه وه. ددې کانال اوږدوالی (۱۰۳) ميله پورې او عرض يې (۱۹۷) فټه دی . ددې کانال منځته راتلو سره د اروپا د شمال غرب او هند ترمنځ د (۵۰۰۰) ميلو په اندازه واټن راکم شو. په ۱۹۵۵م کال کې د سويز تر بحران او ترڅو وړاندې د (۱۴۶۶۶) کشتيو په شمېر چې د (۱۱۵۷۵۶۳۹۸) ټنه وزن لېږدونکې وې، له دې کانال څخه تيرې شوې وې . چې له دې ډلې ۲۰ سلنه يې برتانيې او پاتې نورې يې نورو هېوادونو لکه ناروې (۱۶ سلنه) ،ايټاليې (۸ سلنه) او فرانسې (۷سلنه) پورې تړاو درلود . همدارنګه ۲۰ سلنه يې په لايبريا او پانا مې پورې اړوندې وې .

ketabton.com - The Digital Library

د سویز کانال د سویز کانال د کمپنۍ په مرسته چې زیاتره پانګې یې فرانسې پورې تړاو درلود کیندل شوی . د دې کانال کښدونکې کمپنۍ ته دا کانال د ۹۹ کلونو لپاره په واک کې ورکړل شوی و، چې له پیل له نېټې شروع تر ۱۹۶۸م کال پورې و . له دې نېټې وروسته یاد کانال د مصر هېواد په واک کې شو(۲۰ : ۱۲۶، ۱۲۷).

البته د یادولو ده چې ددې کانال شتون پر انګلستان سرېیره د ټولو اروپایي هېوادونو لپاره حیاتي ارزښت لري د سویز کانال کنوانسون چې په ۱۸۸۸م کال کې په قسطنطنیه کې منځته راغی، چې د ۹ هېوادونو لخوا لاسلیک شوی و. له دې کانال څخه ګټه اخیستنه د ټولو هېوادونو لپاره تضمین شوه، پرته له دې چې د سولې او جنګ توغ یې پورته کړی وي . پر دې سرېیره بیا هم انګلستان د مصر اداره د یو تحت الحمایه په بڼه له ۱۹۱۴-۱۹۲۲ م کلونو پورې په غاړه واخیسته آن چې تر ۱۹۴۵ م کال پورې یې خپلې لښکرې د هغې په غاړوکې وساتلې . د ۱۹۵۶ م کال د جولای په میاشت کې د مصر حکومت دا کانال ملي اعلان کړو چې د ذیعلاقه (مصر او انګلستان) لورو ترمنځ د جنګ د پیدا کیدو لامل شو؛ چې ورسره سم کانال بند شو. د دې جنګ په پایله کې اروپایي سوداکریزو مالونو ته په ځانګړې توګه د نفتو په برخه کې زیات تاوانونه ورسیدل.

دا چې د سویز کانال ارزښت د اروپایي هېوادونو د اقتصاد لپاره مخکې تر مخکې معلوم و، او د زیاترو هېوادونو د توقع پرته ، مصر وتوانیدو چې یاد کانال په ۱۹۵۷م کال کې بیا ځلې فعال کړي . او د اسرایلو پرته ټولو هېوادونو په اړه د ۱۸۸۸م کال کنفرانس دتطبیق وړ وګرځیدو.

په ۱۹۶۷م کال کې مصر د ملګرو ملتونو له هغو ناظرینو څخه چې اسرایلو ته یې له تیران ابنا څخه د عقبه خلیج په لور د کشتیو چلولو حق ورکړ؛ له مصر څخه د وتلو غوښتنه وکړه . چې په دې کار سره د عربو او اسرایلو تر منځ درېیم جنګ رامنځته شو او په پایله کې د سویز کانال په تړل کیدو تمام شو. باید یادونه وکړو چې دا ځل د کانال تړل کیدلو پایلې د ۱۹۵۶م په پرتله ډیر زیاتې خطرناکې وي . د سویز کانال د اوږدو کلونو تړل کېدو وروسته یو ځل بیا په ۱۹۷۵ م کال کې د ګټې اخیستلو لاندې راغی او مصر ددې د حق

ketabton.com - The Digital Library

العبور له درکه په ۱۹۷۷ م کال کې له ۵۰۰ مېلیون ډالرو زیات لاس ته راوړي وو (۵ : ۱۹۳، ۱۹۴)او (۲۰ : ۱۲۶، ۱۲۷).

۶ . ۴ . ۲ . ۱. د پانامې کانال

دپانامې په هېواد کې دیوې اوبیزې لارې دجوړېدو سوچ او هوډ تر ۱۶مې میلادې پېړۍ پورې رسېږي ، خو ددې اوبیزې لارې د جوړېدو په پار لومړنۍ هڅې په ۱۸۸۰م کال کې دفرانسویانو په مشرۍ پیل شوې . ددې پروژې تر ناکامۍ وروسته چې د۲۱۹۰۰ کاریګرو په مړینه تمامه شوه ، وروستۍ پروژې ته د امریکایانو په وسیله دوام ورکړل شو او د۱۹۰۰م کال په شاوخواکې پای ته ورسېد. تر څو چې کانال تر ۱۹۱۴م کال د ګټې لپاره پرانستل شو .

ددې ۲۷ کېلومتري کانال د جوړښت د زیاتو ربړو سره یو ځای و. په دې کانال کې د کار د بشپړېدو وروسته (دفرانسویانو او امریکایانو په موده کې) په ټولیزه توګه ۲۷۵۰۰ وګړي مړه شوي وو.


د پانامې کانال هم د سویز کانال د ورته (مشابه) دلایلو له املې لکه د اوږدو مسافرتونو او د لګښتونو د مخنیوي له املې کیندل شوی . حال دا چې د جوړولو او فعال ساتلو لګښت یې د سویز کانال په پرتله څو واړې زیات ښودل شوی . له همدې املې و، چې د پانامې کانال و نه توانیدو چې د ماجیلان ابنا د تګ راتګ او لارې ارزښت په بشپړه توګه له منځه یوسي. سره له دې چې هغه کشتۍ چې له پانامې کانال څخه یې ګټه اخیسته د ورځې په تیریدو سره مخ په زیاتیدو دی . په ۱۹۶۹م کال کې په ټولیزه توګه د ۱۳۱۵۰ په شمېر کشتۍ له دې کانال څخه تیرې شوې وې، چې د ۱۰۷ مېلیون ټن په اندازه توکي یې لېږدولي وو. البته له دې کشتیو له ډلې ۱۲ سلنه یې د امریکا په متحده ایالاتو، ۱۱ سلنه یې په برتانیې ، اوپاتې ۷۷ سلنه کشتیو یې په ۳۹ هېوادونو پورې تړاو درلود. پټه دې نه وې چې په ۱۹۷۶ م کال کې د ۱۲۲۸۰په شمېر کشتۍ د ۱۱۷.۴ مېلیون ټن په اندازه د محمولې (

ketabton.com - The Digital Library

بار) توکو په لرلو سره د پانامې کانال څخه تیرې شوې وې چې د حق العبور عواید یې تر ۱۳۵ ملیون ډالرو پورې رسیدل.

د پانامې کانال په ۱۹۰۳م کال کې په هغه ځمکه چې د امریکا متحده ایالاتو په اجاره نیولې وه، وکیندل شو. دا ساحه چې د امریکا متحده ایالاتو تر کنترول لاندې وه، د ۱۰ میل په اندازه عرض (سور) او د (۵۰) میل په اندازه طول لري. دا کانال د معاصرې تکنالوژۍ څخه په ګټې اخېستنې په مرتبه داره توګه جوړ شوی دی.

ددې کانال په بریالیتوب د چارو دتر سره کولو وروسته په اوبیزه سوداګرۍ کې یو غټ بدلون راغی ، یوازې په ۲۰۰۵م کال کې د ۱۴۰۱۱ په شمېر چې په ټولیزه توګه یې د ۸،۲۷۸ ملیون ټن په اندازه توکي لېږدول له دې کانال څخه تېرشوي ، دا داسې ښیي چې له دې کانال څخه په یوه شپه او ورځ کې نژدې ۴۰ کشتۍ تګ راتګ کوي .



(۱.۶) نقشه : دپانامې کانال.

http://www.google.com.af/search?dcr=0&biw=1366&bih=598&tbm=isch&sa=1&ei=dEm3WsGZEoeB6ASgzbeICw&q=0.Q4flRma_XPQ#imgrc=_7WTiIlWqT9NVM:&spf=1521961616228

ketabton.com - The Digital Library

۶.۴.۲.۲. دکیل کانال

ددې کانال د جوړښت چارې په ۱۸۸۷م کال کې پیل شوې او په ۱۸۹۵م کال کې یې د المانې قیصر (پاچا) دویم ویلهلم لخوا پرانسته وشوه . دا کانال له هماغه مهاله تر ننه پورې څو ځله تعریض شوی. دا اوبنۍ لاره تر ۱۹۴۸م کال پورې د دویم ویلهلم د پلار لومړي ویلهلم په نوم یادېدو . نن ورځ په نړیواله کشتۍ چلونه کې په انګلسي نوم یعنې Kiel Canal تر ګټې اخستنې لاندې دی.

د کیل کانال د المان په اشلسویګ –هولشټاین ایالت کې د ۹۸ کېلومتره په اوږدو جوړ دی چې دشمال سمندرګی د ختیځ سمندرګي سره نښلوي او دنړۍ د ډیرو بېړو بار لرونکو اوبنیو لارو څخه دی . د روسیې اوبالتیک سمندرګي د هېوادونود اقتصادي عښتلتیا په پار د کشتیو تګ راتګ پکې په ۱۹۹۶م کال کې له ۴۸ملیون ټن څخه تر ۲۰۰۵م کال پورې ۸۸ ملیون ټن پورې ورسېدو.

https://fa.wikipedia.org/wiki/%DA%A9%D8%A7%D9%86%D8%A7%D9%84_%DA%A9%DB%8C%D9%84

د کېل کانال چې د بالتیک سمندرګی او شمال سمندرګی د ډنمارک ټاپو وزمې له لیارې سره تړي هم په اروپا کې د زیات ارزښت لرونکی دی ، یاد کانا ل په ۱۹۱۴ م کال کې د جرمني هېواد له لوري وکښندل شو ، دغه کانال ۶۱ میله اوږدوالی لري او د سوق الجیشي موقعیت له پلوه د زیا ت ارزښت لرونکی دی . ټولو هېوادونو ته د باندینۍ سوداګرۍ په موخه د وارسای تړون وروسته په یاد کانال کې اجازه ورکړل شوه . په ۱۹۳۶ م کال کې د المان هېواد د وارسای تړون لغوه اعلان کړ او یوازې یې ملګرو هېوادونو لپاره ورځخه د ګټې اخېستلو اجازه ورکړه ، چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته یو ځل بیا یاد کانال د ټولو هېوادونو پر مخ پرانیستل شو(۲۰ : ۱۲۷).

ketabton.com - The Digital Library



(۲.۶) نقشه : د کیل کانال

http://www.google.com.af/imgres?imgurl=http%3A%2F%2F3.bp.blogspot.com%2=0ahUKEwiyvsyy94baAhWR_qQKHSP8BHwQMwg4KAAwAA&iact=mrc&uact=8

دا کانال چې په المانې کې د شمال –ختیځ (Nord –Ostsee Kanal) په نوم یادNOK په لنډیز سره یادیږي ،دنړۍ له ډېروبار لرونکومصنوعي اوبیزو لاور څخه دی اوپه ۲۰۰۷ م کال کې له ۴۳۰۰۰ څخه زیاتې کشتۍ ورځخه تېرې شوي . چې دا شمېر په ۲۰۱۴ م کال کې دوه برابره ښودل شوی.

https://fa.wikipedia.org/wiki/%DA%A9%D8%A7%D9%86%D8%A7%D9%84_%DA%A9%DB%8C%D9%84

(۲.۶) جدول : دافریقا په شمال او منځني ختیځ کې د نړیوالو اوبیزو لارو جغرافیایي ځانګړنې (۳۷ : ۲۰۲).

داوبیزې لارې نوم	کم پلنوالي یې په سمندري میل سره	اوږدوالی یې (په سمندري میل)	ژوروالی یې (په متر)	په یوه ورځ کې ورځخه د تېرېدونکو کشتیو شمېر	دغارې هېوادونه یې
دجبل الطارق تنګی	۱۰	۳۵	۸۰–۶۰۰	۱۵۰	اسپانیه او مراکش
دردانیل	۷۵،۰	۳۶	۴۹–۹۱	۶۰	ترکیه
بسفر	۳۳،۰	۱۷	۴۹	۵۰	ترکیه

ketabton.com - The Digital Library

باب المندب	۵،۱۰	۳۵	۱۸۳-۱۲	۵۵	دیمن جمهوریت، ایتوپیې او جیبوتي
دهرمز تنګی	۰،۲۱	۱۰۰	۲۱۳-۷۶	۸۰	ایران او عمان
سویز کانال	۱۷۸	۱۰۱	۱۶	۶۰	مصر
تیران تنګی	۰،۳	۷	۱۸۳-۷۳	له ۱۰کم	مصر او سعودي عربستان

۳.۴.۶. اوبیزه سوداګري، بندرونه او ازاد ښارونه

یوه له هغو ستونزو څخه چې معمولاً په اوبیزه سوداګرۍ کې د پام وړ ده د سوداګریزو موادو کم حجم دی . د بېلګې په ډول که چیرته یوه اندازه توکي له دومنیکا له جمهوریت څخه ډنمارک ته د لېږد مطلوب وي، او دا اندازه د کشتۍ د انتقالي ظرفیت څخه کمه وي، لازمه ده چې دا مالونه لومړی له دومنیکا څخه یو بل ښارلکه نیویارک ته، وروسته له هغې هامبورګ ته یورېل شي او وروسته ډنمارک ته ولېږدول شي . په ځینو حالاتو کې په نیویارک او جرمني کې ددې ډول اضافي لګښتونو منل او د ګمرکي محصول تادیه کول د ملاحظې وړ دي . ددې ستونزي یوازینۍ د حل لاره په بندرونو کې د ګمرکونو څخه د ترانزیتي مالونو معافیت دی . په همدې موخې د امریکا متحده ایالاتو په ۱۹۳۶ م کال د نیویارک په بندر کې د ستاټن (Staten) ټاپو یوه برخه ازاده سیمه (Free Zone) اعلام کړه . وروسته دا ډول سیمې د متحده ایالاتو په نیواورلین (New Orleans) ، سانفرانسسکو، لاس انجلس او سیاتل (Seattle) بندرونو او د پورتوریکو په مایاګویز (Mayaguez) کې تاسیس شوې.

ازاد بندر (Free Zone)د یو بندر هغه سیمه ګڼل کېږي چې په هغې کې د بیلا بیلو هېوادونو کشتۍ خپل توکي له قید او هر ډول محصول ورکولو پرته بار، ښکته او پورته کوي. په همدې توګه ازادې ساحې (Free Zone) هم هغه سیمې دې چې د بیلابیلو

ketabton.com - The Digital Library

سوداګریزو توکو د ځای پرځای کولو په موخه کارول کېږي، د نړۍ تر ټولو مهم ازاد بندر هانګ کانګ (Hong Kong)دی چې د چین، فلپاین، تایوان او د اسیا د جنوب ختیځو نور هېوادونو سوداګریز مالونه له هغه څخه د اروپا، امریکا او نړۍ هرې سیمې ته لېږدول کېږي . د طنجه او سنګاپور بندرونه هم همدا ډول ازاد بندرونه دي، په همدې توګه جبل الطارق هم د هغه په کم ارزښت سرېیره یو ازاد بندر دی . په عدن کې ټول ازاد بندرونه، کنری (Canary) ټاپوګان، د پانامې پر کانال د کولون(Colon) بندر او د سویز پرکانال د پورت سعید بندر همداسې ازاد بندرونه دي(۲۰: ۱۳۵،۱۳۶).

ازاد بنارونه (Free Cities) هم د همدې ډول موخو لپاره کارول کېږي . ددې ډول بنارونو شمیر په منځنیو پیړیو کې په اروپا کې زیات و، حال دا چې په معاصرو پیړیو کې دا ډول بېلګې کمې لیدل کېږي . په شلمې پیړۍ کې یې غوره بېلګه د دانزیک یا ګدانسک (Gdansk) بنار و، چې زیاتره اوسیدونکي یې جرمنیان وو، حال دا چې د سوداګرۍ له مخې د پولنډ لپاره د ارزښت وړ و، له همدې امله په یو ازاد بنار تبدیل شو . چې د اداري لپاره یې عالي کمیشنر د ملتونود ټولنې لخوا ټاکل کیدو.

د فیوم (Fiume) بنار هم د ورته شرایطو لاندې راغلی و. ځکه چې ددې بنار زیاتره اوسېدونکي ایټالویان وو . حال دا چې د یوګوسلاویایانو لخوا تر ګټه اخیستل کیده، دې بنار په ۱۹۲۰م کال کې د یو ازاد بنار حیثیت غوره کړ، حال دا چې وروسته د ایټالیا یوه برخه شوه . مګر له ۱۹۴۵م کال را وروسته یې یوګوسلاویا پورې تړاو وموند. یوګوسلاویا په همدې ډول د تریست (Trieste) د بنار او بندر په ځمکه دعوه لرله ، چې البته وروسته د هغې د شاوخوا په ګډون د تریست (Trieste) د ازادې سیمې په حیث د امریکایي او برتانوي لښکرو په وسیله ونیول شوه، د هغې هوکړې له مخې چې د امریکایي او برتانوي لښکرو (اشغالګرو لښکرو) او د یوګوسلاویا او ایټالیا حکومتونو تر منځ شوې وه ، دا سیمه د دواړو هېوادونو تر منځ ویش شوه. چې ددې ویش پر بنسټ د تریست ازاد بنار ایټالیا پورې وتړل شو. البته د ایټالیا هېواد ژمنه وکړه چې تریست بنار به د یو ازاد بندر په توګه ساتي . اګر چې په دې اړه کوم رسمي تړون نشته، مګر بیا هم دا هوکړه لیک آن چې د

ketabton.com - The Digital Library

ډیفکتو Defacto په بڼه د ملګرو ملتونو لخو منل شوی دی(۵ : ۱۹۷،۱۹۸)او (۲۰: ۱۳۵،۱۳۶).

۴.۴.۶. په نړیوالو اوبو کې اوبیز ترانسپورت

نړیوال سیندونه هغو سیندونو ته ویل کیږي چې د هغې د اوبو اخیستنې حوزه د دوو یا څو ګڼو هېوادونو ترمنځ وي . له لرغونو زمانو راهیسې سیندونه د زیات حجم لرونکو توکو د لېږد رالېږد لپاره کارول شوي دي . دېبلګې په توګه په اروپا، جنوبي امریکا او داسې نورو سیمو کې په پخوا وختونو کې یې له سیندونو څخه آن چې له اوسمهال څخه زیاته ګټه اخېستل کیده ، په ګڼو سیمو کې د حق العبور ورکول یو له هغو لاملونو څخه و چې له سیندونو څخه یې په ګټواخېستلو کې کموالی راوست، د بېلګې په توګه د سویزرلیند او شمال بحیرې تر منځ راین سیند په جریان کې له ۳۰ څخه زیاتو ځایونو کې حق العبور ورکولو چې ځینې وخت به ددې ډول حق العبور ورکولو اندازه د لېږدېدونکو توکو د ارزښت څخه زیاته شوه.

د شیلډ (Scheldt) سیند لومړنی نړیوال سیند و، چې د خواوشا ټولو ګاونډیو هېوادو لپاره د استفادې په موخه وکارول شو. ددې سیند د بهېدو لاندینۍ برخه او خوله د انتورپ (Antwerp) بندر په ګډون په ۱۷ م پیړۍ کې د هالنديانو لخوا د ټولو هېوادونو د حمل ونقل لپاره وټرل شوې . په (۱۷۹۲م) کال کې فرانسوي لښکرو هغه ونیولو او ورڅخه یې د ټولو ګاونډیو هېوادونو لپاره د ګټې اخېستلو اعلان وکړ.

د راین (Rhine) سیند پر لور د فرانسې د سرحدونو وړاندې توب هغه محدودیتونه چې له دې سیند څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې موجود وو؛ له منځه یوړل، سره له دې چې یوه اندازه حق العبور په دې پړاو کې هم د خدماتي لګښتونو د بسنې په موخه اخېستل کیدلو، ترڅو چې په ۱۸۶۸ م کال د منهایم (Manheim) د کنوانسیون پر اساس د راین (Rhine) سیند څخه د ګټې اخېستلو ټول محدودیتونه لمنځه ولاړل . تر دې مخکې د ویانا کنفرانس چې په ۱۸۱۴م کلونو کې د ناپیلون له جنګونو وروسته په اروپا کې د سولې

ketabton.com - The Digital Library

راتلو په موخه دایرشوی و، په کې همداسې هڅه شوې وه تر څو له نړیوالو سیندونو څخه د حمل و نقل لپاره د ګټې اخیستلو ازادي تضمین کړي چې البته شلید، میوز(Meuse) ، راین او مرستیالان سیندونه یې په کې شامل وو. دا ډول مقررات په دانیوب سیند له ۱۸۵۶ م کال وروسته، او د مرکزي افریقا په سیندونو له ۱۸۸۰م کال وروسته تطبیق شول. حال دا چې له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د نړۍ ټول سیندونه په کې راونغښتل شول. په بله ژبه د پارس ټرون چې په ۱۸۵۶ م کال کې یې کریمیه جنګونو ته د پای ټکی کښښود په دانیوب سیند کې یې کشتۍ چلول د ویانا کنګرې د مندرجاتو په پام کې نیولو سره تائید کړل(۵ : ۲۰۱) .

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته یو ځل بیا د هغه په ګاونډ کې د سوسیالستي هېوادونو په منځته راتلوسره پرې محدودیتونه ولګول شول. حال داچې له ۱۹۶۰ م کال را وروسته یو ځل بیا له درې واړو سیندونو څخه استفاده په تدریجي توګه زیاته شوه. په همدې ترتیب کله چې په ۱۸۸۵م کال کې د کانګو سیند حوزه د ټولو هېوادونو لپاره سوداګریزه ازاده سیمه اعلام شوه، د دې هېوادونو سیندونه هم د کشتۍ چلولو لپاره ازاد شول، په دې ټرون کې د کانګو سیند او مرستیالانو سرییره یې د نایجر (Niger) سیند هم رانغښتي و. سره له دې چې د دواړو سیندونو د جریان منځنۍ برخه د لاندینۍ برخې څخه د ځړوبو په وسیله بېلېږي، چې کشتۍ چلول په کې ستونزو سره مخامخ کېږي. په وروستیو ټرونونو کې د مرکزي افریقا جهیلونو په ګډون نور سیندونه هم ازاد وګڼل شول. په ۱۹ م پیړۍ کې ددې ډول ټرونونو نورې بېلګې له سیندونو څخه د ګډې ګټې اخیستنې په موخه ولیدل شوې.. په ۱۸۹۷ م کال کې د ایران او د هغه وخت ترکیې امپراتورۍ چې د عراق خاوره هم په کې شامله وه، ټرون وکړ چې د شط العرب سیند څخه په ګډه توګه ګټه واخلي. په همدې توګه په ۱۸۴۸م کال کې د امریکا متحده ایالات او مکسیکو د ریوګراند (Riogrande) له سیند څخه د ګډې ګټې اخیستني موافقه وکړه. په ۱۸۵۱ م کال کې برازیل هوکړه وکړه چې د پیرو هېواد کشتیو ته اتلس سمندر ته د رسېدو په موخه په امازون سیند کې اجازه ورکړي، څو کلونه وروسته دواړو هېوادونو هوکړه وکړه چې له دې سیندونو او مرستیالانو څخه یې ټول هېوادونه کولی شي ګټه واخلي.

ketabton.com - The Digital Library

په همدې ترتیب لیدل کېږي په ۱۹ م پیړۍ کې یو شمېر زیات نړیوال سیندونه ټولو هېوادونو ته د ګټې اخېستنې لپاره په واک کې ورکړل شول . د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د وارسای تړون (۱۹۱۹م) په پایله کې د نړیوالو سیندونو په اړه ځینې عمومي مقررات او قوانین وضع شول، چې د هغې پر اساس الب (Elbe)، اودر(Oder) سیندونه او د دانیوب سیند د بهیدو پاسنۍ برخه ددې ډول سیندونو په لیکه کې راغلل. په همدې توګه لـه (۱۹۱۹–۱۹۲۰م) کلونـو کـې ځینـې نـور سـیندونه لکـه نیمـین (Niemen)، وسـتولا (Vistula)، موروا، (Morava) ،چکسلواکیا، تیسزا (Tisza) او پرت (Prut) سیندونه هم د نړیوالو سیندونو په لیکه کې وګڼل شول. پارس د سولې کنفرانس (۱۹۱۹–۱۹۲۰م) یو کمیسون وګمارلو تر څو په نړیوالو سیندونو کې د کیشتۍ چلولو د ازادۍ موضوع وارزوي . کمیسون په (۱۹۲۱م) کال کې په بارسلونا (Barcelona) کې جلسه وکړه او دیو کنوانسیون اساسونه چې له مخې یې د نړیوالو سیندونو څخه ګټه اخېستنه تنظیمېده، طرحه شوه. باید یادونه وشي چې یاده پریکړه یوازې له (۳۰) هېوادونو لخوا لاسلیک شوه، ځکه نور هېوادونه لکه ایټالیا او انګلستان له دې امله چې د کیشتۍ چلولو وړ سیندونه یې نه لرل، او یا لکه د امریکا متحده ایالاتو چې پخوا یې دې ته ورته قراردادونه د ګاونډیو هېوادونو سره لاسلیک کړي وو؛ یاد سند لاسلیک نه کړ.

د دوو نړیوالو جګړو په منځ پراو کې د ټولو هېوادونو کیشتیو پرته له کوم تبعیض له دې ډول سیندونو څخه ګټه اخېستله، سره له دې چې طرحه شوو بنسټونو له هغه څه سره چې په عمل کې لیدل کیدل په بشپړه توګه توپیر درلود. د بېلګې په توګه د امور سیند چې د شوروی اتحاد او چین ترمنځ سرحد یې جوړولو یو نړیوال سیند و، په هغې کې کشتۍ چلول د ۱۹۳۴م کال د تړون پر اساس ازاد و، حال دا چې په عمل کې دا ډول ازادي نه لیدل کیده . همدارنګه نورو ټولو هېوادونو وخت په وخت ځینې محدودیتونه لکه پر سیندونو د متحرکو پلونو جوړول او دحق العبور وضع کول؛ ښایي په اړه یې ممانعتونه رامنځته کړي (۵ : ۲۰۱– ۲۰۳).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

سره ددې چې په منځنيو پېړيو کې په اروپا کې سوداګري تر ډيره بريده کنترول او محدوده وه، خو ادم سمت د تيورۍ پر بنسټ بايد حکومتونو د بهرنۍ سوداګرۍ د ازادۍ او پرمختګ لپاره د سوداګرو مرسته کړې واى، چې ددې تيورۍ اغېزې په لومړي پړاو کې راڅرګندې شوې، بهرنۍ سوداګرۍ ته نسبي ازادي ورکړل شوه. انګلستان يوازينى هېواد و چې په ۱۹م پېړۍ کې يې ازاده سوداګري تشويقوله.

که څه هم د نړۍ پر مخ داسې هېوادونه شته چې په ټولو برخو کې پرځان متکي وي او په بهرنۍ سوداګرۍ کې لاس نه لري. نو ويلى شو چې بهرنۍ سوداګري د ټولو هېوادونو لپاره اړتيا ده. خو بهرنۍ سوداګري هم دوه ډوله ستونزې زېږوي، يو دا چې هېوادونه په يو ځانګړي موقعيت کې راګېروي، دويم دا چې د سوداګرۍ بشپړه ازادي که څه هم ناشونې ده خو لږ تر لږه غير عملي وي.

د بهرنۍ سوداګرۍ د ښه پرمخ بېولو لپاره له دويمې نړيوالې جګړې وروسته هم هڅې کېدې په ۱۹۴۷م کال کې په جينوا کې د (GATT) تړون وشو چې د نړۍ تر نيمايي زياتو هېوادونو لخوا لاسليک شو. د سوداګرۍ نړيوال مرکز (ITO) چې د (GATT) تړون په وسيله په ۱۹۶۴م کال کې تاسيس شوى د مخ پر وده هېوادونو سره مرستې کولې، چې په پايله کې يې اوس هېوادونه کولى شي د سوداګرۍ په چارو کې اسانتياوې راولي، خو دا اسانتياوې په سوسيالستي هېوادونو کې نه وې، ځکه هلته سوداګري د حکومتونو په انحصار کې وه.

باندينۍ سوداګري د حکومتونو ترمنځ د بېلابېلو ترانسپورتي وسايلو لکه هوايي، ځمکنيو او اوبيزو وسيلو په مرسته ترسره کېږي. په نړيواله سوداګرۍ کې د چين اقتصادي چټک پرمختګ په نړيواله سوداګرۍ کې په پرله پسې توګه پراختيا کړې ده.

داسې معلومېږي چې اوبيزه سوداګري تر ټولو ارزانه، مصوءونه او غوره سوداګري ده. په سوداګرۍ کې ابناګاني او کانالونه ډير مهم رول لري. په دې ډول سوداګرۍ کې د سويز کانال چې د ترافيکو د حجم له پلوه ډير غوره کانال دى چې په کېندلو سره يې د اروپا د

ketabton.com - The Digital Library

شمال لوېديځ او هند ترمنځ سوداګريزې چارې غښتلې شوې . همدارنګه د پانامې کانال هم په نړيواله سوداګرۍ کې غوره رول لوبوي چې په مرسته يې د شمالي امريکا ختيځې برخې او اروپا د امريکا لويديځو برخو او د جنوبی امريکا لوېديځو برخو سره ونښته . په همدې ترتيب د کيل کانال هم په نړيواله سوداګرۍ کې رغنده رول لري .

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱.برتانيې د شمالي امريکا جنوبي سيمو ته ولې د نيو انګلينډ ايالت په پرتله زياته ترجيح ورکوله؟

۲.ادم سمت په کوم ډول سوداګرۍ ټينګار کولو ؟

۳. بېرونۍ سوداګري کومې غټې ستونزې لري ؟

۴.د سوداګرۍ انحصاري بشپړه ستونزه په کومه پېړۍ کې وه په بېلګو کې يې وښايياست ؟

۵ـ په ۱۸۸۵م کال کې د کانګو حوزې ټرون د کومو هېوادونو ترمنځ پر کومو موضوعاتو شوی و ؟

۶. د GATT ټرون کله ، چېرته او پر کومو موضوعاتو شوی و ؟

۷.ترکيې ابناګانې کومې او د طارق ابنا سره يې ارزښت پرتله کړئ ؟

۸. دکوچک کاينارجي ټرون څنګه ټرون و ؟

۹. د سويز کانال د چالخوا او د کومې کمپنۍ په مرسته جوړ شوی ؟

۱۰.د سويز کانال په کېندلو سره د کومو سيمو ترمنځ سوداګريزه پراختيا راغله ؟

۱۱ـ د پانامې کانال چېرته موقعيت لري او دچا لخوا کېندل شوی ؟

۱۲.د پانامې کانال د کومو سيمو ترمنځ سوداګريز پول په بڼه دی؟

۱۳. د کيل کانال چېرته او د چا لخوا کېندل شوی ؟

۱۴. ازاد بندرونه يعنې څه؟

۱۵.په نړۍ کې د ازادو بندرونو غوره بېلګې کوې دي ؟

ketabton.com - The Digital Library

۱۶ـ ازاد بنارونه په څه معنی دي ؟

۱۷ـ د ازاد بنارونو بېلګې کومې دي ؟

۱۸ـ نړیوال سیندونه کوم دي واضح یې کړئ ؟

۱۹ـ د راین سیند چېرته او په سوداګرۍ کې یې ونډه څنګه ده ؟

۲۰ـ د میوز سیند ارزښت په سوداګرۍ کې واضح کړئ ؟

ketabton.com - The Digital Library

اوم څپرکی

نړیوالې اړیکې او باندینی سیاست

د حکومتي واحدونو او نا دولتي اساسونو ټولې متقابلې چارې اوکړنې او همدارنګه د ملتونو ترمنځ چلندونو ته نړیوالې اړیکې وایي .کیدای شي ووایو چې له لرغوني یونان او هند څخه بیا تر منځنیو پیړیو او همدارنګه په نویو پیړیو کې د نړیوالو اړیکو په اړه نظریې ورکړل شوي دي، البته د ځینو هغو پوهانو په آند چې نړیوالې اړیکې د ملي واحدونو ترمنځ د اړیکو پر بنسټ تعریفوي، دا پدیده او مطالعه یې له ۱۶۴۸م کال راپدېخوا ښودلې .

ځینې وایي چې د نړیوالو اړیکو پدیده د شلمې پیړۍ په درېیمه لسیزه کې لومړی د امریکا په پوهنتون هارورد (Harward) او کلمبیا کې دیوې پوهنتوني رشتې په ډول منځته راغله . او د دویمې نړیوالې جګړې وروسته یې خپل ځان ته ځانګړې بڼه غوره کړه.

د (۱۹۳۰م) کال را پدیخوا په دې برخه کې نظري لید لورو باندې تعرضونه د پاملرنې وړ وګرځیدل او د نړیوالو اړیکو په یوې پایدارې ریشتې بدله شوه.

ketabton.com - The Digital Library

ځینې د نظر خاوندان چې د حقوقي اوسیاسي علومو د متفکرانو تر اغیزې لاندې دي په دې آند دي چې په دې رشته کې د نظر ورکولو عناصرد ګروسیوس او بوفنداف حقوقپوهانو په اثارو او د اراسموس،سالي، ماکیاولي، هیوم او روسو په شان څېړونکو په څېړنو او همدارنګه د سیاستمدارانو لکه د بسمارک په یاد داشتونو کې لیدل کېږي.

دا ډول نړیوالې اړیکې له لومړۍ نړیوالې جګړې وړاندې تر زیاته په اروپایي کادرونو استوارې وې . او د هغه عصر غوره مسایل لکه مستعمرې، سوله او جګړه، ټرون جوړونه او بلاک جوړونه، دکړکیچونو لمنځه وړل او نړیوال اقتصاد یې په برکې نیول . مګر له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته ددې جوړښت زوال پیل شو او د دوولسیزو په موده کې اروپا له دې کړۍ ووتله، او یو نوی بل نظم پر ملګرو ملتونو ټولنې حکمفرما شو.

د نړیوالو اړیکو، نړیوال سیاست او باندیني سیاست تـوپیر په دې کې دی چې نړیوالې اړیکې د ملګرو ملتونو په برخه کې د حکومتونو دکړنو مجموعه او د موسیسو او غیر دولتي شرکتونو فعالیتونه هم په کې رانغښتي وي، مګر نړیوال سیاست د یو هېواد د کړنو رفتار او د نورو هېوادونو عکس العمل یا ځواب ویلو ته ویل کېږي . او په واقعیت کې د هېوادونو په کړنو محدود دی . حال دا چې باندینی سیاست د یو هېواد تصمیم نیونه د بهرونۍ اړیکو په برخه کې ګڼل کېږي .

۱.۷. باندینی سیاست

د حکومتي تصمیم نیوونکو په وسیله له پخوا څخه یوه طرحه شوې ستراتیژي چې موخه یې د ټاکلو موخو لاس ته راوړل، د ملي ګټو په چوکاټ او په باندیني چاپیریال کې باندینی سیاست ګڼل کېږي . باندینی سیاست یو لړ ملي ګټو او موخو د تر سره کولو تامین او ټاکلو ته شامل دی . چې په نړیواله صحنه کې د هېوادونو لخوا تر سره کېږي .

همدارنګه کېدی شي باندیني سیاست د یو هېواد نوښت او یا د یو بل هېواد دکړنو پر وړاندې عکس العمل وي. باندیني سیاست د داخلي سیاست غځول دي .

ketabton.com - The Digital Library

د باندینې سیاست مفهوم په هر هېواد کې د تصمیم نېونې د ارزیابۍ، ترسره کولو او تدوین پورې تړلی وي، چې د هغه هېواد له ځانګړي دیدګاه څخه ،د پولو اخوا جنبه پیدا کوي . په بله ژبه باندینی سیاست د یو هېواد په داخل کې فرمول بندي کېږي او د ملي سیاست سره ژوندی او دوامداره تړاو لري . په حقیقت کې دیو هېواد باندینی سیاست د خپل مسوولیت په توګه تدوین او تنظیموي . دا ډول مسوولیت د هغو واکونو او تکالیفو پر اساس چې بنسټې قانون د باندیني سیاست او نورو هېوادونو سره د تړاو له مخې ټاکلي تر سره کېږي (۳۳ : ۱۴۸،۱۴۷).

۲.۷. د نړیوالو اړیکو د پیدایښت انګیزې

ملتونو د نړیوالو اړیکو د منځته راوړلو غوره انګېزې په لاندې ډول ښودلي دي .

۱- دملګرو ملتونو دصحنې دوه قطبي کیدل او د دوو لویو نړیوالو ځواکونو (امریکا او پخواني شوروي اتحاد)اتومي او مسلح کیدنې رقابتونه.

۲- مذهبي، سیاسي، نژادي، نشنلیزم او د سیاسي مختلفو مکتبونو ایډیالوژیانې.

۳- د تکنالوژۍ پراختیا او پرمختیا.

۴- ملګرو ملتونو د هېوادو یو له بل سره اقتصادي، سیاسي، نظامي سازمانونو جوړول او یو ځای کیدل.

۵- د الیکترونیکي علومو او ارتباطاتو خارق العاده پرمختګ.

۶- په ملګرو ملتونو او ټولو نړیوالو سازمانونو کې د خپلواکو هېوادونو د غړیتوب زیاتوالی .

۷- د وګړو زیاتیدل.

۸- تر سلطې لاندې ټولنو کې د ازادۍ غوښتنې غورځنګونو منځته راتګ.

ketabton.com - The Digital Library

۹- د دوو لوبو ځواکونو د اتومي سلاحګانو لرلو له امله توازن، او دنړۍ د نورو قدرتونو تر منځ د سلاحګانو (وسلو) پرمختګ او پراختیا او د درېیم نړیوال جنګ ویره.

۱۰- د دوو نړیوالو جګړو منځته راتګ، سیمه ایزو جنګونه او ټول نړیوال اختلافات.

۱۱- د پرمختللو او غریبو هېوادونو د وګړو ترمنځ د ژوند نا انډولتوب (۲۰ : ۱۶۰،۱۶۱).

۳.۷. دنړیوالو اړیکو غوره تیوري ګانې

د نړیوالو اړیکو غوره تیوري ګانې په لاندې توګه دي.

۱.۳.۷. دنړیوالو اړیکو نظریې

دنړیوالو اړیکو تیورګانې کولای شو په ټولیزه توګه په لاندې ډول ډلبندي کړو.

الف. د همکارۍ نظریې

د همکارۍ د فرضیې پر اساس هېوادونو کړنې او اړیکې په کې شاملې وي. په دې برخه کې د ټولپالنې، په ګډه کار کول، یو د بل سره یو ځای توب او د سولې ټینګښت اړیکې په کې شامل دی.

ب. د لانجو او جنجالونو نظریې

چې په کې د لانجو حل او د ځواکونو توازن نظریې شاملې دي.

ج . د ملګرو ملتونو د نظام نظریې

چې د سیستمونو او یو ځای توب تیوریګانې په کې شاملې دي (۲۰ : ۱۶۳).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

که څه هم نړيوالې اړيکې د ځينو په آند ډير لرغونتوب لري ، د دوی په آند نړيوالې اړيکې د لرغوني يونان او هند څخه راپيل او غزېدلې دي ، خو د ځينو په آند چې د نړيوالو اړيکو پديده د ۲۰ مې ميلادي پېړۍ په درېيمه لسيزه کې د امريکا هارورد او کلمبيا پوهنتونونو کې د يوې پوهنتوني څانګې په توګه رامنځته شوه .

له نړيوالې جګړې مخکې د نړيوالو اړيکو غوره موضوعګانې ، مستعمره ، سوله ، جګړه ، تړون ، بلاک جوړونه ... او داسې نورې وې . مګر له لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته ددې جوړښت زوال پيل شو .

نړيوالې اړيکې د نړيوال سياست او باندينې سياست سره ډير توپير لري او بايد چې يو د بل سره ګډوډ نه شي او يو د بل پر ځای و نه کارول شي . يعنې په دې معنی چې نړيوالې اړيکې د حکومتونو د کړنو ټولګه ده او همدارنګه حکومتي او نا حکومتي موسيسو کړنې په کې رانغښتې وي .

د نړيوالو اړيکو منځته راتلو غوره انګيزې ډيرې دي ، خو ډيرۍ يې د دوو لويو ځواکونو په اتومي وسلو نه سمبالښت ، مذهبي ، سياسي ، نژادي او د مختلفو نظريو مکتبونو جوړېدل ، د تکنالوژۍ پرمختګ او داسې نور وو .

نړيوالې اړيکې ځانګړې تيوريګانې لري چې د همکارۍ تيوري ، د لانجو او جنجالونو حل تيوري او د ملګرو ملتونو د نظام نظريي يې غوره او بنسټيزې وې .

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱. نړیوالې اړیکې په کومه معنی دي ؟

۲. نړیوالې اړیکې د مضمون او د یوې بېلې څانګې په توګه لومړی ځل په کوم پوهنتون کې د پوهنتونې څانګې په توګه رامنځته شو ؟

۳. تر لومړی نړیوالې جګړې وړاندې د نړیوالو اړیکو غوره موضوعګانې کومې وې ؟

۴. د نړیوالو اړیکو ، نړیوال سیاست او باندیني سیاست تر منځ توپیرونه کوم دي ؟

۵. د باندیني سیاست مفهوم څه دی ؟

۶. د نړیوالو اړیکو د منځته راتلو څو غوره انګیزې کومې دي ؟

۷. د تکنالوژۍ پراختیا او پرمختګ څنګه د نړیوالو اړیکو د منځته راتلو غوره انګیزه کیدی شي ؟

۸ـ د وګړو زیاتېدل څنګه دنړیوالو اړیکو د منځته راتلو غوره انګیزه کیدی شي ؟

۹ـ دنړیوالو اړیکو له مخې د همکارۍ تیوري واضح کړئ؟

۱۰ـ دنړیوالو اړیکو له مخې دلانجو او جنجالونو حل نظریې یعنې څه ، واضح یې کړئ ؟

۱۱ـ دنړیوالو اړیکو له مخې د ملګرو ملتونو د نظام نظریې په څه معنی دي واضح یې کړئ؟

ketabton.com - The Digital Library

اتم څپرکی

داطلاعاتو سیاسي جغرافیه

یو د لومړنیو کتابتونو له ډلې چې د اطلاعاتو سیاسي جغرافیې په باره کې په لویدیځه نړۍ کې خپور شوی دی، د انګلیسي محقق انتوني سمت د نړیوالو اړیکو کتاب دی، چې د "د اطلاعاتو جیوپولیتیک : پر نړۍ د لویدیځ فرهنګي سلطې څرنګوالی" تر سرلیک لاندې په ۱۹۸۰م کال کې په لندن کې په چاپ ورسېدو او فارسي ژبې ته هم اړول شوی دی.

په ۱۹۸۰م لسیزې کې سیاسي جغرافیې د نظامي او ټولنیزو مطالعاتو برخې ته لاره ومونده ، د ۱۹۸۰ م په لسیزه کې د اړیکو او اطلاعاتو نړیوالې صحنې ته د سیاسي جغرافیې د مفهوم بیا ځلې رانژدې توب ، کیدای شي په سیاسي جغرافیې کې د پراخو بدلونونه او د نړۍ دسیاست په برخه کې د اطلاعاتو او اړیکو ارزښت وبولو. په هغه مهال کې زیاتره ټینګار په خبري رسنیو، راډیو او تلوېزونې کانالونو و، لکه چې د هغه مهال پنځو لویو خبري رسنیو (اسوشیتد پرس، یوناتیدپرس، انټرنیشنال، فرانس پرس او تاس) د شمالي نړۍ په بڼه جوړونه کې غوره رول ولوبولو.

ketabton.com - The Digital Library

د اطلاعـاتو سياسي جغرافيـه د هېـواد فضـايي مطالعـه ده چې د اطلاعـاتو تولېـد ، وېش او لګښت د هغې د پولو جوړوونکو په عنوان حسابېږي . او په دې متحرکه فضاء کې د هر سياسي موجوديت د اغيز لرونکي په ځير د اطلاعـاتو د توليد، توزيع او مصرف په برخه کې يو والی لري .

۱.۸. د اطلاعاتو سياسي جغرافيې ځانګړنې

۱.۱.۸. خوځښتوب

د اطلاعـاتو سياسي جغرافيې تړېره د ځمکې فضاءځېړي چې د دوديزې ثابتې جغرافيـې په پرتلـه د خوځښـت لرونکـې ده. نـو نـه شـو کـولای يـوه ځـانګړې بشـپړه پولـه اطلاعاتي – سياسي ويش بندی لپاره ترسيم يا وټاکو ځکه فضاء تل د بدلون او خوځښت په حال کې ده .

۲.۱.۸. ځانګړې مرز بندي

د اطلاعاتو سياسي جغرافيې د سيمو پولې د دوديزې جغرافيې د ښکاره پولو بر عکس د اطلاعاتو او خبرونو توليد .توزيع او مصرف پر بنسټ رامنځته کېږي . په دې معنی چې د اطلاعاتو د توزيع ، لګښت او توليد مرکزونه د دنيا په سياسي ، ټولنيزو او اقتصادي معادلاتو کې اغېزمن او قانوني ټکي ګڼل کېږي .

۳.۱.۸. د اطلاعاتو د جريان لوری نيونه

د دوديزې جغرافيې برخلاف چې لـه شـمال– جنـوب، شرق او غـرب او دې تـه ورتـه ډولـو څخـه تشـکيل شـوی وه، د اطلاعـاتو پـه سياسـي جغرافيـې کـې زيـاتره پاملرنـه شـمال، جنوب او مرکزپورې راټوله شوې ده. (۲۰ : ۵۰).

ketabton.com - The Digital Library

۸.۱.۴. د اطلاعاتو سیاسي جغرافیې د څېړنې سیمې د اطلاعاتو د متخصصینو لپاره

۱- د اطلاعاتو د ملي، سیمه ایزو او نړیوالو جریانونو پلټل (څېړنه) او د اغیزمنو لاملونو پیژندل یې.

۲- د هېوادونو علمي رول په منځته راتلو کې د اغیزمنو سیمو او سرچینو او د وګړو د پیژندلو په برخه کې څېړنه او مطالعه کول.

۳- د هغو لارو په اړه مطالعه چې د پولو او انحصاري ځایونو بیرون اطلاعات لاس ته راوړي.

۴- د اطلاعاتي اخلاقو په اړه مطالعه کول د اطلاعاتو د تحمیل په مقابل کې د اطلاعاتو رواجول.

۵- د ټولنې د مشرانو پر مهاجرت د اغیزمنو لاملونو د مودلونو پیژندل.

۶- د اطلاعاتي زده کړې د پرمختګ لپاره د لارو پیدا کول او ددې په لاس ته راوړلو کې د اسانتیاوو لپاره د انټرنیټ د محتوا جوړول(ایضاً : ۵۱).

۸.۲. اطلاعات او نړیوال‌توب

د اطلاعاتو د روابطو نړیوالتوب په برسې کې ګورو چې دا دوه پدیدې یو د بل سره دوه ګونې رابطې لري له یوه لورې اطلاعات په نړیوال توب کې ځانګړی ځای او رول لري او له بله پلوه نړیوال توب اطلاعاتو ته لاس رسي کې د زیاتوالی د لامل په توګه ارزښت لري.

کیدای شي تعبیر کړو چې وګړي د اطلاعاتو په لرلو سره مشارکت او همکارۍ ته هڅېږي چې د هغې په پایله کې نړیوالتوب د عینیت کیدو په حال کې دی. نړیوال توب هم پخپله د اړیکو د پراختیا، چټکتیا، اسانتیا او هڅونې لامل ګرځیدلی شي (۲۰ : ۵۱).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

په ۲۰ مې ميلادي پېړۍ کې يعنې په ۱۹۸۰م کال کې سياسي جغرافيه په دې وتوانېده چې نظامي او ټولنيزو خپرونو ته لاره پيدا کړي، په هغه مهال کې تر ډيره ټينګار په خبري رسنيو کېدو لکه راديو، تلوېزيون او داسې نور.

د اطلاعاتو سياسي جغرافيې غوره ځانګړنې حرکت يا خوځښت، يعنې د اطلاعاتو سياسي جغرافيه د ځمکې فضاُ څېړي چې تل د خوځښت په حال کې ده. همدارنګه د اطلاعاتو سياسي جغرافيه ځانګړې مرزبندي لري چې د ښکاره پولو بر عکس د اطلاعاتو او خبرونو توليد، توزيع او مصرف پر بنسټ بڼه پيدا کوي.

همدارنګه د اطلاعاتو سياسي جغرافيه خپله پاملرنه تر ډيره بريده شمال-جنوب او مرکز پورې تړي. اطلاعات د نړيوال توب لپاره ډير حتمي دي دا دوه پديدې يو تر بله دوه اړخيزې اړيکې لري چې په لنډه داسې ويلی شو چې نړيوال توب په خپله د اړيکو د پيدايښت، غزېدو، چټکتيا او هڅونې لامل ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱ـ د اطلاعاتو سیاسي جغرافیې په اړه لومړي ځل د چا لخوا ترکوم سرلیک لاندې کتاب لیکل شوی؟

۲ـ په ۱۹۸۰م لسیزه کې د اړیکو او اطلاعاتو صحنې ته د سیاسي جغرافیې بیا ځلې ورنژدې توب د څه لامل شو؟

۳ـ په ۱۹۸۰مه لسیزه کې د اطلاعاتو په برخه کې ترډیره ټینګار په څه شي کېدو ؟

۴ـ د اطلاعاتو سیاسي جغرافیې ځانګړنې کومې دي ؟

۵ـ د اطلاعاتو سیاسي جغرافیې د څېړنې سیمې د اطلاعاتو د متخصصینو لپاره په څه معنی دي ؟

۶ـ اطلاعات او نړیوال توب څه مفهوم لري ؟

۷ـ اطلاعات د نړیوال توب لپاره څه ارزښت لري ؟

۸ـ وګړي د اطلاعاتو په لرلو سره څنګه نړیوال توب ته رسېږي ؟

۹ـ نړیوال توب اطلاعاتو ته څه اړتیا لري ؟

۱۰ـ نړیوال توب د څه لامل ګرځي ؟

ketabton.com - The Digital Library

نهم څپرکی

په نړۍ کې غوره سياسي او اقتصادي ټولنې

نن ورځ د نړۍ وګړي په دې آند دي چې سيمه‌ييز او نړيوال ټرونونه د نړۍ د هېوادونو ترمنځ د اختلافاتو د پايښت لامل ګرځي. سره له‌دې چې متاسفانه اوس‌هم په نړۍ کې د هېوادونو ترمنځ مخالفتونه او کړکېچونه شتون لري او يا دا چې د ځينو همکاريو پراختيا او پرمختيا هم د همدې مخالفتونو پر بنسټ را منځته شوې، د بېلګې په توګه د اروپايي همکارۍ ټرون(OEEC) چې له ۱۹۴۹م کال راپدېخوا يې د لوېديځې اروپا هېوادونو د اقتصادي بيا راژوندي کولو په برخه کې غوره رول درلود. حال دا چې ددې طرحې بنسټيزه موخه چې په ۱۹۴۷م کال کې د امريکا متحده ايالاتو د باندينيو چارو وزير جورج مارشال لخوا وړاندېز چې، د ځواکمنو متحدينو او په اروپا کې له اقتصادي پلوه پرمختللي هېواد شوروي اتحاد سره د سوړ جنګ لرلو په ټراو وه.

په هر صورت له دويمې نړيوالې جګړې وروسته يو له ځانګړتياوو څخه ددې ډول ټرونونو رامنځته کولو لپاره په ټوله نړۍ کې لپاره هڅې وې، دا ټرونونه ښايي د ځانګړو

ketabton.com - The Digital Library

موخو لکه اقتصادي ، کلتوري ، ټولنیزو او سیاسي لپاره جوړ شوي وي ، مګر په ټوله کې ټول دا ډول ترونونه پورتنۍ یادې شوې ټولې موخې پالي .

په لنډو ویلی شو دا چې ددې ډول ترونونو په رامنځته کولو کې جغرافیایي عوامل هم غوره او اغیزمن رول لري ، نو له همدې امله د هغوی لوستل او پلټل په سیاسي جغرافیې کې د ارزښت وړ ګڼل کېږي .

د نړیوالې سولې او امنیت ټینګښت او د سیاسي اقتصادي او فرهنګي همکاریو رامنځته کول د بشر اساسي اړتیاوې او پخوانۍ هیلې دي.خو د نړیوالې سولې د ټینګښت لپاره هلې ځلې له یوه داسې بنسټ پرته چې دغه موخه په کې تحقق ومومي ناشونی وې.

په پخوانیو پېړیو کې نړیوالې اړیکې د دولتونو پر دوه یا څو اړخیزو اړیکو ولاړې وې که څه هم په ۱۹مه پېړۍ کې د نړیوالو همکاریو د تنظیم او انسجام په موخه د ویانا او برلین کنګرو له لارې ډېرې هڅې وشوې خو دومره مثبتې و نه برېښېدې بلکې یوازې د اروپا په لویه وچه کې محدودې پاتې شوې.

د بشري ټولنې له پرمختګ او د دولتونو ترمنځ د هر اړخیزو همکاریو اړتیا ته په پام سره د عادلانه اړیکو په چوکاټ کې د یوې ربښتینې سولې او ثبات لپاره اړتیا لیدل کېده. په همدې اساس له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د نړیوالې ټولنې د ټولو غړو په ګډون یو نړیوال سازمان جوړ شو . ددغه سازمان چې د دولتونو ترمنځ د نړیوالي په موخه یې هڅې کولې په خپل جوړښت کې د ځینو نیمګړتیاوو له امله و نه شو کړای چې د دویم نړیوال جنګ د خونړي توپان مخه ونیسي .خو د ملتونو ټولنې له ماتې او نیمګړتیاوو سره سره د یوه نوي نړیوال بنسټ د جوړېدو اړتیا له منځه لاړه نه شوه بلکې دوه برابره شوه .د دویمې نړیوالې جګړې ګټونکو په دې باور چې د نړیوالې سولې او امنیت یوازینۍ لار د یوه نوي بنسټ جوړول دي د (ملګرو ملتونو) سازمان یې جوړ کړ، هغه بدلونونه چې د ملګرو ملتونو سازمان له تشکیل وروسته رامنځته شوي دي د دولتونو په داخلي نظام او نړیوالو اړیکو کې یې د پام وړ بدلونونه راوستي دي. ددې ترڅنګ چې د ملګرو ملتونو سازمان

ketabton.com - The Digital Library

مثبتې لاسته راوړنې لرلې ، بايد يادونه وکړو چې دغه سازمان ځينې نيمګړتياوې هم لري چې له دې جملې د يو شمېر هېوادونو پر وړاندې د امنيت شورا دوه ګونى چلن د نړيوال نا انډوله اقتصاد په مخنيوي کې پاتې راتلل د نړيوالو حقوقو د پلي کولو لپاره د کافي اجرايوي ضمانت نشتوالى او نور....

په هر حال د نړيوالو سازمانونو پديده د معاصرې نړيوالې ټولنې له غوره برخو څخه يوه ده او داسې ورځ نشته چې خلک د ډله ييزو رسنيو له لارې د هغوى له فعاليتونو خبر نه شي.

۱.۹. د اروپا اتحاديه

د اروپايي اتحاديي (European Union (EU پيدايښت او تاريخچه

که څه هم د اروپايي اتحاد د جوړېدو په اړه ځيني مؤرخين وايي، چې آن د روم امپراتورۍ پرمهال هم دا ډول فکر موجود و، خو په دې برخه کې لومړنۍ عملي هڅه په ۱۸۱۵م کال کې مقدس اتحاد (Holy alliance) ګڼل کېږي (۳۴: ۲۰۲) .

دروم امپراتوري چې په مديترانې سمندرګي کې متمرکزه وه ، د څو دلايلو په لرلو سره نشو کولى چې د اروپا اتحاديي وړ تمثيل وکړي . دې دوه سياسي ادارو يو ډول جغرافيايي موقعيت نه لرلو. د روم په امپراتورۍ کې داسيا او افريقا ډيرې برخې ورګډې وې ، خو دالمان پراخې برخې ، سکندنويا ، سکاتلينډ او د اروپا ختيځې برخې پکې نه وې نغښتل شوې . د روم امپراتورۍ د زور او ځواک په مرسته پراختيا پيداکړې وه ، دمرکزي ايالت لخوا اداره اوکنترولېده .

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%BE%D8%A7

په ۱۹مه پېړۍ کې هم د يو شمېر پوهانو له خوا د اروپا د يووالي موضوع ډېره مطرح وه او په همدې ترڅ کې د اروپايي هېوادونو ترمنځ د سوداګريزې راکړې ورکړې په برخه کې

ketabton.com - The Digital Library

یو شمېر ټرونونه او هوکړه لیکونه هم لاسلیک شول چې له دې ډلې په ۱۸۶۰م کال کې د انګلستان او فرانسې ترمنځ د ازادې راکړې ورکړې ټرون د یادولو دی (۳۴: ۲۰۲).

د لومړۍ او دویمې نړیوالو جګړو تر سختو ورانیو وروسته داروپا اتحادیي د جوړېدو لپاره انګېزې زیاتې شوې ، دا انګېزې د اروپا د بیا رغونې او په اروپا کې د بل شوني جنګ د لمنځه وړلو لپاره وې. دا ډول احساسات د فولادو او ډبرو سکرو ټولنې په جوړېدو چې دالمان ، فرانسې ، ایټالیې او بنې لکس اتحادیي (بلژیک ، هالنډ او لوګزامبورګ) هېوادونو لخوا جوړه شوه ، چې دپارس ټرون ۱۹۵۱م کې لاسلیک او د ۱۹۵۲م کال په جولای کې عمل ته راووته .

له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته دا ډول ټرونونه د اقتصادي ټولنو په چوکاټ کې ترسره کېدل. په همدې لړ کې د ګمرکي چارو د همغږۍ په موخه په ۱۹۲۱م کال کې د بلجیم لوګزامبورګ اقتصادي ټولنه رامنځته شوه. په ۱۹۹۴م کال کې د هالند په یو ځای کېدو سره دغه ټولنه د بېنې لکس (Benelux) په نوم یاده او د پخوانۍ ټولنې ځای ناستې شوه. خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د اروپا جنګ ځپلي وضعیت او د شوروي په مشرۍ سوسیالیستي خوځښتونو د یوې منظمې اروپایي ټولنې جوړېدو ته لار پرانېسته او دغه پلان یې یقیني کړ. بالاخره همدې موخې ته د رسېدو په پار په نظامي برخه کې د شمالي اتلانتیک ټرون یا ناټو سازمان جوړ شو .همدغه راز په اقتصادي او سیاسي برخو کې د اروپا د اقتصادي همکاریو سازمان او د اروپا شورا رامنځته شول.

په ۱۹۴۵م کال کې د سویډن فنلینډ او ناروي په نوښت د سکاندنویا په نوم ټولنه جوړه شوه چې له مخې یې د کار قوه په دې ټولنه کې ازاده وګڼل شوه (۳۴ : ۲۰۲).

په ۱۹۴۷م کال کې د انګلستان لومړي وزیر چرچیل المان او فرانسه د اروپا یووالي ته وهڅول او ټول اروپایي هېوادونه یې په دې برخه کې همکارۍ ته را وبلل. د شیومن پلان (schumann plane) پر بنسټ د اروپایي هېوادونو ترمنځ خبرې اترې پیل شوې.

ketabton.com - The Digital Library

په ۱۹۵۱م کال کې د بلجیم، لوګزامبورګ، هالند، فرانسې او ایټالیا په ګډون اروپایي ټولنې د ډبرو سکرو او پولادو ټرون لاسلیک کړ، چې دا کار د اروپا د یووالي په لور لومړنی ګام وبلل شو.

د ۱۹۵۵ کال په جون کې د لوېدیځې اروپا د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې د غړو هېوادونو د بېرونیو چارو وزیرانو په هغه کنفرانس کې چې په مسینا (messina) کې جوړ شوی و، د اروپا د بشپړ یووالي په موخه یو پرېکړه لیک تصویب کړ او همدغه راز یوې ځانګړې کمېټې ته دنده وسپارل شوه ترڅو د اروپا ګډ بازار او اټومي بنسټ د جوړېدو په اړه یوه طرحه چمتو کړي. ځانګړې کمېټې د یوه کال په ترڅ کې تر دقیقې ارزونې وروسته طرحه چمتو او په ۱۹۵۶م کال کې یې اړونده مرجعې ته وسپارله (۳۴ : ۲۰۲)..

د لوېدیځې اروپا د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې د غړو هېوادونو د بېرونیو چارو وزیرانو په ۱۹۵۶م کال کې په خپله غونډه کې هغه اصول چې ځانګړې کمېټې چمتو کړي وو، د یادو دوه ټولنو په ټرون کې د پیل نقطې په توګه وپېژندل شول. یاده طرحه د کار په موخه په بروکسل کې نړیوالې کمېټې ته وړاندې شوه او یادې کمېټې بالاخره د ۱۹۵۷م کال په مارچ کې طرحه بشپړه او د شپږو هېوادونو یعنې لوېدیځ المان، فرانسې، ایټالیې، بلجیم، لوګزامبورګ او هالند له خوا تر تصویب وروسته د ۱۹۵۸م کال په جنورۍ کې د اجرا وړ وګرځېده (ایضاً : ۲۰۳).

د لومړي ټرون له مخې د (اټومي انرژۍ اروپایي) ټولنه تأسیس شوه. ددې سازمان د جوړېدو بنسټیزه موخه د هېوادونو ترمنځ د معلوماتو د شریکولو، اټومي انرژۍ او د راډیو اکټیف صنعت په برخو کې د اسانتیاوو برابرول وو.

دویم ټرون چې د روم ټرون په نوم یادېږي او له لومړي ټرون وروسته چې د ایټالیا په پلازمېنه روم کې لاسلیک شو، له مخې یې اروپایي ټولنه رامنځته شوه. یاد ټرون شپږ څپرکي، ۲۴۸ مادې، درې ضمیمې او ۳۱ پروتوکولونه لري.

ketabton.com - The Digital Library

د اروپا اقتصادي ټولنې له تأسیس وروسته په سیاسي، اقتصادي او نظامي برخو کې د اروپایي ټولنې د جوړېدو په موخه غړو هېوادونو خپلې هڅې چټکې کړې. په همدې لړ کې د ۱۹۹۱ م کال د ډسمبر په لسمه د هالند په ماسټریخت کې د اروپایي هېوادونو په ګډون د یوه کنفرانس په ترڅ کې د اروپایي ټولنې تړون (treaty of european union) لاسلیک شو او د ۱۹۹۳ م کال د نومبر په لومړۍ نېټه د اجرا وړ وګرځېد .ددې تړون ډېره برخه د روم له تړون څخه، چې په ۱۹۵۷ م کال کې لاسلیک شو؛ اخیستل شوې ده.

د ماسټریخت په تړون کې د اروپا اقتصادي ټولنې بنسټیزې موخې داسې بیان شوې دي.

۱. د اروپا دوامداره اقتصادي او ټولنیز پرمختګ، اقتصادي یو والی او د ګډ پولي واحد رامنځته کول.

۲. د ګډ بهرني سیاست او امنیت له لارې د نړیوال هویت خپلول.

۳. د ګډ تابعیت پر بنسټ د غړو هېوادونو د اتباعو له حقوقو او ګټو ملاتړ او ساتنه.

۴. د عدلي او قضایي جوړښت په برخه کې نږدې همکاري (۳۴ : ۲۰۳).

د اروپا اتحادیې څرنګوالی

د اروپااتحادیه تر ډېره یوه نړیواله ټولنه ده ، دیو فدرال دولت په څېر د فوق ملي بین الدولتي عواملو د مختلط ترکیب څخه یو پیوند او څو رګه جو ړښت دی. د اروپا د اتحادیې قوانین الزامي او جبري دي او د غړو هېوادونوپه داخلي قوانینو تفوق او برتري لري .

داروپا اتحادیه یوه اقتصادي – سیاسي اتحادیه ده چې اوسمهال له ۲۷ اروپایي هېوادونو جوړه ده ، چې نژدې ۵۰۰ ملیون وګړي لري . ځینې نور هېوادونه لکه آیسلنډ او کرواسي هم داروپا اتحادیې د غړیتوب لپاره میلان لري . داروپا اتحادیي سرچینه د اروپا اقتصادي ټولنې ته چې په ۱۹۵۷م کال کې د روم هوکړه لیک په مرسته د شپږو اروپایي

ketabton.com - The Digital Library

هېوادونو ترمنځ تشکيل شوې وه ؛ رسېږي. دغه ټولنه يوازې يوه اقتصادي ټولنه وه ، له هماغه مهال راهيسې د نويو غړو په زياتېدو سره د اروپا اتحاديه پراخه شوه .

په ۱۹۹۳م کال کې دماسټر ريخت تړون د ننني اتحاديې د قانوني چوکاټ بنسټ کېښودو . دغې اتحاديې په ۱۹۹۹م کال کې ګډپولي واحد د يورو(Euro) په نوم رامنځته کړ چې تر دې مهاله په ۱۹ هېوادونو کې دهغوی د ملي پولي واحدونو ځای نېوونکی شوی دی. ددې اتحاديي ۲۱ غړي د ناټو ټولنې غړيتوب هم لري .

بېرونی ګډ سياست اوامنيت د اروپا د درې ګونو ستنو له ډلې دويمه ستن ده ، ددې اتحاديي ترمنځ په زياترو هېوادونو کې ګمرکي تعرفې له منځه تللي . د اروپا اتحاديي د وګړو ترمنځ تګ راتګ د کارونو، پانګې اچونې او د مسافرتونو شونتياوې زياتې کړي دي .

د اروپا اتحاديې غوره ادارې له اروپايي شورا ، د اروپايي اتحاديي شورا ، د اروپا کمېسيون ، د اروپا محکمه ، د اروپا پارلمان ، د اروپا مرکزي بانک او دمحاسباتو له ديو ان څخه عبارت دي .

له ۱۹۷۹م کال راپدېخوا ددې اتحاديې غړي د غړو هېوادونو د استازو په مرسته ټاکل کېږي ، په هرو پنځو کلونو کې پکې يو ځل ټاکنې کېږي ، چې ددې اتحاديي ټول غړي هېوادونه کولی شي پکې ګډون وکړي او رايه ورکړي .

ددې اتحاديې چارې تر ډيره ټولنيز سياستونه تر پوښښ لاندې راولي . له اقتصادي سياسته نېولې تر بېرونيو ، دفاع ، کرنې او سوداګرۍ چارو پورې پکې تر سره کېږي . دغوا ک پراختيايې په بېلابېلو خواووکې توپير لري . په ځينو حوزو کې اتحاديه د فدراسيون په څېر کړنې کوي ، دېلګې په توګه په پولي ، کرنيزو ، سوداګرۍ ، چاپيريال ساتنې اقتصادي او ټولنيز سياست په مسايلو کې او په نورو حوزو کې لکه په بېرونيو چارو کې د يو نړيوال جوړښت په څېر ځواک لري .

ketabton.com - The Digital Library

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%BE%D8%A7

برتانیه د ۲۰۱۶م کال د جون په ۲۳مه دیوې ټولپوښتنې وروسته له دې اتحادیي ووتله . او اوسني غړي يې اتريش، بلجيم، بلغاريه، کرواسي، قبرس، چک جمهوريت، ډنمارک، استوني، فنلنډ، فرانسه، المان، يونان، مجارستان، آيرلنډ، ايټاليا، لتوانيا، ليتوني، لوګزامبورګ، مالت، هالنډ، پولنډ، پرتګال، رومانيه، سلواکيه، اسلووني، اسپانيه، او سويډن هېوادونه دي. لکه په (۱.۹) نقشه کې چې يې غړي هېوادونه ښودل کېږي.



(۱.۹) نقشه : د اروپا اتحادیې غړي هېوادونه.

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%BE%D8%A7

د اروپايي ټولنې موخې

د روم تړون د دويمې مادې له مخې د اروپايي ټولنې موخې په دې ډول بيان شوې دي:

۱.د ګډ بازار رامنځته کول.

۲.د سوداګرۍ په برخه کې د يوې ګډې پالیسۍ ټاکل.

ketabton.com - The Digital Library

۳.د غړو هېوادونو ترمنځ ازاد تګ راتګ.

۴.د کرنې په برخه کې د یوې ګډې پالیسۍ ټاکل.

۵.د لېږد رالېږد په برخه کې د یوې ګډې پالیسۍ ټاکل.

۶.د ګډ بازار د پرمختګ په موخه د غړو هېوادونو د قوانینو همغږي کول.

۷.د کارګرانو د ژوند د کچې لوړولو په موخه د اروپا د پانګې اچونې مرستندویه صندوق جوړول.

۸. د ټولنې د اقتصادي ودې په موخه د پانګونې لپاره د یوه اروپایي بانک جوړول.

۹. د اقتصادي پالسیو همغږي کول او په غړو هېوادونو کې د تادیاتي بیلانس ساتل.

۱۰. په بازار کې د سالم رقابت د تضمین په موخه د یوه سیستم رامنځته کول.

په ۱۹۹۵م کال کې اروپایي ټولنې ته د اتریش، فنلینډ او سویډن په راتګ سره د ټولو غړو ترمنځ د شنګن (schengen) ټرون لاسلیک شو.

د ۱۹۹۵م کال د شنګن ټرون له مخې چې د اوه هېوادونو ترمنځ لاسلیک شو، د غړو هېوادونو ترمنځ په ازاد تګ راتګ هوکړه وشوه او ژمنه وشوه چې له کوم خنډ پرته به د خپلو خلکو پر مخ داخلي پولي خلاصې پرېږدي. وروسته نور هېوادونه هم له دې ټرون سره یو ځای شول، چې تر ۲۰۰۸م کال پورې شنګن ټرون ۱۵ غړي لرل. اتریش، بلجیم، ډنمارک، فنلینډ، فرانسه، المان، ایټالیا، یونان، لوګزامبورګ، هالنډ، ناروی، آیسلینډ، پرتګال، هسپانیه او سویډن د یاد ټرون رسمي غړي دي (۳۴ : ۲۰۳-۲۰۵).

د اروپا اتحادیې د جوړېدو تاریخي بهیر

له دویمې نړېوالې جګړې وروسته او هغه پېښې چې جنګ کې مخې ته راغلې او هغه تجربې چې په هغه مهال کې د اروپایي هېوادونو په وسیله احساس شوې، څو اروپایي هېوادونو لېوالتیا درلوده چې یو له بله سره مرسته وکړي ترڅو د نورو احتمالي سختو

ketabton.com - The Digital Library

جګړو له رامنځته کېدو څخه مخنیوی وکړي . له همدې امله شپږ و هېوادونو په ۱۹۵۲م کال د " پولادو او ډبرو سکرو اروپایي ګډ بازار " بنسټ کېښود. هغوی غوښتل چې د پولادو او ډبرو سکرو چې دنظامي صنایعو لپاره غوره خام مواد وو ؛ دتولید په کار کې یو له بل سره مرسته وکړي . همدارنګه د دوی هڅه وه تر څو له همدې لیارې ددې مخه ونیسي چې یو هېواد بیا خپلې وسله خونې بیاسمبال کړي ، دا د اروپا اتحادیي په رامنځته کېدو کې لومړی ګام و. دامرستې په ۱۹۵۸م کال کې نورې هم پراخې شوې او نور توکي ، خدمات او پانګه اچونې هم پکې راونغښتل شوې . وروسته دې ټولو مرستو د ګډبازار نوم خپل کړ.په ۱۹۹۳م کال کې ګډبازار د اروپا په اتحادیي واوښتو ، دامهال د غړو هېوادونولپاره ددې شونتیا برابره شوه تر څو وکړی شي په ګډه توګه د بیرونې سیاست په مسایلو کې اقدام وکړي . له هماغه مهاله تر ننه پورې ۱۵ نور هېوادونه هم داروپااتحادیي غړي شول .

داروپا اتحادیه په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې

په ۹۰یمه لسیزه کې د اروپا په لویه وچه کې د پراخو بدلونونو او هغو اړیکو په اړه چې دې لوې وچې په نړیواله کچه ترسره کول شاهدیو. دسړې جګړې ترختمېدو او د کمونستي بلاک له ټوټه کېدو و روسته په دې لویه وچه کې پراخ بدلونونه منځته راغلل . د ۹۰یمې لیسیزې په لومړیو کې دبرلین دیوال ونړول شو، داروپاسیاسي وېش کم رنګه شواو کرښې له منځه ولاړې ، او ټول نړیوال دیوې واحدې ار وپاشاهدان شول. اروپایي هېوادونو دشوروي اتحاد په ټوټه کېدو سره داسې شرایط برابرکړل چې دخپل باندیني سیاست د اولویتونوپه کې یې ټولپالنه راوسته او په همدې لسیزه کې اروپایي هویت بڼه بدله کړه . د ۱۹۹۱م کال په دسمبرکې دماسټر ریخت دټرون په لاسلیک کولوسره د اروپا اتحادیه جوړه شوه او د اروپایي ټولنې ځای ناستې شوه. دماسټر ریخټ د ټرون په لاسلیک کولوسره اروپایي اتحادیه د اروپایي شورا تر څارنې لاندې د دولتونو او هېوادونو له مشرانو متشکله شوه. د ماسټر ریخت ټرون داروپایي اتحادیې په ټرون سره د اروپایي اتحادیې موسس ټرون ګڼل کېږي ، چې داروپایي ټولنې د غړو هېوادونود دولتونو دمشرانو له خوا د

ketabton.com - The Digital Library

۱۹۹۱م کال په دسمبر کې تصویب او په ۹ د فبروري ۱۹۹۲م کې لاسلیک شوه او د ۱۹۹۵م کال راپدېخوا واجب الاجرا شوه (ایضاً : ۲۰۳-۲۰۵).

داروپااتحادیه په ۲۰۱۰ لسیزه کې

د اروپااتحادیې د اروپا د ختیځ او جنوب پرلور د پراختیا پروګرام وروسته له خبرو له لارې رامنځته شو.په ۲۰۰۴م کال کې لس نور هېوادونه لکه لهستان (پولنډ)، مجارستان ، چک جمهوریت، اسلوونی ، قبرس ، سلواکیا ، ستونیا ، لتوانیا او مالت د اتحادیې د شرایطوپه منلو سره د ۲۰۰۴م کال د مئ په لومړۍ نېټه ددې اتحادیې سره یوځای شول ، چې له امله یې داتحادیې د غړو شمېر ۲۵ ته پورته شو. د لسو ختیځو ، مرکزي او جنوبي اروپایي هېوادونو په یوځای کېدو سره د اروپایو والی تر پخوا ډېر زیات شو.

د ۲۰۰۷م کال له پیله بلغارستان ، او رومانیه ورسره یو ځای شول او کرواسي ، مقدونیه ، البانیه او ترکیه هم په وروستي پړاو کې وو.

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%BE%D8%A7

۹ . ۲. افریقایي ټولنه

افریقایي ټولنه ((African Union(AU) په ۲۰۰۱م کال کې د افریقا دیو والي سازمان او د افریقا اقتصادي ټولنې د یوځای کېدو په پایله کې رامنځته شوه. د یادې ټولنې مرکز د ایتوپیا په پلازمېنې ادیس بابا کې موقعیت لري. د افریقایي ټولنې تاریخ د افریقایي دولتونو ټولنې ته ورګرځي چې په پیل کې د یوه کنفرانس په کچه و، دغه کنفرانس دهغه مهال د غنا ولسمشر قوام نکرومه په نوښت په ۱۹۶۰مه لسیزه کې جوړ شوی و. له دې وروسته د افریقا د یووالي په موخه بل ګام په ۱۹۶۳م کال کې د ایتوپیا د وخت ولسمشر هایله سلاسي په هڅو د افریقا د یووالي ټولنې جوړول و. د یاد سازمان د جوړېدو اصلي موخه له افریقایي ولس څخه ملاتړ او د هغوی سیاسي ازادي وه ، چې دا مهال لا د اروپایي هېوادونو د استعمار او ښکېلاک

ketabton.com - The Digital Library

په بند کې وو. دغه راز د افریقا د یووالي ټولنې بله موخه، پر یوه سیاسي مرکز د ټولو افریقایي هېوادونو راټولول او متحد کول وو.

په ۲۰۰۲م کال کې د افریقا د یووالي سازمان پر اساسنامې له سره کتنه وشوه او په همدې کال کې د یوې غونډې په ترڅ کې چې د سویلي افریقا په دوربان ښار کې جوړه شوې وه ، د همدې سازمان او د افریقا د اقتصادي ټولنې د اتحاد په پایله کې افریقایي ټولنه تأسیس شوه. دغه ټولنه له مراکش پرته ۵۳ افریقایي غړي هېوادونه لري.

افریقایي ټولنه په لاندې پنځه اصولو ولاړه ده .

۱. د غړو هېوادونو بشپړه برابري.

۲.د نورو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه .

۳.د افریقایي هېوادونو ټاکلو پولو ته درناوی او نه بدلون .

۴ـد خبرو، منځګړیتوب او جوړجاړي له لارې د افریقایي هېوادونو ترمنځ د ستونزو سوله ییزحل .

۵.د افریقایي هېوادونو لپاره د سیمه ییزو ځانګړنو ټاکل او د همکاری په موخه د سیمه ییزو جوړښتونو رامنځته کول .

دغه ټولنه د خپلو اوږد مهاله پلانونو په لړکې په پام کې لري چې د افرو (Afro) په نوم ګډ افریقایي پولي واحد او افریقا له لویې وچې څخه د دفاع په موخه ځانګړی پوځ جوړ کړي (۳۴ : ۲۱۹– ۲۲۰).

دافریقایي ټولنې غړي هېوادونه په دې توګه دي : الجیریا ، انګولا ، بنین ، بوتسوانا ، بورکینا فاستو ، بوروندای ، کیپ ورد ، کامرون ، دمنځنۍ افریقا جمهوریت ، چاد ، کوموروس، کوټ ډی اوایر، دکانګو دموکراتیک جمهوریت ، جیبوتي ، مصر، استوایي کینیا ، ایریتریا ، ایتوپیا ، ګابون، ګانا ، ګامبیا ، ګوینیا ، کینیا ، لیسوتو ، لایبریا ، لیبیا ، مدغاسکر، مالاوي ، مالي ،

ketabton.com - The Digital Library

موريتانيا، موريتوس، مراكش، موزمبيق، نامیبیا، نایجر، نایجریا، کانګو جمهوریت، روانډا، عربو صحرا، ساوتومي او پرنس او سینګال. د یادولو ده چې مراکش په ۲۰۱۷م کال کې ددې ټولنې غړیتوب ترلاسه کړی.

۳.۹. عربو ټولنه

د عربو اتحادیه یا د عربي هېوادونو ټولنه (Arab leaque) چې بشپړ نوم یې د عربو هېوادونو اتحادیه دی، په عربي ژبه کې ورته "الجامعه الدول العربیه" ویل کېږي، یو نړیواله سیمه ییزه اتحادیه ده چې غړي یې د اسیا جنوب لوېدیځ اود افریقا د شمال عربان دي. دا اتحادیه د ۲۲ عرب ژبې هېوادونو لخوا جوړه شوې ده چې لس هېوادونه یې افریقایي او نور ۱۲ هغه یې اسیایي دي.

دعربو ټولنه ۱۹۴۵م کال کې د اردن، سوریې، عراق، سعودي عربستان، مصر او یمن هیوادونو لخوا په قاره کې رامنځته شو. د عرب لیګ غړي سعودي عربستان، بحرین، عربي متحده امارات، سوډان، جیبوتي، کومور، سومالیه، فلسطین، اردن، مراکش، لیبیا، عراق، لبنان، سوریه، تونس، الجزایر، قطر، عمان، کویټ، مصر، موریتانیا او یمن دي. پردې سربیره وینزویلا، اریتره، برازیل او هند هېوادونه ددې ټولنې ناظرین دي.

په عربي ټولنه کې ټول هغه عربي هېوادونه شامل دي چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته خپلواک شول. یاده ټولنه اوسمهال ۲۲ غړي لري، چې په اسیا او افریقا کې پراته ټول عربي هېوادونه په کې شامل دي (۳۴ : ۲۲۵).

په ۱۹۷۹م کال کې مصر اسرایلو سره د جوړجاړي او د دیوید کمپ له امله له ددې ټولنې ووېستل شو، ددې ټولنې پلازمېنه له ۱۹۵۷ څخه تر ۱۹۷۹م کلونو پورې په قاهره کې و، چې د مصر هېواد د تعلیق کېدو له امله یې پلازمېنه تونس ښار ته ولېږدول شوه. په ۱۹۸۹م کال کې د مصر هېواد بیا ځلې ددې ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ او پلازمینه هم ورته بېرته ولېږدول شوه. (۱۳ : ۵۳۷).

ketabton.com - The Digital Library

دا اتحاديه ۲۲ اصلي او ۴ ناظر غړي لري . دسوريې غړيتوب په يـاده اتحاديه کې له ۲۰۱۱م کال له نومبر څخه راپديخوا په ځوړند حالت کې دی.



(۲.۹) نقشه : دعرب هېوادونو ټولنې غړي.

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1%D9%87%D8%A7%DB%8C_%D8%B9%D8%B1%D8%A8

د عرب ليګ د جوړېدو بنسټيزې موخې د عربي هېوادونو يو والی او په سياسي، اقتصادي، فرهنګي، ټولنيزه، روغتيايي، مخابراتي، معلوماتي او قضايي برخو کې د خپل منځي همکاريو پياوړي کول دي. همدا راز د سياسي فعاليتونو همغږي کول، د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ او د غړو هېوادونو د ګټو ساتنه او دفاع هم د عربي ټولنې له موخو څخه دي.

د ټولنې غړو په ۱۹۵۰م کال کې ناټو ته ورته په خپلو کې يو دفاعي ټرون هم لاسليک کړ. په کلتوري برخه کې په ۱۹۴۷م کال کې د عربي ټولنې د غړو ترمنځ د يوه ټرون له مخې د يو علمي کنفرانس جوړول او د محصلينو او استادانو ترمنځ اړيکې د ټولنې له موخو څخه ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

دغې ټولنې په اقتصادي برخه کې هم مهم فعاليتونه ترسره کړي دي، چې له دې جملې د عرب پراختيايي بانک جوړول، د عربي سمندري شرکت پرانيستل، د عربو د نفتو د نل ليکې شرکت جوړول او اقتصادي مالي کمپسيون جوړول د يادولو دي .په ۱۹۵۳م کال کې د سوداګريزې راکړې ورکړې په برخه کې د غړو ترمنځ يو ټرون هم لاسليک شو(۳۴ : ۲۲۶).

۹.۴. د اروپا شورا

داروپا شورا چې په انګلسي کې ورته Council of Europe وايي ، د اروپا د يووالي لپاره ډير ه پخوانۍ ټولنه ده ؛ چې په ۱۹۴۹م کال کې جوړه شوې . ددې شورا بنسټ د وګړو په واکمنتيا ، بشر حقوقو ، د قانون پلي کولو او له فرهنګي همکاريو څخه دګټې اخستنې پر پراختيا او غښتلتيا اينبودل شوی دی.

داروپا شورا (Council of Europe) د هغه خوځښت لاسته راوړنه وه چې د يوې متحدې او يو موټي اروپا په منظور د دويمې نړيوالې جګړې وروسته کلونو کې پيل شو . دا ټولنه چې يوه مشورتي سياسي ټولنه ده ، په ۱۹۴۹م کال کې د لنډن ټرون په لاسليک کولو سره چې د بنی لکس(Benelux) ، ډنمارک ، فرانسې ،آيرلينډ ، ايټاليې ، ناروي ، سويډن او انګلستان هېوادونو په وسيله رامنځته شوه ، له هغه مهال را وروسته ټولټال ۴۷ هېوادونه لري د مالتا ، قبرس ، ترکيې او يو شمېر د مرکزي او ختيځې اروپا هېوادونو هم ددې شورا غړيتوب ترلاسه کړ . پټه دې نه وي چې يا ده ټولنه د اروپا اتحاديې (European Union) څخه په بشپړه توګه توپير لري . ددې سازمان غوره ارګان د وزيرانو شورا ده چې د غړو هېوادونو حکومتونو ته د مشورې او تصميم نېولو ځواک لري . پارلماني اسامبله چې د غړو هېوادونو د پارلمانونو استازي په کې ګډون لري او رييس يې د يو کال لپاره ټاکل کېږي . ددې شورا مرکز د فرانسې په ستراسبورګ (Strasborurg) ښار کې ځای لري . ددې ټولنې رسمي ژبې انګليسي او فرانسوي دي . ددې شورا فعاليتونه د"بشر حقوقو اروپايي محکمې" په جوړولو سره د بشر حقوقو په ساحه کې دي . دې سازمان د اروپايي هېوادونو ترمنځ د

ketabton.com - The Digital Library

همکاریو او یو الي راوستو په موخه تر ننه پورې له ۸۰ زیاتو ټونونو په تصویبولو بریالي شوي دي (۴ : ۱۳۳، ۱۳۴).

د ۱۹۴۶ او ۱۹۴۷ م کلونو ترمنځ په اروپا کې بېلابېل سیاسي خوځښتونه رامنځته شول، چې په دې لړ کې د فدرالي اروپا ټولنه، د اروپایي لیګ ډله، د اروپایي متحده هېوادونو سوسیالیستي غورځنګ او د اروپا د یووالي لیبرالیست غورځنګ د یادولو وړ دي. دغو سازمانونو په ۱۹۴۸م کال په لاهای ښار کې کنګره جوړه کړه چې اوسمهال د اروپایي شورا (کنګرې) په نوم یادېږي. په یاده کنګره کې یوه ګډه اعلامیه تصویب شوه چې څلور مهم اصول په کې په لاندې توګه بیان شوي دي.

۱- د اروپا متحد کول، ۲- د بشري حقونو د میثاق تصویب، ۳- د اروپایي محکمې جوړول ۴- د پارلماني اسامبلې (غونډې) جوړول.

د لاهای کنګرې د پرېکړو پر اساس د اروپا شورا تأسیس شوه او په ۱۹۴۹م کال کې د دې شورا بنسټلیک په لندن ښار کې د غړو هېوادونو له خوا لاسلیک شو.

که څه هم په پیل کې د سازمان د واکونو پر سر د انګلستان، فرانسې او بلجیم ترمنځ د نظر توپیر و، خو وروسته ستونزه حل شوه او په ۱۹۴۹م کال کې د لسو غړو (فرانسې، آیرلینډ، بلجیم، ډنمارک، ایټالیې، لوګزامبورګ، هالند، ناروې، سویډن او انګلستان) له خوا د اروپا د شورا اساسنامه لاسلیک شوه (ایضاً: ۱۳۳، ۱۳۴)..

د دې شورا غړي هېوادونه لکه المان، اذربایجان، البانیه، اندورا، اتریش، ارمنستان، اسپانیه، ستونیا، سلواکیه، اسلوني، انګلستان، اوکراین، ایټالیا، ایرلینډ، ایسلنډ، بلجیم، بوسنیا او هرزه ګونیا، بلغاریه، پرتګال، ترکیه، چک، ډنمارک، روسیه، رومانیه، سان مارینو، سویډن، سویس، فرانسه، فنلنډ، قبرس، کرواسیا، ګرجستان، لاتویا، لوګزامبورګ، لهستان (پولینډ) لیتوانیا، لختن شټاین، مالت، مجارستان، مقدونیه، مولداویا، ناروی، هالنډ، او یونان چک جمهوریت، صربستان، موناکو او مونټنګرو او ۸۰۰ ملیون وګړي لري (۱۳ : ۵۴۱).

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه دامریکا متحده ایالات ، کاناډا ، واتیکان ، مکسیکو او جاپان هېوادونه ددې شورا ناظرین دي . ددې شورا د ناستې ځای د فرانسې په ستراسبورګ کې دی ، اوفرانسوي او انګلسي يې رسمي ژبې دي . تر ۲۰۱۲م کال پورې ټول ۴۷ اروپايي هېوادونه له بلاروس ، قزاقستان او واتیکان څخه پرته ددې شورا غړي ګڼل کېدل . بلاروس او قزاقستان دبشر حقوقو د نقص په دلیل سره ددې شورا د غړو سره نه دي یوځای شوي .



بنسټګر هېوادنه وروستي غړي

(۳.۹) نقشه : د اروپا شورا غړي

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%B4%D9%88%D8%B1%D8%A7%DB%8C_%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%BE%D8%A7

وروسته یونان په ۱۹۴۹ ، ترکیه په ۱۹۵۰ ، جمهوري فدرالي المان په ۱۹۵۱، اتریش په ۱۹۵۶ ، آیسلینډ په ۱۹۵۷ ، قبرس په ۱۹۶۱ ، سویس په ۱۹۶۳ ، مالټ په ۱۹۶۵ ، پرتګال په ۱۹۷۶ ، هسپانیا په ۱۹۷۷ ، لېختن شتاین په ۱۹۷۸، سن مارینو په ۱۹۸۸او فنلینډ په ۱۹۸۹ کال کې له دې شورا سره یو ځای شول.

ketabton.com - The Digital Library

د یادونې وړ ده، چې په یاده شورا کې واتیکان‌یو او اسراییل دوه ځارونکي غړي لري .د اروپا شورا درې ځانګې لري لکه د د وزیرانو کمیټه ، پارلماني غونډه او سکرتریت.

باید یادونه وکړو ، چې د اروپا شورا داخلي جوړښت د نړیوال سازمان له داخلي جوړښت سره بشپړ توپیر لري. په زیاتره نړیوالو سازمانونو کې شورا او اسامبله د یوه ډیپلوماتیک کنفرانس بڼه لري چې د هېوادونو استازي په کې برخه اخلي او دا استازي له خپلو اړوندو هېوادونو څخه دستور اخلي ، خو د اروپایي شورا د وزیرانو کمیټه او غونډه (اسامبله)د نړیوالو سازمانونو له اسامبلې او شورا سره ښکاره توپیر لري، ځکه یوازې د وزیرانو شورا عادي جوړښت لري او اسامبله د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې ده.

۱ -**د وزیرانو کمیټه**: د وزیرانو کمیټه د غړو هېوادونو د بېرونیو چارو له وزیرانو څخه جوړه شوې ده چې یو کلاسیک ډیپلوماتیک مقام ګڼل کېږي. د وزیرانو کمیټې پرېکړې الزامي بڼه نه لري ، خو د غړو هېوادونو له خوا تر تصویب وروسته لازمي دي.

۲ -**پارلماني اسامبله** : پارلماني اسامبله د شورا مشورتي ارګان دی .دا چې د پارلماني اسامبلې غړي نه د دولتونو او نه د ولس استازي دي، یعنې د غړو هېوادونو د غه استازي د خپلو ولسونو له لوري د اروپا پارلمان ته ټاکل شوي نه دي ، نو له همدې امله هغه اصول چې د اسبا ملې استازو ته ټاکل شوي، دا دي چې اسامبلې ته باید د غړو هېوادونو له مقننه مجلسونو څخه استازي وټاکل شي.

په پارلماني اسامبله کې د څوکیو ونډه د هر هېواد د استازو د شمېر په تناسب ټاکل کېږي. په اسامبله کې د څوکیو وېش د برابرۍ پر ډیپلوماتیک اصل نه دی ولاړ، بلکې دا وېش تر ډېره سیاسي بربنبي چې نړیوال قدرتونه په کې زیاته برخه لري. وېش په لاندې ډول دی:

فرانسه ، المان ، برتانیا او ایټالیا هر یو ۱۸ څوکۍ

هسپانیا ۱۲ څوکۍ

ketabton.com - The Digital Library

ترکیه لس څوکۍ

بلجیم، پرتګال، یونان او هالند هریو اوه څوکۍ

اتریش، سویډن او سویس هر یو شپږ څوکۍ

ډنمارک او ناروي ته څلور څوکۍ

آیرلینډ درې څوکۍ

آیسلینډ، قبرس، لوګزامبورګ، مالت او لختن ستاین ته درې څوکۍ

او سان مارینو ته دوه څوکۍ ځانګړې شوې دي.

۳-**سکرتریت**: د اروپایي شورا سکرتریت له یوه منشي، دوه مرستیالانو او له یو شمېر نړیوالو کارکوونکو څخه جوړ شوی دی د شورا له خوا ترسره شوي مهم فعالیتونه یې په لاندې توګه دي:

په ۱۹۵۰م کال کې د بشري حقونو اروپایي ټرون، په ۱۹۵۱م کال کې د اروپا د کرنیزې ټولنې جوړول، په ۱۹۵۷م کال کې د اختلافونو د سوله ییز حل ټرون، په ۱۹۶۱م کې د اروپا د ټولنیز منشور تصویبول، په ۱۹۵۵ او ۱۹۷۷ کلونو کې د ترهګرۍ ضد مبارزې په برخه کې د ډوبلین او ستراسبورګ ټرونونه، په ۱۹۸۷م کال کې د شکنجې، جزاګانو او غیر انساني کړنو د مخنیوي ټرون، په ۱۹۸۵م کال کې د معماري اثارو د ملاتړ ټرون لاسلیک او په ۱۹۸۶م کې د نادولتي نړیوالو سازمانونو د حقوقي شخصیت پېژندنې ټرون لاسلیکول د شورا له مهمو فعالیتونو څخه دي (۳۶ : ۱۹۹، ۲۰۰).

۹.۵. لوېدیځې اروپا اتحادیه

د لوېدیځې اروپا اتحادیه چې په انګلسي کې ورته Western European Union وایي په ۱۹۴۸م کال کې دبروکسل د ټرون په لاسلیک د پنځه لوېدیځو اروپایي هېوادونو (انګلستان، فرانسې، بلژیک، هلنډ او لوګزامبورګ) یعنې دپانګه لرونکو هېوادونو بلاک

ketabton.com - The Digital Library

لخوا د سوړ جنګ په اوږدو کې د چکوسلواکیا د ۱۹۴۸م کال په کودتا کې ستالیني شوروي ته په چکوسلواکیا کې د نه مداخلې له امله ؛دغه اتحادیه جوړه شوه.


https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%BE%D8%A7%DB%8C_%D8%BA%D8%B1%D8%A8%DB%8C

بله موخه یې پر لوېدیځ المان ځارنه او د هغه هېواد په دویم ځلې له مسلح کېدو څخه مخنیوی و . ددې ټولنې کلتوري او ټولنیز فعالیتونه په ۱۹۶۰م کال کې د اروپا شورا ته وسپارل شول ، په داسې حال کې چې نظامي چارې یې ناټو ته وسپارل شوې . دا ټولنه اوسمهال زیاته فعاله نه ده .

ددې ټولنې نورې موخې په ختیځې ، لوېدیځې او مرکزي اروپا کې د بشر حقوقو او سولې خوندي کول وو . د ۱۹۹۰م کال په پسرلي کې ددې ګروپ غړو هېوادونو په بن کې جلسه وکړه او پرېکړه وشوه ، ترڅو د دموکراسۍ د تحکیم او د ازاد بازار د غښتلي کولو به همکاري کوي (۴ : ۱۵۵).

د ۲۰۱۱م کال د جون په ۳۰مه دا اتحادیه رسماً منحل شوه. د لوېدیځې اروپا اتحادیه په لومړیو کې د شوروي اتحاد د تهدید پر وړاندې دفاعي اتحادیه ګڼل کېده ، خو دشمالي اتلس (ناټو) د ټرون د جوړېدو وروسته چې ټول غړي یې په هغې کې ور ګډ شول ، هغه چارې چې په لومړیو کې د لوېدیځې اروپا په غاړه وې ؛ دناټوپه غاړه شوې.

ketabton.com - The Digital Library



Members • Associate members • Observers • Associate partners

(۴.۹) نقشه: دلوېديځې اروپاټولنې غړي

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%D8%A7%D8%B1%D9%88%D9%BE%D8%A7%DB%8C_%D8%BA%D8%B1%D8%A8%DB%8C


۹.۶. د مشترک المنافع ټولنه

د مشترک المنافع ټولنه یا د هم‌ګټو هېوادونو ټولنه چې پکې ازاد هېوادونه ګډون لري او تر ډیره پورې د اقتصادي ګډو علاقو پر بنسټ منځته راغلی. دا ټولنه په ۱۹۳۱م کال کې د ((دبرتانیې هم‌ګټو هېوادونو)) په نوم د هغو هېوادونو په اړه چې نوي ازادی ته رسېدلی و د همکاری د پایښت او پر هغوی د انګلستان د نفوذ لپاره جوړه شوه، د هېوادونو ورځ تر بلې د ازادی له املې ددې ټولنې نوم هم بدلیدو. په ټوله کې ددې ټولنې غړي ددې ټولنې سره دوه ډوله اړیکې لري، ځینې هېوادونه یې د انګلستان بادشاه یا ملکه دخپل هېواد د رهبر په توګه مني چې عمدتاً د هغوی حکومتي سیستم د ټولواک په وسیله پر مخ بېول کېږي چې عمومي ټولواک یې د انګلستان دبادشاه یا ملکې په وسیله ټاکل کېږي، دویمه ډله هغه هېوادونه دي

ketabton.com - The Digital Library

چې د انګلستان بادشاه يا ملکه د مشترک المنافع ټولنې د ریس په توګه په رسمیت پېژني او ددې ډول هېوادونو حکومتي نظام جمهوري وي (۱۳ : ۵۴۲).

دمشترک المنافع ټولنه (هم ګټو هېوادونو اتحادیه) چې په انګلسي کې ورته Commonwealth of Nation وایي له ۵۴ ازادو هېوادونو څخه جوړه شوې ده ، چې له موزمبیق اوکامرون څخه پرته نور ټول یې د برتانیې مستعمره وو. دا هېوادونه د ځمکې دکرې د وچې برخې ۳۰ سلنه زمکه او ۳۰ سلنه وګړي لري . ددې ارګان د هېوادونو د همکارۍ چوکاټ د سنګاپور د اعلامیې پر بنسټ چې په ۱۹۷۱م کال کې دبشر حقوقو ، فردي ازادۍ ، برابرۍ ، دموکراسۍ ، ازادې سوداګرۍ ،نړیوالې سولې او څو اړخیزه همکارۍ لپاره یې بنسټ کېښودل شو.



(۵.۹) نقشه : مشترک المنافع (هم ګټو) هېوادونه.

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1%D9%87%D8%A7%DB%8C_%D9%85%D8%B4%D8%AA%D8%B1%DA%A9%E2%80%8C%D8%A7%D9%84%D9%85%D9%86%D8%A7%D9%81%D8%B9

دغه ټولنه د ۵۴ خپلواکو هېوادونو د خپلې خوښې ټولنه ده ، چې مطلق اکثریت هېوادونه يې د انګلستان پخوانۍ مستعمرې دي. د انګلستان بادشاه په سمبولیکه توګه ددې ټولنې ریاست پر غاړه لري ، په داسې حال کې چې په عمل کې يې ریاست يو نفر

ketabton.com - The Digital Library

سکرتر جنرال په غاړه لري او مرکز يې په لندن کې موقعيت لري. دا ټولنه سياسي اتحاديه نه ده او په همدې بنسټ انګلستان هيڅ ډول کنترول پر دې ټولنې او يا يې پرغړو نه لري.

د کامنولت اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۴م کال د لارد روزبري Lard Rosebery په وسيله په جنوبي استراليا کې د اديلايد ښار د کتنې پر مهال وکارول شوه. له ۱۸۸۷م کال را وروسته د برتانيې د لومړيو وزيرانو او د هغو د استعمارلاندې هېوادونو لخوا کنفرانسونه جوړېدل. يو له دې کنفرانسونو څخه په ۱۹۲۶م کال کې په لندن کې جوړ شو چې د بالفور (Balfour) د اعلاميې په خپرولو پای ته ورسېد (دې اعلاميه د بالفور د اعلاميې سره چې په ۱۹۱۷م کال کې خپره شوې چې په کې برتانيې په فلسطين کې د يهودي دولت له تشکيل څخه خپل ملاتړ ښودلی و؛ توپير درلود). په دې اعلاميه کې ويل شوي و چې برتانيه او د هغې دومينين (Dommenion) هېوادونه يو له بل سره برابر حقوق لري او يو د بل په داخلي او بهرونيو چارو کې هيڅ ډول کنترول نه لري، سره له دې چې په دې ټولو هېوادونو خپله وفاداري د برتانيې د تاج وتحت ته وښوده او د برتانيې په مشترک المنافع ټولنه کې يو له بل سره راغونډ شول. ددې اعلاميې محتويات بالاخره په ۱۹۳۱م کال کې په عمل کې پياده شول او په دې توګه د برتانيې د مشترک المنافع ټولنه منځته راغله.

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته برتانيه په ډيرې چټکۍ سره مخ په زوال وه، هېوادونه يو په بل پسې ازادۍ ته ورسېدل، او ددې ټولنې غړي هېوادونه هم په کې ازاد شول. په ۱۹۴۹م کال کې ددې ټولنې نوم هم د مشترک المنافع ټولنې ته واوښت. برما په ۱۹۴۸م کال او عدن په ۱۹۴۷م کال کې هغه هېوادونه وو چې تازه ازادۍ ته رسېدلي وو او د خپلواکۍ اخېستلو وروسته دې ټولنې سره يو ځای نه شول.

د تحت الحمايه او تحت قيموميت سيمو څخه مصر په ۱۹۲۲م، عراق په ۱۹۳۲م، اردن په ۱۹۴۶م، اسراييل په ۱۹۴۸م، سوډان په ۱۹۵۶م، کويټ په ۱۹۶۱م، بحرين په ۱۹۷۱م، عمان په ۱۹۷۱م، قطر په ۱۹۷۱م او عربي متحده امارات په ۱۹۷۱م کال کې هغه هېوادونه وو چې ددې ټولنې غړيتوب يې و نه منلو. د آيرلينډ جمهوريت وروسته له هغې چې په ۱۹۴۹م کال کې په جمهوريت بدل شو؛ له دې ټولنې ووتو.

ketabton.com - The Digital Library

له ۱۹۵۰م کال راوروسته د هند د وېرانديز پر بنسټ غړو هېوادونو ته حق ورکړل شو چې د انګلستان بادشاه د کامنولت د رييس په توګه له منلو پرته هم کولی شو چې په دې ټولنه کې خپل غړيتوب وساتي. سربېره پردې چې د دې ټولنې په ۱۶ غړو هېوادونو (انتيګوا بار بودا، بهاما، بليز، استراليا، کاناډا، جميکا، نوی زيلاند، پاپوا يو ګينې، سليمان ټاپوګانو، باربادوس، ګرينا دا، سنت کيټس ونيوس، سنت لوسيا، سنت وينسنت و ګرينادين، تولاو او انګلستان) کې اوس هم د انګلستان بادشاه د دې دولتونو د رييس په توګه منل شوی.

په ټوليزه توګه د نړۍ د نفوسو څلورمه برخه د دې ټولنې اړوند هېوادونو کې چې د نړۍ ۲۱ سلنه خاوره جوړوي او د ۱۶ سلنې په اندازه د نړۍ اقتصاد په واک کې لري؛ ژوند کوي.

د دې ټولنې يوازينی هېواد چې پخوا د انګلستان مستعمره نه و؛ موزمبيق دی چې په ۱۹۹۵م کال کې د دې ټولنې سره يو ځای شو. د زمبابوی هېواد په ۲۰۰۳م کال ورځخه ووتو، او د فيجي غړيتوب په ۲۰۰۶م کال کې د تعليق (ځوړند) حالت کې شو.

د دې ټولنې تر ټولو غوره د تصميم نېولو مرجع د دې هېواد د حکومتونو د رييسانو جلسه (Commonwealth Head Of Government Meeting (CHOGM) ده. چې هر کال کې يو ځلې د دې ټولنې په يو غړي هېواد کې دايرېږي او په کې د نړۍ پر غوره مسايلو اوږدې خبرې کېږي.

د دې ټولنې لومړنۍ جلسه (ناسته) په ۱۹۷۱م کال کې د سنګاپور په ښار کې او د ۲۲ مه جلسه يې د ۲۰۱۱م کال په اکتوبر کې د استراليا په پرت (Porth) ښار کې شوې وه. هوډ داسې و تر څو د دې ټولنې د ۲۰۱۳م کال جلسه په سريلانکا، او د ۲۰۱۵م کال جلسه په موزمبيق کې وشي. د هرارې (Harare) په اعلاميه کې چې په ۱۹۹۱م کال کې لاسليک شوه، د دې ټولنې ژمنه پر دموکراسۍ او پر مناسبو او مطلوبو حکومتونو وه چې د تاييد وړ شوه. او

ketabton.com - The Digital Library

داسې پریکړه وشوه تر څو د هغو هېوادونو پر وړاندې چې ددې تصمیم پیاده کولو څخه سرغړونه وکړي، ددې ټولنې د غړو هېوادونو له لوري به ورسره په ګډه کړنې کېږي.

ددې ټولنې هغه غړي هېوادونه چې د انګلستان بادشاه د دوی په هېواد کې د دولت د رییس په توګه نه پېژندل کېږي له بنګله‌دېش، بوتسوانا، برونای، کامرون، قبرس، ګامبیا، ګانا، ګیانا، هند، کینیا، کریباتي، لیسوتو، مالاوی، مالیزیا، مالدیو، مالتا، موریتس، موزامبیق، نامیبیا، ناورو، نایجریا، پاکستان، ساموا، سیشلز، سیرالیون، سنګاپور، جنوبي افریقا، سریلانکا، سوازیلینډ، تونګا، تانزانیا، ترینیندادوباګو، یوګندا، او وانواتو څخه عبارت دي (۴: ۱۵۴، ۱۴۶).

اوسمهال دویمه الیزابت ددې ټولو ۵۳غړو هېوادونو ترمنځ د یووالي استازې ده. په دې اداره کې غړیتوب د سیاسي اتحاد په بڼه نه دی، او ددې اداري دیوې مشرې په توګه ددویمې الیزابت منل، له برتانیې څخه د غړو هېوادونو د سیاسي پلوي په معنی نه دی.

له برتانیې پرته چې دویمه الیزابت خپله پکې حضور لري، ددې اتحادیې په نورو غړو هېوادونو کې استازي معمولاً د هغه هېواد د لومړي وزیر په وړاندیز او د دویمې الیزابت په خوښه ټاکل کېږي.

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1%D9%87%D8%A7%DB%8C_%D9%85%D8%B4%D

۷.۹. د ازادو مشترک المنافع هېوادونو ټولنه

د ازادو مشترک المنافع هېوادونو ټولنه هغه ټولنه ده چې په ۱۹۹۱م کال کې د شوروي اتحاد د ړنګېدو سره په یو وخت د سپینې روسیې د منسک په بنار کې د روسیې، سپینې روسیې، او اوکراین هېوادونو لخوا یې بنسټ کېښودل شو او د قزاقستان د المآتا د بیانیې د ګټې پر بنسټ چې ۱۵ هېوادونو هغه لاسلیک کړی و؛ رسمیت یې پیدا کړ.

ګرجستان هم ددې ټولنې سره په ۱۹۹۳م کال کې یو ځای شو. د شوروي اتحاد د ړنګېدو له مخې له ۱۵ جمهوریتونو څخه یوازې د بالتیک حوزې هېوادونو یعنې استوني،

ketabton.com - The Digital Library

لاتویا او لیتوانې په دې ټولنه کې له ورګډېدو څخه ځان ګوښه کړ. ددې ټولنې مقر د سپینې روسیې په منسک ښار کې دی (۱۶: ۵۴۱).

دا ټولنه (Commonwealth of independent states (CIS)) د شوروي اتحاد د رنګېدو په درشل کې د دسمبر په ۷مه ۱۹۹۱م کال کې د شوروي اتحاد د ۱۱ پخوانیو جمهوریتونو په یو ځای کېدو سره منځته راغله، چې البته ځانګړې او ټاکلې موخې یې درلودې. په ټوله کې دې هېوادونو ویره درلوده چې یو له بله د بېلتون له امله یې ښایي اقتصاد هم سقوط وکړي.

د بالتیک بحیرې درې جمهوریتونو لکه استونیا، لتویا او لېتوانیا چې د یو څه وخت لپاره د شوروي اتحاد سره یو ځای او ځانونه یې د اروپایي هېوادونو له ډلې ګڼل؛ په دې سازمان کې یې له ګډون څخه مخ واړولو. ګرجستان چې داخلي جنګونو په کې پایښت درلود، یو واړې په ۱۹۹۳م کال کې ددې ټولنې سره یو ځای شو، مګر په ۲۰۰۹م کال کې یو ځل بیا له دې ټولنې بېل شو.

د مرکزي اسیا پنځه هېوادونه چې ددې سازمان د غړو ترمنځ د اقتصادي همکارۍ له سست پرمختګ څخه ناخوښي وو، د ۱۹۹۳م کال په جنوري کې د مرکزي اسیا هېوادونو ګډ بازار (Centeral Asia CommonWealth) یې جوړ کړ.

ددې سازمان د بریالیتوب زیاته هیله په راتلونکې کې نه لېدل کېده، خو په هر صورت په اوس مهال کې د ارمنستان، اذربایجان، بلاروس، قزاقستان، قرغزستان، مولدوا، روسیې، تاجکستان، او ازبکستان هېوادونه ددې ټولنې رسمي غړي دي او یوکراین او ترکمنستان ددې ټولنې غیر رسمي غړي دي. ددې ټولنې مرکز د سپینې روسیې د منسک په ښار کې دی (۴: ۱۳۵، ۱۳۶).

ketabton.com - The Digital Library

۹.۸.د فارس خلیج د همکاریو شورا

د فارس خلیج همکاری شورا یا Cooperation Council of (Persian) Gulf هغه ټولنه ده چې دفارس خلیج جنوبي غاړو کې د پرتو شپږو هېوادونو لخوا په ۱۹۸۱م کال کې منځته راغله ، پلازمینه یې د سعودي عربستان په ریاض ښار کې ده . ددې ټولنې غړي د عربي متحده اماراتو ، بحرین ، سعودي عربستان ، عمان ، قطر او کویټ څخه عبارت دي . دا ټولنه په کال کې یو ځلې عادي غونډه کوي او په اضطراري حالاتو کې د دوه یا زیاتو غړو هېوادونو په غوښتنه ښایي غونډه وکړي (۱۳ : ۵۴۱) .

دفارس خلیج دهمکاریو شوراچې په عربي کې ورته مجلس التعاون الدول الخلیج العربیه وایي ، لنډ نوم یې د خلیج همکاریو شورا دي . دغه شورا چې سیاسي – سوداګریز بلاک دی د فارس خلیج چاپېره هېوادونو اود سیمې عربي هېوادونو څخه جوړه ده ، چې غړي یې ګډې ټولنیزې او اقتصادي یوځای والي په موخه جوړه شوې ده . بله مهمه موخه یې د غړو هېوادونو تر منځ تر ۲۰۱۰ م کال پورې دیو پولي واحد رواجول و؛ چې ونه شو .

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%B4%D9%88%D8%B1%D8%A7%DB%8C_%D9%87%D9%85%DA%A9%D8%A7%D8%B1%DB%8C_%D8%AE%D9%84%DB%8C%D8%AC_%D9%81%D8%A7%D8%B1%D8%B3

د فارس خلیج د همکاری شورا موخې

د داخلي نا امنیو پر وړاندې د غړو متقابله همکاري او مرسته .

د بېرونیو ګواښونو پر وړاندې د غړو ګډه همکاري او مرسته .

په فارس خلیج کې د امنیت د ټینګښت لپاره هلې ځلې .

د غړو هېوادونو په بهرني سیاست کې همغږي .

د غړو هېوادونو په دفاعي سیاست کې همغږي .

اقتصادي همکاری .

ketabton.com - The Digital Library

د غړو ترمنځ د ګډ بازار رامنځته کول .

په صنعتي چارو کې همغږي .

په ټولنيزو او فرهنګي چارو کې همکاري (۳۴ : ۲۲۵ ، ۲۲۶) .

اوسمهال ددې شورا دغه شپږ غړي (سعودي عربستان ، بحرين ، عربي متحده امارات ، قطر ، عمان او کويټ) يو له بله سره همکار دي .

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%B4%D9%88%D8%B1%D8%A7%DB%8C_%D9%87%D9%85%DA%A9%D8%A7%D8%B1%DB%8C_%D8%AE%D9%84%DB%8C%D8%AC_%D9%81%D8%A7%D8%B1%D8%B3

۹.۹. د اسيا جنوب ختيځ هېوادونو ټولنه

د اسيا جنوب ختيځ هېوادونو ټولنه (Association of Southeast Asian Nations (ASEAN په ۱۹۶۷ م کال کې د بنکاک په ښار کې د اسيا د جنوب ختيځ هېوادونو د اقتصادي پراختيا د چټکتيا او د ثبات په موخه تاسيس شوه ، او پلازمېنه يې د اندونيزيا په جاګرتا کې ده . د اندونيزيا ، تايلنډ ، سنګاپور ، فليپين او مالېزيا هېوادونه يې بنسټ اېښودونکي دي . همدارنګه د برونای ، کمبوديا ، لاوس ، برما ، او ويتنام هېوادونه هم ورسره يو په بل پسې يو ځای شول . نوې پاپوا ګينه هم له ۱۹۸۴ م کال راپدېخوا ددې ټولنې ناظر په توګه په غونډو کې ګډون کوي (۱۳ : ۵۳۸).

د جنوب ختيځ اسيا هېوادونو اتحاديه چې زياتره دآسه ان (Asean) په نوم پېژندل کېږي ، د اسيا په جنوب ختيځ کې يوه نړيواله سياسي ، اقتصادي او فرهنګي ټولنه ده . دا اتحاديه د ۱۹۶۷م کال د اکتوبر په اتمه د تايلنډ ، اندونيزيا ، مالېزيا ، سنګاپور او فلپين لخوا په ويتنام کې د کمونستانو د پراختيا او د يادو هېوادونوپه داخل کې د غوغا ګانو د مخنيوي په پار جوړه شوې وه .

ketabton.com - The Digital Library

د ۱۹۷۶م کال د ناستې وروسته دې ټولنې تر ډیره د اقتصادي همکاریو سیاست ته مخه کړه او هېوادونه (آن چې په خپله وېتنام کې کمونست رژیم) هم ددې ټولنې غړی شو. ددې ټولنې غړي کلنۍ جلسې لري .

http://tkg.af/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1%D9%87%D8%A7%DB%8C%D8%AC%D9%86%D9%88%D8%

دغه ټولنه((Association of South Asian Nations(ASEAN) د اسیا یوازینۍ ټولنه ده چې د امریکایي هېوادونو ټولنې ، د افریقا یو والي ټولنې او یا د عربو ټولنې سره د پرتلنې وړ ده . دا سازمان د ۱۹۶۷م کال د اګست په میاشت کې د اندونیزیا ، مالیزیا ، فلیپین ، تایلینډ او سنګاپور لخوا د تایلینډ په مرکز بنکاک کې جوړ شو . د برونای هېواد ددې د ازادۍ وروسته په ۱۹۸۴م کال کې ددې سازمان غړی شو . ددې سازمان مرکزي دفتر په جاکارتا کې دی .

ددې سازمان بنسټیزه موخه په لومړیو کې د اسیا په جنوب ختیځ کې د کمونېزم د نفوذ مخه نېول و ، تر هغې پورې چې د اسیا په جنوب ختیځ کې کمونستان په ۱۹۷۵م کال کې مسلط شول یو څه کمو اقتصادي همکاریو د فعالیتونو پروسه یې په مخ وړله . له دې تاریخ وروسته دې سازمان په سیاسي ، ټولنیز و او کلتوري برخو کې خپلې کړنې ګړندۍ کړې . دا سازمان چې اوس هم ځانګړې اساسنامه نه لري د یو شمیر ځانګړو کمېټو څخه جوړ دی چې په مختلفو هېوادونو کې موقعیت لري .

اساسي ارګان یې د غړو هېوادونو د باندینیو چارو وزیرانو په کچه د سرانو جلسه ده چې له ۱۹۷۶م کال را وروسته هر کال په یو غړي هېواد کې دایره شوې ده . د سرانو لومړنۍ جلسه یې په ۱۹۷۶م کال کې په اندونیزیا کې او شلمه جلسه یې د الفبا په ترتیب سره په ۲۰۱۲م کال کې په کمبودیا کې دایره شوې وه .

په ۱۹۹۵م کال کې ویتنام هم ددې سازمان غړی شو ، په ۱۹۹۷م کال کې د جنوبي کوریا ، لاوس او برما هېوادونه او په ۱۹۹۹م کال کې کمبودیا او بالاخره په ۲۰۰۰م کال کې

ketabton.com - The Digital Library

شمالي کوریا هم ددې سازمان غړیتوب واخیست. اوسمهال لس هېوادونه لکه برونای، کمبودیا، اندونیزیا، لاوس، مالیزیا، برما، فلیپین، سنګاپور، تایلینډ او ویتنام ددې سازمان دایمې غړي دي. په داسې حال کې چې پاپوا نیوګیني د مرستیال غړي په توګه په کې منل شوی دی. په اوسمهال کې دغه سازمان په ۴،۵ کېلو متر مربع ساحه کې د ۶۰۰ ملیون وګړو په ۱۸۰۰ ملیارد ډالرو نا خالصو کورنیو تولیداتو (GDP) او د ۸۵۰ ملیارد ډالرو په ارزښت ددې سازمان د غړو هېوادونو د باندینۍ سوداګرۍ په لرلو سره پایښت لري، چې په ګډه توګه د امریکا متحده ایالاتو، چین، جاپان، جرمني، فرانسې، برازیل، انګلستان او ایټالیې وروسته نهم نړیوال اقتصاد جوړوي. ددې سازمان سکرتر جنرال په ازادو سیالیو کې د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د هند، چین، جنوبي کوریا، استرالیا او نوي زیلاند هېوادونه ددې سازمان په ناستو کې د ناظرینو په بڼه ګډون کوي.

له سولې او ټینګښت څخه ملاتړ او عدالت، حکومت او قانون ته درناوی هغه موخې دي چې د ۲۰۲۰م کال لپاره په پام کې نېول شوي دي. ددې سازمان مشرانو په ۲۰۰۳م کال کې د آسیان امنیتي ټولنې، د آسیان په اقتصادي ټولنې او د آسیان په کلتوري ـ ټولنیزې ټولنې په جوړولو هوکړه کړې. په ۱۹۹۲م کال کې د آسیان ازادې سوداګرۍ سیمه Asean free trade area (AFTA) جوړه شوه او ۲۰۰۵م کال د جنوري په لومړۍ ورځ ګمرکي تعرفې په ۹۹ سلنه تولیداتو ددې سازمان په شپږو غړو هېوادونو (برونای، اندونیزیا، مالیزیا، فلیپین، سنګاپور او تایلینډ) له ۵ سلنې څخه کمې ته رابنکته شوې، چې له هغې ډلې پر ۶۰ سلنه ددې تولیداتو ګمرکي محصول په بشپړه توګه له منځه تللی و، او په ټولو غړو هېوادونو (کمبودیا، لاوس، برما، او ویتنام) ګمرکي تعرفې د هغوی پر ۸۱ سلنه تولیداتو له پنځو سلنې څخه کمې ته رابنکته شوې (۴ : ۱۳۷، ۱۳۸).

۲۰۱۵م کال کې د اسیا جنوب ختیځ هېوادونو اتحادیې (Asean) لپاره دځانګړې ارزښت لرونکی و، دوی پټیلې وه په همدې کال کې د اسیا جنوب ختیځ هېوادونو لس غړې د ګډ بازار او ټولنې په رامنځته کېدو سره ټولنیز غوره مسایل لکه امنیتي، فرهنګي او اقتصادي برنامې یو له بله سره شریکې کړي.

ketabton.com - The Digital Library


۹.۱۰. د سویلي اسیا د سیمه ییزې همکاری اتحادیه (سارک)

دا اتحادیه((South Asia Assocation for Reginal Cooperation (SAARC چې په سیمه ییزه کچه غوره سازمان ګڼل کېږي، د ۱۹۸۳م کال د اګست په میاشت کې د نیپال او بنګله دېش په نوښت جوړ شو. حال دا چې په دې موخه د سویلي اسیا هېوادونو د باندینیو چارو وزیرانو ناستې په ۱۹۸۱م کال کې په کولمبو کې او په ۱۹۸۳م کال کې په نوي ډهلي کې جوړې شوې وې.

ددې هېوادونو مشرانو د ۱۹۸۵م کال په دسمبر کې په ډاکه کې ملاقات وکړ، ددې سازمان اوه غړي یعنې بنګله دېش، نیپال، هند، بوټان، پاکستان، سریلانکا او مالدیو هر یو د ښلابښلو خوشبینیو سره خو په محتاطانه توګه ددې سازمان سره یو ځای شول، ځکه دې هېوادونو په خپلو منځونو کې د پخوانیو اختلافاتو له امله کومه سیمه ییزه همکاري نه درلوده. سازمان دا چې د کولمبو پلان او یا Economic and Social Commission for Asia and Pacific (ESCAP) چې پورته یادو شوو غړو په هغې کې ګډون درلود، ډیر ستر او د متعددو غړو لرونکی و؛ چې شته ستونزو یې په کې سر نه شو راپورته کولی(۴: ۱۳۹، ۱۴۰).

ددې سازمان پالیسي جوړوونکي د وزیرانو شورا وه؛ چې په کال کې دوه ځلې دایږده، او د سکرتریت په ګډون ۱۲ ګونو ښلابښلو کمټیو د کړنو څارنه یې کوله. دغه سازمان د ۱۹۸۷م کال په جنوري کې د نیپال په مرکز کتمنډو کې تاسیس شو، او یو بنګله دیشی دیپلومات یې د دوو کلونو لپاره د سکرتر جنرال په توګه ورته مشر وټاکلو. دغه سازمان د جوړښدو له لومړي کال څخه فعال و. پر کنوانسینونو له جوړښدو سربېره د تروریزم او مخدره دواګانو سره د مبارزې، د خوراکي توکو او کنفرانسونو په جوړولو او د سیمه ییزو ستونزو د حل په اړه د علمي څېړنو تر سره کولو او بالاخره د سیاسي او اقتصادي همکاریو د یو والي جوړولو په ځانګړي توګه له ۱۹۹۱م کال راوروسته وختونو کې فعاله وه.

ketabton.com - The Digital Library



(۶.۹) نقشه : دسويلي اسيا د سيمه ييزې همکارۍ اتحاديه .

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%AA%D8%AD%D8%A7%D8%AF%DB%8C%D9%87_%D9%87%D9%85%DA%A9%D8%A7%D8%B1%DB%8C%E2%80%8C%D9%87%D8%A7%DB%8C

ددې ټولنې بنسټيزې موخې د ملګرتيا د روحيې غښتلي کول ، باور او تفاهم او همدارنګه د ژوند د تامين لپاره هڅې کول او بالاخره د فرهنګي ، ټولنيزې او اقتصادي لارې د اسيا د جنوب وګړو د ژوند کچې لوړول ښودل شوي دي . په دې سازمان کې همکاري د هېوادونو ترمنځ پرنسيپونو ته په درناوي ، ځمکنۍ تماميت ، سياسي ازادۍ او غړو هېوادونو په داخلي چارو کې د نه لاس وهنې پر بنسټ ولاړه ده .

د سارک (SAARC) سکرتريت د کتمنډو په ښار کې موقعيت لري . سکرتر جنرال د غړو هېوادونو د وزيرانو شورا له خوا د درې کلونو لپاره د الفبا په ترتيب سره ټاکل کېږي . سکرتر جنرال اوسمهال نژدې اوه مرستيالان لري چې د هر غړي هېواد څخه يو يو دی . ددې هېوادونو د مشرانو جلسې له ۱۹۸۵م کال را وروسته په ترتيب سره په ډاکه ، بنګلور ، کتمنډو ، اسلام آباد ، مالې ، کولمبو ، ډاکه او نوي ډهلي کې ترسره شوي دي .

په دې سازمان کې د افغانستان دايمي غړيتوب د ۲۰۰۶م کال د اګست مياشتې ددې سازمان غړو هېوادونو د باندينيو چارو وزيرانو په ناسته کې چې په بنګله دېش کې وشو ؛ تاييد شو . چې په اړه يې وروستی تصميم د ۲۰۰۷م کال د اپريل په مياشت کې په هند کې ونېول شو .

ketabton.com - The Digital Library

په ټولیزه توګه ددې سازمان ټول غړي د افغانستان په ګډون د ۱۵ سلنې کرنیزې ځمکې ، او د نړۍ د ۲۳ سلنه نفوسو په درلودلو سره په ننني نړۍ کې غوره رول لري. سره له دې چې یوازې دوه سلنه نا خالصه داخلي تولید (GPD) او ۲.۱ سلنه نړیواله سوداګري دې هېوادونو پورې تړاو لري. ددې سازمان د اساسنامې مطابق، ددې هېوادونو د مشرانو غونډې یا ناستې هر کال باید په یو غړي هېواد کې جوړې شي، مګر عملاً دا ډول غونډې په یوه اوږده وقفه یې موده کې ترسره شوې دي. لومړنۍ د مشرانو ناسته یې په بنګله دېش کې په ۱۹۸۵م کال کې او ۱۷مه یې په ۲۰۱۱م کال کې په مالدیو هېواد کې جوړه شوې وه. پټه دې نه وي چې سربېره پر ددې سازمان څلور هېوادونو (بنګله دېش، بوټان، هند او نیپال) د دوی ترمنځ د همکارۍ د پراختیا په پار په ۱۹۹۶م کال کې د South Asian Growth Quadrangl (SAGQ) او د ۲۰۰۳م کال په دسمبر کې بیا افغانستان، پاکستان او د مرکزي اسیا ځینو جمهوریتونو د دوی ترمنځ د همکارۍ د پراختیا په موخه د Sub Regional Economic Cooperation in South and Central Asia (SECSCA) ټولنه جوړه کړه.

د ۱۹۹۳م کال را وروسته د غړو هېوادونو ترمنځ د ګمرکي امتیازي تعرفو په برخه کې ترتیبات ونیول شول. سره له دې چې ددې سازمان د ځینو غړو ترمنځ اختلافاتو شتون درلود ؛ ناظرینو د پام وړ متوقعه پایلې په کې لیدلې. دا چې د هند هېواد ددې سازمان یو ستر هېواد ګڼل کېږي، په راتلونکې کې ددې سازمان په بریالیتوب کې یې رول څخه سترګې نه شو پټولی. ددې سازمان بل غړی پاکستان دی چې د هند سره یې د سیالۍ له امله ددې سازمان لپاره په سیمه ییزه کچه ستونزه زېرولې دي. پاکستان په ۱۹۹۷م کال کې اعلام کړه چې غواړي یوه سیمه ییزه واقعي ګروه بندي د جنوبي اسیا د ازادې سوداګرۍ په نوم South Asian Free Trade Area (SAFTA) تاسیس کړي. ددې سازمان د تاسیس په برخه کې توافق، په ۲۰۰۴م کال کې په اسلام آباد کې ددې هېوادونو د مشرانو په ۱۲مه غونډه کې رامنځته شو چې پرېکړه شوې وه د ۲۰۰۶م کال له جنوري به عملي شي. د استرالیا، چین، د اروپا اتحادیه، ایران، موریشس، میانمار، جنوبي کوریا او د امریکا متحده ایالات په دې اتحادیه کې د ناظرینو په څېر غړیتوب لري (۴ : ۱۳۹، ۱۴۰).

ketabton.com - The Digital Library

د سویلي اسیا د سیمه ییزې همکاری سازمان د جوړېدو وړاندیز په ۱۹۷۰م لسیزه کې د بنګله دېش د ولسمشر ضیا نور رحمان له خوا وشو. د بنګله دېش دغه وړاندیز په ۱۹۸۳ م کال کې د کولمبو په غونډه کې د هند، پاکستان او سریلانکا له هرکلي سره مخ شو. د همدې کال په اګست میاشت کې د نوي ډیلي په سرمشریزه کې د بنګله دېش، سریلانکا، هند، پاکستان، نیپال، مالدیف او بوتان هېوادونو له خوا د سارک سازمان د جوړېدو اعلامیه لاسلیک شوه او غړو هېوادونو هوکړه وکړه چې په لاندې پنځو برخو کې به په ګډه همکاري کوي.

۱. دکرنې او کلیوالو سیمو پراختیا.

۲. اړیکې، علم، ټکنالوژي او هوا پېژندنه.

۳. خلکو ته روغتیایي خدمات.

۴. ټرانسپورټ.

۵. د انساني سرچینو لوړول.

افغانستان په ۲۰۰۵م کال کې د سارک سازمان څارونکی غړی شو او په ۲۰۰۷م کال کې یې بشپړ غړیتوب ترلاسه کړ.

امریکا په ۲۰۰۵ او چین په ۲۰۰۶م کال کې او دغه راز جاپان، سویلي کوریا او اروپایي ټولنه هم په سارک کې څارونکي غړي شول.

د سارک سازمان جوړښت ډېر ساده دی او یوازې د غړو هېوادونو د مشرانو او بهرونیو چارو وزیرانو په کچه یو کنفرانس او همدا راز یو سکرتریت لري، چې د نیپال په کتمنډو ښار کې دی.

د سارک سازمان په ۱۷مه سرمشریزه کې د غړو هېوادونو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسلیک شو چې له مخې یې په سیمه کې په ګمرګي تعرفو کې کموالی راغی. همدا راز د

ketabton.com - The Digital Library

سارک په ۱۲مه سرمشریزه کې چې په ۲۰۰۴م کال په اسلام اباد کې جوړه شوې وه، دسویلي اسیا د ازادې سوداګرۍ تړون (سفټا) لاسلیک شو او په ۲۰۰۶م کال کې د اجرا وړ وګرځېد.

په ۲۰۰۵م کال کې غړو هېوادونو د یوه پولي صندوق پر جوړولو هم هوکړه وکړه او د صندوق د چارو د پرمخ بیولو لپاره د یوې ځانګړې مالي ځانګې د جوړولو وړاندیز وشو. دغه راز په ۲۰۰۵م کال کې غړو هېوادونو هوکړه وکړه چې د ۲۰۱۵م کال ترپایه د سارک د غړو هېوادونو ټول صادرات به په ګمرکي معافیت کې شامل کړي.

د سارک د غړو هېوادونو پر مخ پرتې ننګونې

۱.جمو او کشمیر پر سر د هند او پاکستان ترینګلې اړیکې.

۲.د هند او بنګله دېش ترمنځ د کینک رود د اوبو د وېش پر سر ستونزه.

۳.د تامیل پرانګانو د ښلتون پاله غورځنګ پر سر د هند او سریلانکا ستونزه.

۴.د نفوسو زیاتوالی، اقتصادي کمزروي او د منابعو نشتوالی.

۵. په سازمان کې د رایې اچونې ډول چې د رایو په اتفاق تر سره کېږي، دغه چاره د سازمان پرېکړې له خنډ سره مخ کوي (۳۴ : ۲۲۲، ۲۲۳).


۹. ۱۱. د اسلامي همکاریو یا کنفرانس ټولنه

د اسلامي هېوادونو کنفرانس د عربو د جګړې په پایله کې د سعودي عربستان په نوښت په ۱۹۶۹م کال کې په مراکش کې جوړ شو. دغه سازمان تر ۱۹۹۸م کال پورې ۵۵ غړي لرل چې ټول اسلامي هېوادونه وو. خو پر افغانستان د شوروي د پوځي یرغل او د مصر له خوا له اسرائیلو سره د ډیوېډ کمپ تړون له امله په دغه سازمان کې د یادو دوو هېوادونو غړیتوب ځنډول شوی وو. د کنفرانس په څلورمه سرمشریزه کې مصر ته بېرته د ګډون بلنه ورکړل شوه.

ketabton.com - The Digital Library

همدا راز په ۱۹۸۹م کال کې ددغه سازمان د بېرونيو چارو وزيرانو په ۱۸م غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان غړيتوب دې ددغه هېواد د مجاهدينو ايتلافي حکومت ته ورکړل شي (۱۳ : ۵۴۰).

داسلامي همکاريو سازمان غړي هېوادونه په افريقا کې الجزايز، بنين، بورکينا فاسو، کامرون، کوموروس، چاد، جيبوتي، مصر، ګابون، ګامبيا، بيساو، ګينيا، عاج ساحل، ليبيا، مالي، موريتانيا، مراکش، موزمبيق، نايجر، نايجريا، سينيګال، سيراليون، سومالیا، سوډان، توګو، تونس او يوګندا په اسيا کې افغانستان، بحرين، بنګله دېش، برونای، اندونيزيا، ايران، عراق، اردن، قزاقستان، کويټ، قرغزستان، لبنان، مالیزیا، مالديف، عمان، پاکستان، فلسطين، قطر، سعودي عربستان، سوريه، تاجکستان، ترکيه، ترکمنستان، عربي متحده امارات، ازبکستان، يمن، په اروپا کې البانيا، په جنوبي امريکا کې ګيانا او سورينام دي. په لاندې نقشه کې د اسلامي همکاريو سازمان غړي هېوادونه ښيي (ايضاً : ۵۵).



غړي هېوادونه هېوادونه چې غړيتوب غواړي بند شوي هېوادونه لري کړی شوي هېوادونه

(۷ . ۹) نقشه : د اسلامي همکاريو سازمان غړي

https://ps.wikipedia.org/wiki/%D8%AF_%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85%D9%8A_%D9%87%D9%85%DA%A9%D8%A7%D8%B1%D9%8A%D9%88_%D8%B3%D8%A7%D8%B2%D9%85%D8%A7%D9%86

ketabton.com - The Digital Library

د اسلامي هېوادونو کنفرانس موخې

د اسلامي هېوادونو ترمنځ همغږي او پيوستون په اقتصادي، ټولنيزو او علمي برخو کې، د اسلامي هېوادونو ترمنځ همکاري، د هر ډول نژادي تبعيض او استعمار پرضد مبارزه، د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت په برخه کې هڅې، د مقدسو ځايونو د ساتنې په اړه ګډې هڅې، د فلسطينيانو له حقونو او ازاديو څخه ملاتړ او د فلسطين ازادول د اسلامي هېوادونو کنفرانس بنسټيزې موخې دي (۳۴: ۲۳۹، ۲۴۰).

۹.۱۲. د جنوب ختيځې اسيا ټرون ټولنه يا سيټو

د استراليا، فرانسې، نوي زيلاند، پاکستان، فلپاين، تايلينډ، انګلستان او د امريکا متحده ايالاتو هېوادونو په وسيله د ۱۹۵۴م کال په دسمبر کې جوړه شوه او مرکزيې د تايلينډ په بنکاک ښار کې ځای لري.



(۸.۹): د جنوب ختيځې اسيا ټرون ټولنه يا سيټوغړي

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D9%86%D8%AC%D9%85%D9%86_%D9%85%D9%84%D9%84_%D8%A2%D8%B3%DB%8C%D8%A7%DB%8C_%D8%AC%D9%86%D9%88%D8%A8_%D8%B4%D8%B1%D9%82%DB%8C

ketabton.com - The Digital Library

دا سازمان هم لکه د سنتو په څېر موخو لپاره جوړ شوی و ، خو د لاوس ، کمبودیا او ویتنام کشمکشونو کې د فرانسې ، فلپاین او پاکستان د مخالفتونو له امله یې کومې کړنې ترسره نه شوې کړی . د ناټو برخلاف دې سازمان هم ګډه قوماندانې او نظامي ځواکونه نه درلودل او همدارنګه ددې سازمان پر غړي حمله پر ټولو نه ګڼل کېده . پاکستان په ۱۹۷۳م کال او فرانسه په ۱۹۷۴م کال له دې سازمان څخه ووتل او بالاخره سازمان په ۱۹۷۷م کال کې رسماً منحل اعلان شو (۴ : ۱۵۸).

۱۳.۹ . د نفتو د صادروونکو هېوادونو سازمان (اوپک)

اوپک سازمان ((Organization of Petroleum Exporting Countries (OPEC) په ۱۹۶۰م کال د سپتمبر په څوارلسمه د بغداد په کنفرانس کې د عربستان ، کویټ ، عراق ، ایران او وینزویلا ترمنځ د یو پرېکړه لیک په لاسلیکولو سره تأسیس شو. لس ورځې وروسته یعنې د سپتمبر په ۲۴ د یادو پنځو نفت لرونکو هېوادونو ترمنځ بل پرېکړه لیک هم لاسلیک شو چې له مخې یې د سازمان موخې او تګلاره په کې څرګند شوې وو. یاد دوه پرېکړه لیکونه په حقیقت کې د اوپک سازمان د تأسیس سند ونه ګڼل کېږي.

قطر په ۱۹۶۱م ، لیبیا او اندونیزیا په ۱۹۶۲م او متحده عربي اماراتو په ۱۹۶۷م کال کې د اوپک سازمان غړیتوب ترلاسه کړ. الجزایر په ۱۹۶۹م ، نایجریا ، اکوادور او ګابون هېوادونه هم د اویایمې لسیزې په لومړیو کې د سازمان غړي شول .خو اکوادور په ۱۹۶۲م او ګابون په ۱۹۹۶م کال کې له اوپک سازمان څخه ووتل. مګر اکوادور بېرته په ۲۰۰۷م کال کې د غړیتوب وړاندیز وکړ.

اوپک تر ۲۰۰۸م کال پورې دیارلس غړي لرل لکه الجزایر ، انګولا ، اندونیزیا ، ایران ، عراق ، کویټ ، یمن ، نایجریا ، قطر ، سعودي عربستان ، متحده عربي امارات او وینزویلا (۳۴ : ۲۲۴ ، ۲۲۵).

ketabton.com - The Digital Library

د مصر هېواد غړيتوب په ۱۹۷۹م کال کې د تعليق په حالت کې شو ، خو له ۱۹۸۹م کال وروسته بيا ځلې (اوپک) سره يو ځای شو . ددې ټولنې مقر د کويټ په ښار کې دي (۱۶ : ۵۴۰).

د اوپک سازمان د اساسنامې په دويمه ماده کې د سازمان موخې داسې بيان شوې دي:

الف : د دې سازمان د جوړېدو اصلي موخه د غړو هېوادونو ترمنځ همغږي ، په نفتي تګلاره کې يو والی او همدا راز په غوره توګه د عامه او فردي ګټو تحقق دی.

ب: سازمان په نړيوالو بازارونو کې د نفتو د بيې د ثبيت په موخه له ټولو ښايیه لارو څخه په استفادې احتمالي زيانونه پېشبيني او حل لارې به ورته ومومي.

ج: د نفتو د توليدوونکو هېوادونو د ولسونو عامه مصالح ، توليدوونکو هېوادونو ته د ثابتو عوايدو د تضمين اړتيا ، د نفتو منظمه او کافي عرضه او د نفتو په سوداګرۍ کې د يوه شفاف سيستم رامنځته کولو ته به تل پاملرنه کېږي.

هغه هېوادونه چې د پام وړ خالص نفت صادروي او د اوپک سازمان غړو هېوادونو سره ورته ګټې د رسمی غړو د رايو په اکثريت (۳/۴) او د ټولو بنسټګرو غړو په موافقه کولی شي چې د سازمان غړيتوب ترلاسه کړي. د اوپک سازمان مرکز د اتريش په پلازمېنه ويانا کې دی او رسمي ژبه يې انګليسي ده.


عربي هېوادونو په ۱۹۶۸ کال کې اوپک ته ورته (OAPEC) يا د نفتو صادروونکي عربي هېوادونو سازمان تأسيس کړ. عربستان ، کويټ ، ليبيا ، عربي متحده امارات ، الجزاير ، عراق ، قطر ، بحرين ، سوريه او مصر د او .اې.پک سازمان غړي دي(۳۴ : ۲۲۴ ، ۲۲۵).

۱۴.۹ . د شمالي اتلس ټرون (ناټو)

د شمالي اتلس ټرون (ناټو) ((Narth Atlantic Treaty Organization(NATO) له دويمې نړيوالې جګړې وروسته په ۱۹۴۹ م کال کې منځته راغی ، په لومړيو کې يې د منځته

ketabton.com - The Digital Library

راتلو غوره موخه دکمونستي بلاک په مقابل کې د يو ځواکمن نظامي اتحاد جوړول و . ددې تولنې بنسټګر هېوادونه امريکا متحده ايالات ، انګلستان ، فرانسه ، کاناډا ، بلجيم ، هالنډ ، لوګزامبورګ ، ايټاليا ، ډنمارک ، ناروی ، آيسلنډ ، او پرتګال وو . وروستي هېوادونه يې د غړيتوب په تاريخ سره ترکيه او يونان په ۱۹۵۲ ، لوېديځ المان په ۱۹۵۵ ، اسپانيه په ۱۹۸۲ ، چک ، پولنډ او مجارستان په ۱۹۹۹ م کلونو کې ورسره يو ځای شول . بالاخره د اوو (۷) پخوانيو کمونيستي هېوادونو (بلغاريا ، رومانيا ، استونيا ، لېتوانيا ، سلواکيا او سلونيا) په يوځای کېدو سره د ناټو غړو هېوادونو شمېر ۲۶ ته لوړ شو (۱۳ : ۵۴۰).



(۹.۹نقشه) : په اروپايي او نړيواله کچه د ناټو غړي هېوادونه

https://fa.wikipedia.org/wiki/%D9%86%D8%A7%D8%AA%D9%88

د ناټو سازمان اصلي موخې : د امنيتي ګوابنونو پر وړاندې ګډه دفاع ، د لوېديځ بلاک همغږي کول ، د کمونيستي ايډيالوژۍ د نفوذ مخنيوی او د شوروي د پراختيا غوښتونکو سياستونو مخنيوی .

ketabton.com - The Digital Library

د ناټو ټرون په ۱۴ مادو کې چمتو شوی دی. ناټو د ملګرو ملتونو منشور د ۵۱ مې مادې څخه په الهام اخیستو، د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په برخه کې هڅې او لازم اقدامات کوي.

بل خوا د ناټو ټرون په ۵ مه ماده کې راغلي دي، چې د ناټو پر هر غړي هېواد برید، پر ټولو غړو د برید په معنا دی او ټول غړي په دفاع مکلف ګرځول شوي دي (۳۴ : ۲۱۱).

ناټو سازمان درې اصلي څانګې لري چې په لاندې توګه ښودل کېږي .

۱.د شمالي اتلانتیک شورا: د شمالي اتلانتیک شورا د ناټو سازمان اصلي رکن دی چې د ۲۶ غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې ده او مرکز یې په بلجیم کې دی. یاده شورا د دوه ډوله چارواکو په کچه غونډې کوي. لومړی د وزیرانو شورا غونډې دي او دویمه غونډه یې د دایمي استازو په کچه ده.

د نړیوالو سیاسي او امنیتي مسایلو په اړه خبرې اترې، د نړیوالو سیاستونو څېړل او د سازمان د سیاسي کرښو او تګلارو ټاکل، د وزیرانو شورا له واکونو څخه دي. د مهمو مسایلو په اړه د ناټو دریځ په ډاګه کول او د اتلانتیک حوزې څخه بېرون د پوځي عملیاتو منظوري هم د وزیرانو شورا له صلاحیتونو څخه دي.

د وزیرانو شورا او دایمي استازو په شتون سربېره، د شمالي اتلانتیک شورا په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې یو شمېر کاري کمېټې هم لري. له دې جملې د دفاعي ستراتېژۍ کمېټه او د اټومي پالیسۍ جوړونې ډله د یادولو دي، چې هر یو په ترتیب سره د دفاعي ستراتېژۍ جوړونې او د اټومي چارو د تنظیم په برخه کې فعالیت کوي.

د اټومي پالیسۍ جوړونې ډله یو مشورتي پلاوی دی چې د دفاعي پالیسیو په برخه کې د اټومي انرژۍ د ارزښت او رول په اړه شورا ته مشوره ورکوي. یادې کمېټې چې عالي کمېټې ګڼل کېږي، د غړو هېوادونو دایمي استازي یا دفاع وزیران په کې غړیتوب لري.

ketabton.com - The Digital Library

۲.سکرتریت: د ناټو سکرتریت په بروکسل ښار کې موقعیت لري چې په سر کې یې عمومي منشي دی او منشي د سازمان استازیتوب کوي. عمومي منشي د پرېکړو پر مهال د لارښوونې مسولیت پرغاړه لري او دغه راز منشي کولی شي د تصمیم نیونکي پلاوو ترمنځ د ستونزو او اختلافونو د حل په موخه منځګړی رول ادا کړي. عمومي منشي همدغه راز د ناټو سازمان د اداري مقاماتو په سر کې ځای لري.

۳.پوځي کمېټه: پوځي کمېټه د ناټو سازمان تر ټولو عالي پوځي مقام دی چې د غړو هېوادونو د فوځ له لوی درستیزوالو څخه جوړه شوې ده . یاده کمېټه غړو هېوادونو څخه د دفاع په موخه د غړو هېوادونو مشرانو ته د ناټو د ستراتېژۍ او اړتیاوو په اړه توصیه کوي.

کمېټه همدغه راز د اجرائیوي طرحو د وړاندې کولو او د پوځي عملیاتو د پراختیا مسؤلیت هم پر غاړه لري. یاده کمېټه د شمالي اتلانتیک شورا تر مستقیمي قوماندې لاندې فعالیت کوي او د دفاعي پالیسۍ جوړونې کمېټې او د اټومي پرواګرام ډلې سره نږدې همکاري لري او همدا راز د ستراتېژیکو طرحو او پلانونو د جوړونې په برخه کې پوځي کمېټې ته د اړتیا وړ کارپوهان او ماهرین په واک کې ورکوي(ایضاً : ۱۱۲).

د اروپا متحده قوماندانی ، د اتلانتیک متحده قوماندانی او د امریکا او کانادا د پالیسۍ جوړونې ډله هم د ناټو په پوځي کمېټه کې شاملې برخې دي. همدا راز یاده کمېټه څو نورې فرعي کمېټې هم لري لکه د سیاسي چارو کمېټه ، د سمندري همکاریو کمېټه ، د هوایي دفاع کمېټه ، د پوځي دفاع کمېټه او د علمي چارو کمېټه.

د امریکا متحده ایالتونو په ۱۹۶۰م لسیزه کې د (انعطاف منونکي غبرګون) په نوم خپله نوې ستراتېژي اعلان کړه چې له مخې یې له اروپایي هېوادونو څخه ددغه هېواد پوځي ملاتړ او همکاري محدوده شوه . یاده ستراتېژي د مایک نامارا د طرحې له مخې جوړه شوه. فرانسه د امریکا ددې ستراتېژۍ په غبرګون کې په ۱۹۶۶م کال کې د ناټو پوځي کمېټې څخه ووتله او همدارنګه له خپل هېواد څخه یې د ټولو بېرونیو ځواکونو د ژر تر ژره وتلو غوښتنه

ketabton.com - The Digital Library

وکړه، خو له دې سره سره بیا هم، فرانسې په سیاسي او امنیتي برخو کې د ناټو سازمان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړی دی (۳۴ : ۲۱۳).

د ناټو لومړنۍ پراختیا

د شوروي او ختیځ المان دځواکونو لخوا پر لوېدیځ المان د حملو دمخنیوي لپاره، نه یوازې د ناټو ځواکمنتیا بلکې د امریکا متحده ایالاتو ته د هغه د چارو په لاس کې ورکولو ته اړتیا وه .د ۱۹۵۰ م کال په دسمبرکې جنرال آبزنهاورپه اروپا کې دناټو ځواکونو د قومندان په توګه وګمارل شو. یوکال وروسته د ناټو قومنداني منځته راغله . د ۱۹۹۲ م کال فبروري کې دلسبون په ناسته کې چې د ناټو غړو هېوادونوتر واشنګټن وروسته تر ټولو ستره ناسته وه ، دناټو سره دالمان پېوستون او غښتلتیاپکې مطرح شوه . همدارنګه ددې یادونه هم وشوه چې د ناټو ځواکونه باید په دوه کلونوکې څلوربرابره شي او اروپا په پنځو ناحیو ووېشل شي . په همدې کال ترکیه او یونان دناټوسره یوځای شول او د المان دیوځای والي لپاره طرحه وړاندیز شوه . دې طرحې په ۱۹۵۲م کال کې دفرانسې دمخالفت سره ماتې وخوړه او المان په ۱۹۵۵م کال دلوېدیځې اروپا له لیارې ناټوته واردشو .

D9%86%D8%A7%D8%AA%D9%88

د سوړجنګ وروسته د ناټو پراختیا

له ۱۹۹۹– ۲۰۰۴م کلونو پورې د پخواني شوروي لس هېوادونه دناټو غړي شول او دناټو د غړو شمېر تر ۲۶هېوادونو پورې ورسېدو . په ۲۰۰۸م کال کې په بالتیک حوزه کې او دروسیې تر کرښو پورې د ناټو دپراختیا لپاره هڅې پیل شوې ، چې په دې منځ کې ددرېیوهېوادونو (البانیې ، کرواسي اومقدونیې) غړیتوب لپاره خبرې پیل شوې اوپه بریالیتوب پای ته ورسېدې یعنې د یادو هېوادونو غړیتوب ومنل شو، خو دګرجستان او اوکراین سره چې دروسیې سره ګډه پوله لري د غړیتوب سره یې مخالفت موجود و، خووروسته په ۲۰۰۸م کال کې د ګرجستان دغړیتوب لپاره ملاتړ زیات شو (ایضاً) .

ketabton.com - The Digital Library

ناټو په افغانستان اوعراق کې

په افغانستان اوعراق کې د جنګ له پیل وروسته د ناټو ځواکونو خپلې حوزې ددې دواړو هېوادونو د کربنو داخل ته وغزولې . په عراق کې دناټوکړنې تر ډیره په نظامي زده کړو پورې منحصرې وې، په افغانستان کې په ۲۰۰۶م کال کې دالمان او هالنډ تر غوښتنې وروسته دناټو ځواکونه (دملګرو ملتونو چوکاټ کې دآیساف دځواکونو) ځای ناستي شول . ناټو په ۲۰۰۸م کال کې دنړۍ د ۴۰ هېوادونو ۴۷۰۰۰ ځواکونو مشري په افغانستان کې په غاړه واخسته .

په ۲۰۱۷م کال کې د ژوین په ۵ مه د مونټه نګرو لخوا دناټو ټولنې ته ورکړل شوی وړاندیز د امریکا دباندینیو چارو وزیرلخوا ومنل شو ، له همدې امله به دمونټه نګرو په یو ځای کېدو سره به مونټه نګرو د ناټو۲۹ ام غړی شي .D9%86%D8%A7%D8%AA%D9%88

۱۵.۹ . د وارسا تړون

د وارسا تړون په ۱۹۵۵م کال د شوروي اتحاد او ختیځې اروپا هېوادونو لخوا د لوېدیځ المان د نه مسلح کېدو او په ناټو ټولنه کې د هغه نه غړیتوب پروړاندې ؛رامنځته شو. دې تړون هم لکه د ناټو تړون په څېر عمل کولو او مرکز یې په مسکو کې و. د البانیې غړیتوب له دې امله چې د چین ولسي جمهوریت سره یې نژدې اړیکې درلودې د تعلیق حالت کې و ، تر څو چې په ۱۹۶۸م کال کې له دې تړون څخه ووتو .ددې تړون ځواکونو په ۱۹۶۸م کال کې د شوروي اتحاد دځواکونو سره یوځای د چکوسلواکیا په نېولو کې ونډه واخېسته. دا ټولنه په ۱۹۹۱م کال کې رسماً منحل شوه (۴ : ۱۵۷).

ketabton.com - The Digital Library

لنډيز

د اوسنۍ نړۍ وګړي داسې انګيري چې په سيمه ييزه او نړيواله کچه ټولنونو وکړای شول چې د هېوادونو تر منځ کړکېچونه راکم او يا يې پای ته ورسوي . په نړۍ کې د سولې او امنيت ټينګښت او د سياسي ، فرهنګي ، کلتوري او ټولنيزو همکاريو رامنځته کول چې د بشر ارټيا او پخوانۍ هيلې وې تر ډيره د همدغسې ټولنونو په وسيله تر سره شوې .

د بشري ټولنې د پرمختګ او همکارۍ ارټيا چې له پخوا وختونو څخه احساسېده ددې لامل شوه چې دلومړۍ نړيوالې جګړې وروسته دنړيوالې ټولنې لخوا نړيوال سازمان جوړ شو ، خو داچې داخلي جوړښت کې يې ځينې ستونزې موجودې وې ، ويې نه شو کړای چې د دويمې نړيوالې جګړې مخه ونيسي . له دويمې نړيوالې جګړې وروسته بيا ديو نړيوال بنسټ (ملګرو ملتونو) د جوړېدو بنسټ رامنځته شو ، دې سازمان پر ډيرو غوره توبونو سربېره ځينې نيمګړتياوې هم درلودې .

نړيوالو ټولنو منځته راتګ دننۍ نړۍ لپاره غوره او اړينې موضوعګانې ثابت شوې . که څه هم په اروپا کې کوچنۍ اتحاديې ډيره مخينه لري خو د اروپا اتحاديه د اروپا د يووالي په لور لومړنی بنسټيز ګام ګڼل کېږي . دغه ټولنه د تاريخ په ېلابېلو پړاوونه کې منظمه او منسجمه شوې ده اوبالاخر داسې يو حالت ته ورسېده چې د اروپا د يو والي او وحدت لامل شوه . ددې ټولنې بسټيزې موخې تر ډيره د سوداګرۍ په غښتلتيا راڅرخېدې او هڅه کېده چې د سوداګرۍ په مرسته اروپا ته ښېګڼې ور وبخښي . چې همدې موخې ته تر ډيره بريده ورسېدل .

همدارنګه په افريقا لويه وچه کې هم ډيرې اقتصادي ، سياسي او ټولنيزې ټولنې رامنځته شوې چې ددې لويې وچې په پرمختګ او هوساينې کې اغېزمنې ثابتې شوي دي . ددې ټولنو په ليکه کې د افريقا يې ټولنې نوم يادولی شو چې له آره اقتصادي خو پر دې سربېره يې د افريقايي ولسونو لپاره د اروپا د استعمار له ژغ څخه د افريقايانو د غاړو

ketabton.com - The Digital Library

وښتل و او ددې تر څنګ يې د افريقا د يو والي او يو موټي کولو موخې هم له ځان سره لرلې .

همدارنګه نورې ټولنې په اسيا اروپا افريقا او امريکا لويو وچو کې د بېلابېلو موخو له املې جوړې شوي دي چې د بېلګې په توګه يې د ځينو هغو يادونه دلته کوو لکه عربو ټولنه چې بنسټيزه موخه يې د عربي هېوادونو يو والی او د سياسي فعاليتونو هم غړي کول و . همدارنګه نورې ټولنې هم به دې نړۍ کې د ورته موخو لپاره جوړې شوي دي لکه د اروپا شورا ، داروپاد اقتصادي همکاريو سازمان ، داقتصادي پراختيا او همکارۍ سازمان ، د مشترک المنافع ټولنه ، د ازادو هېوادونو د مشترک المنافع ټولنه ، دفارس خليج دهمکاريو شورا... او داسې نور چې تر ډيره د اقتصادي موخو لپاره جوړې شوې دي .

په دې سربېره په نړۍ کې ځينې نظامې ټولنې هم جوړې شوي دي چې دبېلګې په توګه يې د ناټو او وارسا ټرونونو يادونه کولی شو . دناټو (NATO) ټرون چې د ګډ امنيتي او دفاعي سيستم په موخه جوړ شوی ، چې د بروکسل ټرون په نوم يادېږي . ددې سازمان د جوړېدو بنسټيزه موخه د امنيتي ګواښونو پر وړاندې ګډه دفاع ، د لوېديځ بلاک همغړي کول، د کمونيستي ايډيالوژۍ د نفوذ مخنيوی او د شوروي د پراختيا غوښتونکو سياستونو مخنيوی . دغه سازمان بېلابېلې کمېټې لري او په نړيواله کچه يو غښتلی او ځواکمن نظامي ځواک دي .

د وارسا سازمان هم يو نظامي سازمان و ، چې بنسټيزه موخه يې د لويديځ المان د نه مسلح کېدو او په ناټو ټولنه کې د نه ورګډېدو په موخه جوړ شوی و ، چې ډير زر لمنځه ولاړ.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې

۱. په کوم کال او دچالخوا په اروپاکې د ډبرو سکرو او پولادو ټون لاسلیک شو؟

۲. داروپایي ټولنې موخې تر ډیره په کومو موضوعګانو راڅرخېدې ؟

۳. افریقایي ټولنه کله او په کومو اصولوولاړه وه ؟

۴. دعربو ټولنه کله اوچېرته لومړی ځل جوړه شوه؟

۵. دعربو ټولنې دجوړېدو بنسټیزه موخه څه وه؟

۶. داروپاشورا کله رامنځته او کوم ډول شورا ده ؟

۷. د اروپا شورا د اروپایي ټولنې سره کوم ډول توپیرلري ؟

۸. د لوېدیځې اروپا اتحادیه په کومه موخه جوړه او اوس مهال یې اغېزمنتیا څومره ده؟

۹. داروپایي اقتصادي همکاریو سازمان دنده کومه او کوم غړي لري ؟

۱۰. د مشترک المنافع ټولنه له څو هېوادونو جوړه ده اوکوم ډول هېوادونه پکې راټول دي ؟

۱۱. د انګلستان بادشاه د مشترک المنافع ټولنې دکومو هېوادونو د دولت رییس ګڼل کېږي ؟

۱۲. دازادو مشترک المنافع هېوادونو ټولنه له کومو هېوادونو جوړه ده؟

۱۳. د ازادو مشترک المنافع هېوادونو ټولنه کله او دڅه لپاره جوړه ده ؟

۱۴. دفارس خلیج د همکاریو شورا کله او دچالخوا جوړه شوې ده؟

۱۵. دفارس خلیج دهمکاریو شورا موخې څه دي ؟

ketabton.com - The Digital Library

۱۶. دشانګهای دهمکاری ټولنه کله او په کومه موخه جوړه شوې ده؟

۱۷. دشانګهای دهمکاری ټولنې اصلي او څارونکي غړي کوم دي ؟

۱۸. دسارک ټولنه کله جوړه او د څو غړو لرونکې ده؟

۱۹. دسارک ټولنې ته په مخ کې پرتې ننګونې کومې دي؟

۲۰. په سارک ټولنه کې افغانستان ته دایمي غړیتوب کله ورکړل شو ؟

۲۱. سارک ټولنه په کومو برخو کې ګډې همکاری کوي ؟

۲۲. د اسیا پاسفیک ټولنې بنسټ دکومو هېوادونو لخوا کېښودل شو؟

۲۳. د اسلامي هېوادونوکنفرانس دکومو هېوادونو لخوا د چا په نوښت جوړ شو؟

۲۴. داسلامي هېوادونو کنفرانس موخې څه دي ؟

۲۵. نفتاټون کله او دچالخوا جوړشوی اومرکزیې چېرته دی؟

۲۶. داوپک ټولنې غړي کوم دي ؟

۲۷. داوپک ټولنې موخې کومې دي؟

۲۸. دناټو ټولنه لومړی دکومو هېوادونو لخوا کله لاسلیک شوه ؟

۲۹. دناټو ټولنې موخې کومې دي؟

۳۰. دوارساټولنه کله او د چا لخوا جوړه شوې وه؟

ketabton.com - The Digital Library

د سیاسي جغرافیې اړینې اصطلاحګانې

دا چې هره پوهه ځانګړې اصطلاحګانې لري او هره پوهه د همدغو اصطلاحګانو په مرسته په مخ ځي نو لازمه وي چې د هر مسلک او پوهې ځانګړې اصطلاحګانې د مسلک خاوندانو لخوا یادې او په سمه توګه په موزونو او وړو ځایونو کې وکارول شي. د سیاسي جغرافیې هم ځانګړې اصطلاحګانې دي چې په مرسته یې کیدی شي سیاسي جغرافیه په غوره توګه پرمختګ وکړي نو له همدې امله لازمه ده چې د سیاسي جغرافیې ځینې اړینې اصطلاحګانې دلته ذکر شي.

۱. ابر قدرت (لوی ځواک)

په نړیوال سیاست کې هغې قوې ته منسوب کېږي چې د پراخې خاورې، د زیاتې انساني قوې، د لومړنیو موادو د غني زېرمو لرونکی او د اقتصادي او نظامي ځواک لرونکی وي او په عین حال کې پر نورو هېوادو د تسلط او د استعماري او نویو استعماري اعمالولغوښتونکی وي. په اوسنیو شرایطو کې او په ۱۹۹۱م کال کې د شوروي اتحاد د ړنګېدو را وروسته د امریکا متحده ایالاتو هېواد د نړۍ یوائنې ابر قدرت په عنوان پېژندل کېږي. ظاهراً په امریکا کې د ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱م کال را وروسته، دې هېواد د نړۍ د ټولو هېوادونو په چارو کې د لاس وهنې چارې زیاتې کړې دي (۱۶ : ۵۴۷).

۲. اپارتاید

د اپارتاید معنی بېلتون دی، او دا هغه نوم دی چې د جنوبي افریقا حکومت په خپل حکومت یعنې توکمیز تبعیضه نظام باندې اینبی دی (۳۹ : ۱۳).

اپارتاید د نژادي تبعیض رسمي سیستم و، چې د ۱۹۴۸ او ۱۹۹۴م کلونو ترمنځ په جنوبي افریقا کې د مسلط ملي حزب لخوا پلی کېدلو. ددې سیاست لاندې، د نه سپین پوستو ډیری وګړو حقوق هیڅ ګنل کېدل، او د سپین پوستو اقلیت حکومت په هغه هېواد کې چلېدو. دا سیاست په سهیل لوېدیځه افریقا کې چې د ملتونو ټولنې د پرېکړې پر بنسټ د

ketabton.com - The Digital Library

سهيلي افريقا د قيموميت لاندې و ، د نامیبیا تر ازادۍ پورې په ۱۹۹۰م کال پورې هم پایښت درلود . دا ډول سیاست د ۱۹۴۸م کال د ټولیزو ټاکنو وروسته نافذ شو . نوي قانون د سهيلي افريقا ټولنه په سپینو ، تورو ، رنګه او اسیایي ډلو ووېشله . له ۱۹۷۰م کال را وروسته تور پوستو خپل تابعیت هم له لاسه ورکړ او د لسو خود مختارو قبایلي سیمو وګړي چې د بانتوستانیانو (Bantustans) په نوم یادېدل؛ له ډلې شول.

نژادي تبعیض په جنوبي افریقا کې په ټولو سیمو کې لکه معارف (پوهنې) صحت او په ټولو ټولنیزو خدماتو کې پلی کېدو . له ۱۹۵۰م کلونو راپدېخوا ددې نظام پر وړاندې مقاومت پیل شو . په دې نظام کې په ۱۹۸۰م کلونو کې راوړل شوي اصلاحات د تورپوستانو د منلو وړ نه شول او په ۱۹۹۰م کال کې د سپین پوټکو له جمهور رییسانو څخه یو تن یې د دوکلرک (Frederik Willem de Klerk) په نوم ؛ ددې نظام د ختمولو لپاره خبرې پیل کړې چې بالاخره د ۱۹۹۴م کال ازادو ټاکنو باندې تمامه شوه . چې نلسن مانديلا په مشرۍ د افریقایي ملي کانګرس حزب (ANC) په کې ټاکنې وګټلې او نلسن مانديلا په کې واک ته ورسید (۴ : ۱۹۳).

۳ . ارستوکراسي ، د اشرافو حکومت

هغه حکومت ته وایي چې اشرافو او غوره کسانو ته منسوب وي او یوازې د لوړې طبقې یا د یوې محدودې ډلې ممتاز کسان یې چارواکي وي ، په لرغوني یونان کې یې د نېکانو او مناسبو خلکو حکومت ته د اشرافو حکومت ویلو (۳۹ : ۱۶).

۴ . ازاد بندر

ازاد بندر هغه بندر ته وایي چې سوداګریز مالونه د ګمرکي عوارضو او حقوقو پرته هلته وارد او یا صادر شي ، لکه د اسیا په جنوب ختیځ کې د سنګاپور او هانګ کانګ بندرونه (۵۵۱ : ۱۶) .

ketabton.com - The Digital Library

۵. استبداد

له هغه سیاسي تګلارې څخه عبارت دی چې د لاندې ځانګړتیاوو لرونکی وي.

الف. د دولت د ځواک لپاره د قانون یا دودیزه حدودو نه شتون.

ب .د ځواک لمن پراخول چې عملاً ترسره کیږی، او ددې کارد ترسره کولو لپاره یوې متمرکزې اداري ته اړتیا وي (۱۱ : ۲۱).

۶. استبدادي حکومت یا شخصي حکومت

هغه حکومت چې په هغې کې قدرت په تدوین شوي اساسي قانون اتکاء نه کوي، بلکې قدرت او اختیار د یو فرد په لاس کې وي او هیڅ ډول قانوني محدودیت ونه لري (۳۹ : ۱۹).

۷. استعمار

استعمار په لغت کې د جوړولو او آبادولو د غوښتنې په معنی دی. مګر دودیزه معنی یې د اقتصادي، نظامي او سیاسي پلوه د یو ځواکمن ملت تسلط، پر یوې کمزورې ځمکې یا قوم. په لنډو سره، هر ډول ځمکنۍ پراختیا استعماري عمل ګڼل کیږي (۱۱ : ۲۲).

۸. اقلیت (لږکۍ)

هغه ډله وګړي چې په یو هیواد کې اوسیږي او د ژبې، مذهب، او د ټولنیزو دودونو له مخې د هغې هېواد د اکثریت وګړو سره توپیر لري. په پراخه مفهوم سره هغو حزبونو ته چې په پارلماني ټاکنو کې یې د ټاکل شوو استازو شمېر د ټولو استازو د شمیر له نیمایي څخه کم وي؛ هم اطلاق کیږي (۱۶ : ۵۴۹) .

۹. الحاق یا پیوستون

یو هېواد پورې تړلې یا بې خاونده ځمکې تملک کول د یو بل هېواد په وسیله د الحاق په معنی ده. د یوې ځمکې په الحاق کېدو سره ملحق کوونکي هېواد ته د الحاق ځمکې

ketabton.com - The Digital Library

ټول حاکمیت په لاس کې ورځي، او د الحاق شوې ځمکې وګړي د ملحق شوې ځمکې وګړي ګڼل کېږي. د الحاق شوو ځمکو غوره بېلګې د اتریش او د سودت ځمکې الحاق کېدل د المان سره له دویمې نړیوالې جګړې وړاندې و (۱۱ : ۱۸).

کیدای شي ووایو چې دا هغه حقوقي عمل دی، چې د دولت په تړون کې شامل نه وي خو ددغه تړون له مقرراتو او قواعدو څخه خپل ملاتړ اعلان کړي او په مقابل کې یې له مزایاوو څخه ګټه پورته کوي، په ټولیزه توګه دا کار د یو تړون له رامنځته کېدو وروسته کېږي او هغه دولت چې دغه ډول ملاتړ اعلاموي، لکه د تړون کوونکو اصلي دولتونو په څېر په تړون کې په ټاکل شوو حقوقو او ربړو کې یو شان وندې اخلي. د پیوستون لپاره ښایي د ټولو هېوادونو پر مخ دروازې خلاصې وي لکه د ملګرو ملتونو د منشور په څېر او یا دا چې د پیوستون دروازه د یو شمېر هېوادونو پر مخ خلاصې وي لکه عرب لیک یا د عربو اتحادیه چې یوازې د خپلواکو عربي هېوادونو پرمخ یې دروازې خلاصې دي (۳۹ : ۱).

۱۰. امپریالیزم

په اصطلاح کې هغه سیاست دی چې له خپلې خاورې څخه پر بېرون وګړو د هغوی له اقتصادي سرچینو څخه ګټې اخېستنې، نظامي موقعیتونو د ساتلو او پر هغوی باندې د خپلو صادراتي سامانونو د خرڅولو لپاره په کار اچول کېږي. دا چې طبیعتاً وګړي د نورو له سلطې منلو څخه بده وړي؛ د امپریالیزم سیاست تل د زور په کارولو ترسره کېږي. امپریالیزم شرایطو ته په کتو سره بېلابېل سیاستونه غوره کړي دي چې په اوسني وخت کې تر ټولو غوره ټګلاره یې د پانګه والو هېوادونو لخوا په پراختیا په حال کې هېوادونو کې د پلور بازارونو جوړول او د هغوی سرچینې او زېرمې په ډیره ټیټه بیه اخېستل دي (۱۶ : ۵۴۹).

دا کلمه په ۲۰ مه پېړۍ کې د هغو اروپایي هېوادونو لپاره کارول شوې چې د ۱۸۸۰ـ ۱۹۰۰م کلونو په اوږدو کې یې پر اسیایي او افریقایي هېوادونو خپل تسلط ته پراختیا ورکړه؛ او امپراتورۍ یې جوړې کړې.

ketabton.com - The Digital Library

د امپریالېزم دا معنی د اقتصادي حرکتونو په موخه کارول شوې. یا د یو هېواد هر ډول تسلط پر بل هېواد ته امپریالیزم وایي لکه د روسیې تسلط پر ختیځه اروپا، روسیي امپریالېزم او د چین تسلط پر تبت د چین امپریالیزم ګڼل کېږي (۱۱ : ۱۸).

۱۱. امپراتور

د ملتونو یا هېوادونو ډلې ته چې د یو واکمن (امپراتور) تر قوماندې لاندې یې یو والی رامنځته کړی وي، دغې مشر ته یې امپراتور وایي. یا د امپراتور سرلیک هغه دولت یا حکومت ته چې د یو امپراتور د فرمان لاندې وي، چې د پراخې محدودې لرونکی او هر ډول توکمیز وګړي په کې ژوند لري؛ هم اطلاق کېږي. لرغونې امپراتورۍ په مصر، بابل، اشور، ایران، روم او مکدونیه کې جوړې شوي دي. په وروستیو کې کیدی شي د مغولو، هند، المان او جاپان امپراتوریو یادونه وکړو. کیدی شي چې امپریالیزم د امپراتورۍ نوې بڼه وګڼو (۱۶ : ۵۴۹).

۱۲. انقلاب

ناڅاپي او سخت بدلونونه چې په سیاسي، ټولنیزې او اقتصادي وضعې کې رامنځته کېږي او یو مستقر هېواد خپل ځای بل ته ورکوي؛ ورته انقلاب ویل کېږي. دا ډول بدلونونه تر ډېره د زور او زیاتي او د وګړو په سرکشۍ سره تر سره کیږي. انقلاب په غیر سیاسي بدلونو هم اطلاق کېږي، لکه صنعتي انقلاب، فرهنګي انقلاب، علمي انقلاب... (۱۱ : ۲۴).

۱۳. ایالت

د هیوادونو په سیاسي وېش کې هر یوه پراخه سیمه چې معمولاً یو پراخه د وېش واحد جوړوي؛ ورته ایالت وایي. د ایالتونو محدوده او د واکونو حدود په ببلا ببلو هېوادونو کې توپیر لري او د هغه هېواد په قوانینو او مقرراتو پورې تړاو لري (۱۶ : ۵۴۷).

ketabton.com - The Digital Library

۱۴. ایتلاف

د پارلماني او ټاکنو د موخو د لاس ته راوړلو لپاره د سیاسي ډلو او حزبونو موقت جوړ جاړي ته ایتلاف ویل کېږي (۱۱ : ۱۹).

دحکومت د جوړېدو لپاره د احزابو یو ځایتوب په معنی سره دی ، دا چاره یوازې هغه مهال ترسره کېږي چې په پارلماني سیستمونو کې یو واحد حزب اکثریت ونلري او په پایله کې د دولت تشکیل د یو حزب لخوا ناشونی شي، په دغه صورت کې دوه یا څو حزبه په موقته توګه یو له بله سره یو ځای کېږي ترڅو د پارلمان اکثریت لاس ته راوړي او معمولاً هغه دولت چې په دغسې بڼه منځته راځي؛ ورته ایتلافي دولت وایي (۱۶ : ۵۴۷) .

۱۵. بندر

د سمندر ، بحیرې ... او داسې نورو په غاړه سیمه ، یا هغه ځای چې کشتۍ د هغې په غاړه کې ودرېږي او یا بار هلته اخلي یا یې کوزوي . دا ډول سیمې معمولاً غوره ساختمانونه او د مخابراتي او اړیکو غوره تاسیساتو لرونکې وي (۱۶ : ۵۵۱) .

۱۶. بیروکراسي

د بیروکراسۍ اصطلاح په اروپا کې د ۱۸ مې میلادي پیړۍ له لومړیو څخه و کارول شوه ، دغه اصطلاح د Bureau له کلمې څخه چې د لیکلو د میز په معنی ، او یا دفتر او د کار ځای چې مامور په هغې کې کار کوي؛ اخېستل شوې ده. د Kratia یا Kratos وروستاړی په یونان کې ځواک یا حکومت کولو په معنی دی . چې په دې ترتیب بېروکراسي د دفتر قدرت او یا د دفتر حکومت معنی ښایي ورکړي . له دې اصطلاح څخه ګټه اخېستنه د فرانسې انقلاب څخه لږ وړاندې په ۱۷۸۹م کال کې ترسره شوه ، چې البته وروسته یې په چټکۍ سره ټولو هېوادونو ته پراختیا وموندە . د المان ټولنپوه ماکس ویبر Max weber (۱۸۶۴-۱۹۲۰م) په نړۍ کې د بیروکراسۍ د پراختیا ستر پلوي و (۴ : ۱۹۵).

ketabton.com - The Digital Library

۱۷. پنځمه ستن

پنځمه ستن، اصطلاحاً په یو بل هېواد کې د یو هېواد د جاسوسي او ورانکارو عواملو او یا د هېواد په داخلي جوړښت کې د یوې ډلې لخوا ددغسې کړنو ترسره کولو ته د ا اصطلاح کارول کېږي (۱۱ : ۴۶).

۱۸. پلازمینه

د هر هېواد د حکومت مرکز، چې په هغه کې بادشاه یا جمهور رییس او یا د هغې هېواد حاکم هیات اوسېږي او له هماغه ځایه د هېواد په ټولو برخو حکم چلونه کوي (۱۶ : ۵۵۲) .

۱۹. تحت الحمایه

هغه ځمکه چې په کې واکمن یا حکم چلوونکی وي او په داخلي چارو کې لږه او ډیره ازادي ولري، خو د بل هېواد ترحمایت لاندې وي او معمولاً بېرونۍ اړیکې یې د هغه حمایت کوونکي هېواد په لاس کې وي (۱۶ : ۵۵۴) .

۲۰. ټولنه

یو شمېر وګړي چې په یو ځمکني واحد کې ژوند کوي (۱۶ : ۵۵۷) . جمهوري د حکومت هغه ډول دی چې په هغې کې د هېواد رییس ځای ناستی مورثي نه وي، او د ریاست موده تر ډیره محدوده وي او ټاکنې په کې په سیده او نا سیده رایې کارونې ترسره کېږي. جمهوري د کلمې د مفهوم له مخې تر ډیره د دموکراسۍ درجې هم دي، مګر په عین حال کې په ډیرو غیر سلطنتي دیکتاتوریو هم اطلاق کېږي (۱۱ : ۱۸).

۲۱. جیوپولیتیک

د سیاست او د ژوند طبیعي چاپیریال ترمنځ د تړاو علم ته جیوپولیتیک وایي. که څه هم دغه علم د ارسطو ترمودې پورې مخینه لري، مګر په المان کې د ۱۹مې میلادي پېړۍ را وروسته د زیاتې پاملرنې وړ شو (۱۶ : ۵۶۶) .

ketabton.com - The Digital Library

۲۲ . حکومت

هغه نهاد دي چې په نړیواله کچه د یو دولت استازیتوب دنده په غاړه لري (په نړیواله کچه د دولت نماینده) او د هغه د حقوقو او تکالیفو مسول وي. حکومت له درېیو برخو جوړ وي لکه مقننه قوه، اجراییه قوه او قضایه قوه (۱۱ : ۹۵).

۲۳. دموکراسي

دموکراسي یعنې د خلکو حکومت، یا په بله ژبه د حکومت هغه ډول چې په کې لوړ حاکمیت د وګړو په لاس کې وي او شونې ده چې په سیده (په مطلقه دموکراسۍ کې) او یا د استازو په وسیله چې وګړي ټاکي عملي شي (د هغو حکومتونو برخلاف چې په هغې کې حکومت د یوې طبقې، یوې ډلې، ممتازو او یا یو فرد په لاس کې وي) (۱۶ : ۵۶۲). هغه ځمکه چې په کې واکمن یا حکم چلوونکی وي او په داخلي چارو کې لږ او ډیره ازادي ولري، خو د بل هېواد تر حمایت لاندې وي او معمولاً بېرونۍ اړیکې یې د هغه حمایت کوونک هېواد په لاس کې وي (۱۶ : ۵۵۴) .

۲۴. دیکتاتوري

له دیکتاتورۍ څخه مطلب د ځواک هغه ډول دی چې د لاندې ځانګړتیاوو څخه څه ولري :

الف. د قوانینو یا دودونو نه شتون چې واکمنان یې پیاده کړي.

ب. د ځواک بې پولې توب.

ج. د عالي ځواک لاس ته راوړل یا د پخوانیو قوانینو نقص کول.

د. د ځای ناستي توب لپاره د منظمو مقرراتو نه شتون.

ه. د یوې کوچنې ډلې د ګټو لپاره د ځواک کارول.

و. د دولت د ځواک او ویرې له امله د وګړو اطاعت.

ketabton.com - The Digital Library

ز. د يو تن (کله‌بيا د څو نفرو) په لاس کې د ځواک تمرکز.

ح. د ترور او وحشت (ويرې) پيدا کول.

ديکتاتور لفظ د مطلقه حکومت پر هر ډول واکمنانو اطلاق کېږي (۱۱ : ۴۰).

۲۵. سوړ جنګ

د اقتصادي سيالیو سره يو ځای هغه سياسي کړکيچونه او نظامي لانجې وې چې له ۱۹۴۶ څخه تر ۱۹۹۱م کلونو پورې د کمونستي نړۍ چې په سر کې يې شوروي اتحاد، او د لوېديځ پانګه وال نظام چې په سر کې يې د امريکا متحده ايالات و؛ پايښت لرلو. سره له دې چې د دواړو لورو لخوا نظامي سيده ټکر نه و رامنځته شوی، مګر نظامي لانجو د نظامي ايتلافونو د جوړولو، د ځواکونو ستراتېژيکي تمرکز، ځپل شوو هېوادنو سره د مرستو زياتولو، پروپاګندو، د وسلو سيالیو، د بې لورو هېوادونو راګرځولو او د تګنالوژۍ، مستعمراتو او داسې نورو له لارې پايښت وموند (۴ : ۱۹۷).

۲۶. سوسياليزم

سوسياليزم هغه تيوري يا سياست دی چې د توليد وسايلو مالکيت او د توليد وسايلو (چې د پانګې، ځمکې، مالونو او داسې نورو څخه عبارت دي) باندې څارنه د ټولنې په لاس کې او ټولو په ګټه غواړي. که څه هم چې د سيوسياليزم د عقايدو په اړه د نظرونو اختلافات ډير زيات دي، خو ټول د يو مشترک عنصر لرونکي دي چې عبارت دي له: په فرد د ټولنې لومړيتوب او د ټولیزو ګټو لومړيتوب پر فردي ګټو) (۱۱ : ۴۶).

۲۷. قيموميت

قيموميت يو نړيوال تاسيس دی، چې د هغه په وجه د ملګرو ملتونو ټولنې تر څارنې لاندې دولتونه د قيم ترسرليک لاندې، د خاصو ادارو او ځمکو نظارت په غاړه اخلي تر هغې چې دغه ځمکې ازادۍ يا خپلواکۍ ته ورسېږي. که څه هم شونې ده موخه يې تل ازادي نه وي، خو بيا هم قيم حق لري تر قيموميت لاندې ځمکه خپلې خاورې پورې و ترې (۱۱ : ۵۱).

ketabton.com - The Digital Library

۲۸. کابینه یي حکومت

دا هغه ډول حکومتي نظام دی چې ولسمشر تشریفاتي او سمبولیکه بڼه لري او واک د کابینې په لاس کې وي او کابینه هغه ګوندي مشران، چې اکثریت یې ګټلی وي او یا یې د ایتلاف مشران ټاکي. په دې نظام کې داسې نه شي کېدی چې کابینه د یو ګوند د مشرانو په واک کې وي او پارلمان د بل ګوند. په دې ډول نظام کې که د کابینې او پارلمان تر منځ اختلاف پیدا کېږي، نو کابینه دغه پارلمان منحلوي او موضوع رایې ورکوونکو ته سپاري. د کابینه یي حکومت نظام په انګلستان، کاناډا، هند او یو شمېر نورو هېوادونو کې دود دی (۳۹ : ۳۳).

۲۹. کاپیټالیزم

کاپیټالیزم د اقتصادي سیستم هغه ډول دی چې په هغې کې د اقتصادي فعالیتونو غټه برخه، په ځانګړې توګه د توکو د تولید لپاره مالکیت او پانګه اچونه، د وګړو او خصوصي موسساتو په لاس کې وي. او هغوی د اقتصادي سیالۍ له لارې او د ګټې د لاسته راوړلو په انګیزې سره، د چارو لارښوونه کوي. د کاپیټالیزم کلمه تر ډیره سوسیالیستان کاروي، د هغو موخه له کاپیټالیزم څخه، هغه سیستم دی چې په هغې کې خصوصي وګړي د تولید وسایلو مالکین وي، او همدا وسایل د سود (ګټې) د ترلاسه کولو په موخه کاروي (۱۱ : ۵۱).

۳۰. کمونېزم

کمونیزم پر هغې تیورۍ اطلاق کېږي چې له (مشترک ژوند) څخه پلوي کوي، او د هغې ټولنې غوښتونکي وي چې په هغې کې د سلسله مراتب تسلط شتون نه لري. د تفریح او ژوند کولو ټول وسایل او اموال په ګډه د ټولو وګړو په واک کې وي. کمونیستان، د سوسیالیستي نظام د کمونیستي نظام پیلیزه بولي، او په دې باور دي چې کمونیزم ته د رسېدو لپاره باید د سوسیالیزم په لاره تېر شي (۱۱ : ۵۲).

ketabton.com - The Digital Library

۳۱. کنګره یا کانګرس

د ګوند د رهبرۍ تر ټولو لوړ ارګان او مقام ته کنګره وایي، یا کنګره له هغې غونډې څخه عبارت ده چې د ګوند د غړو او ایالتي شوراګانو استازو د شمېر په تناسب په کې راغونډېږي. په نړیواله اصطلاح هغې غونډې ته ویل کېږي چې د هېواد مشران او یا استازي په سیاسي مسایلو کې د تفاهم او د نظریاتو د شریکولو په موخه راغونډېږي (۳۹ : ۴۹).

۳۲. کودتا

کودتا، د زور او جنګ لارې د دولتي مقاماتو په لاس په نا څاپي توګه د دولت بدلون ته ویل کېږي. د کودتا توپیر د انقلاب سره دادی چې کودتا له پاسه لوري او د حاکمې طبقې یا د دولتي دستګاه د وګړو لخوا تر سره کیږي، حال دا چې انقلاب د وګړو او ټیټ پوړ خلکو لخوا د دولت په ضد پاڅون ته وایي. کودتا تر ډیره د رادیو او مهمو ننبلوونکو مرکزونو لکه هوایي میدانونو، د اوسپنې لارې په سټیشنونو او د دولتي مهمو ودانیو په لاسته راوړلو سره پیلېږي (۱۱ : ۵۴).

۳۳. ګمرکي اتحادیه

د دوو یا څو هېوادونو تر منځ اتحادیه چې پر بنسټ یې له یوې ګمرکي تعرفې څخه ګته اخېستل کېږي، ورته ګمرکي اتحادیه ویل کېږي لکه د اروپا ګډ بازار ګمرکي اتحادیه (۱۶ : ۵۴۷).

۳۴. لیبرالیزم

لیبرالیزم د لاتیني Libralis اصطلاح څخه اخېستل یوه نړیواله سیاسي فلسفه او د پام وړ ټکی دی، چې پر ازادۍ او برابرۍ یې اساس کېښودل شوی دی. که څه هم د دې فکري مکتب د ګټې اخېستنې ساحه ډیره پراخه ده، مګر په ټولیزه توګه له ازادو او عادلانه ټاکنو، مدني حقوقو، د مطبوعاتو ازادي، د دین او مذهب ازادي، د سوداګرۍ ازادي او خصوصي مالکیت څخه پلوي کوي او دا یې غوره ګڼلې دي.

ketabton.com - The Digital Library

که څه هم د لیبرالیزم تاریخي فلسفې ریښه د یونان ښاري دولت دورې ته رسېږي، مګر په معاصره دوره کې د یو سیاسي خوځښت په توګه د روشنګرۍ په عصر کې یې بروز وکړ، د فلسفې او اقتصاد لویدیځ پوهانو په لیکنو کې یې انعکاس موندلی، او د الهي حقوقو، مطلقه شاهي او د مذهب او دین موروثي امتیازاتو سره په مخالفت کې پرېوته.

د انګلیسي جان لاک John locke (۱۶۳۲ـ۱۷۰۴م) فکري او فلسفي برخه کې د لیبرالیزم تیوریکي اساسات پیل شوي و. د فرانسې او امریکا انقلابیونو د استبداد پر ضد په خپلو مسلحانه حرکتونو کې له همدې فلسفې څخه ګټه پورته کړه. د اقتصاد په برخه کې د سکاتلینډ ي آدم سمیت Adan Smith (۱۷۲۳ـ۱۷۹۰م) چې ددې مکتب بنسټ اېښودونکی دی، چې خپل نظریات یې د ملتونو په ثروت The Wealth of Nations کې بیان کړي دي، انسان پالنه Humanism، فرد پالنه Individualisn، تجدد پالنه Modernism، او د دود پالنې سره مخالفت Anti- traditionalism په فرهنګي او ټولنیزې برخې کې د لیبرالیزم غوره ځانګړتیاوې دي (۴: ۲۰۳، ۲۰۴).

۳۵. مرز

یوه کرښه یا نښه چې د دوو هېوادونو یا د دوو بېلابېلو ځمکو ترمنځ د بېلتون حد واقع شوی وي، چې کله ورته سرحد هم وایي. (۱۶: ۵۷۸).

۳۶. مستعمره

مستعمره یا کالوني هغه هېواد یا سیمې ته ویل کېږي چې یو ځواکمن هېواد په هغه کې سیاسي او یا پوځي واک ولري، چې سیاسي واک او ټولې دولتي چارې یې د بېرونې ځواکمن هېواد په لاس کې وي. دغه ځواکمن یا په اصطلاح امپریالستي هېواد له خپلې مستعمرې څخه د لومړنیو موادو د زېرمې او پوځي اډې په توګه کار اخلي (۳۹: ۴۳).

ketabton.com - The Digital Library

۳۷. مطلق اکثریت

هغه اکثریت ته وایي چې لږ تر لږه له نیم څخه زیات د یو شمېر رایې ورکوونکو د رایو ټولګه وي (۳۹ : ۱).

۳۸. مطلقه حکومت

هغه حکومت چې په کې د ټولو کړنو د واکمنۍ حق د یو کس یا یوې ډلې په لاس کې وي، پرته له دې چې ولس د حکومت د چارو څارنه وکړي. دا اصطلاح د دسپوتیزم سره مترادفه هم کله نا کله کارول کېږي (۳۹ : ۱).

۳۹. مطلقه سلطنت یا مطلقه سلطنتي حکومت

هغه سلطنت چې نا محدودو واکونو درلودونکی وي، مطلق العنان هم ورته وایي (۱۶ : ۵۴۷).

۴۰. مهاجرت

د وګړو لخوا د اصلي او زېږېدلو د ځای پرېښودلو او یا د وګړو داخلي (دهېواد په دننه) او بهروني (له یو هېواد څخه بل هېواد ته) حرکتونو ته مهاجرت وایي. ښایي چې مهاجرت د دوه لاملونو له امله پیدا شي.

الف. تلل: د اقتصادي، مذهبي او سیاسي عواملو له امله.

ب. راتلل: هغو ځمکو ته چې له وګړو څخه خالي وي، زړه راښکونکو ځمکو ته، د ځمکې سطحې لاندې سرچینو شتون او د کار د پیدا کېدو له امله (۱۶ : ۵۸۰).

۴۱. نا قانونه حکومت، خپل سری حکومت

هغه حکومت چې په هغې کې د خلکو پر ژوند، ازادۍ او د خلکو پر مالونو او شتمنیو قانون کنترول او واک نه لري (۳۹ : ۱۵).

ketabton.com - The Digital Library

۴۲. نړیوالې اوبه

د هېواد داخلي اوبه پرته د سمندرونو او بحیرو ټولو هغو اوبو ته ویل کېږي چې د نړۍ ټول هېوادونه ورڅخه په یو ډول ګټه اخیستلی شي (۱۶ : ۵۴۶) .

۴۳ . نژاد

د وګړو ډله چې د طبیعي وراثت او اصالت له مخې د یو ډول ځانګړتیاوو لرونکي وي (۱۶ : ۵۸۱) .

۴۴ . نشنلیزم

نشنلیزم یا ملت پالنه هغه احساس یا ایډیالوژي ده چې د ملت دوستۍ پر بنسټ استواره وي . په ۲۰مه پېړۍ کې د استعمارلاندې هېوادونو زیاترو یې د نشنلیزم په حربې سره ازادي ترلاسه کړه . (۱۶ : ۵۸۱) .

۴۵ . هېوادنۍ اوبه (ساحلی اوبه)

د ساحلي اوبو هغه برخه چې د نړیوالو قوانینو پر بنسټ یې ګاونډیو هېوادونو پورې تړاو پیدا کړی وي . د ملګرو ملتونو د ټولنې د " د سمندرونو د حقوقو کنفرانس " کې چې په ۱۹۸۱م کال کې دایر شو ، د هېوادنیو اوبو عرض (سور) یې تر ۱۲سمندري میل پورې (۲۲،۲ کېلومتره) پورې ټاکل شوی (۱۶: ۵۴۶) .

۴۶ . هېواد

جغرافیایي واحد چې له څو ولایتونو ، یا ښارونو څخه جوړ شوی وي او سیاسي لوی واحد یې جوړ کړی وي ، دا واحد معمولاً د یو حکومتي سیستم څخه چې د پلازمېنې په نوم وي ؛ پیروي کوي (۱۶: ۵۷۵) .

ketabton.com - The Digital Library

ماخذونه

۱. اشرفی ریزی، حسن و کاظم پور، زهرا(۱۳۹۱) . **جغرافیای سیاسی اطلاعات** (فاصله های بی فاصله) . تهران : چاپار

۲. اشوری ، داریوش ( ) . **ملیت وقومیت ایران از امپراتوری به دولت ــ ملت** ؛ ماهنامه ایران فردا، سال سوم ، شماره ۱۸.

۳. اقبال ، فرشید(۱۳۸۷) . **مکتب های سیاسی** . تهران : کتابخانه ملی ایران .

۴. امین ، حمید الله (۱۳۹۲) . **جغرافیای سیاسي** .کابل : انتشارات سعید .

۵. امین ، حمیدالله (۱۳۶۵). **جغرافیای سیاسی** . کابل : انتشارات پوهنتون کابل .

۶. بدیعی ، مرجان و میر احمدي ، فاطمه سادات (۱۳۹۴) . **تحلیل دیدگاه ها درموضوعات نو ظهور در مطالعات مرز**. تهران : دانشگاه تهران

۷. برتون ، رولان (۱۳۸۰) . **قوم شناسی سیاسی** ؛ ترجمه : ناصر فکوهی ؛تهران : نشرنی

۸. بلاکسل ، مارک (۱۳۸۹) . **جغرافیای سیاسی** . مترجمین : محمد رضا، حافظ نیا. عطا الله ، عبدی . حسین ربیعي اوعباس ، احمدي . تهران : ناشردانشگاهی وعمومي.

۹. بیدار ، کریم الله (۱۳۸۹) . **دافغانستان سرحدونه** . جلال اباد : کودر خپرندویه ټولنه

۱۰ـ بیدار، کریم الله او اختیار ، هجرت الله (۱۳۹۴). **سیاسي جغرافیه** . جلال آباد : یارخپرندویه ټولنه .

۱۱. پورکیوان ، عقیل (۱۳۹۳). **آشنایی باعلم سیاست** .مکتب های سیاسی ونهادهای بین المللی . انتشارات الفلاح.

۱۲. پیردشتی، حسن اوکمري ، مریم (۱۳۹۴) . **مفهوم مرز وسرحد وسیر تحولات آن** . تهران : دانشگاه تربیت مدرس ، دبیر جغرافیا آمل.

ketabton.com - The Digital Library

۱۳. ثاقب ، نقیب الله او تصمیم ، تسبیح الله (۱۳۹۳) . **عمومي اساسي حقوق** . جلا ل آباد : یار خپرندویه ټولنه

۱۴. ثاقب ، نقیب الله (۱۳۸۶) . **عمومي نړیوال حقوقي شخصیتونه** . جلا ل آباد : دساپي د پښتو څېړنو اوپراختیا مرکز .

۱۵. جان ، رورکي او مارک ، بویر (۱۳۹۰) . **بین المللي سیاست ته یو ه کتنه** . ژباړن : محمد صدیق ، ظهیر . کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه .

۱۶. جعفري ، عباس (۱۳۸۴) . **ګیتا شناسی نوین کشورها** . تهران : موسسه جغرافیایي وکارتوګرافی ګیتاشناسی .

۱۷. حافظ نیا، محمد رضا و کاویانی راد ، مراد (۱۳۹۲) . **افقهای جدید در جغرافیای سیاسی** . تهران : سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت) ، مرکز تحقیق وتوسعه علوم انسانی.

۱۸. حجّة الاسلام والمسلمین ، امیدی (۱۳۹۳). **جغرافیای سیاسی کشورهای اسلامي** . تهران : موسسه اموزشي وپژوهشی امام خمینی "رح" .

۱۹. رحماني ، محمد شریف (۱۳۸۷) . **اسلامي سیاست پوهنه** . ننګرهار : د افغانستان د ټولنیزې اصلاح او پرمختګ ټولنه.

۲۰. رویان ، عبدالقدیر و امیری، ضیاُالحق (۱۳۸۴).**جغرافیای سیاسی جهان** . کابل : انتشارات سعید.

۲۱. ریحانه ، عالم و واثق ، محمود (۱۳۹۴) . مبانی جغرافیای سیاسی از دیدګا ه اسلام با تاکیدبرنهج البلاغه . **فصلنامه پژوهشنامه نهج البلاغه** . سال سوم ، شماره ۱۰، تابستان ۱۳۹۴.

۲۲. زاهدي ، احمدزی (۱۳۸۷) . **داسلامي حکومت بنسټونه** . پېښور : ا میر کروړ کتابتون

۲۳. بناد جبارخېل ، حفیظ الله (۲۰۰۲) . **اسلامي سیاست نبوت او سیرت** . پېښور : د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز

ketabton.com - The Digital Library

۲۴. شکویی ، حسین (۱۳۸۹) . **شناخت وفلسفه جغرافیا** . تهران : دانشگاه پیام نور.

۲۵. شهیدي ، نذیر احمد(۲۰۰۵) . **دمخ پر ودې هېوادونو اقتصادي ستونزې** . پېښور : د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه .

۲۶. صافی ، ودیر( ) . **حقوق بین المللی عمومی** . سازمان مطالعه وتدوین کتب علوم انسانی دانشگا ها.

۲۷. صافی ، ودیر (۱۳۹۵) . **نړيوال عمومي حقوق** .ژباړن : امان الله ایمان وردګ . کابل : خپلواک خپرندویه تولنه.

۲۸ـ ظهیر، محمد صدیق (۲۰۰۸) . **پولیتیکل سیاینس ته یوه کتنه** . ژباړن : محمد معصوم هوتک . امریکا: ویرجینیا.

۲۹ـ عادل ، عبدالله . او ورین ،امان الله (۱۳۹۵) . **اقتصادي اصطلاحات** . جلال آباد: کتاب خپرندویه اداره .

۳۰ـ عزتی ، عزت الله (۱۳۸۶) .**ژ یوپولیتیک** . تهران : سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت) .

۳۱. کاویاني راد ، مراد(۱۳۹۲) . **پردازش مفهوم " قلمرو " از دیدگاه جغرافیای سیاسی** . تهران : دانشگاه خوارزمي .

۳۲ـ مجتهد زاده ، پیروز (۱۳۹۲) . **جغرافیای سیاسي وسیاست جغرافیای** . تهران : سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت) ، مرکز تحقیق وتوسعه علوم انسانی.

۳۳ـ معتمد نژاد ، کاظم(۱۳۸۹) . **ارتباطات بین المللی** . ایران : وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامي ، دفتر مطالعات وتوسعه رسانه ها.

۳۴ـ موسی زاده ، رضا(۱۳۹۳) . **نړيوال سازمانونه (له نويو زياتونو سره)** . ژباړن : محمد نظیم ، سمون . ننګرهار : مومند خپرندويه ټولنه .

۳۵ـ موسی زاده ، رضا(۱۳۹۱) . **نړيوال سازمانونه** . ژباړن : محمد نظیم ، سمون . ننګرهار : مومند خپرندويه ټولنه .

ketabton.com - The Digital Library

۳۶. موسی زاده ، رضا(۱۳۸۷) . **نړیوال سازمانونه**. ژباړن : محمد نظیم ، سمون . ننګرهار : مومند خپرندویه ټولنه .

۳۷ . میرحیدر، دره (۱۳۸۹) . **اصول ومبانی جغرافیای سیاسی** .تهران : سازمان مطالعه و تدوین کتب علومن انسانی دانشگاهها (سمت) مرکز تحقیق وتوسعه علوم انسانی

۳۸. نوده ، محمد جافر(۱۳۹۱) . **ارتباطات سیاسي** . دانشگاه گلستان . دانشکده علوم انسانی

۳۹ـ ---------- (۱۳۸۴). **د سیاسي اصطلاحاتو قاموس**. ژباړن : سید عبدالله ، پاچا. پېښور : دانش خپرندویه ټولنه.

ketabton.com - The Digital Library

مل پانې (ضميمې)

لومړی مل پانه

داسيايي هېوادونو لپښتليک

ګڼه	هېواد	پلازمينه	پراخوالی په کيلومتر	په ۲۰۱۷کې نفوس
۱	اردن	عمان	۹۲۳۰۰	۶۴۰۷۰۸۵
۲	ازبکستان	تاشکند	۴۴۷۴۰۰	۳۱۹۱۰۶۴۱
۳	افغانستان	کابل	۶۵۲۲۲۵	۳۵۵۳۰۰۸۱
۴	عربي متحده امارات	ابوظبۍ	۸۲۸۸۰	۹۴۰۰۱۴۵
۵	اندونيزيا	جاکارتا	۱۹۱۹۴۴۰	۲۶۶۹۹۱۳۷۹
۶	ايران	تهران	۱۶۴۸۰۰۰	۸۱۱۶۲۷۸۸
۷	بحرين	منامه	۶۶۵	۱۴۹۲۵۸۴
۸	برونای	باندرا	۵۷۷۰	۴۲۸۶۹۷
۹	بنګله دېش	ډاکه	۱۴۴۰۰۰	۱۶۴۶۶۹۷۵۱
۱۰	بوتان	تيمپو	۴۷۰۰۰	۸۰۷۶۱۰
۱۱	پاکستان	اسلام آباد	۸۰۳۹۴۰	۱۹۷۰۱۵۹۵۵
۱۲	تاجکستان	دوشنبه	۱۴۳۱۰۰	۸۹۲۱۳۴۳
۱۳	تايلينډ	بنکاک	۵۱۴۰۰۰	۶۹۰۳۷۵۱۳
۱۴	تايوان	تايپه	۳۵۹۸۰	۲۳۶۲۶۴۵۶
۱۵	ترکمنستان	عشق آباد	۴۸۸۱۰۰	۵۷۵۸۰۷۵
۱۶	ترکيه	انقره	۷۸۰۵۸۰	۸۰۷۴۵۰۲۰
۱۷	تيمور شرقي	ديلی	۱۵۰۰۷	۱۲۹۶۳۱۱
۱۸	جاپان	توکيو	۳۷۷۸۳۵	۱۲۷۴۸۴۴۵۰
۱۹	چين	پيکنګ	۹۵۹۶۹۶۱	۱۴۰۹۵۱۷۳۹۷
۲۰	روسيه	مسکو	۱۷۰۷۵۲۰۰	۱۴۳۹۸۹۷۵۴
۲۱	سريلانکا	کولمبو	۶۵۶۱۰	۲۰۸۷۶۹۱۷
۲۲	سنګاپور	سنګاپور	۶۹۲۷	۵۷۰۸۸۴۴
۲۳	سوريه	دمشق	۱۸۵۱۸۰	۱۸۲۶۹۸۶۸
۲۴	عراق	بغداد	۴۳۷۰۷۲	۳۸۲۷۴۶۱۸
۲۵	عربستان سعودي	رياض	۱۹۶۰۵۸۲	۳۲۹۳۸۲۱۳
۲۶	عمان	مسقط	۲۱۲۵۴۰	۴۶۳۶۲۶۲

ketabton.com - The Digital Library

۲۷	اسراییل	تل آبیب	۲۰۲۷۰	۸۳۲۱۵۷۰
۲۸	فلپاین	مانیلا	۳۰۰۰۰۰	۱۰۴۹۱۸۰۹۰
۲۹	قبرس	لفکوزیا	۹۲۵۰	۱۱۷۹۵۵۱
۳۰	قرغزستان	بشکیک	۱۹۸۵۰۰	۶۰۴۵۱۱۷
۳۱	قزاقستان	آستانه	۲۷۱۷۳۰۰	۱۸۲۰۴۴۹۹
۳۲	قطر	دوحه	۱۱۴۳۷	۲۶۳۹۲۱۱
۳۳	کمبودیا	پنومین	۱۸۱۰۴۰	۱۶۰۰۵۳۷۳
۳۴	کوریاي شمالي	پیونگ یانگ	۱۲۰۵۴۰	۲۵۴۹۰۹۶۵
۳۵	کوریا یي جنوبي	سیول	۹۸۴۸۰	۵۰۹۸۲۲۱۲
۳۶	کویټ	کویټ	۱۷۸۲۰	۴۱۳۶۵۲۸
۳۷	لاوس	ویتنام	۲۳۶۸۰۰	۶۸۵۸۱۶۰
۳۸	لبنان	بېروت	۱۰۴۰۰	۶۰۸۲۳۵۷
۳۹	مالدیف	ماله	۳۰۰	۴۳۶۳۳۰
۴۰	مالیزیا	کولالمپور	۳۲۹۷۵۰	۳۱۶۲۴۲۶۴
۴۱	مغولستان	اولان باتور	۱۵۶۵۰۰۰	۳۰۷۵۶۴۷
۴۲	میانمار(برما)	رنگون	۶۷۸۵۰۰	۵۳۳۷۰۶۰۹
۴۳	نیپال	کتمندو	۱۴۰۸۰۰	۲۹۳۰۴۹۹۸
۴۴	ویتنام	هانوی	۳۲۹۵۶۰	۹۵۵۴۰۸۰۰
۴۵	هند	دهلی جدید	۳۲۸۷۵۹۰	۱۳۳۹۱۸۰۱۲۷
۴۶	یمن	صنعا	۵۲۷۹۷۰	۲۸۲۵۰۴۲۰

ketabton.com - The Digital Library

دویمه مل پاڼه

داروپایي هېوادونو لښتلیک

ګڼه	هېواد	پلازمینه	پراخوالی په کیلومتر	په ۲۰۱۷کې نفوس
۱	اتریش (استریا)	ویانا	۸۳۸۵۸	۸۷۳۵۴۵۳
۲	ارمنستان	ایروان	۲۹۸۰۰	۲۹۳۰۴۵۰
۳	استونیا	تالین	۴۵۲۲۶	۱۳۰۹۶۳۲
۴	انګلینډ (انګلستان)	لندن	۲۴۴۸۲۰	۶۶۱۸۱۵۸۵
۵	ایټالیا	روم	۳۰۱۲۳۰	۵۹۳۵۹۹۰۰
۶	آیرلینډ	دوبلن	۷۰۲۸۰	۴۷۶۱۶۵۷
۷	اذربایجان	باکو	۸۶۶۰۰	۹۸۲۷۵۸۹
۸	آیسلینډ	ریکجاویک	۱۰۳۰۰	۳۳۵۰۲۵
۹	البانیا	تیرانا	۲۸۷۴۸	۲۹۳۰۱۸۷
۱۰	المان	برلین	۳۵۷۰۲۱	۸۲۱۱۴۲۲۴
۱۱	بلجیم	بروکسل	۳۰۵۱۰	۱۱۴۲۹۳۳۶
۱۲	بلغاریه (بلغارستان)	صوفیه	۱۱۰۹۱۰	۷۰۸۴۵۷۱
۱۳	بوسنیا هرزه ګوینا	سارایوو	۵۱۱۲۹	۳۵۰۷۰۱۷
۱۴	بلاروس	مینسک	۲۰۷۶۰۰	۹۴۶۸۳۳۸
۱۵	پرتګال	لزبن	۹۲۳۹۱	۱۰۳۲۹۵۰۶
۱۶	پولنډ (لهستان)	وارسا	۳۱۲۶۸۵	۳۸۱۷۰۷۱۲
۱۷	چک	پراګ	۷۸۸۶۶	۱۰۶۱۸۳۰۳
۱۸	ډنمارک	کوپنهاګن	۴۳۰۹۴	۵۷۳۳۵۵۱
۱۹	روسیه	ماسکو	۱۷۰۷۵۲۰۰	۱۴۳۹۸۹۷۵۴
۲۰	رومانیه	بوخارست	۲۳۷۵۰۰	۱۹۶۷۹۳۰۶
۲۱	سان مارینو	سان مارینو	۶۱۲	۳۳۴۰۰
۲۲	سلواکیا	براتیسلاوا	۴۸۸۴۵	۵۴۴۷۶۶۲
۲۳	سلوانیا	لوبلیانا	۲۰۲۷۳	۲۰۷۹۹۷۶
۲۴	سویډن	ستاکهلم	۴۴۹۹۶۴	۹۹۱۰۷۰۱

ketabton.com - The Digital Library

۲۵	سویس (سویتزرلینډ)	برن	۴۱۲۹۰	۸۴۷۶۰۰۵
۲۶	فرانسه	پاریس	۵۴۷۰۳۰	۶۴۹۷۹۵۴۸
۲۷	فنلینډ	هلسنګي	۳۳۷۰۳۰	۵۵۲۳۲۳۱
۲۸	قبرس	نیکوزیا	۹۲۵۰	۱۱۰۲۶۷۷
۲۹	کروشیا	زاګرب	۵۶۵۴۲	۴۱۸۹۳۵۳
۳۰	کوسوو	پرستن	۱۰۸۸۷	۱۸۱۵۰۴۸
۳۱	ګرجستان (جورجیا)	تبلیسي	۶۹۷۰۰	۶۲۲۵۶۷
۳۲	لتویا	ریګا	۶۴۵۸۹	۱۹۴۹۶۷۰
۳۳	لختن شټاین	فادوز	۱۶۰	۳۷۹۲۲
۳۴	لګسمبورګ	لګسمبورګ	۲۵۸۶	۵۸۳۴۵۵
۳۵	لتوانیا	ویلینوس	۶۵۲۰۰	۲۸۹۰۲۹۷
۳۶	مالتا	والینا	۳۱۶	۴۳۰۸۳۵
۳۷	مقدونیه	اسکوپیه	۲۵۳۳۳	۲۰۸۳۱۶۰
۳۸	مولداویا	کشینوف	۳۳۸۴۳	۴۰۵۱۲۱۲
۳۹	موناکو	موناکو	۱۹۵	۳۸۶۹۵
۴۰	ناروی	اسلو	۳۲۴۲۲۰	۵۳۰۵۳۸۳
۴۱	واتیکان	واتیکان	۴۴،۰	۷۹۲
۴۲	هالند	امستردام	۴۱۵۲۶	۱۷۰۳۵۹۳۸
۴۳	هسپانیه	مادرید	۵۰۴۷۸۲	۴۶۳۵۴۳۲۱
۴۴	اندورا	اندورا	۴۶۸	۷۶۹۶۵
۴۵	هنګری (مجارستان)	بوداپست	۹۳۰۳۰	۹۷۲۱۵۵۹
۴۶	یوکراین	کیف	۶۰۳۷۰۰	۴۴۳۳۳۹۴۷
۴۷	سربیا	بلګراد	۱۰۲۳۵۰	۸۷۹۰۵۷۴
۴۸	یونان	اتن	۱۳۱۹۴۰	۱۱۱۵۹۷۷۳

ketabton.com - The Digital Library

درپیمه مل پانه

دافریقایي هپوادونو لښتلیک

ګڼه	هپواد	پلازمینه	پراخوالی په کیلومتر	په ۲۰۱۷کې نفوس
۱	انګولا	لواندا	۱۲۴۶۷۰۰	۲۹۷۸۴۱۹۳
۲	ایتوپیا	ادیسه بابا	۱۱۲۷۱۲۷	۱۰۴۹۵۷۳۴۸
۳	اریتریا	اسمره	۱۲۱۳۲۰	۵۰۶۸۸۳۱
۴	افریقای جنوبي	پرتوریا	۱۲۱۹۹۱۲	۵۶۷۱۷۱۵۶
۵	افریقای مرکزي	بانګي	۶۲۲۹۸۴	۴۶۵۹۰۸۰
۶	الجزایر	الجزیره	۲۳۸۱۷۰۰	۳۴۵۸۶۱۸۴
۷	بنین	پورتونو	۱۱۲۶۲۰	۱۱۱۷۵۶۹۲
۸	بوتسوانا	ګابرون	۶۰۰۳۷۰	۲۲۹۱۶۶۱
۹	بورکینافاسو	وګادوګو	۲۷۴۲۰۰	۱۹۱۹۳۳۸۲
۱۰	بوروندی	بوجومبورا	۲۷۸۳۰	۱۰۸۶۴۲۴۵
۱۱	تانزانیا	دارالسلام	۹۴۵۰۸۷	۵۷۳۱۰۰۱۹
۱۲	توګو	لومي	۵۶۷۸۵	۷۷۹۷۶۹۴
۱۳	تونس	تونس	۱۶۳۶۱۰	۱۱۵۳۲۱۲۷
۱۴	جیبوتي	جیبوتي	۲۳۰۰۰	۹۵۶۹۸۵
۱۵	چاد	انجامنا	۱۲۸۴۰۰۰	۱۴۸۹۹۹۹۴
۱۶	روانډا	کیګالي	۲۶۳۳۸	۱۲۲۰۸۴۰۷
۱۷	زمبیا	لوساکا	۷۵۲۶۱۴	۱۷۰۹۴۱۳۰
۱۸	زیمبابوی	هراری	۳۹۰۵۸۰	۱۶۵۲۹۹۰۴
۱۹	سایوتومه و پرنسیب	سایوتومه	۱۰۰۱	۲۰۴۳۲۷
۲۰	ساحل عاج	یاموسوکرو	۳۲۲۴۶۰	–
۲۱	سنګال	داکار	۱۹۶۱۹۰	۱۵۸۵۰۵۶۷
۲۲	سوازیلنډ	امبابان	۱۷۳۶۳	۱۳۶۷۲۵۴
۲۳	سوډان جنوبي	جوبا	۲۵۰۵۸۱۳	۱۲۵۷۵۷۱۴
۲۴	سوډان شمالي	خرطوم	–	۴۰۵۳۳۳۰

ketabton.com - The Digital Library

۲۵	سومالیا	موگادیشو	۶۳۷۶۵۷	۱۴۷۴۲۵۲۳
۲۶	سیرالیون	فری‌تاون	۱۷۷۴۰	۷۵۵۷۲۱۲
۲۷	سیشلز	ویکتوریا	۴۵۵	۹۴۷۳۷
۲۸	صحرای غربي	العیون	۲۶۶۰۰۰	۵۵۲۶۲۸
۲۹	کامرون	یایونده	۴۷۵۴۴۰	۲۴۰۵۳۷۲۷
۳۰	کانگو	برازاویل	۳۴۲۰۰۰	۵۲۶۰۷۵۰
۳۱	زایر	کینشاسا	۲۳۴۵۴۱۰	۷۰۹۱۶۴۳۹
۳۲	کینیا	نایروبیا	۵۸۲۶۵۰	۴۹۶۹۹۸۶۲
۳۳	کومورو	موروني	۲۱۷۰	۸۱۳۹۱۲
۳۴	کیپ‌ورد	پرایا	۴۰۳۳	۵۴۶۳۸۸
۳۵	گانا	اکرا	۲۳۹۴۶۰	۲۸۸۳۳۶۲۹
۳۶	گابون	لایبرویل	۲۶۷۶۶۷	۲۰۲۵۱۳۷
۳۷	گامبیا	بانجول	۱۱۳۰۰	۲۱۰۰۵۶۸
۳۸	گیني	کوناکری	۲۴۵۸۵۷	۱۲۷۱۷۱۷۶
۳۹	گیني استوایي	مالابو	۲۸۰۵۱	۱۲۶۷۶۸۹
۴۰	گیني بیساو	بیساو	۳۶۱۲۰	۱۸۶۱۲۸۳
۴۱	لیسوتو	ماسرو	۳۰۳۵۵	۲۲۳۳۳۳۹
۴۲	لایبریا	مونرویا	۱۱۱۳۷۰	۴۷۱۹۰۶
۴۳	لیبیا	ترابلس (تریپولي)	۱۷۴۹۵۴۰	۶۳۷۴۶۱۶
۴۴	مدغاسکر	انتاناناریف	۵۸۷۰۴۰	۲۵۵۷۰۸۹۵
۴۵	مالاوي	لیلانگوي	۱۱۸۴۸۰	۱۸۶۲۲۱۰۴
۴۶	مالي	باماکو	۱۲۴۰۰۰۰	۱۸۵۴۱۹۸۰
۴۷	مصر	قاهره	۱۰۰۱۴۵۰	۹۷۵۵۳۱۵۱
۴۸	مراکش (مغرب)	رباط	۴۴۶۵۵۰	۳۵۷۳۹۵۸۰
۴۹	موریتانیا	نواکچوت	۱۰۳۰۷۰۰	۴۴۲۰۱۸۴
۵۰	موریشس	پورت‌لویی	۲۰۴۰	۱۲۶۵۱۳۸
۵۱	موزامبیق	ماپوتو	۸۰۱۵۹۰	۲۹۶۶۸۸۳۴
۵۲	نامیبیا	ویندهوک	۸۲۵۴۱۸	۲۵۳۳۷۹۴
۵۳	ناورو	یارن	۲۱	۹۲۶۷

ketabton.com - The Digital Library

۵۴	نایجر	نیامي	۱۲۶۷۰۰۰	۲۱۴۷۷۳۴۸
۵۵	نایجریا	آبوجا	۹۲۳۷۶۸	۱۹۰۸۸۶۳۱۱
۵۶	یوگاندا	کمپالا	۲۳۶۰۴۰	۴۲۸۶۲۹۵۸

ketabton.com - The Digital Library

څلورمه مل پاڼه

دامریکایي هېوادونو لښتلیک

ګڼه	هېواد	پلازمینه	پراخوالی په کیلومتر	په۲۰۱۷کې نفوس
۱	ارجنټاین	بونس آیرس	۲۷۶۶۸۹۰	۴۴۲۷۱۰۴۱
۲	اکوادور	کیوتو	۲۸۳۵۶۰	۱۶۶۲۴۸۵۸
۳	انتیګوا باربودا	سنت جانز	۴۴۳	۱۰۲۰۱۲
۴	ایالات متحده امریکا	واشنګټن	۹۶۲۹۰۹۱	۳۲۴۴۵۹۴۶۳
۵	باربادوس	بریج تاون	۴۳۱	۲۸۵۷۱۹
۶	بهاما	ناسایو	۱۳۹۴۰	۳۹۵۳۶۱
۷	برازیل	برازیلیا	۸۵۱۱۹۶۵	۲۰۸۲۸۸۲۷۸
۸	بلیز	بلموپان	۲۲۹۶۶	۳۷۴۶۸۱
۹	بولیویا	لاپاز	۱۰۹۸۵۸۰	۱۱۰۵۱۶۰۰
۱۰	پاراګوای	آسنشن	۴۰۶۷۵۰	۶۸۱۱۲۹۷
۱۱	پانامه	پانامه	۷۸۲۰۰	۴۰۹۸۵۸۷
۱۲	پیرو	لیما	۱۲۸۵۲۲۰	۳۲۱۶۵۴۸۵
۱۳	ترینیداد اوتوباکو	پورت آف سپین	۵۱۲۸	۱۳۶۸۱۲۵
۱۴	جمیکا	کینګستون	۱۰۹۱۱	۲۸۹۰۲۹۹
۱۵	چیلي	سانتیاګو	۷۵۶۹۵۰	۱۸۰۵۴۷۲۶
۱۶	دومینکا	روسو	۷۵۴	۷۳۹۲۵
۱۷	جمهوری دومنیکن	سانتادومنګو	۴۸۷۳۰	۱۰۷۶۶۹۹۸
۱۸	السلوادور	سان سلوادور	۲۱۰۴۰	۶۳۷۷۸۵۳
۱۹	سنت کیتس ونیوس	بیستری	۲۶۱	۵۵۳۴۵
۲۰	سنت لوسیا	کاستریس	۶۱۶	۱۷۸۸۴۴
۲۱	سنت وینسنت وګرنادین	کنګستاون	۳۸۹	۱۰۹۸۹۷
۲۲	سورینام	پاراماریبو	۱۶۳۲۷۰	۵۶۳۴۰۲
۲۳	کوستاریکا	سان خوزه	۵۱۱۰۰	۴۹۰۵۷۶۹
۲۴	کولمبیا	بوګاتا	۱۱۳۸۹۱۰	۴۹۰۶۵۶۱۵

ketabton.com - The Digital Library

۲۵	کاناډا	آتاوا	۹۹۸۴۶۴۰	۳۶۶۲۴۱۹۹
۲۶	کیوبا	هاوانا	۱۱۰۸۶۰	۱۱۴۸۴۶۳۶
۲۷	ګرینلینډ	ګودتاب	–	۵۶۴۸۰
۲۸	ګرینادا	سنت جارجز	۳۴۴	۱۰۷۸۲۵
۲۹	ګواتیمالا	ګواتیمالا	۱۰۸۸۹۰	۱۶۹۱۳۵۰۶
۳۰	ګیانا	جارج تاون	۲۱۴۹۶۹	۷۷۷۸۵۹
۳۱	مکسیکو	مکسیکوسیتي	۱۹۷۲۵۵۰	۱۲۹۱۶۳۲۷۶
۳۲	نیکاراګوا	ماناګوا	۱۲۹۴۹۴	۶۲۱۷۵۸۱
۳۳	وینزویلا	کاراکاس	۹۱۲۰۵۰	۳۱۹۷۷۰۶۵
۳۴	هایتي	پورتوپرنس	۲۷۷۵۰	۱۰۹۸۱۲۲۹
۳۵	هندوراس	تګوسګالپا	۱۱۲۰۹۰	۹۲۶۵۰۶۷
۳۶	یوروګوای	مونتیویدو	۱۷۶۲۲۰	۳۴۵۶۷۵۰

ketabton.com - The Digital Library

پنځمه مل‌پانه

داسترالیا او اقیانوسیې هېوادونو لښتلیک

ګڼه	هېواد	پلازمینه	پراخوالی په کیلومتر	په ۲۰۱۷کې نفوس
۱	استرالیا	کانبیرا	۲۹۸۰۰	۲۴۴۵۰۵۶۱
۲	پاپوانیوګیني	پورت موریس	۴۶۲۸۴۰	۸۲۵۱۱۶۲
۳	پالایو	کورور	۴۵۸	۱۲۷۲۹
۴	تونګا	توکوالورا	۷۴۸	۱۰۸۰۲۰
۵	تووالو	فونافوتي	۲۶	۱۱۱۹۲
۶	ساموای غربی	آپیا	۲۹۴۴	۱۹۶۴۴۰
۷	نوی زیلاند	ولینګټون	۲۶۸۶۸۰	۴۷۰۵۸۱۸
۸	سلیمان جزیری	هونیارا	۲۸۴۵۰۰	۶۱۱۳۴۳
۹	فیجي	سووا	۱۸۲۷۰	۹۰۵۵۰۲
۱۰	کریباتي (کریباس)	تاراوا	۸۱۱	۱۱۶۳۹۸
۱۱	مارشال جزیرې	ماجورو	۱۸۳۳	۵۳۱۲۷
۱۲	میکرونیزیا	پالیکیر	۷۰۲	۱۰۵۵۴۴
۱۳	نایورو	یارن	۲۱	۱۱۳۵۹
۱۴	وانوآتو	وانوآتو	۱۲۲۰۰	۲۷۶۲۴۴

(۴ : ۲۰۷–۲۱۴)او

http://www.worldometers.info/geography/largest-countries-in-the-world/

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English